Maktaba Tul Ishaat. com

النحو في الكلام كالملح في الطعام

# اغراض الجامي

پښتو شرحه

# د ملا جامي

(كامله معرب)

افادات:
شيخ عطاء الرّحمن مدظله العالی
صدر مدرس تعليم القرآن باړه گيټ پشاور

مرتب:
مولانا وحيد الله حقانی
مدرس تعليم القرآن باړه گيټ پشاور

جدید مکتبہ رشیدیہ
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور
091-2580074

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاؤن لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاؤن لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat. com

الصرف ام العلوم و النحو ابوھا

# اغراض الجامی

پښتو شرح

## شرح جامی

افادات

حضرت شیخ عطاء الرحمن مدظلہ العالی
صدر مدرس تعلیم القرآن بارہ گیٹ پشاور

مرتب

مولانا وحید اللہ حقانی
مدرس تعلیم القرآن بارہ گیٹ پشاور

ناشر

مکتبہ رشیدیہ

جی.ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ

Maktaba Tul Ishaat. com

ټول حقوق په حق د ناشر کښې محفوظ دی

**د کتاب نوم** اغراض الجامی پښتو شرح شرح جامی
**افادات** مولانا عطاء الرحمن مدظله العالی
**ترتیب** مولانا وحید الله حقانی صاحب
**ضخامت** ۳۸۴
**سټینګ** بختورشاه آفریدی
**زیری نګرانی** مولانا سیدمحمد حقانی
د طباعت تاریخ رمضان ۱۴۳۵ھ / جولائی ۲۰۱۴

**ناشر**

مکتبہ رشیدیہ
جی،ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ
۰۳۴۴-۹۰۸۴۲۹۳

**د کتاب ترلاسه کولو ځایونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱) جلال آباد | (۴) پروان | (۷) کابل | (۱) پشاور |
| (۲) خوست | (۵) کندوز | (۸) قندهار | (۲) اکوړه ختك |
| (۳) غزنی | (۶) بغلان | (۹) لوګر | (۳) کوئټه |

Maktaba Tul Ishaat. com



# د مضامینو فهرست


| مضمون | صفحه |
|---|---|
| د نحو لغوی معنی او وجه تسمیه | ۱۰ |
| د مصنف حالات | ۱۱ |
| په الف لام کښې مذاهب | ۱۳ |
| الحمد لوليه | ۱۳ |
| د حمد معنی او وجه تسمیه. تشریح | ۱۳ |
| حمد را با توست نسبت درست بر هر در که رفت بر در توست | ۱۳ |
| د حمد او شکر تعریف | ۱۴ |
| قاعده کلیه | ۱۴ |
| د صلوة معنی او تشریح | ۱۵ |
| د ال معنی او تشریح | ۱۶ |
| د صحابی تعریف او تشریح | ۱۶ |
| بیان د اما بعد | ۱۷ |
| پخ علامة باندی اعتراض او جواب | ۱۸ |
| شیخ چاته وائی؟ | ۱۸ |
| وجه تسمیه د کتاب | ۲۰ |
| د توفیق لغوی اصطلاحی تعریف | ۲۱ |
| غرض د شارح په اعلم کښې | ۲۲ |
| بیان د الکلمة | ۲۴ |
| وجه تسمیه تقدیم د کلمه په کلام باندی | ۲۵ |
| غرض د شارح په الکلمة کښې | ۲۶ |
| اختلاف په لفظ کلام کښې | ۲۷ |
| والکلام کښې غرض د شارح | ۲۸ |
| د وحدت اقسام | ۲۹ |
| د لفظ معنی او تشریح | ۳۰ |

Maktaba Tul Ishaat. com




| | |
|---|---|
| د لفظ اقسام او تشریح | ۳۱ |
| والد وال الاربعه کښی غرض د شارح | ۳۲ |
| د غرض معنی اصطلاحی او دفع د اعتراض | ۳۴ |
| په تخصیص باندی اعتراض او جواب | ۳۵ |
| د معنی لغوی او اصطلاحی تعریف | ۳۶ |
| د مفرداً معنی او تشریح | ۳۹ |
| یوه اهمه قاعده | ۳۹ |
| وجه تسمیه د تقدیم د وضع په افراد او ترکیب باندی | ۴۱ |
| د کلمه تعریف د قیوداتو فوائد | ۴۳ |
| تعریف د کلمه په نزد د صاحب مفصل | ۴۴ |
| اختلاف د ماتن د صاحب مفصل نه په لفظ د دالت کښی | ۴۵ |
| تقسیم د کلمه او تشریح | ۴۶ |
| غرض د مرجع د ضمیرنه | ۴۹ |
| د حرف تعریف او تشریح | ۵۰ |
| د مشتق منه د اسم بیان | ۵۳ |
| د فعل لغوی او اصطلاحی معنی | ۵۴ |
| د دړ معنی | ۵۷ |
| د الکلام لغوی او اصطلاحی تعریف او تشریح | ۵۸ |
| بیان د متضمن او د متضمَن | ۵۹ |
| غرض د شارح او معنی د اسناد | ۵۹ |
| اختلاف په کلام کښی | ۶۲ |
| بیان د تعدد د نسخو | ۶۳ |
| ترکیب او د کلمی د اقسامو تفصیل | ۶۴ |
| وهی اسم و فعل و حرف ترکیب | ۶۵ |
| د محصول بیان | ۶۹ |
| فرق په مابین د معنی اسمی او معنی حرفی کښی | ۷۰ |
| بیان د حاصل | ۷۳ |

Maktaba Tul Ishaat. com



د کلام د تعریف ترکیب او یوه نکته ..... ۷۲
د خاصه معنی. اقسام او تشریح ..... ۸۱
د جر بیان ..... ۸۳
د تنوین اقسام او تشریح ..... ۸۴
د اسناد، اضافت او د وجه تسمیه بیان ..... ۸۵
تقسیم د اسم معرب او مبنی ته ..... ۸۷
غرض د شارح قاعده او تقسیم ده ..... ۸۸
معانی ثلاثه د مبنی الاصل ..... ۹۰
د اضافت بیانی معنی ..... ۹۱
معنی د حکم ..... ۹۳
د اختلاف اقسام ..... ۹۴
د ذاتی اقسام ..... ۹۴
تقسیم د اعراب لفظی او تقدیری ته ..... ۹۶
د اعراب تعریف او تشریح ..... ۹۸
معنی د اعتوار او تشریح ..... ۱۰۰
د اعراب لغوی معنی ..... ۱۰۲
اقسام د اعراب ..... ۱۰۳
تقسیم د فاعل، حقیقی او حکمی ..... ۱۰۳
تقسیم د عامل. لفظی او معنوی ..... ۱۰۴
ترکیب د مِنْ خواصِه الخ ..... ۱۰۵
ترکیب د اسم مَادَلَّ الخ ..... ۱۰۶
ترکیب و حکمه ان یختلف آخره، الخ ..... ۱۰۷
ترکیب د الاعراب ما ختلف آخره، الخ ..... ۱۰۷
ترکیب د العامل ما به یتقوم الخ ..... ۱۰۸
د جمع مؤنث سالمه تعریف او تشریح ..... ۱۰۸
وجه تخصیص د اسماء سته مکبره ..... ۱۱۱
د مثنی تشریح ..... ۱۱۲

Maktaba Tul Ishaat. com



د جمع مذکر سالمې بیان ۱۱۵
فرق د جمع او د تثنیه په اعراب کښې ۱۱۶
د غیر منصرف حکم ۱۲۹
د اسبابو د منع حرف بیان ۱۳۰
تقسیم د سبب په اصطلاح د اهل عروضو کښې ۱۳۲
د فالمفرد المنصرف والجمع المکسر المنصرف ترکیب ۱۳۵
د عدل د تقدیم والی وجه تسمیه ۱۳۷
د صیغې معنی ۱۳۸
د معرف او معرف بیان ۱۳۹
فانقسام العدل کښې مذهب راجح طرف ته اشاره ۱۴۲
قاعده په اسم تفضیل کښې ۱۴۴
قاعده ۱۴۷
د وصف تعریف او تقسیم ۱۴۸
د غلبې معنی او تشریح ۱۵۰
د تانیث بیان ۱۵۱
د معرفې بیان ۱۵۶
د عجمه لغوی. اصطلاحی تعریف او تشریح ۱۵۸
تقسیم د عجمې حقیقې او حکمې طرف ته ۱۵۸
اختلاف په نوح کښې ۱۵۹
د انبیاء نومونه منصرف دی او کنه ۱۶۰
د جمع بیان ۱۶۱
په علماً کښې نسخ ۱۶۳
په لفظ جوار کښې تشریح ۱۶۷
د ترکیب معنی او قیودات ۱۶۹
بیان د والالف والنون ۱۷۰
اختلاف په رحمان کښې ۱۷۲
د کان اقسام ۱۷۸

Maktaba Tul Ishaat. com



| | |
|---|---|
| د حاتم نه څه مراد دی | ۱۸۴ |
| بیان د مرفوعاتو | ۱۸۷ |
| بیان د یوی قاعدی کلیی | ۱۸۸ |
| د فاعل تعریف | ۱۹۲ |
| د فاعل اقسام | ۱۹۴ |
| د احتیاج اقسام | ۱۹۹ |
| فرق په مابین د اعراب او قرینه کښی | ۱۹۹ |
| معنی او تقسیم د قرینی | ۲۰۰ |
| د شعر معنی | ۲۰۷ |
| د تنازع فعلین بیان | ۲۰۸ |
| تنازع فعلین معنی | ۲۰۹ |
| د تنازع فعلین دویم قسم | ۲۱۱ |
| د وقف معنی | ۲۱۳ |
| د شاعرانو اقسام | ۲۱۶ |
| بیان د مفعول مالم یسم فاعله | ۲۱۷ |
| په لفظ کُل باندی اعتراض | ۲۱۸ |
| شرط مفعول مالم یسم فاعله | ۲۱۹ |
| بیان د تعدد د نسخو په منه کښی | ۲۲۳ |
| تعریف د مبتد | ۲۲۴ |
| معنی د لفظ اصل | ۲۲۸ |
| بیان د تقدیم د خبر | ۲۳۲ |
| معنی د موصول | ۲۳۹ |
| حذف د خبر بیان | ۲۴۲ |
| خبران و اختواتها بیان | ۲۴۷ |
| د فعل لپاره دوه عمله دی | ۲۴۷ |
| تعریف د خبرانّ | ۲۴۸ |
| د انّ اقسام | ۲۴۹ |

Maktaba Tul Ishaat. com




| | |
|---|---|
| بیان د اسم ما ولامشبهتین | ۲۵۲ |
| اختلاف د حجاز یینو او بنی تمیمو | ۲۵۲ |
| د منصوباتو بیان | ۲۵۳ |
| اعرابات خمسه په المنصوبات کښې | ۲۵۳ |
| د مفعول مطلق بیان | ۲۵۶ |
| دمغایرت اقسام | ۲۵۶ |
| معنی د مضمون د جملې | ۲۶۰ |
| مفعول به | ۲۶۳ |
| اختلاف په منادی منصوبه کښې | ۲۶۸ |
| معنی د شبه مضاف | ۲۷۰ |
| توابع د منادی | ۲۷۵ |
| مندوب په لغت او اصطلاح کښې | ۲۹۰ |
| د تفجع اقسام | ۲۹۰ |
| یوه اهمه قاعده | ۲۹۲ |
| د استعلاء اقسام | ۲۹۴ |
| مفسر اقسام | ۲۹۵ |
| افعال د بنده په څو قسمه دی | ۳۰۱ |
| بیان د مفعول فیه | ۳۰۷ |
| اقسام د مفعول فیه | ۳۰۸ |
| یوه اهمه قاعده | ۳۰۹ |
| د مفعول له بیان | ۳۱۰ |
| د مفعول معه بیان | ۳۱۴ |
| د مفعول معه په عامل کښې اختلاف | ۳۱۶ |
| د حال بیان | ۳۱۷ |
| د عامل معنوی تعریف | ۳۲۱ |
| تعریف د حال مؤکد | ۳۲۶ |
| بیان د تمیز | ۳۲۷ |

Maktaba Tul Ishaat. com



تقسیم د ذات مقدره او مذکوره ۳۲۹
د مستثنی بیان ۳۳۷
د مستثنی اقسام ۳۳۸
بیان د عامل د مستثنی ۳۴۰
یوه اهمه قاعده ۳۴۱
مستثنی مفرغه ځه ته وائی ۳۴۳
بیان د خبر اِنّ وَاَخَوَاتها ۳۴۹
د بیان د مجرورات ۳۵۲
د مضاف الیه په تعریف کښې اختلاف ۳۵۷
د اضافت معنوی تعریف او ده تسمیه ۳۵۹
د توابع بیان ۳۷۰
د نعت بیان ۳۷۲
د عطف بیان ۳۷۲
د تاکید بیان ۳۸۱
د بدل اقسام ۳۸۳

Maktaba Tul Ishaat. com



بسم الله الرحمن الرحيم

## د نحو لغوی معنی او وجه تسمیه

**الحمد لله وحده و الصلوة والسلام علی من لانبی بعده: اما بعد:**

په دي سبق کښي دوه خبري پیژندل ضروري دی . (۱) مغنی لغوی د نحوی او وجه دتسمیي، معنی لغوی یي تقریباً اته دی، (۱) په معنی دہ قصد سره لکه عرب وائی: نحوت هذانحواً ای قصدت هذا قصداً (۲) په معنی دمثل سره: لکه هذا نحوه ای مثله. (۳) په معنی د طرف سره: لکه نحوالبیت . (۴) په معنی د نوع او قسم سره: لکه علی اربعة انحاء ای انواع . (۴) په معنی د فصاحت سره: لکه ما احسن نحوك فی الکلام ای فصاحتك وبلاغتك فی الکلام .(۵) په معنی د اړولو سره: لکه نحوت بصری الیك ای صرفت بصری الیك .(۲) په معنی د لاری سره: لکه هذا النحو السوی، (۸) په معنی د حفاظت سره: کما في قول علی رضی الله عنه یقول الله یوم القیامة للملئکة فی حق النحویین نحوه من النار کما نحو کلامی من الخطاء .

**وجه دتسمیي:** دینه مخکښی موجد پیژندل پکار دی . اول قول د ابوبکر انباری دي چه په ۳۲۸ ھ کښي وفات شوي دي. دي وائی چه موجد دنحو حضرت عمر رضی الله عنه دي . دي وائي چي یو اعرابي راغي هغه دا اووئیل چه (ان الله بریٔ من المشرکین ورسوله) پکار خو دا وه چه ورسولُهٗ یي وئیلی وي په لفظ د الله جل جلاله یي عطف کړي وي. خو ده په لفظ د المشرکین عطف کړو نو حضرت عمر رضی الله عنه ابو الاسود دولی ته امر وکړو چي څه قواعد وضع کړه. ابو الاسود دولی په ۷۹ ھ کښي وفات شوي دي .

(۲) دویم قول دادي چي موجد یي حضرت علی رضی الله عنه دي یو اعرابی راغي او هغه د (لا یاکله الا الخاطئون) پرځاي لا یاکله الا الخاطئین) وویل . نو حضرت علی رضی الله عنه ابو الاسود دولی ته امر وکړو چي څه قواعد وضع کړه نو هغه قواعد وضع کړل .

(۳) دریم قول دادي چي دابو الاسود دولی یوه لور وه هغي داسي ووئیل چي (ما احسن السماء) نو ده ورته ووئیل چه نجومها نو هغي ورته اووئیل چي زه تپوس نه کوم بلکه تعجب کوم نو ابو الاسود ورته اووئیل چي بیا (ما احسن السماء) وایه نو بیا د دي واقعي نه بعد دۀ څه قواعد دنحو وضع کړل بهر حال هغه اولني قواعد دا وو

Maktaba Tul Ishaat. com



چي الكلام كله اسم وفعل وحرف. فا الاسم ما أنباء عن المسمىٰ . والفعل ما أُنبئَ به والحرف ما افاد المعنى . نو حضرت علي رضی الله عنه ورته اووئيل چي ما احسن هذا النحو الذي نحوته داي وجه د تسميي شوه. خو دلته نحو په معنى دلازي سره راخي، د ابو الاسود الدولي شاګردان ميمون الاقرن، عبد الله ابن اسحاق الخضرمي. عيسى ابن عمر الثقفي . چې وفات يي په ١٤٩ ھ كښي شوي دي. بل شاګرد يي ابو عمروبن العلاء دي چې په ١٥٤ ھ كښي وفات شوي دي، ابو عمر عيسى ابن عمر الثقفي دوه كتابونه ليكلي دي يو جامع او بل اكمال او امام خليل رحمه الله د ده شاګرد وو دي يو خپل خپل شعر كښي وائي:

بطل النحو جميعاً كله غير ما احديث عيسى ابن عمر
ذاك اكمال وهذا جامع فهما للناس شمس وقمر

او خليل بيا دغه دوه كتابونو ته ترتيب هم وركړو دخليل شاګرد سيبويه دي مشهور مصنفين جار الله زمخشري عقيده كښي معتزلي وو او په فروعو كښي حنفي دي ، دده كتاب المفصل دي ٥٣٨ ھ كښي وفات شوي دي . دويم شاګرد يي مشهور مصنف هغه ابو عبد الله محمد بن مالك دي دده كتاب الفيه لابن مالك ده دا ټول اشعار دي ٦٧٢ ھ كښي وفات شوي دي ،

(٣) مشهور مصنف هشام ابن مالك وو د ده كتاب اوضح المسالك الى الفيه لابن مالك او بل دده كتاب په نحو كښي مشهور په مغنى اللبيب وو

## د مصنف حالات

**دمصنف څيني حالات:** خپل نوم ئي عبدالرحمان . لقب ئي عما الدين يا نور الدين او كنيت ئي ابو البركات دي ، د پلار نوم يي احمد او دنيكه نوم يي محمد دي، نو نسب يي داسي شو . عبد الرحمن بن احمد بن محمد . او په نسب كښي امام محمد ته رسيږي . دا په ايران كښي دا سفهان وو دمحلي نوم دشت وو، دي وجه نه ورته دشتي هم وائي . د يو حادثي دوجي نه جام نومي ځاي ته راغي، ځكه ورته جامي وائي دده پيدائش ٢٣ شعبان ٨١٧ كښي شويدي، ابتدائي كتابونه ئي د خپل پلار نه وئيلي

Maktaba Tul Ishaat. com



وو. په استاذانو کښي ئي مير سيد سند او تفتازاني راځي ، او دي شاعر هم وو. دي وجه نه د نبی ﷺ په صفت کښي ئي ډير نعتونه وئيلي دی. اوپه تصوف کښي هم ډير مشهور نوم لري . يوځلي ئي خوب وليده په خوب کښي ورته اووئيل شول چي اتخذ حبيباً يهديك، نو په هندوستان کښي يو پير وو عبيد الله احرار هغه ته د بيعت دپاره روان شو، هلته چه ورسيدو نو ګوري چي يوه غټه قافله را روانه وه ده هغوی سره اوښان هم وو . نو ده د اوښانو تپوس وکړو، چه دادچا دي نو خلکو ورته په ځواب کښي اووئيل چي داد عبيد الله احرار دي ، دي سخت خفه شو او ځان سره يي اووئيل چي تا خو هسي ځان په تکليف کړو هلته يي په ديوال باندي دا شعر اوليکه چي (نه آنکس که دنيا را دوست دارد ) بيرته خپل ځاي ته راغي بيا په خوب کښي ګوري چي دقيامت ورځ ده او دا هم ډير وار خطا وو نو عبيد الله احرار په مخه ورغي، دي يي ده لاس نه ونيولو ورته وائی چي ځرنګه وار خطا يي راځه ما سره . نو چي را پاڅيدلو نو بيا ډير خفه شو چي ته خو هسي راغلي نو بيا ورغي او ورسره ملاؤ شو او عبيدالله احرار صاحب ته اووئيل چي اول ما ماف کړه بيا به درته نوره قصه اوکړم . پير صاحب ورته اووئيل چي هله به دي معاف کړم چي دغه نيم بيتی راته پوره کړي. عبد الرحمان صاحب ورته اووئيل چي نه دا به راته تاسو وائي . هغه بيا ورته دا شعر اووئيلو چي "اګر دارد برای دوست دارد" د عبد الرحمان صاحب ډير مشهور اشعار دی بيا دا په ۱۸ محرم په ۸۹۸ ھ کښي په هرات کښي وفات شو. بيا په دغه ځاي دبل چا تسلط راغي نو د ده ځوئ ضيا الدين يوسف ددشمنانو د ويري نه ددي ځاي ځخه منتقل کړو اوس ئي د قبر پوره معلومات نه کيږي ، ټول تصنيفات ئي څلور پنځوس ۵۴ دی او دجامی په ابجد کښي حساب هم ۵۴ راځی ، په ټولو کښي مشهور هغه شرح جامی ده دي ته خدای لوي مقام هم ورکړي دي چي دهغه وخت نه تر اوسه پوري په مدارسو کښي تدريس کيږي ددي ۲۶ شپږ ويشت شروح دی ، مشهوره شرح ئي عبد الغفور ده او دا ددي نه هم ګران کتاب دي ، او شرح جامی در شارح هندی او شارح رضی نه ماخوذ ده. او د شارح هندی نوم شهاب الدين دولت آبادی دي په ۸۴۸ ھ کښي وفات شوي دي، ځوی دپاره ليکلي وو د عبد الغفور د شرح په باره کښي يو شاعر داسي وئيلي دی ،

Maktaba Tul Ishaat. com



مخ دي شارح دشرملا دي خال دي غفور دي ګرانوی عبارتونه .

## په الف لام کښې مذاهب

## الحمد لوليه

په الحمد کښې پنځه خبري دی، (۱) وجه د ایراد دحمد . (۲) الف لام . (۳) معنی د حمد . (۴) وجه د اختیار ددي جملي (۵) معنی ددي جملي :

۱ : د ایراد دحمد وجه خو مشهوره ده او ډیره تیره شوي ده ،

### د حمد معنی او وجه تسمیه، تشریح

۲ : په الف لام کښې دري مذهبه دی . (۱) صاحب کشاف جار الله زمخشری فرمائي چي دلته الف لام دپاره د جنس دي يعنې جنس حمد الله ﷻ لپاره ثابت دی . الف لام جنسی دي ته وائی چي حکم شوي وی په طبعیت باندي قطع نظر د لحاظ افرادو نه لکه په منطق کښې الانسان نوع ، نو یو انسان خو نوعه نده یا . الرجل خیر من المراة ، دیته په منطق کښې قضیه طبعیه وائی . دویم قول د محققین لکه علامه تفتازانی فرمائي چي دلته الف لام دپاره استغراق دي . الف لام استغراقی دي ته وائي چي حکم وشی په ټولو افرادو باندي نو معني به داسي شی چه هر فرد دافرادو دحمد دا ثابت دي الله ﷻ لره دي ته په منطق کښې قضیه موجبه کلیه مسوره بحرف السور وائي، پدي دواړو قولینو باندي اعتراض واریدیږي . هغه دا چه که هر فرد د افرادو د حمد شی نو هر فرد د افرادو د حمد خوالله ﷻ لره ندي ثابت لکه ښائسته یکي یا ښه موټر او ښاسي نور (لسان نه مراد مبدء دتعبیر ده لهذا اعتراض نه واردیږی چه حمد د الله ﷻ ترینه خارج شو یا مراد زمونږه خاص حمد دي چه هغه حمد د انسان دي، او که الف لام جنسی شی نو جنس خو په یو فرد کښې هم متحقق کیږی . ددي اعتراض جواب : داټول صفات الله ﷻ ته ثابت دی حالاً وی او که مالاً وی نو حالاً خو انسان دا یکي جوړ کړي دي او انسان الله ﷻ جوړ کړي دي بیا آخر رجوع الله ﷻ ته کیږی .

شعر

حمد را با توست نسبت درست بر هر در که رفت بر در توست .

۳ : دریم قول دا دي چي الف لام عهد خارجی دي . الف لام عهدي خو

Maktaba Tul Ishaat. com



معهود غواړی فَاَیْنَ المعهود . **جواب** : مراد د حمد نه هغه صفتونه دي چه هغه مختص وي الله ﷻ پوري دي ته د منطقيانو په اصطلاح کښي قضيه موجبه جزئيه وائي.

## د حمد او شکر تعریف

۳ : دریمه خبره معنیٰ دحمد ، ۱ : محققین وائی چه حمد شکر او مدحه یو شئ دي . ۲ : بعضي وائي چه حمد عبارت دي د هو الثناء با للسان علی الجمیل الاختیاری سواء کان بمقابله النعمة او لا با اللسان سره شکر خارجه شوه ځکه شکر عام دي ، هغه په جوارحو سره هم وی او علی الجمیل سره سخریه خارجه شوه او د اختیاری سره مدحه خراجه شوه ځکه مدحه عامه ده غیر اختیاری هم وی نو حمد خاص شو په اعتبار د مورد سره او عام دي په اعتبار دمتعلق سره . ۳ : شکر په لغت کښي فعل شئ من تعظیم المنعم لکونه منعماً . شکر عام شود په اعتبار دمتعلق سره خاص دي ځکه چي دا صرف په مقابله د نعمت کښي وي نو دحمد او د شکر په مابین کښي نسبت دعموم او خصوص من وجه دي یوه ماده د اجتماع او دوه مادي د افتراق غواړي ، مدحه صفت کول دي په هغه صفاتو سره چه د محمود په اختیار کښي نه وی لکه عرب وائي مدحت اللؤ لؤ علی صفائها یا مدحت زیداً علی حسنه . ۴ : وجه د اختیار ددي جملي ،

**اعتراض** : مصنف ولی مخالفت وکړو دنورو کتابونو نه .

**جواب** : یو وجه دا ده چي مصنف اشاره کوی دي ته چي داحمد زما تقلیدي ندي بلکه دا زما د زړه نه دي نو ددي وجي نه ئي جمله بدله کړه . دویمه وجه دا وه چي دمتوهم دا وهم رانشی چي حمد صرف الحمد لله وئیل وي په خوله باندي که د زړه نه وي او که نه وي خو نه مصنف وائي چه هر لفظ وي خو چه دزړه نه وی.

## قاعده کلیه

**قاعده**: کله چي حکم وشی په یو مشتقی باندي نو مبدء داشتقاق علت وی ددي حکم لکه اکرم هذا العالم نو عالم مشتقی دي حکم ئي اکرام دي نو مبداء داشتقاق علم دي نو دا علت او باعث دحکم دي چي اکرام دي نو دریمه وجه دا ده چي دلته دعوی سره ددلیلهٔ نده بخلاف الحمد لله لکه الله ﷻ فرمائي "یا ایها الناس اعبدوا ربکم" حکم د عبادت دي او علت او دلیل د حکم هم شته دي. چه هغه ربکم دي

Maktaba Tul Ishaat. com



او دي ته منطقیان قضایا قیاستها معها وائی ، څلورمه خبره معنی د جملی د الحمد لوليه هر فرد د افرادو نه حمد دهر حامد نه په هره زمانه کښي چه وی ثابت دي الله جل جلاله لره په دي کښي دري تعميمات او يو تخصيص راغي د حذف د فاعل نه نو دلته فاعل څرنګه راغي دا خو جمله فعليه په تجدد او تحدث دلالت کوی نو مونږ جمله اسميه کړه ، دپاره د دلالت د استمرار او د دوام ، فعل فاعل مو حذف کړو حمداً نکره پاتي شو په الف لام سره مو معرفه کړو ،دريم تعميم حذف دفعل نه راغي چه فعل حذف شو نو زمانه هم حذفه شوه نو زمانه غير معينه شوه . لوليه خاص الله جل جلاله لره دا تخصيص د لام د لوليه نه راغي ځکه لام دپاره دتخصيص دمعني دحمد دي . د"ولى" څلور معنى دي " ولى " په معني د لائق . په معني د محبت . په معني د متصرف . په معني د قريب، خو دلته اوله معني مراد ده لائق د حمد لپاره چه الله جل جلاله دي حمد هغه لره دي . دويم الله جل جلاله دوست دحمد دي

## د صلوة معنى او تشريح

**والصلوة على نبيه**: ضمير راجع دي "ولى" ته په صلوة کښي دري خبري دي (۱) وجه دايراد دصلوة (۲) معني لغوي ، (۳) ما هو المراد من الصلوة :

۱ : اوله وجه د ايراد يا ايها الذين آمنوا صلوا عليه الخ . ۲ : معني لغوی د صلوة کښي اختلاف دي صلوة جار الله زمخشری فرمائي تحريك الصلوين ته وائی بيا ددي معني نه را نقل شو نوم شو دپاره د ارکان مخصوصه مناسبت دادي چه لمانځه کښي هم تحريك الصلوين کيږي ، ۲ : دويم جمهور وائی چه صلوة په لغت کښي دعا ته وائی بيا را نقل شو ارکان مخصوصه وته ځکه لمونځ هم مشتمل دي په دي ، ۳ : ما هو المراد من الصلوة پدي کښي هغه څلور نسبته دي چه د صلوة نسبت الله جل جلاله وشی مراد ترينه نزول د رحمت وي په نبی ولی دهغه باندی نبيه کښي ضمير چاته راجع دي راجح قول دادي چه راجع دي ولی ته. دويم قول دادی چی راجع دي حمد ته يعني په نبی د حمد باندي. حمد مصدر دي کله په معنی د فاعل سره وی کله په معنی د مفعول ، دلته په معنى د فاعل سره دي. والصلوة على نبی الحامد اللهم لااحصی ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسك او کما قال عليه السلام حديث حمد مصدر دي په معنی د مفعول

Maktaba Tul Ishaat. com



سره وي والصلوة على نبي المحمود . داقول ضعيف او مرجوح دي چه ضمير حمد ته راجع کړي ځکه چه حمد ته راجع شي او په معنی دفاعل يا مفعول سره شي نو اسماء الهی توقيفی دی حامد محمود پکښي نشته .

## د ال معنی او تشريح

**وعلى آله**: ضمير نبی ته راجع دي ۱ : صيغه د آل . ۲ : ما هو المراد ، ۳: بيان ديو څو نکتو . ۱: ال په اصل کښي اهل وو په دليل د اهيل سره بيا اعلال سره آل شو. ۲ : آل نه مراد يا اهل بيت دی سره د ازواج مطهرات نه رد دي په اهل تشيع باندي يا آل نه مراد كل تقی ونقی فهو آلی دي پدي الفاظو سره داحديث نشته ، ۳ : يو نکته آل او اهل مينځ کښي فرق : آل استعماليږی په اشرافو کښي برابره خبره ده. شرافت دنيوی وی او که اخروی اهل عام دي اشرافو او ارزالو دواړو کښي استعماليږي ، دويمه نکته ئي کلمه دعلى راوړه لپاره د رد په اهل تشيع باندي ځکه هغوي د ځان نه يو روايت جوړ کړي دي " من فرق بينی وبين آلی بعلى فقد جفانی " دريمه نکته صلوة سلام په آل وائی دپاره د خوشحالی د نبی ﷺ .

## دصحابی تعريف او تشريح

**واصحابه**: (۱) : واحد ئي څه دي ، (۲): معنی د صحابی او دنبی ، (۳) : بيان د **نکتي**. ۱: واحد کښي دري قوله دی . واحد ئي صاحب دي لکه اشهاد جمع د شاهد .
۲ : دويم قول واحد ئي صحب دي لکه انهار جمع د نهر دي ، ۳ : دريم قول چه واحد ئي صحب دي لکه انمار جمع دنمر ده ، ۴: صحابی هغه دي چي نبی ﷺ يي په حالت د ايمان کښي ليدلي وی بيا مړ وي په همدغه حالت دايمان کښی او مينځ کښي مرتد شوي نه وي ليدل عام دي حقيقتاً وي او که حکماً لکه عبد الله ابن ام مکتوم رضي الله عنه . ۵ : که آل نه مراد هر تقی ونقی شی نو ذکر داصحابه پس د آل نه دا تخصيص بعد التعميم دي . او که آل نه مراد اهل بيت شی نو ذکر د اصحاب دا تعميم پس دتخصيص نه دي او نسبت پکښي عموم او خصوص من وجه دي آل دي صحابي دي لکه علی رضي الله عنه آل ندي صحابی دي لکه ابوبکر رضي الله عنه آل دي صحابي ندي لکه ددي وخت سيدان .

**المتادبين بادابه معناه**: داسي صحابه کرام رضي الله عنهم چه غايت ادب ناك وو په مثل د

Maktaba Tul Ishaat. com



جنس د ادب د نبیﷺ باندي ،

پدي ترجمي سره دوه اعتراضه دفع شول ، اعتراض اول : المتادبین جمع ده او پدي الف لام استغراقی داخل شوي دي نو معنی شوه ټول صحابه کرام او " بادابه " هم جمع ده نو معنی ده شوه چي ټول صحابه کرام مؤدب وو په ټولو ادابو دنبیﷺ باندي نو لازم شود مساوات ، دویم اعتراض دادي چي ادب خو عرض دي انتقال پکښي نه راځي ځکه انتقال داعراضو دا مستلزم دي انعدام داعراضو لره نو څنګه منتقل شو صحابه ؤ ته ؟

**جواب**: اول اعتراض دفع شو په قید د جنس د ادب د نبیﷺ سره نو الف لام جنسی دي استغراقی ندي او قرینه پدي باندي داده چه المتادبین جمع ده او آدابه هم جمع ده او جمع چه په مقابله د جمع کښي راشي نو مقصود تقسیم وی په افرادو باندي لکه عرب وائي رکبواد وابهم لبثوا ثیابهم ،

ددویم اعتراض نه جواب دادي چه مونږ قید ولږولو چه په مثل د جنس د ادب دنبیﷺ باندي .

## بیان د اما بعد

**اما بعد**: دینه بعد دیباچه ده او پدي کښي عام طور سره دري خبري ذکر کیږي .

۱ : اول باعث د تصنیف ، ۲ : صفت د کتاب ، ۳ : خپل نوم او دپلار نوم .

اوله خبره " بعد " د ظروفو نه دي او ددي دپاره څلور حالات دی ، وجه د حصر : که مضاف الیه ورسره ذکر وه نو پدي حالت کښي معرب او که مضاف الیه ورسره ذکر نه وه نو بیا به خالي نه وي یا به نسیاً منسیاً وی او یا به منوی وی که اول وو بیا به معرب او که ثاني وو بیا به خالي نه وی یا به پري تنوین وی او یا نه که تنوین پري وي نو بیا هم معرب لکه رب بعد خیر من قبل او که ثاني وو نو مبنی به وی په ضمی سره .

**فهذه فواید وافیةٌ**: د اما حضر په ذهن د مصنف کښي په حضور اجمالی سره کا لمحسوس فوائد وافیه دي په دي ترجمي سره دري اعتراضه دفع شو ،

**اول اعتراض** : هذه اسم اشاره ده مشاره الیه غواړی نو ما حضر فی ذهن المصنف ئي مشار الیه شوه

Maktaba Tul Ishaat. com



او دویم اعتراض دادي چي هذه سره اشاره مفرد ته کیږي او فوائد خو جمع ده
**جواب:** نو جواب ئي داده چي په حضور اجمالی سره یعني دا فوائد اجمالاًپه ذهن د مصنف کښي امر واحد وګرځیدو او د دریم اعتراض دا وو چي هذه سره اشاره محسوس ته کیږي او کتاب خو محسوس ندي؟ نو جواب دادي چي دا د کمال استحضار دو جي نه کالمحسوس وګرځیدو ، فوائد جمع د فائده ده فائده وائی آنچه داده گرفته میشود از دانش ومال ، بحل مشکلات الکافیه . بحل جار مجرور متعلق دي په فوائد پوري، دا فوائد داسي دي چي پدي سره حل دمشتبهاتو د کافیه راځي ، کافیه اصل کښي صفت دي اوس نوم وګرځولي شو د پاره د کتاب او په کافیه کښي تاء دپاره دنقل دوصفیت نه علمیت ته .

## پخ علامة باندی اعتراض او جواب

**للعلامة:** للعلامة جار او مجرور متعلق دي په صُنِّفَ پوري علامه مبالغه ده په عالم کښي او علامة دا هغه عالم ته وائی چه عالم وی په علومو نقلیه او عقلیه باندي، علامة کښي تا دپاره دمبالغي ده ،
**اعتراض:** چه "تا" دپاره دمبالغي شوه نو پکار ده چه د علامة اطلاق په الله ﷻ باندي وشی .
**جواب** : په دي کښي لږه شبهه د تانیث ده لکه څرنګه چه الله ﷻ پاك دي د تانیث حقیقی نه دارنګي د ده اسماء هم د شبهه د تانیث نه پاك دی .

## شیخ چاته وائی؟

**لشیخ ابن الحاجب:** شیخ دا بدل دعلامة نه دي نو علامة مجرور ، شیخ بوډا ته او یا ماهر فی الفن ته وائي ، ماشوم چه په خیټه د مور کښي وي هغه ته جنین وائي ، او چي پیدا شی تر دوه کالو پوري هغي ته رضیع او طفل وائی او د دوه نه تر اوو کالو پوري دي ته صبی وائي، او د اوو کالو نه تر پنځلسو کالو پوري دیته مراهق وائي او دپنځلسو نه تر دیرشو یا څلویښتو پوري دي ته شاب وائي او د دیرشو نه یا څلویښتو نه تر اتیا کالو پوري دي ته شیخ وائي ، او دي نه اخوا ته چي وي هغي ته کهول وائي ، ابن حاجب ئي اسم کنیه ده او لقب ئي جمال الدین دي او نوم ئي عثمان دي تولد ئي

Maktaba Tul Ishaat. com



۵۷۰ ھ کښې شوي دي او وفات ئې ۶۳۶ ھ کښې شوي دي خو دي کښې اختلاف دي .

**تغمده الله بغفرانه**: پټ دي کړي الله ﷻ ګناهونه د ده په خاص پټولو سره دي معنې سره يو اعتراض دفع شو هغه دا چې تغمدا او غفران دواړه پټولو ته وائي او بغفرانه کښې "باء" سببيه ده نو لازم شو سبب د شئ خپل نفس لره نو مونږه جواب وکړو . چې په خاص پټولو سره نو سببيت د خاص راغي عام لره، عام پټول دا چې ګناهونه ورته وبخښي او خاص پټول دا چې ګناهونه ئې په نيکيو سره بدل کړي ، او ددي اثبات د قرآن نه هم شوي دي لکه الله ﷻ فرمائي . چې ( فاولئك يبدل الله سيأتهم حسنات ) او د حديث نه ئي هم اثبات شته حديث شريف کښې راځي چې بنده به الله ﷻ راولې او ورته به او فرمائي چې ( اتعرف ذنبك كذا وكذا ) او واړه واړه ګناهونه به ورته وښائي دا بنده به اوايي چې لوي ګناهونه دالله ﷻ نه هير دي ، نو ددي ګناهونو په بدله کښې به يوه يوه نيکي ورکړي شي نو دي به وائي چې يا الله ﷻ ! ما هغه لوی لوی ګناهونه هم کړي دی ، دو هم جواب داده چې مونږ په دي ځائي کښې تجريد کوو تجريد دي ته وائي چې استعمال د لفظ او کړي په بعضي معنې کښې لکه ( سبحٰن الذی اسری بعبده ليلاً ) نو دلته غفران معنې پټول د ګناهونو دي نو مونږه به معنې داسي او کړو چې پټ د کړي الله ﷻ ګناهونه د ده .

**واسكنه بحبوحة جنانه**: بحبوح په معنې د درميان او ياد بهتر سره راځي ، معنې سکونت دي ورکړي الله ﷻ ده ته په درميا ن د جنت او يا په بهتر جنت کښې .

**نظمتها فی سلك التقرير وسمط التحرير**. (۱) دي ځاي نه اوس صفت دخپلي شرحي کوي . (۲) باعث دتصنيف ذکر کوی ، (۳) خپل عزم ، (۴) وجه تسميه، (۵) خپل عجز ذکر کوي نظم وائي په تار کښې دملغلرو اچول ، سلك خالی تار د ملغلرو ته وائي او سمط چې ملغلري پکښې وي ددي شرح الفاظ سلك دي معاني ئي پشان دسمط دي .

**للولد العزيز**: باعث د تصنيف ذکر کوی ، للولد جار مجرور يا متعلق دي په نظمتها پوري او يا متعلق دي په صنفتها پوري ، عزيز هغه ځامنو ته وائي چې ډير کم پيدا کيږی ضياء الدين ئي لقب او نوم ئي يوسف دي .

Maktaba Tul Ishaat. com



**حفظه الله سبحانه وتعالى عن موجبات التلهف والتاسف:** بچ دي کړي الله ﷻ ده لره دهغه اسبابو نه چي سبب د تلهف او تاسف وی ، تلهف او تاسف دواړه غم ته وائي نو دا الفاظ مترادفه شو ، بعضي وائي چي تلهف هغه غم ته وائي چي راشی په سبب د داسي کار کولو چي ترک ئي ضروري وي لکه جواری کول او تاسف هغه غم ته وائي چي په ترک د داسي کار سره راشی چه کول ئي ضروری وی لکه لمونځ کول ، بعضي وائی چه تلهف خوف ته وائی چي مخکښي د لحوق د مکروه نه وي لکه ناکامی د امتحان او تاسف هغه حزن ته وائي چي پس دنتیجی نه وی لکه ناکامی دامتحان .

**وسميتها بالفوائد الضيائيه:** دلته نوم د شرح ذکر کوی ، **قاعده:** د سمی یسمی باب چه کله نسبت مفعول اول ته وشی نو معنی بیا ذکر وی لکه چه مفعول مالم یسم فاعله کښی ، او کله چي اضافت وشی مفعولین ته نو بیا په معنی د نوم ایښودلو سره راځی لکه هو " سماکم المسلمين الايه " دلته په معني د نوم ایښودلو سره راغلي دي،

## وجه تسميه د کتاب

**لانه لهذا الجمع التاليف الخ:** دي سره وجه د تسمیه ذکر کوی او دفع د اعتراض ده د کتاب نسبت مصنف ته کیږی او تا ځوی ته کړیدی پکار دا وو چي تا فوائد جامیه وئیلی وی ، نو مصنف رحمه الله جواب وکړو ، چه زما ځوی دپاره دتصنيف پشان دعلت غائی دی ځکه مي نسبت ورته کړي دي .

**اعتراض:** جمع او تالیف یو شی دي لهذا ذکر د تالیف پس دجمع نه مستدرك یعنی بلا فائدي دي ،

**جواب:** جمع مطلق جمع کولو ته وائی او تالیف جمع سره د ترتیب ته وائی نو ذکر د خاص شو وروسته دعام نه ، علت په څلور قسمه دي ، وجه د حصر ، دا علت به خالی نه وي یا به داخل وی په معلول کښی او یا به خارج وی د معلول نه که داخل وی نو بیا به خالی نه وی یا بالقوة وی او یا به بالفعل وی که بالقوة وو نو دا علت مادی او که بالفعل و نو داعلت صوري او که خارج وو د معلول نه نو بیا به خالی نه وی یا به وجود ددي مقدم وی د معلوم نه او یا به مؤخر وی که اول وو نو دا علت فاعلی او که ثانی وو نو دا علت غائی ، دلته هم څلور علته دی خاکه دشرح جامی دا علت مادي او ترتیب

Maktaba Tul Ishaat. com



خاص دا علت صوري او مصنف علت فاعلي او څوي دا علت غائی دي .

**نفعه الله تعالی بها وسائر المبتدين:** د سائر دوه معنی دي یو په معنی د باقی سره لکه سؤر الحمار او دويم په معنی د جميع سره لکه سور البلد. **من اصحاب التحصيل:** د خاوندانو د تحصيل نه .

## د توفيق لغوی اصطلاحی تعريف

**وما توفيقی الا بالله:** توفيق په لغت کښي دست دادن را درکاري او په اصطلاح کښي جعل الاسباب موافقة للمطلوب بعضي عالمان پکښی قید د خير زياتوی اود بد کار اسباب تیاولو ته خذلان وائی .

**وهو حسبی ونعم الوكيل الخ: قاعده:** کله چی د يوي جملی عطف په بله جمله راځي نو په هغي کښی تغاير من وجه او اتحاد من وجه ضروري دي که من كل الوجوه اتحاد وی، بیا عطف نه صحیح کیږي ځکه عطف دشئ راځي په خپل نفس باندي او که من كل الوجوه تغاير وی نو بیا هم عطف نه صحيح کیږی ځکه عطف د يو مباين راځی په مباين آخر باندي نو اوس نعم الوكيل عطف دي په وهو حسبی باندي هو مبتدا حسبی مضاف مضاف اليه خبر ، جمله اسميه شوه نعم الوکیل فعل مدح او الوكيل ئی فاعل دي . فعل فاعل جمله انشائیه لازم شو عطف د انشاء په خبر باندي او ددي په مينځ کښي من كل الوجوه تغائر دي ځکه اخبار موجود شی وی او انشاً ایجاد دمایوجد ته وائی ددي نه جواب . ۱ : اول جواب دادي چه لانسلم یعنی مونږه دا خبره نه منو چه داندي جائز ځکه دا به عطف شی دقبيلي ديوي قصي په بلي قصی باندي او داسي عطف جایز دي او مناسبت هم دواړو په مینځ کښي شته چه دواړه په مقام ددعا کښي دي .

۲ : **هوحسبی** اګر که فلظاً خبر دي خو معنیً انشاً ده ځکه مقام ددعا دي او مقام ددعا کښي ټول اخبار انشاء وي .

۳ : **نعم الوكيل** عطف دي صرف په حسبی باندي نو بیا خو عطف د جملي راځي په مفرد باندي ، جواب : حسبی په معني د يحسبنی سره دي نو عطف دانشاء په انشاء باندي راغلو يحسبنی په معني دكافي دي ما لره يعني كافي شی مالره یا الله ﷻ .

Maktaba Tul Ishaat. com



## غرض د شارح په اعلم کښې

**اعلم ان الشيخ لم يصدر رسالته هذه الخ:** اغراض دشارحينو په اعلم سره څو اشياء دي ۱ : کله غرض د شارح بيان دمذاهبو وي . ۲ : کله غرض بيان د دلائلو دمذاهبو وي ۳ : کله غرض د شارح بيان د ترجيح ماهو الراجح وي ، کله دشارح د ماتن رايه نه وي خوښه نو دهغي رد کوی ، ۴ : کله په ماتن اعتراض راځي نو شارح ورسره قيد ولګوی ، ۵ : کله ترتيب کښي خفا وي نو شارح ورسره قيد ولګوی ، ۶ : کله ترکيب کښي خفاء وی نو شارح دهغي ازاله وکړي ، ۷: کله شارح تتميم د متن کوی دا اغراض د شارح دي او دلته غرض دشارح دفعه داعتراض ده

**اعتراض:** الحمد لله دي ولي رانه وړو د قرآن حديث او سلفو نه دي مخالفت اوکړو شارح چه "اعلم" راوړي نو ددي دري غرضه وي . ۱ : جواب دسوال کوي ، ۲ : اختلاف ذکر کوي ، ۳ : زياتي مسئله ذکر کوي ، اعلم جواب دي د سوال مقدر نه ، دلته پنځه خبري دي ، ۱ : اعتراض ، ۲ : دفع داعتراض ، ۳ : دفع داعتراض، ۴ : جواب دخيل اعتراض نه ، ۵ : دفع داعتراض ،

**ان الشيخ لم يصدر رسالته هذه بحمد الله سبحانه وتعالى:** دا اعتراض شو مينځ کښي ئي قيد دهذه راوړي په دي سره دفع داعتراض ده چي مصنف خو رساله کښي الحمد راوړي چي منتخب الوصول ده نودي هذه سره اشاره کافيه ته کوی چي ديکښي ئي نده راوړي ، **بان جعله جزءً منها الخ:** دي سره د دريم اعتراض دفع ده ، اعتراض دا دي چي تا ته څه پته ده کيدي شي په خوله ئی وئيلی وي دي وائي چه مراد ددي نه چي جزء يي ندي ګرځولي ددي کتاب نه. څلورم غرض جواب دي چه هضماً لنفسه هضم هم جائزدي د هضم معني ده دنفس ماتول متعدي دي او هضم معني ده نفس ماتيدل لازمي دي ،

**بتخيل ان کتابه:** دا معني د هضماً لنفسه ده ، ده الحمد لله را نه وړه پدي خيال سره چي کتاب دده پشان دسلفو نه دي ، **من حيث انه کتاب الخ** : دي سره غرض دفع د **اعتراض** : اعتراض دادي چي دده کتاب پشان دسلفو ندي ولي ندي په دي کښي هم مسايل دنحوي دي **جواب:** خلاصه داده چي ددي کتاب دوه حيثية دي يو دا چي کتاب دنحوي دي نو دي حيثيت سره دسلفو نه هم مخکښي دي او بل حيثيت دا چي

Maktaba Tul Ishaat. com



زما کتاب دي او زه خلف یم دهغوي نه نو زه هغوي ته نشم رسیدي حتی یصدر به ، دا تفریع ده په منفي باندي چي کتب السلف دي نو معني داسي شوه چي که کتاب د ده پشان دسلفو وي نو ده به مصدر کړي په الحمد لله سره په طریقو د سلفو سره. **ولا یلزم من ذلک عدم الابتداء الخ**: دي عبارت سره غرض دفع دیو **اعتراض**: او هغه دا چي ملا صاحب دا خو آسانه خبره ده چي یو سړي به مونځ نه کوي او هغه به دا وائي چه لمونځ خو یو ډیر لوئ کار دي او زه ډیر ګناهګار یم نو دمصنف دا توجیه بنه نه ده ځکه چه دحدیث نه مخالفت راځي. **جواب**: نو ولا یلزم سره جواب ته اشاره ده چي حدیث کښي خو لیکل ندي راغلی بلکي لم یبدأ دي نو دا ابتدأ دري صورته دی ، ۱ : زړه کښي راتلل ، ۲ : لیکل ، ۳ : په ژبه وئیل. نو کیدي شی چه په ژبه یا په زړه کښي ئي وئیلی وي،

**حتی یکون**: دا تفریع ده په لا یلزم باندي معني داسي ده چي که لازمیدي د ترك د حمد نه "دُمْ بریده والی" نو زما کتاب به هم اقطع شوي وي ، **نوټ**: دلته دوه خبري د کتاب نه بهر دي : اوله خبره داده چي ده "بتخیل" اووئیلو دا لفظ د خیال ئي ولي راوړو ددي په ځاي به ځاي تعقیل وئیلی وي ددي دپاره نکته داده چي عقل تابع ده خیال دي، مثلاً یو کس په لاره روان دي نو دده قدم یوه خښته ځاي نیسی نو که دیوي خښتي دیوال وي نو عقل خو دا وائي چي داکس پري په منډه تللي شی لکین خیال ورته دا وائي چي مه ځه غورځیږي، دغه ډول دلته مصنف ته عقل وائي چي ستا کتاب دسلفو کتابانو ته نشي رسیدلي ، ځوك به ئي قبول کړي او که نه، دویمه نکته داده چي دا هضماً لنفسه مفعول له د چا د پاره دي نو داد فعل مقدر دپاره دي چي ترك التصدیر دي، ترك فعل فاعل او التصدیر مفعول به دي او هضماً مفعول له دي او دا علت وي نو هضماً لنفسه دا علت شو دپاره د ترك التصدیر ، که ځوك اووائي چي دا مفعول له د پاره د فعل مقدر ګرځوي نو دفعل مذکور چي هغه لم یصدر دي ولي مفعول له نه ګرځوي او نقصان پکښي هم شته.

**جواب**: په ظاهر کښي دا مفعول له دفعل مذکوره دپاره جوړیږي خوکه په جور نظر سره ورته اوګوري نو بیا نه صحیح کیږي ځکه نه صحیح کیږي چي لم یصدر کښي دوه کلمي دي یو لم دي او بل یصدر دي که دا هضماً لنفسه مفعول له د پاره د لم شی نو

Maktaba Tul Ishaat. com



لم خو حرف دي او هغه غير مستقل دي او مفعول له داد مستقل دپاره راځي ، او د دوارو نه که مفعول له شي نو بيا هم نه صحيح کيږي او ددي عدم صحت دا بناء دي په يو قاعدي باندي ، قاعده داده چي يو فعل وي او هغه مقيد وي په يو قيد سره او دغه فعل باندي تا نفي داخله کړه نو دا نفي متوجه کيږي دغه قيد ته نو مقيد به په ځاي پاتي کيږي لکه (ما جاءني زيد راكباً) جاء فعل دي او قيد ئي راكباً دي نو نفي به متوجه وي دغه قيد ته چي راكباً دي دا قاعده اکثريه ده کليه نده ځکه قرآن کريم کښي راځي (ان الله ليس بظلام للعبيد) بظلام کښي مبالغه ده او په ظلم کښي دا مبالغه يو قيد دي نو تا پري نفي داخله کړه چي ليس دي او س داسي نشي وئيلی چي دلته نفي متوجه ده قيد ته چي مبالغه ده، نو بيا به معني داسي شي : چي الله ﷻ ډير ظالم ندي خو نعوذ با الله لږ ظالم دي، يا لکه بل ځائ کښي الله ﷻ فرمائي، (ولا تطع كل حلاف) نو تطع دا مقيد دي په حلاف سره نو دلته دا نفي متوجه نده دغه قيد ته چي حلاف دي ځکه معنی کښي بيا تغير راځي، نو اوس راځو خپل مطلوب ته نو يصدر فعل دي مقيد دي په قيد دهضماً سره پدي باندي تا "لم" داخل کړو نو قاعده خو مونږ وئيلی نو معني داسي شوه چي دا الحمد لله ئي را نه وړه د هضم دنفس دوجه نه او دا بل څه دوجه نه ئي را وړه او داندي مكر عكس المطلوب.

## بيان د الكلمة

**وبدا بتعريف الكلمة والكلام الخ:** ددي عبارت سره غرض د مصنف دفع داعتراض ده ، ۲ : قدم الكلمة سره دفع ددويم اعتراض ده ، ۳ : توطيه او تمهيد ذکر کوي لپاره د متن .

**اعتراض:** مقصود په نحو کښي مرفوعات منصوبات او مجرورات دي او تا په کلمه او کلام کښي شروع اوکړه ، دا خو غير مقصود دي پکار وه چي مقصود کښي دي شروع کړي وي .

**جواب:** مرفوعات منصوبات او مجرورات دا احوال د کلمي دي او تا چي کلمه نه وی پيژندلي نو څنګه به يي د احوالو نه بحث وشي دموقوف عليه نه دا عين بحث وی په موقوف کښي ، کيف يبحث کښي استفهام انکاري دي معني داده چي بحث نه شي کيدي ، په "متى لم يعرفا " کښي دوه نسخي دي ، اوله نسخه داده چي داد مجردو نه

Maktaba Tul Ishaat. com



شی یعني لم یعرفا نو معني داسي شوه چي تر څو پوري معرفت د کلمي نه وي شوي تر هغي بحث نشی کیدي، او دوهمه نسخه دا ده چي د مزیدو نه شی یعني لم یعرفا نو معني داسي شوه چي تر څو پوري تعریف د کلمي نه وي شوي نو بحث په احوالو کښي نشی کیدي، پدي دواړو نسخو اعتراض واردیږي، اوله نسخه باندي اعتراض دادي چي ته معني دا واخلي چي تر څو معرفت د کلمي نه وي راغلي نو تقریب دي پوره نه شو تقریب وائي سوق الدلیل علی وجه یستلزم منه المطلوب په اصطلاح دفن د مناظري کښي اوس دلته مطلوب شروع کول په تعریف کښي نو مدعي دي یوه شوه او دلیل دي بل شو دعوه دي تعریف دي او دلیل نه دي معرفت ثابتیږي ځکه تا د مجردو معني واخستله ، دویم شق د اعتراض دادي که دا د مزیدونه واخلي نو بیا خو دي دلیل او مدعی سره یو شول دلیل دي تام شو خو دا "فی نفسه" صحیح ندي ځکه معرفت بوجهها دا کافی وي په یو شی کښي د بحث کولو دپاره.

**جواب**: دواړه نسخي صحیح دي که د مجردو نه شی نو هم صحیح ده ځکه معرفت دا فرد دي د افرادو دتعریف نه نو چه احتیاج معرفت ته راغي نو دا داسي ده لکه چي تعریف ته راغی نو دلیل تام شو، دوهمه نسخه هم صحیح ده ځکه مراد دبحث نه بحث علی وجه البصیرة دي نوعلی وجه البصیرة بحث دا موقوف دي په تعریف پوري که مطلق بحث کوي نو بیا "معرفت لوجه ما" هم کافی دي.

## وجه تسمیه تقدیم د کلمه په کلام باندی

**وقدم الکلمة علی الکلام الخ**: دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده ،

**اعتراض**: کلمه ئي ولی مقدم کړه په کلام باندي سره ددینه چي کلمه مفید دفائده تامي نده او کلام مفید د فائده تامی دي، پکار وه چي کلام ئي مقدم کړي وي،

**جواب**: خلاصه د جواب داده چي کلمه مقدمه وه طبعاً نو مونږه مقدمه کړه ضوعاً دپاره ددي چي مناسبت دوضعي راشی د وطبعي سره مقدم طبعي دیته وائی چي دا مخکښي شئ محتاج الیه دپاره دمؤخر او مقدم علت نه وي دپاره د مؤخر، مثلاً پلار او خوئ ، نو دلته کلمه محتاج الیه ده دکلام دپاره او کلام ورته محتاج دي خو کلمه علت ندي د پاره دکلام، یو تقدم با لشرف دي لکه تقدم داستاذ په تلامیذاؤ باندي، یوتقدم

Maktaba Tul Ishaat. com



با لزمان دي لكه تقدم دآدم علیه‌السلام په نور اولاد خپل ، يو تقدم با لمكان دي لكه تقدم دير كور په بل كور ، يو تقدم ذاتي دي تقدم ذاتي ديته وائي چي مقدم علت وي دپاره دمؤخر لكه تقدم دالله جل‌جلاله په صفاتو خپلو نو الله جل‌جلاله علت دي دپاره دصفاتو خپلو ، "لكون افرادها جزءً" الخ :

**اعتراض**: افراد د كلمي خوجزء ندي افرادو دكلام نه.

**جواب**: مفهوم اجمالي د افرادو د كلمي داجزء دي دمفهوم تفصيلي دافرادو دكلام نه ، ومفهومها جزء من مفهومه ، او مفهوم د كلمه دا جزء دي مفهوم دكلام نه او جزء مقدم دي په كل باندي طبعاً ، فقال الكلمه : دي عبارت سره غرض د مصنف توطيه او تمهيد دي په الكلمة باندي داعتراض كولو.

**اعتراض**: " قال " فعل دي او ضمير پكښي هو دي چي راجع دي شارح ته نو هغه ئي فاعل او الكلمي ئي مرفوع ووئيله پكار وه چي الكلمة ئي منصوب وئيلی وي چي مفعول واقع شوي وي ؟

**جواب**: اعراب په دوه قسمه دي ، ۱ : حالي ، ۲ : حكائي ، دلته اعراب حكائي دي .

## غرض دِ شارح په الكلمة كښي

**الكلمة**: غرض دشارح ددي عبارت نه شپږ اغراض ذكر كول دي : او هغه دا چي اول اختلاف ذكر كول دي ، دويم ديو قول ضعف ته اشاره كوي ، دريم ذكر د دليل ، څلورم اختلاف ذكر كول ، پنځم بيا دليل ذكر كول ، شپږم جواب وركوي : ددي شپږ وارو اغراضو تفصيل :

۱ : جمهور وائي چي دا اسماء برأسهما دي، ۲ : بعضي علماء وائي چي دا مشتق دي كلمٌ يا كلِمٌ نه ، اشتقاق په لغت كښي چاودلو ته وائي او په اصطلاح كښي ان تجد بين اللفظين تناسباً في اللفظ والمعني ، دجمهورو دليل دادي چي دارو مدار د اشتقاق دا بناء دي په تكلفاتو بعيده و باندي يو تكلف دادي چي كلم په معني د جرحې سره دي او هره كلمه خو جرحه نه كوي بلكه كلمه سيئه جرحه كوي او ددي په منځ كښي هيڅ مناسبت نشته او بل تكلف دا دي چي كلمه غوڅول نه كوي ، بل دا چي جرحه سره په څه كښي مشابهت لري په حزن كښي ، نو دا ټول تكلفات دي، دويم مذهب

Maktaba Tul Ishaat. com



ضعيف دي ځکه چه مصنف په قيل سره ذکر کړيدي او اختلاف پکښي موجود دي، دليل دبعضو دپاره هغه دا شعر دي:

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ماجرح اللسان.

## اختلاف په لفظ كلام كښي

**قيل هي الكلام**: دلته مصنف هي ضمير راوړو او کلام ئي په اسم ظاهر سره ذکر کړو ځکه چه کلمه مخکښي ذکر وه صراحتا او کلام نه وو ذکر ، والكلام جنس لاجمع، کلمه جنس او که جمع ، پديکښي دوه مذهبه دي ،١ : جمهور ، ٢ : بعضي ، جمهور وائي چي دا جنس دي جمع نه ده او ددوي دپاره څلور دلائل دي، اول دليل دادي چي تميز دعدد اوسط مفرد نکره راځي لکه اثناعشر کلماً او مفرد نه وي مګر جنس، دويم دليل دادي چي تصغير ددي بنفسه کليم راځي مفرد ته نه رد کيږي ، دريم دليل دادي چي ددي وزن دجمعي په اوزانو کښي نشته دي څلورم دليل دادي چي په قرآن کريم کښي راځي ( اليه يصعد الكلم الطيب ) الطيب صفت د کلم دي چي دا جمع ده جنس ندي جمع وائي (ما يطلق على ثلاثة فصاعدا له مفرد من لفظه نحو مسلمون ) او جنس هغه دي چي ( مايطلق علي الماهية معري عن الافراد نحو انسان وليس له مفرد من لفظه) او ددي بعضو دپاره دليل دادي چي ددي اطلاق په ثلاثة او په فصاعدا باندي کيږي ، دوي رد کوي په جمهورو باندي ، هغوي د اول دليل نه جواب داسي کوي چي زه دا نه منم چي تميز دعدد اوسط کلماً راځي بلکي کلمه راځي، او ددويم دليل نه جواب دا کوي چي تصغير اول رد کيږي مفرد ته يعني کلمه ته او بيا ئي تصغير کليم راځي ، او د دريم دليل نه جواب دا کوي چي وزن ئي په جمعو کښي شته چي همدا وزن دي، او څلورم دليل نه جواب دا کوي چي دا آيت مؤل دي په تاويل دبعضو سره يعني داسي دي بعض الكلم الطيب نو الطيب صفت د بعض واقع شوي او بعض مفرد دي مونږه د جمهورو په ملګرتيا کوو اول دليل نه جواب دا کوو چي ستاسي دعوه بلا دليله ده ځکه په کلام دعربو کښي ددي ثبوت نشته دي ، او دوهم رد نه هم جواب دادي چي ستاسي دعوه بلا دليله ده، دريم دليل نه جواب دادي چي دا خو مصادره على المطلوب کوي تاسي يعني په دليل کښي هم هغه دعوه راوړي .او څلورم رد نه جواب دادي چي

Maktaba Tul Ishaat. com



تاویل هغه وخت کیږي چي استعمال د حقیقت متعذر وي جمهور ددوي دلیل نه جواب کوی چي یو استعمال دي او بل وضع ده اصل وضع د کلمٌ د مفرد تثنیي او جمعي ټولو دپاره شوي ده او کله کله استعمال خلاف الوضع راځي.

**اعتراض:** مصنفه ! تا اول تحقیق داشتقاق وکړو او بیا دي دجنس وکړو او اوس د الف لام کوي پکار وه چي اول دي بحث د الف لام کړي وي او بیا د په نفس کلمه کښې کړي وي،

**جواب** : کلمه معروضه ده او الف لام عارض دي کلمي ته او معروض مقدم وي په عارض باندي.

## والکلام کښی غرض د شارح

**والکلام فیها للجنس** ، غرض دشارح اول تعین دالف لام دي، ۲ : تعین دتاء دي، ۳ : دریم نمبر دفع داعتراض ده ، ۴ : څلورم قول آخر ذکر کوي ؛ اول نمبر بحث دالف لام دي الف لام په دوه قسمه دي ، ۱ : اسمی، ۲ : حرفی ، الف لام اسمی هغه دي چي په اسم فاعل او اسم مفعول کښي وي نو په الکلمة کښي خو الف لام اسمي نه دي ځکه کلمه نه اسم فاعل ده او نه اسم مفعول ، او الف لام حرفي هغه دي چي ماسوا د اسم فاعل او اسم مفعول کښي وي خو الف لام حرفي په دوه قسمه دي ، ۱ : زائد ، ۲ : غیر زائد . زائد هغه دي چي سقوط ئي مخل نه وي معني لره ، نو دلته دا هم نه دي ځکه سقوط سره ئي نکارت دمبتداء لازمیږي، غیر زائد په څلور قسمه دي ، ۱ : جنسی ، ۲ : **استغراقی** ، ۳ : **عهد خارجی** ، ۴ : **عهد ذهنی** ، دلته استغراقي هم نه صحیح کیږي ځکه چي استغراق په افرادو کښي راځي او مونږ تعریف کوو او تعریف دماهیت کیږي نه د افرادو او تعریف د ماهیت په ماهیت سره کیږي او تعریف د ماهیت په افرادو سره نه کیږي، لکه تعریف د انسان په خامر مخامخ سره نو دا خو هر شی کیدي شی، دا رنګ تعریف د افراذو په ماهیت سره نه کیږي لکه تعریف د ضیاء الحق په حیوان ناطق سره نو حیوان ناطق خو بل څوك هم کیدي شی ، او الف لام عهد خارجي هم صحیح ندي، ځکه دا په قوت د نکري کښي وي اګر چه تعریف لفظي کښي فائده ورکوي نه معنوي کښي ، نو پاتي شو جنسي نو جنسي هم نه صحیح کیږي ځکه چي جنس مقتضي دتعدد دي او دوحدت دتعدد سره منافات دي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**جواب:** دلته الف لام جنسي دي او (تا) يا دپاره دتانيث ده اويا (تا) دپاره د وحدت ده.

## د وحدت اقسام

**والتاء للوحدة ولا منافاة بينهما الخ** دي عبارت سره مصنف دا دويم غرض چي تعين د (تاء) دي او دريم غرض چي دفع د اعتراض ده ذكر كوي ، نو شارح فرمائي چي (تاء) دپاره د وحدت ده او دريم غرض دفع داعتراض ده

**اعتراض:** داوو چي الف لام دپاره دجنس دي او (تاء) دپاره د وحدت ده ،او ددوي دواړو په مابين كښي منافات دي .

**جواب:** مونږ جواب وركوو په دي الفاظو سره چي (ولا منافاة بينهما) او هغه داسي چي وحدت په څلور قسمه دي ، **وحدت جنسي** ، **وحدت نوعي** ، **وحدت صنفي** ، **وحدت فردي**، يا **شخصي** ، نو دجنس چي كوم منافات دي هغه دوحدت فردي يا شخصي سره دي نه د نورو سره او په اصطلاح داهل منطقو كښي ديته منافي غير لازم لازم غير منافي وائي ،

**لجواز اتصاف الجنس بالوحدة والواحد بالجنسية الخ**: د وجي دتصادق دجنس نه په وحدت باندي او دوجي دتصادق دواحد نه په جنسيت باندي،

**اعتراض:** دتوضيح دممثل دپاره مثال واحده كافي وي او تا دوه مثالونه ولي راوړل ؟

**جواب:** تصادق دا مصدر دي دباب تفاعل نه يو خاصيت ئي تشارك دي او دي سره اشاره ده طرفينو ته يعني واحد په جنسيت او جنس په وحدت باندي صادقيږي ،

**ويمكن حملها على الخارجي الخ:** دي عبارت سره څلورم غرض ذكر كوي چي هغه قول آخر دي، او دلته الف لام عهد خارجي هم صحيح كيږي كه څوك اعتراض اوكړي چي الف لام عهد خارجي خو معهود غواړي وههنا ليس كذالك ؟ نو جواب ورته وكړه چي كل متكلم يتكلم با صطلاحه نو مراد د كلمي نه هغه كلمه ده چي جاري وي په السنه ؤ دنحاتو باندي، مصنف رحمة الله عليه (والتاء للوحدة) اووئيل او وروسته ئي لفظ اوويل لفظه ئي او نه ووئيل لانه لم يقصد الوحدة، نو مصنف په عبارت كښي تعارض راغي ، جواب دادي چي په الكلمه كښي (تاء) دپاره د تانيث وه بيا نقل شوه د تانيث نه وحدت ته نو څكه مصنف لفظ ووئيل او لفظه ئي او نه وئيل،

Maktaba Tul Ishaat. com



**اعتراض:** ته وائي چي معهود پدي سره هغه کلمه ده چي جاري ده په السنهؤ د نحاتو نو السنه د نحاتو خو معهود ندي ،

**جواب:** معهود کله کله صراحتاً ذکر وي لکه ﴿ فعصیٰ فرعونُ الرسول ﴾ الرسول کښي الف لام عهدي دي معهود پدي سره موسیٰ علیه السلام دي او هغه مخکښي صراحتاً معهود دي ، او معهود کله مقام نه معلوميږي لکه ﴿ **ولابويه لكل واحد منهما السدس** ﴾ نو ابويه کښي ضمير ميت ته راجع دي او معهود دي مقام نه چه مقام دميراث دي معهود کله کله ضمناً ذکر وي لکه ﴿ **انى نذرت لك مافى بطنى محرراً** ﴾ دلته ما عامه ده مذکر او مؤنث دواړو ته شامليږي او وريسي محرراً نه مذکر معلوميږي او په وليس الذکر کښي الف لام عهدی دي او معهود پدي سره هغه مذکر دي چي د قريني دمحرراً نه معلوميده ضمناً ، نو جواب داشو چي دلته السنه دنحاتو د قريني دمقام نه معلوميږي چي مونږ په مقام دنحوي کښي يو نو مراد هغه کلمه ده چي جاري ده په السنهؤ دنحاتو .

## د لفظ معنی او تشريح

**قوله لفظ:** دي ځائ نه مصنف رحمة الله عليه په نني درس کښي لس خبري ذکر کوی، ۱:معني لغوی دلفظ ، لفظ په لغت کښي مطلق رمی ته وائي که دفم نه وي او که دغير دفم نه چي دفم وي او لفظ وي لکه زيدٌ قائمٌ ، ۲ : دويمه خبره محاوره دعربو چي لفظ پکښي مستعمل شوي وي لکه اکلت التمرة ولفظت النواة ، محاوره د عربو دپاره دقواعدو عربيه پشان دنصوصو دقرآن دي دپاره داحکام شرعيهؤ، ۳ : دريمه خبره دفع داعتراض ده .

**اعتراض:** تا ووئيل چي رمی عامه ده چي دفم نه وي او که د غير فم نه او مثال دي ﴿لفظت النواة﴾ راوړو دينه معلوميږي چي رمی خاص ده په فم پوري.

**جواب:** مصنف رحمة الله عليه په رميتها سره جواب ورکړو چي هډوکي مي تري وويستلو او ګذار مي کړو نور مي تر سره شوه ، ثم نقل في عرف النحاة ، ۴ : څلورمه خبره هغه معنی اصطلاحي ده لفظ معني لغوی نه معني اصطلاحي ته نقل شو چي ما يتلفظ به الانسان دي خودا نقل په دوؤ طريقو سره دي اوله طريقه داده چي دا لفظ

Maktaba Tul Ishaat. com



ابتداءً نقل شو ما يتلفظ به الانسان ته او دويمه طريقه داده چي دا لفظ مصدري دي او مصدر كله مبني للفاعل وي او كله مبني للمفعول نو دلته مبني للمفغول دي په معني د ملفوظ سره او بيا نقل شو معني اصطلاحي ته او ديته تسميه دمسبب وائى په اسم دسبب سره .

ما يتلفظ به الانسان دلته (باء) دپاره تعديت ده نه ده سببيت دپاره كه دسببيت دپاره شي نو تعريف مانع نه گرځي خپلو افرادو لره داخليږي پكښي لسان ځكه دلسان په سبب سره تلفظ كيږي پكار ده چي بيا لسان ته هم لفظ وويلى شي ،

**حقيقتاً او حكماً موضوعاً كان او مهملاً الخ:** پنځمه خبره دفع د اعتراض ده پدي عبارت سره ،

**اعتراض:** الكلمة معرف ده او لفظ ئي معرف دي نو پدي سره لفظ مهمل خارجيدو وضع ته څه ضرورت نه وو او لفظ موضوعه دلالت كوي په معني باندي نو لمعنى ته ضرورت نه وو او په الكلمه كښي (تا) دپاره د وحدت ده نو مفرداً ته ضرورت نه وو؟

**جواب:** هر تعريف مشتمل وى په جنس او فصل باندى نو لفظ دا جنس وو او په جنس كښى عموم وى نه اخراج ، او لفظ ، موضوع او مهمل اوهمدارنگه مفرد او مركب ټولو ته شامل وو نو مونږ قيودات ولگول نو په وضع لمعنىً سره لفظ مهمل خارجشو او په مفرداً سره مركب خارج شو .

## د لفظ اقسام او تشريح

**واللفظ الحقيقى:** شپږمه خبره تقسيم دلفظ دى قسمين ته ، لفظ په دوه قسمه دى ،(۱) حقيقى ، (۲) حكمى ، لفظ حقيقى دا هغه دى چي دمقولى دحرف او صوت نه وى لكه زيدٌ او ضرب ، (۲) حكمى دا هغه دي چي مقولى د صوت او حرف نه. نه وى لكه زيد ضرب كښي (هو) ضمير يا په اضرب كښي انت ضمير .

**اعتراض:** هلكه په منوى دي كاف تشبيه داخل كړو دينه معلوميږي چه د حكمى نور مثالونه هم شته او حالانكه د حكمى مثال همدا منوى دي فقط .

**جواب:** دا په اعتبار د كثرت اقسامو دمنوى چي مذكر مؤنث غائب او حاضر دي، اوومه خبره **ولم يوضع له لفظ** : دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض

Maktaba Tul Ishaat. com



دادي چي هلکه " هو او انت " ته تا دحکمی مثال وائي او حالانکه پدي خو تلفظ کیږي د حقیقي نه ئي ولی نه شماري .

**جواب:** دي ته اشاره کوی په ولم یوضع له لفظ سره معنی داده چي دمنوی دپاره لفظ موضوعه نشته

**وانما عبروعنه الخ:** اتمه خبره دي عبارت سره بله دفع داعتراض ده او هغه دا چي دمنوی نه په څه شي سره تعبیر کوی نو دي جواب کوی چي ضمایر منفصله استعارةً اخستل شویدي دپاره دمنوی په منوی کښي دوه دعوی ذکر کوی یوه سلبی هغه دا چي منوی لفظ حقیقی نه دي او دلیل ددي دادي چي : (لیس من مقولة الحر والصوت) او بله دعوه ایجابی ده اوهغه دا چي منوی لفظ حکمی دي او دلیل ئي دادي چي (واجروا علیه احکام اللفظ.

**والمحذوف لفظ حقیقة:** نهمه خبره دفع داعتراض ده او هغه دا چي محذوف ته ولی لفظ حقیقی وائي سره ددینه چي ما یتلفظ به الانسان ندي لکه (واسئل القریة) کښي اهل محذوف دي اصل کښي اهل القریة دي نو دي جواب کوي چه (لانه قد یتلفظ به الانسان في بعض الاحیان وکلمات الله داخله)

لسمه خبره دفع داعتراض ده هغه دا چي هغه کلمات چي مختص دي په ذات د الله ﷻ پوري هغه الفاظ دي او ما یتلفظ به الانسان ندي، همدارنګه کلمات د ملائکه ؤ الفاظ دي او ما یتلفظ به الانسان ندي لکه (ان فی الجنة نهراً من لبن لعلی وحسن وحسین رضی الله عنهم )

او همدارنګه کلمات الجن الفاظ دي او ما یتلفظ به الانسان ندي لکه قبر حرب بمکان قفر، ولیس بقرب قبر حرب قبر .

نو دي جواب کوی چي دا ټول ما یتلفظ به الانسان دي په بعض احیانو کښي .

## والد وال الاربعه کښی غرض د شارح

**والدوال الاربع:** غرض دشارح پدي عبارت سره رد کول دي په شارح هندي او شارح رضی باندي .

**اعتراض:** شارح رضی اعتراض کوي په ماتن باندي چي تاباید یو قید لګولی وي

Maktaba Tul Ishaat. com



چي هغې سره دوال اربعه خارج شوي وي. نوشارح هندي جواب کوی چي قید دلفظ سره دوال اربعه خارج شول . ځکه چي دا خو الفاظ نه دی شارح رضی بیا په شارح هندی باندي اعتراض کوی چي لفظ خو جنس دي او جنس دعموم لپاره وی نه د اخراج لپاره . شارح هندي جواب کوی چي جنس په دوه قسمه دي يو قسم هغه دي چي د جنس او د فصل په مابين کښې نسبت دعموم خصوص من وجه وی نو پدي کښې نسبت د اخراج کول جنس ته جائز دي او دلته د لفظ او وضع په مينځ کښي نسبت دعموم او خصوص من وجه دي لفظ به هم وی او وضع به ئي هم شوي وي لکه لفظ دزيد او لفظ به وي او وضع به ئي نه وي شوي لکه ديز. او وضع به ني شوي دي خو لفظ به نه وي لکه دوال اربعه . لهذا دا تعريف ناقص شو او هر ناقص باطل وي لهذا دا تعريف هم باطل شو شارح په دي دواړو باندي رد کوی شارح رضی تاواني چي خروج سبق دخول غواړی نو دلته دوال اربعه داخل ندي . شارح هندی ته واني چي ته خو اخراج د مخرج کوی دا دسره داخل ندي.

**( وانما قال لفظا ولم يقل لفظة )** دويمه خبره دفع داعتراض ده په منصف رحمه الله عليه باندي اعتراض واردیږي چي هلکه ستا کتاب ماخوذ دي د صاحب مفصل نه. او صاحب مفصل په خپل کتاب کښې لفظة ويلى دي او ته مخالفت کړي د هغه نه. صاحب مفصل داسي ويلى دي ( وهى اللفظة الدالة على المعنى . **جواب:** جواب دادي چي صاحب دمفصل قصد د وحدت کړي او ما قصد دوحدت نه دي کړي نو ثمره د اختلاف د راووتله چي عبد الله په نزد د صاحب مفصل مرکب دي او په نزد دماتن رحمه الله عليه مفرد دي . **والمطابقة غير لازمة الخ :** دريمه خبره دفع داعتراض ده . **اعتراض:** دادي چي ترکيب غلط دی ځکه چي الکلمه مبتدا ده او مؤنث ده او لفظ ئي خبر مذکر دي نو مطابقت په مابين د مبتدا او خبر کښي را نغلو

**جواب:** دادي چي مطابقت په مينځ دمبتدا او خبر کښي دا په شروط سته باندي موقوف دي ( ۱ : اول دا چي مبتداء او خبر به اسمين ظاهرين وي که يو هم ضمير وي نو بيا هم مطابقت ضروري ندي لکه ( وهى اسم وفعل . ۲ : دويم دا چي خبر به مشتق وي که خبر مشتق نه وي نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه دلته په الکلمة لفظاً

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې . ۳ : دريم شرط دادي چي خبر پکار ده چي مشتمل وي په يو ضمير چي راجع وی مبتدا ته . که ضمير نه وو نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿ ماه وجور ممتنع عن الصرف ﴾ ۴ : څلورم دا چي خبر به فعيل په معني د مفعول سره نه وی که وو نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿ المراة جريح په معنی دمجروح سره ﴾ ۵ : دا چي خبر به صفت خاصه دنساء ۀ نه وي که وو نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿ امراة حايض ﴾ ۶ : شپږم دا چي خبر به اسم تفضيل مستعمل په ﴿ من ﴾ سره نه وي که اسم تفضيل مستعمل په ﴿ من ﴾ سره وو نو بيا هم مطابقت ضروری ندي لکه ﴿ الصلوة خير من النوم ﴾

**مع كون اللفظ اخصر** څلورمه خبره دفع داعتراض ده .اعتراض : دادي چي مصنف صاحب ! که مطابقت ضروری او واجب ندي نو مستحب خو دي څه نقصان خو پکښې نشته دي .

**جواب:** دادي چي لفظ اخصر دي يعني کم دي د اللفظة نه . او بيا دا چي که اللفظة ويلي وي نو بيا وروسته عبارت کښې هم تطويل راتلو پدا سي شان چي الكلمة اللفظة وضعت لمعنى مفردة الخ :

## د غرض معنی اصطلاحی او دفع د اعتراض

**الوضع تخصيص شئى الخ:** اول غرض معنی اصطلاحی دوضع دويم دفع د اعتراض دريم جواب څلورم بل جواب ذکر کوی دلته معنی لغوی نده ذکر په لغت کښې وضع نهادن ته وائی ځکه ئي معني لغوی ذکر نه کړه چي مقصود معانی اصطلاحيه دي.

**اعتراض:** په لفظ کښې دي معنى لغوي ولى ذکر کړه ؟ **جواب:** دا ځکه چي دلفظ په معنی لغوی کښې خفاء وه چي دمعنى لغوی نه معنى اصطلاحی نه را نقل شوه .

**الوضع:** شئی اول عام دي که لفظ وي او که غير لفظ وي لکه عبد الله لفظ او وضع دواړه دي او لفظ به نه وي اووضع به وي لکه دوال اربعه تخصيص د خاص نه دي مايوجد فيه ولا يوجد في غيره ته وائي **بحيث متى اطلق:** د اطلاق معنى ده ذکر کول او او أحس الشئ الاول دا په غير لفظ کښې راځی لکه سړي در ته پخپله خوله لاس کيږدي چي چپ شه فهم منه الشئ الثانی . اول او شئ ثاني ته مدلول وائي . يو نکته چي په کتاب کښې ليکلي چي للعلم با لوضع دا دفع اعتراض ده

Maktaba Tul Ishaat. com



## په تخصیص باندې اعتراض او جواب

**اعتراض**: زه به درته ونښائم چې تخصیص دیو شئ به پل شئ پورې شوي وي لیکن فهم دشئ ثاني به ورنه نه کیږي. لکه جاهل با لعربی ته ووائی چې جنت با لماء نوهغه خو ترې فهم نشي کولی. **جواب**: نو ده جواب ورکړی چې دغه کس به عالم با لوضع وی **اعتراض**: تخصیص شئ بشئ که دشئ اول نه مراد لفظ شئ نو معنی به داسې شئ چې دا الفاظ نه موجود یږي مګر په دي معنی کښې نو پدي سره ترینه الفاظ مشترکه خارج شول لکه عین او که مراد د شئ اول معنی شی نو الفاظ مترادفه ترینه خارج شول لکه قعود او جلوس. **جواب**: تخصیص وائي ما یوجود فیه ولا یوجد فی غیره ته نو مونږ د تخصیص په معنی کښې تجرید کوو مونږ صرف ما یوجد فیه اخلو او لا یوجد فی غیره پریږدو. **اعتراض**: تعریف د وضع دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه اطلاق ثاني او اطلاق ثالث لکه یو کس ته د اوبو راوړلو اوائې او هغه لاړ نه شی. او ته ورته بیا ووائی نو فهم خود اول نه راغلی او ثاني او ثالث خو تحصیل د حاصل راځي، ؟

**جواب**: فهم منه الشئ الثانی نه مراد اطلاق اول دي ثاني او ثالث کښې خو التفات راځي شئ اول ته. **یخرج**: قیل یخرج عند سره دویمه خبره دفع داعتراض. **اعتراض**: ستا تعریف دوضع جامع نه شو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه وضع دحروفو لکه : من او الی ) ددي اطلاق راځي اوفهم دشی راځي بغیر د ضم دضمیمی نه. **جواب**: هغه دا چې متی اطلق کښې اطلاق مطلق ذکر دي . شئ چې کله مطلق ذکر شی نو مراد ترینه فرد کامل وی او هغه اطلاق صحیحه دي .

**ولا یبعد**: سره غرض دویم جواب دي ، ولا یبعد د شارح خپل قول دي او په عامو کتابونو کښې ضعف ته په لا یبعد سره اشاره کوي او ځکه دي په لا یبعد سره اشاره کوي هضم د نفس ته . دویم جواب دادي چې مراد د اطلاق نه اطلاق داهل لسانو دي او اهل لسان حرف بغیر دضم د ضمیمه نه . نه استعمالوي . دا جواب د اول اعتراض نه هم کیدي شی چې جاهل با العربی هغه خو اهل لسان ندي داجواب قوی دي د دوو وجه نه. یو دا چې د مخکښې اعتراض چې په عالم با لوضع باندي شوي ؤ جواب دي دهغې نه

Maktaba Tul Ishaat. com



دویم دا چي اول جواب دا وارديږي چي شارح خو هم قيد د اهل لسان لګولی دي نو جواب دادي چي دا قيد ندي بلکه دا معنی د اطلاق ده

## د معنیٰ لغوی او اصطلاحی تعریف

**لمعنیً**: المعنی ما یقصد با لشئ سره غرض دشارح اول معنی اصطلاحی دمعنی ، دویم معنی لغوی دمعنی ، دریم او څلورم دفع داعتراض ، پنځم فوائد دقیوداتو .

۱: معنی اصطلاحی چي ما یقصد با لشئ چي قصد کولی شی په بل شی سره ما عامه ده که لفظ وي او که غیر دلفظ وي مثال دلفظ لکه زید ویئلو سره مراد هغه شخص دي او دغیر لفظ مثال لکه دراتلو اشاره په لاس سره کول ، ۲ : معنی مفهوم غرض موضوع له دا متحد بالذات او متغایر بالاعتبار دي لکه زید هذا حیوان ناطق مع هذا التشخص ته معنی هم وائی څکه حیوان ناطق قصد کیږي په زید سره مفهوم ما حصل في الذهن یاما حصل في العقل ته وائي ، ۳ : موضوع له څکه واضع دا لفظ ددي دپاره وضع کړي وی .

**فهواما مفعل**: دي سره غرض دویمه خبره چي معنی لغوی دمعنی ده

**اعتراض**: په تعریف دلفظ کښي معنی لغوی مخکښي ذکر وه او اصطلاحی وروسته او تا دلته عکس وکړو .

**جواب**: دمعنی ، معنی اصطلاحی متعینه وه اومعنی لغوی کښي اختلاف وو معنی په لغت کښي یا دمفعل اسم مکان یا د اسم زمان ظرف صیغه ده معنی ئي مقصد ده یا مصدر میمی دي مصدر میمی دیته وائي چي اول کښي میم مفتوحه راشی او معنی ئي نه وي بلکه دا دنفس مصدر په معنی وی . او یا مخفف داسم مفعول دي پشان د مَرمِیٌ ، معنی اصل کښي مَعنُوِیٌ وو واو بدل شو په یاء بیا یو یا په بله یاء کښي مدغمه شوه خلاف القیاس یوه یاء حذف شوه او ماقبل ضمه مو په فتحه سره بدله کړه بیا ماقبل مفتوح وو په الف مو بدله کړه اسم مکان بمعنی المقصد او مصدر میمی بمعنی المفعول سره دفع داعتراض ده چي معنی ظرف مکان شی څای دقصد یا ظرف زمان شی زمانه دقصد یا مصدر میمی شی صرف قصد نو معنی خو قصد ته نه وائی بلکه مقصود ته وائی جواب دادي چي دا ټول بمعنی المفعول دي .

Maktaba Tul Ishaat. com



**ولما اذا كان المعنى ماخوذا فى الوضع:** دي سره غرض ځلورمه خبره دفع داعتراض ده

**اعتراض** بناء د متونو په اختصار سره وی الكلمة لفظ وضع معنى خوپه وضع كښې شته نو لمعنىً دي ولى ووئيلو ځكه دا خو دلفظ دوضع نه معلوميږی. **جواب**: دلته مونږ تجريد كړيدي الوضع تخصيص شي او ددوهم بشي نه مو مراد معنى اخستى ده

**فخرج به المهمل والالفاظ الدالة**: غرض پدي سره پنځمه خبره ده الكلمة مُعرّف محدود دي اولفظ مفرد معرَف او حد دي. و معرف كښي لابدی وي د جنس او فصل نه.نو لفظ دا په منزله دجنس دي او وضع دا ورته فصل دي. دي سره مهملات او لمعنىً سره حروف هجاء اومفرد سره مركبات الداله على الطبع . هغه الفاظ چي دطبع له وجي دلالت كوى لكه ( وای ) دلالت كوی په درد باندي دا دلالت د وجي دوضع نه . نه دي كه د وضع د وجي نه وي نو په اختلاف داوضاعو سره به مختلف وي لكه حروف هجاء. حروف هجاء دا داخل وو په وضع كښي ليكن په قيد دمعنى سره خارج شول ځكه معنى ئي نشته صرف غرض ئي تركيب دي.

**اعتراض:** غرض د تركيب دي د حروف هجاء لپاره معنى شى او كلمات دي ورته وويلى شى

**جواب:** دا معنى نشى ګرځيدلى ځكه معنى وائى دیته چي لفظ ذكر شى نو معنى ذهن ته راځي او حروف هجاء وايه خو غرض دتركيب ذهن ته نه راځي.

**فان قلت قد وضع بعض الالفاظ بازاء بعض آخر:** غرض ددي عبارت نه اعتراض بيا په قلنا سره جواب بيا اعتراض بيا په قلنا سره جوا ب : بيا دويم جواب بيا دويم جواب ثاني.

**اول اعتراض** : تا ووئيل چي معنى ما تقصد بشي ته وائى معنى داسي شوه چي مادا معنى هغه ده چي حاصليږي په لفظ سره نو تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه هغه الفاظ چي وضع وي د نورو الفاظو دپاره لكه اسم چي وضع شوي دپاره د زيد عمر وغيره دپاره نو دلته خو مقصد د معنى رانغلو بلكه قصد دلفظ راغى په لفظ سره

**قلنا:** دويم غرض چي جواب دي ما يقصد بشي كښي دا ما عامه ده كه لفظ وى او كه غير لفظ وي. فان قلت : تا وويل چي كلمه يو لفظ دي چي وضع يي شوي وي

Maktaba Tul Ishaat. com



دپاره دمعنی مرکبی لکه جمله چي وضع ئی شویده دپاره د زید قائم او خبر چي وضع شوي دپاره د قام زید

**قلنا**: جواب دادي چي جملی او خبر لره دوه حیثیة دی یو دا چي په نسبت سره معني ته مرکب وي او بل دا چي په نسبت سره خپلو الفاظو ته مفرد وی او مفرد دیته وائی چي جز دلفظ ئي دلالت نه کوی په جزء دمعنی او دلته همدغه شان په جمله کښي جزء دلالت نه کوی په زید او لام دلالت نه کو په قائم باندی .

**اعتراض**: هلکه ! اعتراض واردیږي په مفرد باندی مونږ خو مفرد ندي ویلي تا به هلته دا اعتراض کړي وي چي مونږ ویلي وي. جواب : دلته ئي ځکه ذکر کړو چي ددي اعتراض نه دوه جوابه دي او دا دویم جواب یي مناسب دي که هلته ئی ذکر کړي وي نو کیدي شی هغه مخکښي اعتراض دي هیر کړي وی وقد اجیب : پنځم غرض جواب دي د اول او دویم اعتراض نه په طریقي د منع سره هغه دا چي زه نه منم چي اسم او جمله او خبر دا واضع دي دپاره دمعنی بلکه دا وضع دي دپاره دمفهوم کلی دجملی دادي چي یفید المخاطب فائدةً تامةً یصح السکوت بها او مفهوم کلی دخبر دا چي یحتمل الصدق والکذب . او مفهوم کلی د اسم دادي چي د اوضع شوي او دلالت کوی په معنی مستقلی او اقتران ئی په ازمنه پوري نه وی او زید قائم دا یو فرد دي افرادو د مفهوم کلی دجملی نه او قام زید دا یو فرد دي افرادو دمفهوم کلی دخبر نه او زید دا یو فرد دي د افرادو د مفهوم کلی د اسم .

**ولا یخفی**: شپږم غرض رد په جواب ثانی دي خو ددي نه مخکښي یو تمهید یاد لري هغه دا چي اسماء اشارات مضمرات او اسماء موصولات دا وضع دي د جزئیاتو لپاره او که دمفهوم کلی لپاره ، پدیکی دوه مذهبه دي، یو مذهب والاوائی چي دا وضع دي لپاره دمفهوم کلی بیا پدي مذهب باندي اعتراض واردیږي چي که دمفهوم کلی لپاره وضع وی پکار ده چي په مفهوم کلی کښي استعمال شوي وي ، سره لدینه استعمال یي په جزئیاتو کښي راځي ، **جواب**: هذا وغیره کښي دا واضع وضع کړي دپاره دمفهوم کلی خو په شرط داستعمال سره په جزئیاتو کښي ، او دویم مذهب دادي چي اسماء اشارات وغیره دا وضع دي دپاره دجزئیاتو خو اعتراض پري وارد شو چي دا

Maktaba Tul Ishaat. com



واضع دومره وزګاروَ چي هر څه دپاره هذا سره اشاره کوي . **جواب**: دا واضع واضع کړي دپاره دجزئياتو خو ليکن په مراتيت دمفهوم کلي سره نو اوس اعتراض نه راشه.

**اعتـراض**: هلکـه تـا ويلـي وو چي دا وضع شـوي دي دپاره دمفهوم کلـي نـو پـه مضمراتو کښي به څه کوي دا خو جزء دپاره وضع شويدي نه دمفهوم کلي دپاره نو مونږ دينه جواب کوو چي دا ديو مذهب په نزد وضع دي دپاره دمفهوم کلي خوسره دشرط داستعمال نه په جزئياتو کښي

**وان كان**: وضع په څلور قسمه دد چي وضع او موضوع لـه ئـي دواړه خـاص وي لکه زيد چي وضع او موضوع له ئي دواړه عام وي لکه انسان چي وضع عام او موضوع له خاص وي لکه اسماء اشارات چي وضع خاص او موضوع له ئي عام وي دانه دي مګر صرف احتمال عقلي دي

## د مفرداً معنى او تشريح

**مفـرداً**: اول غـرض اعـراب ذكـر كيـږي ، دويـم معنـى دمفـرد ، دريـم اعـتـراض ، څلورم جواب ، پنځم بل اعراب ، شپږم معنى دمفرد ، اووم اعتراض . ٠١: وكان النكتة سره جواب ، وهو اما مجرور : دا مفرد به يا مجرور وي

**اعتراض**: هو ضمير چاته راجع كه مفردته راجع وي نو مجرور ته بيا څه ضرورت وو او كه مفردٌ يا مفرداً ته راجع وي نو بيا خو مفرداً يا مفردٌ مجرور ندي

**جواب** : دلته مرجع هغه مكتوب غير مقروء دي يعني دا مفرد به يا مجرور وي او يا مرفوع او يا منصوب وي دويم غرض ، معنى دمفرد . چي مفرد صفت شي د معنى دپاره يو معنى به داشي چي مفرد هغه دي چي جزء دلفظ ئي دلالت نه كوي په جزء دمعنى باندي شارح معنى په اسم ضمير سره ذكر كړه ځكه چي معني مخكښي صراحتاً ذكر وه ، **وفيه انه يوهم**: دريم غرض هغه اعتراض دي او دا بناء دي په يوه قاعدي باندي

## يوه اهمه قاعده

قاعده : كله چي نسبت دفعل يا شبه فعل يو شئ ته اوشي او دغه شئ متصف وي په يو صفت سره نو دا به موصوف وي په دغه صفت سره مخكښي دنسبت ددغه فعل يا شبه فعل نه لكه ضربت زيدا قائماً دلته ضرب نسبت زيد ته شوي دي خو زيد

Maktaba Tul Ishaat. com



متصف دي په صفت دقيام سره مخکښي دنسبت دضرب نه اوس راخو اعتراض ته خکه دوضع نسبت معنی ته شوي دي او معنی متصفه ده په صفت دافراد او ترکيب باندي قبل الوضع او امر خو داسي ندي بلکه وضع دا مقدمه ده په افراد او ترکيب باندي

**جواب**: خلاصه د جواب داده چي دلته عبارت محمول دي په مجاز با لمشارفه باندي اومجاز با لمشارفه ديته وائی چه قريب دشی لره حکم د عين شی ورکوی، لکه حديث شريف کښي راځي (من قتل قتيلاً فله سلبه) چا چي وژلو يو وژل شوي نو وژلی شوي خو وژل کيږي نه . دغه رنګ دلته هم عبارت داسی چي وضع لمعنی سيفرد

**واما مرفوع علی انه صفة للفظ الـخ**: پنځم غرض بيان د اعراب مفردٌ يا مرفوع دي بنابر صفتيت للفظ

**اعتراض من الخارج**: هلکه الکلمة معرف لفظ موصوف او مفردٌ ئي صفت دي نو تا خو فصل راوستلو په مابين د موصوف او صفت کښي په اجنبی سره دا خوندی جائز جواب فصل په اجنبی سره جائز ندي او دلته خو دمتعلقاتو د موصوف او صفت سره فصل راغلی دي .

**ومعناه**: شپږم غرض معنی دمفرد . معنی داده چي جزء دلفظ دلالت نه کوی په جزء دمعنی باندی ولابد : اووم غرض اعتراض . هلکه لفظ موصوف اووضع لمعنی صفت اول او مفرد ئي صفت ثاني نو مطابقت را نغلو په مابين د صفتينو کښي صفت اول جمله او صفت ثاني مفرد دی .

**جواب** : په (وکان النکتة) سره مصنف کړيدي چي وضع دا مقدمه ده په افراد او ترکيب باندي . (حاصل دا چي وضع مقدمه ده او دا خبره ئي په وضع سره خلاصه کړه خکه چي وضع دا ماضیٰ ده او زمانه دماضی دا مقدمه ده په ما سوي باندي نو معلومه شوه په زمانه دوضع مقدمه ده په زمانه داتصاف با الافراد باندي)

**دويم اعتراض**. هلکه لفظ موصوف او مفرد دي او وضع لمعنی صفت دي خو جمله ده نو مطابقت را نغلو .

**جواب**: دا تنبيه ده په دي خبره چه وضع مقدمه ده په افراد او د ترکيب باندي دريم اعتراض دادي چي هلکه ته مفرد صفت د لفظ ګرځوي . نو قريب دپاره ئي صفت ولی نه

Maktaba Tul Ishaat. com



کرخوی چي معنیً دي

**جواب**: دا صفت دي اولاً او با الذات دپاره دلفظ او با الواسطه دا صفت دي دپاره دمعنی هغه واسطه لفظ دي، حاصل دا چي افراد او ترکیب دا اوصاف دلفظ دي با لذات او صفات دمعنی د ي با لذات او صفات دلفظ دي په واسطه دمعني سره .

## وجه تسمیه د تقدیم د وضع په افراد او ترکیب باندې

**اعتراض من الخارج**: هلکه ته وائی چي وضع مقدم ده په افراد او ترکیب زه دا نه منم بلکه وضع او افراد او ترکیب دا معاً راځي .

**جواب**: مراد دتقدم نه تقدم ذاتی دی تقدم ذاتی دیته وائي چي مقدم علت وي دپاره دمؤخر سره دمعیت زماني لکه حرکت د لاس علت دي دپاره د حرکت دچابی. دارنګه وضع علت ده دافراد او ترکیب دپاره .

**واما نصبه**: اول غرض د مصنف اعراب ذکر کول دي . دیم ضعف ددي اعراب . دریم دفع داعتراض . څلورم دفع داعتراض .

اول غرض دا مفرد منصوب بنابر حالیت یا حال دي دضمیر دوضع نه او یا حال دي د لمعنیً نه چي حال شی د ضمیر دوضع نه نو معنی به داشی . چي کلمه یو لفظ دي چي وضع شوی دي په حال کون ددي لفظ کښي مفرد پاره دمعنی او که حال شی د معنی نه نو معنی به داشی چی کلمه یو لفظ دي چی وضع شویدي لپاره دمعنی دا معنی به مفرده وی .

**اعتراض من الخارج**: تا طرز د عبارت ولی بدل کړو مخکښي دي اما مجرور او مرفوع وویل دلته پکار وه چي د اما نصب په ځاي دي اما منصوب ویلي وي .

جواب اول دادي چي دا اشاره ده ضعف ددي اعراب ته او جواب ثاني دادي چي دا اما نصبه عطف ندي په اما مجرور او اما مرفوع باندي بلکه معطوف علیه ددي مقدر دي تقدیر ئي داسی دي چي اما المجرور والمرفوع فقد عرفت واما نصبه .

**وان لم یساعده رسم الخط**: دویم غرض اشاره ده ضعف ددي قول ته دا مفرد په حالت دنصب کښي په الف سره لیکل کیږي په نزد د متاخرینو او په نزد متقدمینو بدون الف لیکل کیږي .

Maktaba Tul Ishaat. com



جواب دادي چی الف هغه مقام کښي ليکل کيږي چي کوم مقام اتفاقاً منصوب وي او دلته خو مختلف احتمالات موجود دي چی هغه رفع جر او نصب احتمالات دي

**فانه مفعول به بواسطه اللام:** دريم غرض دفع داعتراض تاوويل چي مفرداً حال دي دلمعنیً نه او حال وائی مايبين هيئة الفاعل او المفعول به او کليهما ،او لمعنیً خو نه فاعل دي او نه مفعول به **جواب**: دا مفعول به واقع شوي دي په واسطه د لام جاره سره

**و وجه صحته**: څلورم غرض دفع داعتراض ده هغه دا چي هلکه مونږ اوريدلي چي زمانه دا حال او د عامل د ذوالحال دا يووي او دلته زمانه دعامل دو ذوالحال چی وضع ده مقدمه ده په مفرداً حال باندي ؟ جواب: دلته په وضع کښي تقدم ذاتي دي وضع مقدمه ده په افراد خو سره دمقارنت او معيت زماني نه ، د خارج نه اعتراضات.

**اول اعتراض**: قاعده داده چي عامل د ذوالحال او حال دا يووي او دلته د ذوالحال او حال دا يو وي او دلته د ذوالحال او حال دواړو عامل هغه وضع دي اولام دپاره دتعديت دي.

**دويم اعتراض**: هلکه قاعده داده چي.کله ذوالحال نکره وي نو تقدم دحال په واجب دي لکه جاء نی راکباً زيداً پکار وه چي داسي ويلي وي چي مفرداً لمعنی.

**جواب**: هلکه ستاقاعده صحيح ده خو په هغه وخت کښي چي ذوالحال مجرور نه وی خو کله چي مجرور وي نو بيا تقديم د حال ندي واجب ځکه چي مجرور په جار نشی مقدم کيدي او حال دلته دمتعلقاتو د مجرور نه دي خو په طريقه اولی سره نشی مقدم کيدي،

**دريم اعتراض**: قاعده داده چي کله يو حال داسی راشی چي دفاعل نه هم حال جوړيدي شی او دمفعول نه هم حال جوړيدي شی او نيت ستا د فاعل نه حال جوړول وي نو تقديم دحال په مفعول وکړه لکه ضربت زيداً قائماً اوس دلته وضع فعل دي ضمير پکی نائب فاعل دي نو مفرداً حال ددي نه هم کيدي شی او دمفرداً نه هم کيدي شی نو داسي ووايه چي الکلمة لفظ وضع مفرداً لمعنی ځکه چي ته خو وائی چي مفرداً حال دي دضمير مستتر فی الوضع نه.

**جواب**: داقاعده صحيح ده خو چي په معنی کښي فرق راځي لکه په ضربت زيداً قائماً کښي او دلته په وضع لمعنی مفرداً کښي هيڅ فرق نه راځي په تقديم او تاخير

Maktaba Tul Ishaat. com



دحال باندي يا به لفظ مفرد وي او يا به معنى مفرده وي كه لفظ مفرد وي نو معني هم مفرده شوه اوكه معنى مفرده وي لفظ هم مفرد شو

## دكلمه تعريف د قيوداتو فوائد

**الافراد لاخراج المركبات مطلقاً الخ:** ددي ځاي نه شپږ خبري ذكر كوي : اول فوائد دقيوداتو ، دويم دفع داعتراض ، دريم اعتراض ، څلورم رد په ماتن باندى پنځم تعريف دصاحب مفصل ، شپږم رد په تعريف : اول غرض الكلمة معرف او لفظ جنس دي او وضع فصل دي پدي سره الفاظ مهمله او الفاظ داله با لطبع خارج شول او لمعنىً سره حروف هجاء خارج شول او مفرداً سره مركبات خارج شول كلاميه مركب هغه ته وائى چي مفيد دفائدي تام وي او كلاميه هغه چي مفيد دفائدي تام نه وي ، دمركب غير كلاميه جزء ثانى به خالى نه وي يا به قيد وي داول دپاره او يا نه ، كه اول وو نو بيا به خالى نه وى يا به ئي خارج كښي مصداق يو وي او يا نه . كه اول وو نو دامركب توصيفى لكه زيد قائم او كه ثاني وو نو دا مركب اضافى لكه غلام زيد او كه جزء ثانى د اول دپاره قيد نه وو نو بيا به خالى نه وى يا به جزء ثانى متضمن وي حرف لره او يا نه كه اول وو نو دا مركب اسنادي چي ورته اعدادي هم وائي او كه ثاني وو نو دا مركب امتزاجى لكه بعلبك او ديته مركب منع صرف هم وائى نو دا ټول دمفرد په قيد سره خارج شول

**لكنه يعد لشدة الامتزاج واحدة الخ:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض دادي چي هلكه تا الرجل او قائمة او بصرى دا خارج كړل په قيد مفرد سره ځكه چي دامركب دي نو پكار ده چي معرب شي په اعرابينو سره .

**جواب:** دا دواړه كلمى دوجه دشدت اتصال نه لفظ واحده ګرځيدلي او معرب شوي په اعراب واحده سره

**وبقى مثل عبد الله علماً الخ:** دا دريم غرض دي چي هغه اعتراض دي چي هلكه عبد الله مركب دي او معرب هم دي په اعرابينو سره لكه په حالت رفعي كښي جاءنى عبد الله او په حالت دنصب كښي رأيت عبد الله او په حالت دجر كښي مررت بعبد الله او الرجل او قائمة او بصرى دا معرب دي په اعراب واحده سره دا د خارج كړي دكلمى نه او عبد الله

Maktaba Tul Ishaat. com

دي داخل کړي دي عکس به دي کړي وي

**جواب**: عبد الله معرب وو په اعرابينو سره قبل العلمية نو مونږ چي علم وګرځولو نو په خپل حال مو پريښودلو.

**ولا يخفى على الفطن با لعارف بالغرض من علم النحو الخ:** څلورم غرض رد دي په ماتن باندي.

**اعتراض**: غرض دعلم نحو لحاظ دالفاظو دي په عبد الله دوه اعرابه جاري کيږي پکار ده چي د اوځي دکلمي نه او الرجل باندي يو اعراب جاري کيږي پکار ده چي داخل شي په کلمه کښي، ځکه چي تعدد داعراب دلالت کوي په تعدد دکلمه.

**جواب**: صحيح ده چه غرض لحاظ دالفاظو دي خو ځانته الفاظ نه بلکه لحاظ دمعنى هم پکښي شته او الرجل معناً متعدد دي او عبد الله معنىً مفرد دي.

## تعريف د کلمه په نزد د صاحب مفصل

**وما اورده صاحب المفصل**. دي عبارت سره غرض تعريف دصاحب دمفصل دي صاحب دمفصل تعريف دکلمي داسي کړيدي، (هى اللفظة الدالة على معنى مفرد با لوضع) دصاحب دمفصل په تعريف کښي او په تعريف دابن حاجب کښي پنځه فرقه دي:

اول ابن حاجب لفظ مذکر راوړي او هغه مؤنث راوړي يعني لفظة. دويم فرق دادي چي ابن حاجب په لفظ کښي قصد دجنس کړيدي او صاحب مفصل قصد دوحدت کړيدي. دريم فرق دادي چي ابن حاجب ضمير فصل ندي راوړي او صاحب مفصل ضمير دفصل راوړي . څلورم فرق دادي چي ابن حاجب لفظ بغير دقيد نه راوړي دي او صاحب دمفصل قيد د دالة ورسره راوړي دي پنځم فرق دادي چي ابن حاجب وضع مقدم راوړي په تعريف کښي او صاحب دمفصل مؤخر راوړي ده ، شپږم غرض رد دي په تعريف دابن حاجب په تعريف کښي دوه نقصانه دي يو نقصان دادي چي دعبدالله خروج پکار وو او ده داخل کړي دي او دويم نقصان دادي چي د الرجل او قائمة او بصرى دخول پکار وو او ده په قيد د افراد خارج کړي دي ، او په تعريف دمفصل کښي يو نقصان دي عبد الله خو ئي خارج کړي دي داي بنه کړي او الرجل او قائمة او بصرى ئي خارج کړيدي دا نقصان پکښي صرف دي

**واعلم ان الوضع يستلزم الدلالة الخ:** اول غرض دفع داعتراضينو دويم غرض اقسام

Maktaba Tul Ishaat. com



دلالت ذکر کوي

**اول اعتراض**: کتاب ستا ماخوذ دي د صاحب دمفصل نه هغه لفظ د دلالت راوړي تاولی مخالفت وکړو دهغه نه ؟

**دویم اعتراض**: دادي چي ته دلالت معتبر ګنړي په تعریف دکلمه کښي او که نه. که ګنړي نو تا ولی را نه وړو نو لهذا تعریف دي صحیح نه شو ناقص شو او که معتبر ئي نه ګنړي نو بیا صاحب دمفصل چي ذکر کړي نو هغه مستدرك دي بلا فائده دي

**جواب**: د دواړو اعتراضینو نه دادي چي ما دلالت ځکه را نه وړولو چي ما وضع ذکر کړي وه او وضع مستلزم ده دلالت لره او دلالت مستلزم ندي وضع لره نو ماتن مخکښي وضع ذکر کړي وه دلالت ته احتیاج را نغلو او شارح مخکښي نه وه ذکر کړي لهذا وضع ئي راوړه پس د دلالت نه . او دلالت په دري قسمه دي وضعي او طبعی او عقلی او هر یو بیا په دوه دوه قسمه دي ۱ : لفظی . ۲ : غیر لفظی . د دلالت لفظی وضعی مثال لکه زید لفظ هم دي وضعی هم دي د دلالت وضعی غیر لفظی مثال لکه نقوش قبل التلفظ وضعی دي خو لفظ نه د دلالت عقلی لفظی مثال لکه لفظ د دیز المسموع من وراء الجدار د دلالت عقلی غیر لفظی مثال لکه لوګی چي دلالت کوی دورځی په اور باندی خوپه عقل سره ځکه لوګی خولفظ ندي. او دلالت طبعی لفظی مثال لکه اح ، اح . چي دلالت کوي په تکلیف دسیني باندي په طبعیت سره اودا الفاظ دي، او دلالت طبعی غیر لفظی لکه دلالت د سرعت نبض په حرارت دبدن باندي په طبعیت سره خودا لفظ ندي

## اختلاف د ماتن د صاحب مفصل نه په لفظ د لالت کښی

**اعتراض من الخارج علی صاحب المفصل**: اعتراض دادي چي هلکه وضع علت او افراد او ترکیب معلولین نو ذکر دوضع پس دافراد او ترکیب نه مستدرك او بلا فائدي دي ځکه چي افراد ترکیب لازم وي فرع لره نه فرع اصل لره.

اعتراض ثانی دادي چي هلکه تا مخکښي وویل چي افراد او ترکیب مخکښي دوضع نه. نه راځي نو داخبره دي باطله شوه ؟

**جواب**: هلته استلزام دیو طرف نه دي هروضع دا مستلزم نده وضع لره

Maktaba Tul Ishaat. com


## تقسیم د کلمه او تشریح

**وهی ای الکلمة الخ:** هر کله چي فارغ شو مصنف د تعریف د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په تقسیم د کلمه کښي یا هر کله چي فارغ شو مصنف دوجود ذهنی د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په وجود خارجی د کلمه کښي . یا هر کله چي فارغ شو مصنف دمفهوم د کلمي نه نوشروع ئي وکړه په مصداق د کلمه کښي ، دتقسیم دوه تعریفه دي اول تعریف : عبارة عن احداث الکثرة فی امر واحد مبهم ، لکه کلمه امر مبهم دي څکه چي خارج کښي ورلره وجود نشته نو اسم ، فعل ، حرف سره ئي پکښي احداث دکثرت وکړو ، دویم تعریف دادي چي عبارت دي دضم دقیودو مختلفونه امر واحد مبهم ته دپاره دحصول دعلیحده نوع او صنف : دنوع مثال لکه حیوان سره چي ناطق ولګوی نو انسان تري حاصل شو او چي انسان سره افغانی ولګوی نو صنف تري حاصل شو دلته دوه خبري دي اول مرجع د ضمیر او بیا په دي باندي اعتراض :

اوله خبره داد چي (هی) ضمیر راجع شی لفظ د کلمی ته اویا راجع دي مفهوم د کلمی ته ، اعتراض که هی ضمیر راجع وي لفظ د کلمی ته نو دوه نقصانه راځي اول نقصان دا چي لفظ د کلمة خو معرف باللام دي او الف لام تعریفی دا خاصه ده داسم نو کلمه هم اسم وګرځیده او تقسیم کښي ئي هم اسم ،وفعل،وحرف راځي نو لهذا تقسیم دشی راغی الی نفسه والی غیره ته دویم نقصان دادي چي تقسیم خو دمفهوم کیږي نه دلفظ او که راجع شی مفهوم ذکلمی ته نو بیا یو نقصان راځی او هغه دا چي مطابقت نه راځي په مابین راجع او مرجع کښي څکه مفهوم د کلمه خو مذکر دي او هی ضمیر دمؤنث دي

**جواب:** دادي چي دلته صنعة الاستخدام شویدي ، او صنعة الاستخدام دیته وائي چي دضمیر نه یوه معنی واخلی او داسم ظاهر نه بله معنی واخلی لکه ( اذا نزل السماء بارض قوم رعیناه وان کانوا غضابا ) ده ضمیر نه مونږ فصل واخستو او السماء نه موباران واخستو او داسی هم کیدیشی چي دظاهر نه اول یوه معنی واخلی او ثانیاً ترینه بله معنی واخلی لکه ( الکلمة ) کښي چي مونږه وایو چي ضمیر راجع دي لفظ دکلمی ته خوتقسیم دمفهوم دکلمی دي اعتراض دفع شو.

Maktaba Tul Ishaat. com


**ای منقسمة**: ددي ځاۍ نه تر منحصرة پورې درې خبرې ذکر کوي او له خبره تعين دمعنى . دويمه خبره تعين د تقسيم. دريم اعتراض او بيا دهغى جواب

اوله خبره حاصل دمعنى نو منقسمة دا معنى شوه بعضو شارحينو دا دفع داعتراض ګرځولى او اعتراض په دريو طريقو سره کوی او درې واړه غلطى دي [۱]:
اول چي کله ضمير دائر شي په مابين د خبر او مرجع کښې نو رعايت د خبر اولى دي ضمير کلمي ته راجع دي خو ليکن ضمير مذکر دي نو ضمير (هو) پکار وو نو شارح جواب ورکړو چي خبر منقسمة دي دا سوال جواب صحيح نه دي ځکه چي محشى لوي عالم دي ده ته ډير قواعد ياد وو دا قاعده هله جاري کيږي چي کله ضمير مخالف د مرجع راشى دا نه چي هر ځاي کښې به رعايت د خبر کوى او مرجع ته به نه ګوري دوهمه طريقه داعتراض داده چي مبتدا ده خو خبر ورلره اسم ندي بلکه منقسمة دي او اسم اوفعل او حرف ځانته اخبار دي او مبتدا ئي محذوفه ده خو دا خبره هم غلطه ده ځکه چي د مبتدا او خبر په مابين کښې مطابقت دا شرط دي په شروط سته ؤ سره يو شرط پکښې دادي چي مبتدا او خبر به اسمين ظاهرين وي او دلته داسي نه دي. دريمه طريقه داعتراض داده چي هى مبتدا ده او اسم فعل او حرف ورلره خبر دي او خبر محمول وى په مبتدا نو دلته حمل دمتعدد راغى په شى واحده باندى نو شارح ورکړو چي خبره ورلره اسم ندي بلکه منقسمة دي نه اسم او افعل او حرف.

خو دا خبره هم غلطه ده ځکه چي حمل دمتعدد په هغه صورت کښې راتلو چي ربط مقدم وى په عطف باندى او دلته عطف مقدم دي په عطف کښې تول اشياء په منزله دشى واحد وګرځيدل دا حاصل د معنى وه.

**هذه الاقسام الثلاثة**: دي سره دويم غرض تقسيم په دوه قسمه دي يو تقسيم دکل دي اجزاء ته نو پدي کښې کل محمول وي په ټولو اجزاء باندي جميعاً په يو جزء يي حمل او اطلاق نه کيږي لکه چاۍ په خپلو اجزاء بل تقسيم دکلى دي په جزئياتو باندي او په دي کښې د کلى اطلاق په جزي باندي کيږي لکه دحيوان اطلاق په انسان بقر او فرس هر يو باندي جدا جدا کيدي شى کلمه کښې تقسيم دکلي دي يو جزئي اسم او بل فعل او بل حرف دي

Maktaba Tul Ishaat. com



**ومنحصرة فيها**: سره دريم غرض دفع داعتراض ده .

**اعتراض**: ملا صاحب ته اقسام ذكر كوي او دا دي ونه ښودل چي نور اقسام شته او كه نه، نو شارح اووئيل چي وهى منحصرة فيها او دا معلوميږي ددينه خو ماتن سكوت كړي دي او سكوت په معرض د بيان كښي دا دليل دانحصار وى نو كه اعتراض وارد شى چي تقسيم كښي لابدي وي د ادواتو د حصر نه داسي به دي وئيلى وي چي وما هى الا الاسم وفعل و حرف .

**جواب**: دادي چه ادوات دحصر په دوه قسمه دي لفظى او معنوى . لفظي لكه ماو لا والا او منعوى هغه تقديم د عطف په ربط باندي .

**لا نها اما ان تدل الخ**: اول غرض ذكر د مرجع د ﴿ها﴾ دضمير كوى دويم وروسته دفع داعتراض كوى . نو مرجع د ﴿ها﴾ ضمير هغه كلمه ده دويم غرض دفع داعتراضينو نه. اول اعتراض : دليل دي مطابق دمدعى سره نه شو مدعى دي انحصار دكلمى وو په اقسام ثلثه و كښي او دليل كښي انحصار او عدم انحصار دلالت ذكر كوى او حال دادي چه دلالت مخكښي ندي ذكر.

**جواب**: دادي چي مخكښي وضع ذكر ده او وضع مستلزم ده دلالت لره .

اعتراض ثاني : دادي چي تا اووئيل چي يا به دلالت في نفسها كوى او يا بغيرها زه به درته وښايم چي نه به دلالت في نفسها كوي او نه بغيرها لكه لفظ مهمل .

**جواب**: چي مونږه لفظ دموضوع لګولى دي او مهمل لفظ موضوع ندي .

**فهى اما من صفتها الخ**: سره غرض اول دفع داعتراض او رد په شارح هندى او رضى .

**اعتراض**: لانها اما ان تدل . ان حرف دي د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي ها ورلره اسم شو او ان تدل په تاويل دمصدر سره خبر شود د ان دپاره او قاعده داده چي خبر محمول وي په اسم د ان باندي او دلته حمل نه صحيح كيږي ځكه چي ان تدل دا مصدر دي او مصدر صرف وصف وي او ﴿ها﴾ راجع دي كلمي ته او كلمه ذات مع الوصف دي نو حمل دصرف وصف راځي په ذات مع الوصف وهذا ليس بصحيح .

**جواب**: شارح جواب وركړو چي دلته د ان تدل نه مخكښي اما من صفتها مقدر دي، او صفتها كښي ضمير راجع دي كلمي ته او هغه ذات مع الوصف ده نو لهذا حمل

Maktaba Tul Ishaat. com



صحیح شو ، دویم غرض رد په شارح هندي او شارح رضی باندي، هلکه دوي څه کړي دي رد کوي نو دوي دي مخکښي اعتراض نه نور تاویلات کوي هغوی داسي ونیلی چي ﴿ اما ان تدل داله ﴾ اودویم تاویل دا کوي چي ﴿ اما حالها ان تدل علی معنی ﴾ خو دا دواړه غلط دي اول تاویل ځکه غلط دي چي پدي ځاي کښي خواما ان تدل دالةً صحیح کیږي خو په وروسته او لاتدل دالةً کښي نه صحیح کیږي ځکه دلته بیا معنی غلطیږي معنی به داسي شی چي یا به دا کلمه دلالت نه کوی په حال کون ددي کلمه کښي چي دلالت به کوي نو دلته جمع دمتنافینو راغله. او که تقدیر دمن حالها راوباسي نو دا هم نه صحیح کیږي ځکه مونږ انحصار کوو په ذات د کلمه کښي او که من حالها راوباسو نو انحصار به بیا داحوالو د کلمه راشی ، وهذا لیس بصحیح.

**علی معنی کائن فی نفسها الخ:** غرض اول متعلق د جار او مجرور ، دویم غرض رد په بعض خلقو : اول غرض فی نفسها جارَ مجرور متعلق دي په کائن پوري، دویم غرض رد په بعضو ، بعض وائی چي جار مجرور متعلق دي په ان تدل پوري خو دا نه صحیح کیږي دوه خرابیانی راځي یوه لفظي ا و بله معنوی ، لفظی خرابی داده چه صله د تدل علی راځي او دلته ﴿ فی ﴾ راغله ، معنوی خرابی داده چي دلته ان تدل فی نفسها راځي او وروسته بغیر ها راځي.

## غرض دِ مرجع دِ ضمیرنه

**فی نفسها ای فی نفس الکلمة الخ:** دلته دوه غرضه دي اول غرض مرجع دضمیر دفی نفسهاده ، نو مرجع خو کلمه ده ، او دویَم غرض دفع داعتراض ده او هغه اعتراض دادي چي ﴿ فی نفسها ﴾ ظرف دي او ظرف یا زمان یا مکان وي دلته خو زمان ندي نو مکان به وي که مکان شی نو ظرفیت دشی راځي خپل نفس ته چي دلالت به کوي دا کلمه په نفس ددي کلمه باندي.

**جواب:** ستا اعتراض به هله واردیدي چي ﴿ فی ﴾ په خپله معنی سره وي او دلته خو فی په خپله معنی سره ندي بلکه په معنی د ﴿ با ﴾ سره ده یعني باعتبار نفسها او ددي خبري چي فی په معنی داعتبار سره ده وضاحت به راشی په محصول کښي.

**اومن صفتها الخ:** پدیکښ هم دمخکښي پشان اعتراض دي، وجه دحصر : دا

Maktaba Tul Ishaat. com



کلمه به يا دلالت کوی او يا نه که ثاني وو نو دا حرف او که اول وو نو يا بـه سره داقتـران نه وي او يا بغير داقتران نه که اول وو نو دا فعل او که ثاني وو نو دا اسم شو.

## د حرف تعريف او تشريح

**القسم الثاني الحرف:** الثـانی صفت دي او موصوف ئـي القسـم ورتـه راويستلو په الثاني باندي دا اعتراض وارديږي چي الثاني خو اسم فاعل دي ځکه الف لام پري داخل شوي دي او اسم خو حرف نشی کيدي.

**جواب:** لفظ ثاني حرف ندي بلکه (ما هوالمراد من الثـاني دحرف دي چي هغه ما لايدل على معنى في نفسها دي.

**الحرف کمِنْ والیٰ:** اول غرض مثال ذکر کول دي دويم غرض دليـل دريـم غـرض وجه دتسميه څلورم غرض دفع داعتراض پنځم غرض دفع داعتراض: اول غرض، مثال دحرف من او الی دي، غرض ثاني من او الی دا مثالين د حرف دي ځکه چي دوي په دلالـت کولـو کښي په معني خپله باندي محتاج دي، ضم دکلمي اخري تـه معنـي دمـن ابتـداء او الـی انتهاء ده او کلمه اخري لکه بصره او کوفه شو په سرت من البصرة الى الكوفة کښي.

**وانما سمي هذا القسم الخ:** دي عبارت سره وجه د تسمی ذکـر کـوی حـرف تـه حـرف ځکه وائی چي دا واقـع کيږي پـه طرف کښي داخوينو خپلو نـه چي اسم او فعـل دي او حرف طرف ته وائی لکه قرآن کريم کښي راځي (ومن الناس من يعبد الله على حرف)

**اي جانب مقابل الخ:** اعتراض: هلکه تا اووئيل چي حرف په طرف کښي واقـع کيږي زه به درته اوښايم چي په وسط کښي به واقع وي لکه زيد في الدار.

جواب: مراد د طرف نه دادي چي دا به په مقابله داسم او فعل کښي وي.

**حيث يقعان الخ:** اعتـراض: حـرف غيـر مسـتقل دي او فعـل او اسم مستقل دي او غير مستقل د مستقل په مقابله کښي نشی راتلی.

جواب: مراد د مقابله نه دادي چي دا بـه عمـده فـي الکـلام نـه واقـع کيږي يعنـي دابه مسند او مسند اليه نه واقع کيږي.

**والقسم الاول الخ:** دلتـه دمځکښـي په شان خبره ده. اما من صفتها.

**اما ان يقترن الخ:** دلتـه پنځه خبري ذکر کوي، اول ضمير په يقترن کښي چا ته راجع

Maktaba Tul Ishaat. com



دي، دويم المدلول عليه سره دفع داعتراض ، دريم لنفسها سره دفع اعتراض ، څلورم في الفهم سره دفع داعتراض، پنځم (عنها) سره دفع اعتراض ذكر كوي . اوله خبره يقترن كښې ضمير راجع دي معنى ته ،

**اعتراض** : كه ته ضمير راجع كړي لفظ ته او كه معنى ته يو هم نه صحيح كيږي كه راجع كړي لفظ ته نو اقتران خو صفت دمعنى دي نه دلفظ او كه راجع ئي كړي معنى ته نو بيا اضمار قبل الذكر راځي او بل نقصان بناء دي په يو قاعدي باندي چي په خبر كښې به يو عائد وي چي راجع به وي مبتدا ته نو دلته جمله بلا عائد پاتي كيږي .

**جواب**: نو جواب شارح به المدلول عليه سره كوى چي ضمير راجع دي معنى ته او معنى مدلول لفظ دي او لفظ دال دي او ضمير مدلول ته راجع كول دا داسي دي لكه چي ضمير دال ته راجع شي .

**بنفسها الخ** : **اعتراض** : اول يو تمهيد ذكر كوو، يقترن كښې ضمير راجع دي معنى ته او اقتران صفت دفعل دي نو معنى دا شوه چي اقتران به دمعنى دفعل راغلى وي په زماني پوري او دفعل دوه معناګانى دى : ۱ : مطابقى ، ۲ : تضمنى : مطابقى مجموعه د حدث نسبت زمان ته وائى ، او تضمنى چي حدث نسبت او زمانه ځانته واخلى نو اوس اعتراض دا واردیږي چي ته دفعل كومه يوه معنى اخلى كه مطابقى اخلى نو په مطابقى كښې نسبت هم شته او نسبت دا غير مستقل وي او قاعده داده چي يو شى مركب شى دمستقل او غير مستقل نه نو هغه غير مستقل وي ځكه چي نتيجه تابع داخص ارزل وي او اقتران خود غير مستقل پوري نه راځي . او كه معنى تضمنى اخلي نو په هغى كښې يو نسبت دي ددي وجه خو ذكر شوه چي دا غير مستقل دي او زمانه هم نشى اخستى ځكه چي بيا به اقتران د زمانى په زمانى پوري راشى او كه حدث اخلي نو بيا ترجيح بلا مرجح راځي

**جواب**: نو دي جوا ب كوي چي مراد زمونږ حدث دي او كه ته وائي چي ترجيح بلا مرجح ده نو مونږ وايو چي مرجح موجود دي چي عدم صحت دنورو دي .

**فى الفهم الخ**: دي عبارت سره بله دفع داعتراض . تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پكښې مصدر لكه الاكل خوردن نو دا خوراك خو به په يو وخت كښې

Maktaba Tul Ishaat. com


موجود يږي .

**جواب**: مراد د اقتران نه اقتران فی الفهم دي نه اقتران فی الوجود او مصدر مقترن دي په زماني پوري خو په اعتبار دوجود سره

**عنها الخ**: تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښي اسم فاعل ځکه دي هم مقترن دي په زماني پوري او اقتران ئي هم في الفهم دي نه في الوجود لکه زيد ضارب غداً يا امس .

**جواب**: اقتران فی الفهم به ئی وي خو ددغه لفظ نه به معلوميږي او دلته خو دضارب نه نه معلوميږي بلکه دغداً او امس نه معلوميږي، او يا دا فی الفهم عنها دواړه ديو اعتراض نه جواب وګرځوو. **اعتراض** : په اصطلاح دمنطقيانو کښي ذهن بسيط دي دوو شيانو ته په يو ځل نشی متوجه کيدلي او دلته هم يو حدث دي او بل زمان . **جواب**: دلته زمان په ضمن دحدث کښي موجوديږي نو شی واحد شو .

**باحد الازمنة الثلاثة الخ**: يو غرض دشارح تعين د ازمنة ثلثه وو کوی او غرض پکښي دفع داعتراض ده اول غرض خو اوشو چي ازمنه ثلاثه ماضی حال او استقبال دي او دويم غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چي تعريف دي جامع نشو خپلو افراد لره خارج شو ترينه صبوح غبوق . ځکه ددوي معنی هم مقترنه ده په زمانی پوري معنی دصبوح ده په سحر کښي شراب څښل او غبوق دا وائی په ماښام کښي شراب څښل او دوي ته څوك افعال نه وائی .

**جواب**: تعريف پري نه دي صادق ځکه چي مراد د زمانی نه ماضی حال او استقبال دي نه مطلق زمانه او په صبوح اوغبوق کښي مطلق زمانه ده .

**حين يفهم ذالك المعنی عنها**: دي سره غرض دفع د درينو اعتراضونو ده ،اول اعتراض دادي چي هلکه ذهن خو بسيط دي په يو وخت کښي به معنی او زمانی ته څرنګه لاړ شی ؟ **جواب**: دادي چي تبادر به ذهن معنی ته کوی خو زمانه به مقترنه وي د معنی سره.

**دويم اعتراض** : تعريف دي مانع نشو دخول دغير نه داخل شو پکښي لفظ دماضی ځکه دا دلالت په معنی هم کوي او اقتران يي په زمانه پوري هم شته او سره ددي نه چي

Maktaba Tul Ishaat. com



دا اسم فاعل دي **جواب:** مراد د مقارنت نه مقارنت دجزء دي د كل نه، د زمانه به جزء وی د کلمی نه لکه ضرب شو او الماضی کښي زمانه دا صفت دي د الماضی نه .

**دريم اعتراض:** هلكه په باحد الازمنة الثلثة كښي باء دپاره دسببيت ده ، نو معنى كښي فساد راغي معنى دا شوه چي د فعل به اقتران دبل شی سره راغلی وي په سببيت دزمانی سره او حالانكه خبره خو داسي نده ،

**جواب:** با دلته دپاره دسببيت نده بلكه دپاره د مصاحبت ده نو معنى دا شوه چي دا معنى به مقترنه وي د زمانه ثلاثة و سره باحد الازمنة الثلاثة باندي دبهر نه يو اعتراض .

**اعتراض:** ازمنه موصوف او ثلاثة صفت او قاعده داده چي صفت او موصوف په اسماء اعداد و کښي دا پشان دتميز او مميز وی او قاعده داده چي تميز دعدد اقل دا خلاف القياس راځي يعني كه مميز مذكر وی نو تميز مؤنث راځي او كه مميز مؤنث وی نو تميز به مذكر راځي ، نو پكار دلته هم ازمنة الثلاث وئيلی وو؟

**جواب:** داقاعده صحيح ده خو خلاف القياس راوړل په اعتبار داصل سره او اصل د ازمنة و زمان دي او زمان مذكر دي نو تميز ئي مونث شو .**اولا يقترن ذالك المعنى:** دي كښي هم هغه خبري دي كومي چي په ان تدل كښي وي .

## د مشتق منه د اسم بيان

**الاسم:** ددي ځائ نه تر القسم الاول پوري پنځه خبري ذكر كوی : اول مشتق منه د اسم ، دويم معنى داسم ، دريم دليل ، څلورم قول آخر ه ، پنځم معنى .

اول خبره داده چي اسم دامشتق دي د سموٌ نه او خلاف القياس حذف شو او حركت د (واو) نقل شو ماقبل ته او ددي په عوض كښي په اول د كلمه كښي همزه راوړي شوه او معنى دسموٌ علو او اوچتوالی دي او دليل ئي دادي چي دا اسم هم اوچت دي په اخوينو خپلو باندي چي فعل او حرف دي ، ځكه د دوو اسمينو نه كلام جوړيږي په خلاف دفعل او حرف و دامذهب دبصرينو دي او د دوي دپاره څلور دلائل دي ، اول دا چي ددي جمع اسماء راځي ، دويم ددي تصغير سمیٌ راځي ، دريم فعل سميتُ راځي ، څلورم دا په معنى دعلو سره دي .

**وقيل من الوسم:** دي څلورم غرض چي قول آخر دي ذكر كوي بعضي وائی چي دا

Maktaba Tul Ishaat. com



مشتق دي د وسمٌ نه ،اول نه ( واو ) حذف شو او همزه ئي په عوض کښي راوړلي شوه او معنی دوسمٌ علامه ده او اسم هم علامه ده په مسمي خپله باندي، او دا مذهب د کوفیانو دي اول دلیل دادي چي دي کښي قلت د حذف دي او قلت دحذف دا اولي وي د کثرت دحذف نه، او دویم دلیل دادي چي اسم دا علامه ده په مسمي خپله باندي، کوفیان دبصریانو د دلائلو نه جواب کوي دا اسماء او سمي او سمیت دا منقلب دي د اوسام نه، خو بصریان اول ددوي ددلائلو نه جواب کوي اول دلیل نه جواب دا کوي چي د داسي حذف نظیر مونږ چیرته ندي لیدلي چي یو حرف حذف شي اوبل حرف په هم هغه ځاي په عوض کښي راوړي ، او د دوهم دلیل نه جواب دا دي چي فعل هم علامه ده په مسمي خپله او حرف هم .

## د فعل لغوی او اصطلاحی معنی

**والقسم الاول الفعل سمی به لتضمنه الفعل اللغوی وهو المصدر:** قسم اول دا هغه دي چي دلالت کوی په معنی في نفسها او مقترن وی په ازمنه ثلاثة پوري ،نو دیته فعل وائی یو فعل لغوی دي چي هغه حدث دي او یو فعل اصطلاحی دي چي هغه حدث نسبت زمان دي نو دائي مسمی کړو په فعل لغوي سره او دیته تسمیه دکل وائي په اسم دجزء سره او کل چي فعل اصطلاحی دي متضمن دي فعل لغوی لره او داجزء دي دهغي نه .

**وقد علم بذالک خد کل واحد منها:** په واو باندی مشهور اعتراض دي . هله که واو عاطفه وی نو معطوف علیه راته اوښایه او که واو حالیه وی نو ذو الحال راته اوښانه او که واو ابتدائیه وي نو دا خو ابتداء د کلام نه ده بلکه وسط د کلام دي، او که واو استینافیه وي نو واو استینافیه خو په جواب دسوال کښي راځي او دلته سوال اوښایه .او که واو اعتراضیه وي نو واو اعتراضیه خو په مابین د جلمتین متلازمین کښي راځي او دلته جملتین متلازمین هم نشته .

**جواب** : دا پنځه واړه صحیح کیږی واو عاطفه ځکه صحیح کیږي چي معطوف علیه دلته مقدر دي او هغه دا چي ( ان حصرت الکلمة فی اقسام الثلاثة وقد علم بذالك ) دویم حالیه هم صحیح کیږي ځکه چي ذو الحال دلته مقدر دي چي افاد لهذا الکلام الانحصار حال کونه قد علم بذالك دي،

Maktaba Tul Ishaat. com



او ابتدائيه هم صحيح کيږي ځکه چي کلام جديد شروع شو. او استينافيه هم صحيح کيږي ځکه سوال دلته مقدر دي چي (هل علم بوجه الحصر تعريف کل واحد) نو جواب داشو چي (وقد علم بذلك حد کل واحد) او پنځم اعتراضيه کښي دوه مذهبه دي يو مذهب دادي چي واو اعتراضيه هغې ته وائي چي په مابين د جملتين متلازمين کښي راغلي وي بل مذهب د جار الله زمخشري دي وائي چي واو اعتراضيه هغه دي چي په ابتداء کښي راغلي وي اودلته واو اعتراضيه صحيح کيږي په مذهب ثاني سره ځکه چي واو په ابتداء کښي راغلي دي، اعتراض په ايراد دعلم کښي څه فائده شته او که نه؟

**جواب:** دعلم او عرف په منځ کښي ډير فرق دي علم استعماليږي په ادراك کلي کښي او معرفت استعماليږي په ادراك جزي کښي ، دويم فرق دا دي چي علم استعماليږي په ادراك دمرکب کښي او معرفت استعماليږي په ادراك دبسيط کښي نو دلته د اسم ادراك کلي راغلي نو ځکه ده علم اووئيلي . بعضي وائي چي فرق پکښي نشته خو چا چي فرق کړي دي ښه ئي کړي ځکه الله ﷻ فرمائي چي (ويعلم ما في الا رحام) نو اوس دا اعتراض راځي چي په ساينسي الاتو سره هم دا معلوميږي چي دا نر دي او که ښځه ، دا سالم الاعضاء دي او که ناقص الاعضاء ، نو جواب دادي چي الله ﷻ ئي بغير د آلاتو نه معلوميږي او انسان ئي په آلاتو سره معلوموي، دويم جواب دادي چي ادراك کلي دد غه ماشوم دا الله ﷻ ته دي او ادراك جزءی دا انسان ته هم شوي دي، نو دسائنس او د قرآن هيڅ تعارض نشته تعارض د عرف وئيلو په صورت کښي راتلو.

**ذالك: اعتراض:** هلکه ذلك سره اشاره کيږي بعيد ته يا به دي ضمير راوړي وي يعني وقد علم به او يا به دي اشاره دقريب راوړي وي ځکه مشار اليه چي وجه د حصر ده قريب ده. **جواب:** چونکه دا وجه د حصر ډيره عظيمه وه ځکه يواځي دا نه چي وجه ده حصر ده بلکه د هر يو تعريف لکه په قرآن کريم هم راځي ذالك الکتاب.

**کل واحد منها:** اول بيان د ضمير منها کوي ، نو ضمير راجع دي اقسام ثلاثه ؤ ته او دويم نمبر کښي دليل ذکر کوي چي څرنګه معلوم شو تعريف د هر واحد نو دا خو هم ظاهره ده تفصيل ته ضرورت نشته.

Maktaba Tul Ishaat. com



**لكنه مقترن:** لكنه مقترن كښي يو دا بحث دي چي لكن راځي دپاره داستدراك، استدراك ديته وائي چي دكلام سابق نه فهم داعتراض وشي او په لكن سره ئي جواب اوشي نو دلته د لكن څه فايده ده؟

جواب: دنورو خلقو دطرف نه په ماتن اعتراض وارد شوي دي او شارح ئي جواب كړي، سوال باسولى داسي جوړ كړي دي چي فعل به دلالت كوى په معنى باندى او معنى نه به مراد معنى اصطلاحى وي دفعل او معنى اصطلاحى كښي خو نسبت هم وو نو خلقو به دا وهم كولو چي نسبت خو غير مستقل دي او اقتران دا مستقل پوري راځي نو دفعل معنى به مقترنه نه و تر زمانى پوري نو شارح جواب وركړو لكنه مقترن يعني مراد فعل لغوى دي چي حدث وي او حدث مستقل وي، بعض شارحينو دا جواب ګرځولي د بل سوال نه هغه دا چي فعل به دلالت كوى او اسم هم دلالت كوى نو خلكو به دا وهم كولو چي د اسم اقتران خو دزمانى پوري نه وي نو د فعل به هم نه وي نو شارح په لكنه مقترن سره جواب وركړو، خو دا دواړه جواب او سوال صحيح نه دي اول ځكه ندي صحيح چي دهغي پته خو مخكښي هم وه چي اقتران دزمانى پوري دفعل لغوى وى چي هغه حدث دي، او د دويم جواب هم مخكښي نه معلومات وو چي اما ان يقترن او لا يقترن، خو اصل خبره داده چي لكن دپاره دفرق دي په مابين داسم او فعل كښي او كه ته وائى چي فرق خو مخكښي شوي دي نو جواب دادي چي هغه خو ماتن كړي دي او دا شارح كوي.

**فالكلمة مشتركه:** اول غرض تعيين د جنس او دفصل غرض ثاني دفع داعتراض غرض ثالث، صفت د مصنف غرض رابع، دفع د اعتراض:

**غرض اول:** هر تعريف كښي لابدي وي د جنس او دفصل نه نو الكلمة جنس دي او اسم فعل حرف ټول پكښي داخل دي فصل دپاره د حرف عدم دلالت دي او فصل دپاره دفعل دحرف نه دلالت دي او د اسم نه اقتران دي،او فصل دپاره د اسم دفعل نه عدم اقتران دي او دحرف نه دلالت دي.

**وليس المراد بالحد ههنا الا المعرف الجامع المانع:** دويم غرض دفع داعتراض: مراد په حد سره هغه تعريف د شئ وي په ذاتياتو سره او هغه جنس او فصل دي او دلته جنس او

Maktaba Tul Ishaat. com



فصل من تعريفات الغوامض نه دي يعني فرق د جنس دعرض عام سره په خاصه سره مشكل دي ځكه چي جنس دا مشترك دي عرض عام سره په عموم كښي او فصل خاصه سره مشترك دي په خصوص كښي دا فرق خو په انسان كښي كيدي شي ځكه چي انسان لره وجود په خارج كښي شته او كلمي لره خو په خارج كښي وجود نشته نو شارح جواب پدي عبارت سره وركړو چي وليس المراد با لحد ههنا چي مراد په حد سره حد منطقي ندي بلكه مراد د حد نه هغه تعريف جامع مانع دي او دلته هم تعريف جامع مانع دي او كل متكم يتكلم باصطلاحه خو دا جواب د دغه اعتراض نه نه صحيح كيږي ځكه چي دا جامع مانع خو مخكښي اعتراض هم ذكر دي بلكه دا جواب دبل اعتراض دي او هغه دا چي د ماتن او دشارح په عبارت كښي تضاد دي هغه دا چي ماتن مخكښي وئيلي وو چي وقد علم بذلك حد كل واحد ، او دلته شارح وائي چي فعلم لكل واحد معرف جامع مانع ، ماتن حد ذكر كړيدي او شارح معرف ذكر كړي ، نو جواب دادي چي پدي عبارت سره شارح وركړو ، هو ليس المراد ههنا چي حد معرف يو شي دي چي تعريف جامع مانع ته وائي.

## د در معنى

**ولله در المصنف:** پدي عبارت سره ذكر د غرض ثالث دي چي صفت د مصنف دي، خاص الله جل جلاله لره دي وى خير كثير د مصنف عرب چي كله د تعجب يو كار وكوري نو نسبت ئي الله جل جلاله ته كوى لكه (قلن حاشا لله) در وائى پيو ته مراد ترينه خير كثير دي دا اضافت د ادنى ملابست دوجي نه دي دا دفع ديو اعتراض شوه چي دولد نسبت خو مور ته كيږي چي ولد ته ترينه خير كثير ورسيږي د مصنف دپاره خو پيى نشته نو جواب دادي چي لكه څرنګه چي پيو سره خير كثير ولد ته رسيږي نو دغه رنګه مصنف چي د طالبانو داذهانو دمراتبو رعايت ساتلى دي سره هم خير كثير رسيږي طالبانو ته او د در نسبت مور ته دا اعلى ملابست دي

**حيث اشار:** څلورم غرض دفع د اعتراض ده هغه داسي چي دتصور نه تصديق او دتصديق نه تصور نه معلوميږي تصور به دتصور نه او تصديق به دتصديق نه معلوميږي اوس دلته دتصور چى تعريف دهر واحد دي، دتصديق نه معلوم كړي شو

Maktaba Tul Ishaat. com



چي وجه د حصر ده، نو مصنف جواب ورکړو پدي عبارت سره چي اشاره الى حدودها في ضمن دليل الحصر، ستا قاعده صحيح ده چي د تصور نه تصديق نه معلوميږي او نه برعکس ليکن دلته چي تصور معلوم شوي دي د تصديق نه دا ضمناً د تصور نه معلوم شوي دي نه دوجه د حصر نه چي تصديق دي .

## د الكلام لغوى او اصطلاحى تعريف او تشريح

**الكلام:** هر کله چي فارغ شو مصنف د تعريف د يو جزء د موضوع نه چي کلمه ده نو شروع ئي اوکړه په دويم جزء د موضوع کښي چي کلام دي .

**اعتراض:** والكلام دي ولى او نه وئيلو چي عطف کړي دي وي په کلمه باندي ؟

**جواب:** عطف مقتضى د تبعيت دي نو خلقو به دا وهم کولو چي کلام دا جزء دي د کلمه نه او حالانکه کلمه دا جزء دي د کلام نه، اوس د علم نحو موضوع کلمه او کلام دي او تعدد د علومو دا بناء وي په تعدد د موضوع او وحدت د علومو دا بناء وي په وحدت د موضوع او دلته خو دوه دي، داځکه چي په مابين د کلمه او کلام کښي کليت او جزئيت دي، اول غرض ، معنى لغوى د کلام ذکر کوي او دويم غرض معنى اصطلاحى د کلام ذکر کوي دريم غرض دفع داعتراض کوي په دي سره . اعتراض : ماتن چي کوم تعريف ذکر کړي نو دا تعريف اصطلاحى دي او که تعريف لغوى دي که اول وي نو ثانى څه شو او که ثانى وى نو اول څه شو ؟

**جواب:** ماتن چي کوم تعريف ذکر کړي نو دا تعريف اصطلاحى دي او تعريف لغوى شارح ذکر کړى دي چي ما يتكلم به قليلاً كان او كثيرا او معنى اصطلاحى ما تضمن كلمتين بالاسناد ، معنى لغوى دا عامه ده د معنى اصطلاحى نه په دريو وجوهو سره، اوله وجه داده چي د کلام لغوى اطلاق په مهمل باندي کيږي نه د کلام اصطلاحى ځکه چي په کلام کښي کلمتين وي او کلمه وائى کلمه موضوعى ته، دويمه وجه داده چي د کلام لغوى اطلاق په مفرداتو باندى کيږى چي نسبت ورسره نه وي ذکر لکه زيد، نه د کلام اصطلاحى ځکه چي کلام وائى تضمن کلمتين بالاسنادته ، دريمه وجه دا ده چي د کلام لغوى اطلاق په مرکب توصيفى او مرکب اضافى باندى هم کيږي لکه رجل عالم او غلام زيد نه د کلام اصطلاحى ځکه چي کلام بالاسناد وى او مرکب توصيفى

Maktaba Tul Ishaat. com



او اضافي کښې اسناد نشته.

**ماتضمن کلمتين:** اول غرض تعين د (ما) او دويم غرض دفع داعتراض، نو مراد د (ما) نه لفظ دي د ما موصوفی نه ئي تعبير په لفظ سره وکړو.

**اعتراض:** د ما نه خوتعبير په شئ سره کيږی ؟ جواب: که د ما نه مو تعبير په شئ سره کړي وي نو بيا تعريف نه مانع کيدو داخليدو به پکښې جدار چي په هغی لفظ د زيد قائم ليکل شوي وي نو داول نه مو د (ما) نه تعبير په لفظ سره اوکړو دپاره دقصر مسافت دا خبره په ډيردو ځايونو کښې راځي.

**کلمتين حقيقتاً او حکماً:** پدي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده، تا اووئلی چي کلام به جوړ وي د دوو کلمو نه زه به درته اوښائم چي يوه کلمه به وي او کلام به وي لکه زيد په جواب د (من هذا) کښې.

جواب: مذکور فی السوال کا لمعاد فی الجواب وی نو زيد حکماً کلمتين وګرځيدو.

## بيان دِ متضمِن او دَ متضمَن

**ای يکون کل واحد منها:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده، دي نه مخکښې يو تمهيد يادول پکار دي چي د متضمِن او دمتضمَن په مينځ کښې تغاير وي اوس دلته الکلام متضمِن او متضمن دي په مابين د دوي کښې مغايرت نشته دي بلکه اتحاد دي په دي کښې کلام متضمِن دي کلمتينو لره او کلمتين متضمِن دي کلام لره.

**جواب:** کلام نه مراد من حيث المجموع د کلمتين ده او مراد په کلمتين سره کل واحد من الکلمتين دي نو اتحاد رانغلو په مابين دمتضمَن او متضمِن کښې، کل په دوه قسمه دي، اول کل مجموعی، دويم کل افرادي. د کل افراد مثال لکه کل من الطلاب يشبع بهذا الرغيف او د کل مجموعی مثال لکه کل الطلاب يرفع هذا الحجر.

## غرض د شارح او معنی د اسناد

**بالاسناد:** دي سره غرض ذکر د اعراب دي، دويم غرض تعين د (باء) دريم غرض معنی داسناد، څلورم نمبر تعميم ذکر کوي. غرض اول: بالاسناد منصوب دي بناء بر مفعول مطلق دپاره د تضمن

Maktaba Tul Ishaat. com



**اعتراض**: فعل مشتمل وي په مفعول مطلق باندي دقبيلي داشتمال دكل نه په جزء باندي او دا تضمن خو مشتمل دي په تضمنا نه په با لاسناد ،

**جواب**: دا مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره چي تضمناً حاصلاً دي او تضمناً دا مفعول دي د تضمن دپاره او حاصلاً دا صفت دي دتضمناً دپاره او اعراب دموصوف او صفت يو وي نو با لاسناد منصوب شو دتضمناً دوجې نه او با لاسناد دا متعلق دي تر حاصلاً پوري، دويم غرض: دلته (باء) د سببيت ده ، دريم غرض: معنى د اسناد ، اسناد وائى نسبة احدي الكلمتين الى الاخري بحيث تفيد المخاطب فائدة تامةً ، څلورم غرض: تعميم دي چي په حقيقتاً او حكماً سره ئې ذكر كوى هغه داسي چي تا اووئيل چي نسبت د يوي كلمى به شوي وي بلى كلمى ته زه به درته اوښايم چي نسبت به د كلمتينو شوي وي نورو كلمتينو ته لكه غلام زيد ابوه قائم .

**جواب**: نسبت ديوي كلمي به بلي ته شوي وي دا عام دي كه دا كلمه حقيقتاً وي او كه حكماً ، حقيقتاً لكه زيد قائم او حكماً لكه پدي مثال كښي چي غلام زيد ابوه قائم اولنى دوه كلمى په منزله ديوي كلمي او آخري دوه كلمى هم په منزله ديوي كلمى ګرځول شوي ده لكه هذا ذاك .

**فقوله ما يتناول المهملات والمفردات**: اول غرض فوائد دقيوداتو ، دويم غرض دفع داعتراض، دريم غرض دفع داعتراض غرض رابع بيان داختلاف او غرض خامس بيان د اختلاف آخر، اول غرض په هر تعريف كښي لابدي وي د جنس او فصل نه ، نو په تعريف د كلام كښي (ما) جنس دي پدي سره مهملات مفردات مركبات كلاميه او غير كلاميه دا ټول شامل شو او په قيد د تضمن سره چي دا فصل دي مهملات او مفردات خارج شو ځكه چي كلمتين تثنيه د كلمة ده او په تعريف د كلمة كښي وضع راغلي او مفردات ځكه خارج شو چي كلمتين تثنيه ده او په با الاسناد سره تري نه مركب غير كلاميه خارج شو لكه مركب اضافى او توصيفى ځكه چي دوي مفيد د فائدي تا مى ندي لكه غلام زيد ورجل فاضل، پاتى شو مركب كلاميه دا په دوه قسمه دي خبريه، انشائيه، وجه د حصر داده ، چي دا مركب تام به خالى نه وي يا به احتمال د صدق او دكذب لري او يا نه كه اول وو نو دا خبري او كه ثانى وو نو دا انشائى، او دويمه وجه د

Maktaba Tul Ishaat. com



حصر داده چي دا مرکب تام به خالی نه وي يا به محکی عنه د ده په خارج کښي موجود وي او يا نه که موجود وو نو دا خبر ، او که نه وو موجود نو انشاء شوه د خبر مثال لکه ضرب زيد وضربت هند وزيد قائم، او مثال د انشاء لکه اضرب او لاتضرب ، دا اګر که لفظا يوه کلمه ده ليکن معنیً دوه کلمي دي ځکه چي په دوي کښي معنی هم شته چي هغه انت دي د انت اسناد اضرب او لاتضرب ته شوي دي بحيث تفيد المخاطب فائدةً تامةً ددي وجي نه ورته کلام وائی .

**حيث كانت الكلمتان:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض دي او اعتراض دوه شقه دي اول دا چي تعريف دي ناقص شو او هر ناقص باطل وي نو ستا تعريف هم باطل شو کبریٰ خو ظاهره ده خو صغریٰ چي تعريف دي ناقص شو دا ځکه چي پدي تعريف کښي يو قيد پکار وو چي ما تضمن کلمتين او اکثر ،

**جواب:** دينه جواب دادي چي کلمتين د پاره دحصر نه دي بلکه داد کلام ادنی مرتبه ده، شق ثاني داعتراض دا دي چي تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه زيد ابوه قائم وغيره ځکه دا خو کلمتين ندي بلکه زيات دي د کلمتينو نه .

**جواب:** دادي چي په دي جملو کښي اګر چي دا اخبار او اوصاف مرکبات دي خو لکين دا په حکم دمفرد کښي دي ځکه د ابوه قائم نه تعبير دا په قائم الاب سره شوي دي .

**ودخل فيه ايضاً جسق مهمل وديز مقلوب زيد الخ:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده او هغه دا چي تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه جسق مهمل وديز مقلوب زيد ځکه چي دا خو کلام دي او تضمن کلمتين ندي .

**جواب** : کلمتين عام دي حقيقتاً وي او که تاويلاً وي دلته اګر که حقيقتاً کلمتين ندي ليکن تاويلاً دا کلمتين دي ځکه چي دا په تاويل دهذا اللفظ سره دي .

**اعلم ان كلام المصنف:** دي عبارت سره څلورم غرض ذکر کوی چي بيان د اختلاف دي ، اختلاف پدي کښي دي چي مجموعه دفعل فاعل او دمتعلقاتو ته کلام وائی ، او که صرف فعل فاعل ته کلام وائی اول دمصنف مذهب دي نو دده په نزد ضربت زيداً قايماً دا ټول کلام دي، او دويم د صاحب د مفصل مذهب دي نو دده په نزد ضربت فعل فاعل دا کلام دي او زيداً قائماً دا خارج اشياء دي د کلام نه ځکه صاحب د

Maktaba Tul Ishaat. com



مفصل په تعريف د كلام كښي هو ضمير فصل راوړي او دا دليل د انحصار دي چي كلام منحصر دي په كلمتينو كښي.

## اختلاف په كلام كښي

**ثم اعلم ان صاحب المفصل الخ:** دي عبارت سره اختلاف ذكر كوى او غرض پدي سره دفع داعتراض ده ، اعتراض دوه شقه دي ، او اعتراض ، هلكه تعريف د كلام دي كړو د جملى به دي هم كړي وي.

**جواب**: دادي چي دا دواړه مترادفين دي، اعتراض ثاني :هلكه د مترادفين په مابين كښي خو يو د نسب اربعه ۆ نه وي نو دلته كوم نسبت دي نو جواب دادي چي دي كښي اختلاف دي (۱) اول صاحب دمفصل او صاحب ذلباب وائى چي كلام او جمله دواړه مترادفين دي ،(۲) او صاحب دتسهيل وائى چي جمله عامه ده او كلام خاص دي ، دي كلام سره مقصود لذاته قيد لګوى نو د ده په نزد زيد ابوه قائم دا جمله ده او كلام ندي ځكه مقصود لذاته نه دي نو نسبت پكښي دعموم خصوص مطلق دي (۳) مصنف رحمة الله عليه مقصود لذاته قيد نه دي راوړي نو پدي سره معلوميږي چي دي هم د ترادف قائله دي اوبل طرف ته شارح هندي وئيلى دي چي با الاسناد مصنف با للام راوړي نو مراد په دي سره مقصود لذاته اسناد دي نو پدي وخت كښي د ده په نزد هم پكښي نسبت دعموم او خصوص مطلق راغلو.

**ولا يتاتى:** هر كله چي فارغ شو مصنف دمفهوم د كلام نه نو شروع ئي اوكړه په مصداق د كلام كښي ، ولا يتاتى سره غرض دشارح دفع داعتراض ده . **اعتراض**: اتيان خو استعماليږي په ذوي الارواح كښي او تائى نسبت غير ذوي الارواح ته اوكړو چي كلام دي، **جواب:** نو ده جواب وركړو چي ذكر د اتيان او مراد ترينه حصول دي ، اعتراض من الخارج : هلكه ته اتيان نه حصول اخلى يعني مجازي معنى اخلى نو علاقه او تعلق ا مناسبت پكښي څه دي، **جواب**: د اتيان او د حصول په مابين كښي نسبت د تلا زم دي،**اعتراض:** چي ته اتيان راوړي او د اتيان نه بيا حصول اخلى خو اولاً به دي ولا يحصل وئيلى وي **جواب**: داد مصنفينو عادت دي چي كله نا كله غريب الفاظ راوړي دپاره د جدت د كلام.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ذالك ای الكلام:** غرض د مصنف په ذالك سره ذکر د مشار اليه دي چي هغه کلام دي، **اعتراض:** قاعده دا ده چي ولا يسوغ المنفصل الا لتعذر المتصل يعني ضمير منفصل نشي راوړي مگر په وخت دعذر د متصل کښي نو هر کله چي ضمير منفصل نشي راوړي نوو دغه رنګه اسم اشاره هم نشي راوړي نو کوم ضمير چي په ولا يتا تی کښي دي، هم هغه به دي راجع کړي وی کلام ته.

**جواب:** که مونږ ضمير راوړي وي نو ضمير خو راجع وي قريب ته نو دابه تضمن او يا با الاسناد ته راجع شوي وي نو بيا خو ظرفيت د شی راځی خپل نفس ته ځکه که تضمن ته راجع شی نو بيا ظرفيت دشی خپل نفس ته داسي راځی چي نه به راځي دا متضمن مگر په ضمن داسمينو کښي او که راجع شی اسناد ته نو بيا به معنی داسي شی چي نه به راځي دا اسناد مگر په ضمن د اسمين کښي او اسناد په خپله کلمتين وي ديوي کلمی نسبت بلی کلمی ته شوي وي نو ځکه مو اسم اشاره د بعيد راوړه.

**الا فی ضمن اسمين:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض: قاعده داده چي دظرف او دمظروف په مابين کښي تغاير وي او کلام خو ندي مگر اسمين او اسمين ندي مگر کلام نو ظرفيت الی نفسه راغلو، جواب: دلته ظرفيت دشی الی نفسه نه راځي ځکه کلام عام دي او اسمين خاص دي نو ظرفيت دخاص راغی عام لره کلام به وي او اسمين به نه وي لکه اسم او فعل او اسمين چي وي نو خامخا به کلام وي.

**احدهما مسندٌ والا خر مسند اليه:** دا دفع داعتراض ده اعتراض دادي چي تا اوويل کلام دانه حاصليږي مگر په اسمين کښي زه په درته وښائم اسمين به وي او کلام به نه وي لکه غلام زيد: جواب: دادي چي يو داسمين نه به مسند وي او بل به ئی مسند اليه وي او غلام زيد خو مضاف او مضاف اليه دي،

## بيان د تعدد دِ نسخو

**وفی بعض النسخ اوفعل واسم:** دي عبارت سره غرض د مصنف تعدد دنسخو ذکر کول دي مصنف پخپله او اسم وفعل وئيلی دي اسم ئی مقدم کړي دي په فعل او په بعضو نسخو کښي فعل مقدم دي په اسم باندي خو دمصنف مذهب راجع دي ځکه چي اسم دا اعلی وي او تقديم د اعلی اولی وي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فان التركيب الثنائي العقلي:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض هلكه تا تعريف د كلمه اوكړو او بيا دي تقسيم ذكر كړو د كلمې او په هغه تقسيم كښې دي ادوات دحصر را نه وړل او دلته دي د كلام په تقسيم كښي ادوات دحصر راوړل فما الوجه : **جواب**: په كلام كښي حصر استقرائي دي هلته مونږ استقراء او تتبع اوكړه صرف دري اقسام جوړيده عقل مجوز دقسم آخر نه وو نو ځكه مو ادوات د حصر رانه وړل او دلته په كلام كښي حصر عقلي دي احتمالات پكښي ټول شپږ جوړيدل او هغه (١) اسمين (٢) فعلين (٣) حرفين (٤) اسم فعل (٥) فعل حرف (٦) اسم حرف ، خو معتبر پكښي صرف دوه احتماله وو نو ځكه مو ادوات دحصر راوړل .

**ومن البين ان الكلام لا يحصل بدون الاسناد:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده، اعتراض : هلكه هر كله چي احتمالات شپږ وو نو تا څرنګه دعوه وكړه ولا يتاتى الافى اسمين او اسم وفعل . جواب : دادي چي كلام نه حاصليږي بغير د اسناد اوپه اسناد كښي لابدي وي د مسند او مسند اليه نه او دا دواړه متحقق كيږي پدغه دوه اقسامو كښي چي اسمين او اسم او فعل دي فقط .

**ونحو يازيد بتقدير ادعوا زيدا:** دا دفع داعتراض ده ، اعتراض : هلكه تاووئيل چي كلام نه حاصليږي مګر په اسمينو او اسم وفعل زه به درته وښايم چي كلام به جوړوي د حرف او د اسم نه لكه يازيد. جواب : دلته دا يا عوض ده د ادعوا فعل نه ، اعتراض : يا حرف دي او حرف غير مستقل وی او فعل مستقل وي او غير مستقل دا عوض د مستقل نه نشي راتلی ، جواب : دا سماعي امور دي او عقل لره پكښي دخل نشته .

## تركيب او د كلمې د اقسامو تفصيل

**تركيب:** الكلمة كښي اول الف لام حرف دي او دا مبني دي او دويم كلمه ده او دريم پكښي (تاء) ده او دا هم حرف دي او مبنی دي ، الكلمة مبتداءده او عامل پكښي معنى دي چي هغه تجريد دي د عامل لفظي نه، اعتراض: تجريد د عامل لفظي خو عدمي دي نو عدمي څرنګه عامل وګرځيدو ، جواب : عوامل د نحوى علامات دي مؤثرات ندي او عدمي شی علا مه ګرځيدلی شی ، الكلمة مبتدا معمول په عامل معنى سره او لفظا ئي خبر معمول په عامل معنوی سره او يا په لفظي سره چي هغه

Maktaba Tul Ishaat. com



ابتداء ده ، وضع فعل مجهول او دا ماضی ده مبنی ده په فتحی سره ضمیر پټ‌بنی مستتر دي هغه هم مبنی دي او نائب فاعل دي لام جار معنی مجرور ، تقدیراً ځکه مجرور دي چي دا خو محلاً منصوب دي ځکه دا مفعول غیر صریحي دي دپاره د وضع، معنی موصوف مفرد صفت، موصوف سره دصفت نه مجرور دجار ، جار سره دمجرور نه ظرف لغوه متعلق شو تر وضع پوري متعلق سره متعلق نه صفت شو دپاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه خبر دپاره دمبتدا ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه ، دویمه طریقه د ترکیب : الکلمة مبتداء، لفظ موصوف وضع فعل ، ضمیر پټ‌بنی مستتر دي هغه ئي نائب فاعل، لام جار معنی ذوالحال مفرداً حال، ذوالحال سره د حال نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر وضع پوري متعلق سره دمتعلق نه صفت شو دپاره د موصوف. موصوف سره دصفت نه خبرشو دپاره دمبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه یا مفرداً حال دي د ضمیر دوضع نه، دریم ترکیب: الکلمة مبتداء لفظ موصوف، وضع معنیً صفت اول او مفرد صفت ثانی ، موصوف سره دصفتینو نه خبرد مبتداء ، مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

## وهی اسم و فعل و حرف ترکیب

**وهی اسمٌ وفعلٌ وحرفٌ**: واو حرف عاطفه هی مبتداء اسم معطوف علیه واو حرف عاطف حرف معطوف دي په فعل باندي د وجه د قرب نه او په اسم باندي عطف دي دوجه د اصالت نه. معطوف علیه سره دمعطوفتینو نه خبر د مبتداء ، مبتداسره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفه .

**لانها اما ان تدل علی معنی فی نفسها اولا الثانی الحرف**: لام تعلیلیه . ان دا حرف دي حروف مشبهه با لفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي ها ضمیر اسم د (ان) دي منصوب دي محلاً اما حرف تردیدیه، ان ناصبه تدل فعل. ضمیر پټ‌بنی مستتر دي هغه ئي فاعل علی حرف جر معنی موصوف فی حرف جر نفس مضاف ها ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر تدل پوري. فعل سره دفاعل نه او سره د متعلقه جمله فعلیه معطوفه علیها اوحرف عاطف لامعطوف . معطوف علیه سره دمعطوف نه خبر د ان. ان سره داسم اوسره دخبر نه جمله

Maktaba Tul Ishaat. com



اسمیه الثاني صفت دي او موصوف يي مقدر دي چي القسم دي موصوف سره دصفت نه مبتداء اوالحرف خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه ده .

**والاول اما ان یقترن باحد الازمنة الثلاثة اولا الثانی الاسم والاول الفعل:** والاول دا صفت دي او موصوف ئی القسم دي موصوف او صفت مبتدا اما ترديديه ان مصدريه ان يقترن فعل ضمير پكښي مستتر دي هغه ئي فاعل با حرف جر احد الازمنة موصوف الثلاثة صفت. موصوف سره دصفت نه مضاف اليه دمضاف . مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور دجار، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر يقترن پوري فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه دا په تاويل د مصدر سره خبر شو دپاره دمبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه معطوفه عليها او حرف عاطف لاناهيه منهى عنه ئی حذف دي چي لا يقترن دي، الثانی صفت دي موصوف ئی القسم دي نو موصوف او الفعل ئی صفت ، موصوف سره دصفت نه دا معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه داخبر شود پاره دمبتداء ، مبتداء سره دخبرنه جمله اسميه خبريه .

**وقد علم بذالک حد کل واحد منها:** واو عاطفه قد حرف تحقيق علم فعل با حرف جر ذالك مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو تر علم پوري حد مضاف كل مضاف اليه مضاف واحد موصوف من جار ها ضمير مجرور . جار سره دمجرور نه متعلق شو تر علم پوري.

**الاسم ما دل علی معنی الخ:** هر كله چي فارغ شو مصنف د تعريف د كلمي او كلام اود اقسامو نه، نو شروع ئي اوكړه په تعريف د اقسامو د كلمى كښي او داتعريف تفصيلي دي اجمالي خو دوجه د حصر نه معلوم شوي دي، اول غرض د ماتن تعين د مادي او دي سره غرض دفع داعتراض كوي، اول غرض خو ظاهر دي چي ما موصوفه ده ځكه ئي ترينه تعبير په نكري سره كړي دي چي اى كلمة ،

**اعتراض** د ما خو ډير اقسام دي دلته كوم يو دي كه نافيه وي نو عكس المطلوب لازميږي نو معنى به بيا داسي شى چي اسم هغه دي چي دلالت نه كوى واو كه ما زائده شي نو تعريف به خالي شي د جنس نه او كه ما مصدريه شي نو ( دل ) نه به دلا لت جوړشي . يعني مصدر به شي نو بيا حمل نه صحيح كيږي د دلالت په اسم باندي، او

Maktaba Tul Ishaat. com



که ما موصوله شی نو بیا هم نه صحیح کیږي ځکه دل علی معنی به ورله صله شی او موصول صله دا جزء وی د کلام نه نو بیا به په تعریف کښي جنس پاتی نشی لکه الذی ضربك دا جزء شو نو جائی به ورله راوباسی. او که ما موصوفه شی نو اخذ د محدود راځي په حد کښي نو معنی بیا دا شوه چې اسم دا هغه اسم دي **جواب**: ما موصوفه ده خو عبارت د اسم نه . نه ده بلکه عبارت ده د کلمه نه . **اعتراض**: د ما خو ډیر اقسام دي او ته ترینه موصوفه اخلی نو لابد من قرینة فاین القرینة ؟

**جواب**: ما عبارت دي د کلمه نه او دا تعریف دا اسم دي او اسم قسم د کلمي دي او مقسم مرعی وي په اقسامو خپلو کښي ماتن دل مذکر راوړي او شارح دلت مؤنث راوړي دي ماتن رعایت د لفظ د ما کړي دي چې لفظ مذکر دي او شارح لحاظ د معنی د ما کړي دي او معنی ئي مؤنث ده ځکه چې عبارت دي د کلمی نه لکه قرآن کریم کښي هم ددي مثال شته چې الله جلاله فرمائی ( ومن الناس من یقول آمنا با الله وبا لیوم الآخر وما هم بمؤمنین ) دلته من دا مفرد دي لفظاً نو یقول ئي په اعتبار د لفظ د من سره مقدر راوړي او معنی د من جمع ده نو ددي وجه نه ئي آمنا او وما هم او همدارنګه مؤمنین ئی جمع راوړي ده .

**علی معنی کائن**: کائن حال دي دمعنی نه او معنی مفعول به دپاره د مادل ، کائن سره غرض متعلق د فی نفسه ذکر کول دي او دویم غرض رد دي په شارح رضی او شارح هندي باندي، اول غرض خو وشو چې فی نفسه متعلق دي په کائن پوري، دویم غرض شارح رضی وائی چې في نفسه متعلق دي په دلّ پوري ځکه دا ظرف مستقر دي او دا اولی وي دلغوه نه ځکه ظرف مستقر ذکر وی نو شارح پري رد وکړو خلاصه داده چې د دل په صله کښي علی راځی او په مدلول کښي باء راځی او دلته ئي په مدلول باندي فی راغلی ده چې فی نفسه دي، او شارح هندی وائی چې دا متعلق دي په کائناً پوري او دا کائناً حال دي دضمیر د دل نه چې راجع دي ( ما ) ته، نو شارح پري رد کوی خلاصه داده چې که دا کائناً شی او حال شی نو حال خو قید وي دپاره د عامل د ذوالحال او قید کله وي او کله نه نو معنی به داسی شی چې دا اسم به کله د لالت کوی او کله نه او حالانکه خبره خو داسی نده .

Maktaba Tul Ishaat. com



**اى فى نفس ما دل:** دي عبارت سره غرض اول ذکر د مرجع د ضمير کوي او غرض پدي سره دفع داعتراض ده، ضمير راجع دي کلمه ته اعتراض: دادي چي في نفسه کښي في دپاره دظرفيت راځي او ظرف په دوه قسمه دي دلته يو هم نه صحيح کيږي او دويمه طريقه د اعتراض داده چي في نفسه کښي ضمير چا ته راجع دي که راجع وي معنى ته نو ظرفيت د شي الى نفسه راځي جواب: ظرفيت هلته راتلو چي فى په معنى د ظرف سره وي.

**فتذكير الضمير الخ:** دادفع داعتراض ده، هلکه ضمير راجع دي کلمه ته نو نفسها پکار وو، **جواب:** رعاية الى لفظ الموصول لفظ دموصول چي ما دي دهغه رعايت شوي ، **اعتراض:** دمصنف په کلام کښي تضاد دي مخکښي ئي وويل چي ما موصوفه ده ځکه چي تعبير ئي ترينه په نکري سره کړي دي، او اوس وائى چي بناءً على لفظ الموصول، ددينه دوه جوابونه دي (۱) اول جواب دادي چي مصنف اشاره وکړه جواز د وجهين ته چي دواړه صحيح دي او که ته وائى چي کلام د جنس نه خالي کيږي نو جنس او فصل دا د منطقيانو کار دي زمونږ پدي څه او (كل متكلم يتكلم باصطلاحه) دويم جواب دادي چي دا موصول جمله پشان دالف لام دي. لکه څرنګه چی الف لام عهد ذهنى راځى او دغه الف لام ذهني په قوت د نکري کښي وي لکه پدي شعر کښ، ولقد امر على اللئيم يسبني، دلته اللئيم کښي الف لام د تعريف دي نو دا مبتدا شوه او يسبنى جمله ده او جمله دا نکره وي او دلته دا خبر واقع شوي دي او حالانکه مبتدا معرفه ده په الف لام سره نو جواب دادي چي دلته الف لام عهد ذهنى دپاره دليل دادي چي جنسي لا يصح لان المرور لا يمكن او استغراقى هم لا يصح لان المرور على جميع الا فراد لا يمكن او عهد خارجي کښي مقصد دشاعر نه حاصليږي متعين لان التعريف للعهد الذهنى او دا په قوت د نکري کښي وي نو نکره مبتداء شوه او خبر ئي هم نکره راغى دغه رنګه موصول صله هم په څلور قسمه ده نو په هغى کښي عهد ذهنى هم يو قسم دي لکه په صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب کښي دلته الذين موصول او انعمت عليهم صله ده دا موصول صله يا مبدل منه دي او غير المغضوب عليهم ورنه بدل دي، او يا موصول صله موصوف دي او غير المغضوب ورله صفت دي نو پدي

Maktaba Tul Ishaat. com



اعتراض وارد یږي چي موصول صله معرفه ده او په صفت کښي غیرهم راغلی او داد وجه دتوغل فی الابهام نه په اضافت سره هم معرفه نه ګرځی نو دا صفت نکره شوه نو مطابقت بین الموصوف والصفة را نغلو نو دي نه بیا جواب دادي چي دلته موصول او صله دا عهد ذهنی دي او موصول صله عهد ذهنی دا نکره وي نو موصوف او صفت دواړه نکره شو او دویم جواب دادي چي موصول نه مي تعبیر په نکري سره ځکه وکړو چي دا عهد ذهنی دي.

**قال المصنف:** دي عبارت سره قول آخر ذکر کوي هغه دا چي که ضمیر په فی نفسه کښي راجع شی معنی ته نو بیا خو ظرفیت دشی الی نفسه راغلو نو دي وائی چي ضمیر معنی ته راجع دي خو فی په معنی د اعتبار سره دي. **کقولک:** دا بیان د نظیر دي نظیر دا دي چي الدار فی نفسها حکمها کذا، دلته فی ظرفیت سره دي او حکمها کښي ها ضمیر دار ته راجع دي ظرفیت الی نفسه نه راځي ځکه فی په معنی د اعتبار سره دي ظرفیت سره ندي. **انتهی کلامه:** یعني کلام د مصنف ختم شو چي کوم ئی په شرح الایضاح کښي ذکر کړي دي.

## دِ محصول بیان

**محصوله:** یو غرض دفع د اعتراض ده، دویم تشبیه دمعقول ده محسوس سره، دریم دفع د اعتراض ده، څلورم حکم د معنی اسمي. پنځم معنی حرفی، شپږم دفع داعتراض ده، اووم حکم د معنی حرفي.

**اعتراض:** مولانا صاحب تا د اسم معنی او کړه او فی بیا په معنی داعتبار سره شوه نو اسم کښي خو صحیح شوه حرف به څه کوي، فی غیره نو د حرف معنی به په اعتبار د یر کښي غیرته وي او حالانکه معنی خو په لفظ کښي پرته وي، دینه جواب په آخر د سبق کښي کوي، یو حاصل دي او بل محصول. محصول هغه کلام ته وائی چي په مشقت سره واخستی شی او حاصل هغه کلام ته وائی چي په آسانتیا سره واخستی شی، محصوله کښي ضمیر ما ذکر فی الایضاح ته راجع دي. بعض المحققین، بعضي وائی چي دا تحقیق میر سید سند کړي دي او بعضي وائی چي دا تحقیق ابن حاجب کړي دي خو را نقل کړي دي میر سید سند.

Maktaba Tul Ishaat. com



**كما ان فى الخارج موجودا قائماً بذاته الى آخره:** دويم غرض ذكر كوي په خارج كښي دوه شيان دي. (۱) جوهر . (۲) عرض . جوهر وايي هغې ته چي په وجود خپل كښي محتاج نه وي وجود د غير ته او عرض دا عكس ددي دي خو دا تعريف ضعيف دي ځكه چي ټول جواهر دا هم محتاج دي په وجود كښي الله جل جلاله ته نو دا هم اعراض شو. نو ځكه محققين بل تعريف كوي چي جوهر دا هغه دي چي پخپل تحيز كښي محتاج نه وي . تحيز دغير ته او اعراض عكس ددي ته وائي تحيز وائي حصول فى المكان ته . بعض وائي چي مكان او تحيز مترادفين دي او تعريف ئي دا كوي چي سطح باطنه د جسم حاوي ده چي مماس شي سطح ظاهري د جسم محوي سره ( ميبذي ) بعضي وايي چي دوي كښي نسبت د عموم او خصوص مطلق دي چي مكان وي نو حيز به خامخا وي او چي حيز وي نو دا ضروري نده چي مكان د وي لكه سپين والى په جامه كښي دا چي حاصل شي نو دا خو عرض دي خو مكان ورلره نشته او حيز دي يعني حاصل دي. جواهر پنځه دي او عوارض نهه دي په نزد د فلاسفه ټول عالم دا پدي ځوارلسو مقولو كښي داخل دي ،په دويم تعريف سره د جوهر اطلاق په الله جل جلاله عقلاً كيږي نه شرعاً ځكه چي دالله جل جلاله نومونه ټول توقيفي دي او په قرآن كريم اوحديث نبوي ﷺ كښي دجوهر نوم الله جل جلاله ته ندي مستعمل شوى، اوس جوهر صالح د حكم دي لكه جاء ني زيد او عرض صالح د حكم نه دي لكه ذهب بياض دغه رنګه ذهن كښي دوه شيان دي چي يو اسمي ده چي مشابه ده د جوهر سره او بله معنى حرفي ده چي مشابه ده د عرض سره، **اعتراض** كما ان فى الخارج كښي كاف دپاره دتشبيه ده او وروسته كذالك كښي هم كاف دپاره دتشبيه ده نو احدهما مستدرك شو **جواب** كذالك كښي لدا د پاره د تاكيد دي

## فرق په مابين د معنى اسمي او معنى حرفي كښي

**ملحوظاً فى ذاته:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده اعتراض ته معنى اسمي معقول مدرك قصداً ته وائي نو دا خو معنى حرفي هم ده نو دي جواب كوي چي معنى اسمي مقصود با لذات وي او معنى حرفي مقصود با لذات نه وي

**ويصلح ان يحكم عليه وبه:** پدي عبارت سره حكم د معنى اسمي ذكر كوي چي دا معنى اسمي به محكوم عليه او محكوم به دواړه واقع كيږي لكه ضَرَبَ زيدٌ او ضربت

Maktaba Tul Ishaat. com



زيداً . اعتراض: ته وائى چي معنى اسمي يصلح ان يحكم عليه وبه نو فعل خو هم مدرك قصداً ملحوظ فى ذاته دي او هغه خو محكوم عليه نه وي؟ جواب: په وبه كنبي واو په معنى د او سره دي يعني احد الامرين به واقع كيږي او دويم جواب دادي چي واو په خپله معنى دي خو فعل په لغوى معنى سره محكوم عليه واقع كيدي شى كه مونږ ئى اصطلاحاً هم واقع كړو نو خلاف د وضع راځى نو دينه خو جواب كيدي شى چي خلاف دوضع نه دي راشى لكه په مجازاتو كنبى خو دوي وائى چي خلاف دوضع نه خو راتلى شى خو خلاف د غرض د وضع نه نشى راتلى. خو اصل جواب دا دي چي فعل مسند اليه واقع كيدي شى خو چي نسبت او زمان ورنه كټ شى او صرف معنى حدثى ورنه واخستل شى لكه (سواءٌ عليهم ء انذرتهم) دلته ء انذرتهم فعل دي او مبتداء مؤخر او سواء عليهم خبر مقدم دي او فعل نه دلته صرف حدثي معنى اخستل شوي ده چي انذارك او عدم انذارك دي

**معقول هو مدرك تبعاً:** دا پنځم غرض چي معنى حرفى ذكر كوى . نو معنى حرفى داده چي معلوالى ددي به په تبع د غير سره شوي وي

**وآلة للملاحظة الغير:** دي سره غرض شپږمه خبره چي دفع د اعتراض ده . **اعتراض:** تعريف د اسم دي جامع نشو خپلو افرادو ولره خارج شو ترينه اسماء لازمه الاضافة او همدارنګه اسماء موصولات ځكه چي اسماء لازم الاضافة دا حاصليږي په تبع د مضاف اليه كنبي او موصولات په تبع د صله كنبي پكار ده چي دا هم په معنى حرفى كنبي داخل شي او يا د اعتراض طريقه داده چي تعريف د معنى حرفى دي مانع نشو د دخول دغير لره داخل شو پكښې اسماء لازم الاضافة او همدارنګه موصولات ؟ **جواب:** نو ده جواب وركړو چي دا معنى حرفى به آله وي دپاره د حال د غير او صله آله نه وي د حال د موصول بلكه هلته تتميم بغير دصله نه نشى راتلى . او اسماء لازم الاضافة او موصولات خو تام ندي نو اوس داعتراض اول نه **جواب** خلاصه دا جواب داده چي دا به آله وى د پاره د ملا حظه د غير معنى به په حرف كنبي وي او ملا حظه به پري د غير كيږي دا معنى نده چي معنى د حرف به په غير كښي پرته وي

**فالابتداء مثلا اذا لاحظه العقل:** يو غرض د مصنف فرق ذكر كول دى په معنى اسمى

Maktaba Tul Ishaat. com



او حرفی کښبي په یو جزءی سره (۲)- دفع د اعتراض- (۳) حکم (۴) دفع د توهم (۵) معني حرفي (۶) حکم- مخکښبي د جوهر معني و کړه چي مدرك قصداً ته وائی او د عرض معني ئي او کړه په مدرك تبعاً سره اوس د دغه مفهوم اسمی او مفهوم حرفی اجراء کوی په وجه جزءی سره چي ابتداء ده د ابتداء مصدری معني ده آغاز کردن او دغي ته معني اسمی وائی او د ابتداء متعلق دوه شیان دی یو مبتداء منه او یو منتهي الیه ده نو ابتداء چي سره د دي متعلقینونه و اخلی نو دي ته معني حرفی وایی- فالابتداء کښبي فاء تفصیله ده ځکه چي مونږ دلته اجراء کوو په جزءی سره او وضاحت او تفصیل په جزی کښبي ډیر وی د کلی نه

**ولزمه تعقل متعلقه اجمالا:** دا دفع د اعتراض ده- اعتراض دا دي چي ته وایي چي ابتداء چي ملحوظه وی بالذات نو دا معني اسمی ده نو ابتداء خو یو نسبت دي او د اطرفین او منشیین غواړی ته څرنګه وائی چه متعلق نه غواړی.

**جواب:** نو شارح جواب ورکړو چي متعلقین په دوه قسمه دی اجمالاً او دویم تفصیلاً کوم چي معني اسمی ده نو دي سره متعلقین اجمالاً حاصلیږی او اجمالاً حصول دا نقصان نه رسوی استقلال د معني اسمی ته.

**فلا حاجة فی الدلالة الی ضم کلمة اخری:** دا دریم غرض دي چي حکم دي حکم ئي دادي چي دا معنی اسمي په دلالت کښبي په خپله معنی باندی ضم د کلمه اخري ته محتاجه نده،

**وهذا هو المراد الخ:** دا دفع دتوهم ده ، هلکه مونږ خو اوریدلی دي چي د اسم دپاره معنی وي چي کائنه وي په نفس د کلمه کښبي او ته وائي چي دا به مدرك قصداً وي او ملحوظ فی ذاته به وي نو معلومیږي دا چي هغوی تشریح به جدا وي او ستا به جدا وي،، جواب دادي چي ما مخالفت ندي کړي بلکه دا هم هغه تشریح ده.

**واذا لاحظه العقل:** دا معنی حرفي ده ، دلته ئي دوه خبري ذکر کړي یو دا چي ابتداء او بل دا چي حالت دا بتدا منه ئي کوم یو دي او منتهی الیه په کوم ځاي دي،

**ولا یمکن ان یتعقل الا بذکر متعلقه:** دي سره غرض شپږمه خبره چي حکم د معنی حرفي دي ذکر کوي، حکم ئي دا دي چي تعقل د معنی حرفي نه راځي بغیر د ذکر

Maktaba Tul Ishaat. com



دمتعلقین نه چي هغه مبتداء منه او منتهی الیه ده او نه به د لالت کوي پدي تعلق مګر پس د ضم هغه کلمې نه چي دلالت کوي په دغه متعلقینو باندي .

## بیان دِ حاصل

**والحاصل**: اول غرض دفع داعتراضینو ده ، دویم بیان دیو حکم دریم دبل حکم بیان ، څلورم دفع داعتراض ، پنځم دفع داعتراضینو :

**اول اعتراض** : ملا صاحب اسم او حرف دا اقسام دي د کلمي او په مابین د اقسامو کښي تباین وي او تا وئیل چي جمع کیږي چي سوچ لفظ د ابتدا ته وکړي نو دا معنی مستقله ده او چي کله یی حالت ته سوچ وکړي چي بصره او کوفه ده او آله ئي وګرځوي دا آحوالو دپاره د ملاحظې د متعلقاتو چي هغه مبتدا منه او منتهی الیه ده نو دا معنی حرفی ده نو دینه دا پته ولږیده چي اتحاد ذاتی او تغایر اعتباري دي په مابین د معنی اسمي او حرفی کښي ، **دویم اعتراض** دادي چې تا دنورو ملایانو نه مخالفت اوکړو مونږ خو په شرح مائة عامل کښي ویلی وو چي معنی د (من) ابتداء ده دا غیر مستقله ده، او تاوویل چي ابتداء دا معنی اسمی ده او دا معنی مستلقه ده، **جواب**: دلته دا نزاع د لاحظه دضمیر نه چي راجع دي لفظ د ابتداء ته راغلی ده لیکن دا بناء ده صنعة الا ستخدام سره، صنعة الاستخدام دي ته وائی چي د اسم ظاهر نه یوه معنی واخلي او د اسم ضمیر نه بله معنی واخلی دلته چي مونږه معنی اسمی اخستی د ابتداء نه نو دا په اعتبار د لفظ دابتداء سره چي دا واضع وضع کړي دپاره د معنی کلی او ابتدا ته چي مونږ معنی حرفی ویلی نو دا په دي اعتبار سره چي ابتدا دا معنی د من ده او معنی د من دا غیر مستقله ده، او د دویم اعتراض نه **جواب** : دا دي چي مونږه ابتدا ته معنی مستقله وئیلی ده نو دا په اعتبار د لفظ دابتداء سره چي دا وضع دي دپاره دمعنی کلی نو معنی کلی خو مستقله وي او چي ملایانو ورته معنی غیر مستقله وئیلی ده نو دا ابتداء معنی د (مِن) ده او لفظ د (من) دا وضع دي دپاره د جزئیاتو ددغه ابتداء نو معنی د (من) دا جزءي ده د جزئیاتو د ابتداء نه ابتدا کښي دري شیان دي . (۱) مطلق ابتداء ،(۲) جزئیات د ابتداء (۳) متعلقات دابتدا مطلق ابتداء دا معنی مستقله ده او جزئیات د ابتدا هغه بصره او کوفه ده او متعلقات دابتدا دا مبتدا منه او منتهی الیه ده .

Maktaba Tul Ishaat. com



**وذالك المعنى الكلي:** دا دویم غرض دي چي بيان د حکم د معنى كلى دي حکم ئي دا دي چي ددي معنى تعقل به قصداً وي او معلوموالى به ئي پخپله راځي نو مستقل با لمفهوميت شوه دا معنى صالح وګرځيده دپاره ددي چي محکوم عليه او محکوم به واقع شي

**واما تلك الجزئيات الخ:** دريم غرض دي چي بيان د حکم معنى جزءي دي يعني جزءي دا مستقل بالمفهوميت ندي نو ددي وجي نه صالح نده دپاره ددي چي محکوم عليها او بها وګرځي او دا ځکه محکوم عليه او محکوم به نه واقع کيږي چي دا ملحوظ قصداً نده ځکه چي په محکوم عليه او محکوم به کښي نسبت يو بل ته ضروري وي. مګر معنى جزي په فهم کښي راځي سره د ذکر د متعلقاتو نه چي هغه مبتدا منه او منتهى اليه ده

**وهذا هو المراد بقولهم:** دا څلورم غرض دي چي دفع د اعتراض ده. اعتراض ملا صاحب تاويئل چي ابتدا معنى کلى ده او معنى د من دا معنى جزءي ده تا خو منطق شروع کړه نو دا خو مونږ چيرته نه وو اوريدلي نو دي جواب کوي خلاصه دجواب داده چي هغوي معنى مستقله وائى او دي سره لازم کليت دي او معنى غير مستقلي سره لازم جزئيت دي نو ما درته تعريف با للازم وکړو

**واذا عرفت هذا علمت:** دا پنځم غرض دي چي دفع د دوه اعتراضينو ده. اول اعتراض دادي چي کافيه ماخوذ ده د صاحب مفصل نه. صاحب مفصل في نفسه کښي ضمير معنى ته راجع کړي او تا کلمى ته نو مخالفت دي ولى اوکړو. او دويم اعتراض دادي چي ما تنه استا په کلام کښي تعارض دي تا تشريح کړي چي ضمير راجع دي کلمى ته او ايضاح کښي د وئيلى چي ضمير معنى ته راجع دي. نو دي جواب کوي. خلاصه د جواب داده چي دا تضاد به هغه وخت وي چي غرض جدا جدا وي ددي تولو مطلب يو دي چي هغه استقلال با لمفهوميت دي نو مرجع دکيدلو د معنى په نفس د معنى يا کيدل دمعنى په نفس دکلمه کښي دا امر واحد. دي چي استقلال با لمفهوميت دي

**ففي هذا الکتاب الضمير المجرور في نفسه:** اول غرض د مصنف دفع داعتراض دويم

Maktaba Tul Ishaat. com



دفع اعتراض ، دریم بیان د اعتراض . څلورم جواب . پینځم دفع د اعتراض : اول **اعتراض:** دا په دوو طریقو سره دي اوله طریقه داده چي د مصنف په کلام کښي تضاد دي په وجه دحصر کښي ئی ضمیر راجع کړي کلمی ته فی نفسها ئي وئیلی دي او دلته ئی فی نفسه راوړو او مصنف ووئیل چي احتمالین پکښي دي. او دویمه طریقه دا اعتراض داده چي د مصنف په اجمال او تفصیل کښي مطابقت را نغلو په اجمال کښي ضمیر کلمه ته راجع وو او په تفصیل کښي احتمالین جائز دي. جواب : دا اختلا ف نشته ځکه مال د دواړو یو دي . او یا دا تیر شوي اعتراض داسي دي چي په ایضاح کښي مصنف وییلی وو چي ضمیر راجع دي معنی ته او دلته ئي جواز داحتمالین ونیلو. نو جواب ورکوي خلاصه د جواب داده چي ضمیر ئي راجع کړو کلمی ته چي موافقت راشی داجمال سره او ضمیر ئی معنی ته راجع کړو چي موافقت راشی دایضاح سره .

**ولکن عبارة المصنف ظاهرة فی ان المعنی الاخیر:** دي عبارت سره غرض دویم دفع داعتراض ده اعتراض : هلکه چي دفی نفسه په ضمیر کښي احتمالین وو نو په ایضاح کښي ئی حصر صرف په یو احتمال کښي ولی کولو چي هغه معنی ده. جواب : په ایضاح کښي صرف احتمال د معنی وو چي راجع شی ضمیر معنی ته ځکه مخکښي وجه د حصر نه وه ذکر. د شارح په عبارت کښي یوه نکته. هغه دا چي مخکښي شارح ووئیل چي هذا هو الظاهر. هذا اسم اشاره ده او مشار الیه ئي الظاهر ده او دا معرفه ده او وروسته شارح وائی چي ولکن عبارة المفصل ظاهر دلته مشار الیه ظاهره ده او دا نکره ده نو نکته داده چي مشار الیه کله معرفه وي نو دي کښي اشاره وي دي خبري ته چي نور احتمالات هم شته او چي مشار الیه نکره وي نو هلته نور احتمالات نه وي .

**وبما سبق من التحقیق ظهر انه لا یختل:** دي عبارت سره دریم غرض ذکر کوي چي بیان د اعتراض دي : اعتراض : هلکه تعریف د اسم د جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه اسماء لازم الاضافة ځکه ددي اسما ؤ معنی بغیر د ذکر دمضاف الیه نه تمامیږي نو غیر مستقل شو نو په حرف کښي داخل شو لکه ذو ، فوق ، تحت، جواب : خلاصه د جواب داده چي دا واضع وضع کړي دي دپاره د مفهومیت کلیه ؤ او دپاره د استقلال با لمفهومیت لیکن دي سره تعقل د متعلقاتو اجمالاً راځي او متعلقات

Maktaba Tul Ishaat. com



اجمالیه نقصان نه رسوي استقلال د ددوي ته .

**لکن لما جرت العادة:** دي عبارت سره پنځم غرض چي دفع د اعتراض ده ذکر کوي. هلکه مصنفه نه وائی چي دا واضع وضع کړي دپاره د مفهومیت کلیه ؤ مونږ دا چیرته مستعمل بغیر د مضاف الیه نه ونه لیدل پکار ده چي استعمال ئي هم په مفهوم کلی کښي وشی ، **جواب:** یو وضع ده او بل استعمال وضع ئي دپاره دمفهوم کلی شوي خو استعمال ئی په جزي کښي کیږي او داسي مثالونه ډیر دي لکه اسماء اشارات موصولات وضع ئی دپاره د مفهوم کلی شوي خو لیکن استعمال ئی په جزئیانو کښي کیږي یا لکه مَسْجِدُ وضع ئی مَسْجَدُ شوي او مستعمل مَسْجِدُ دي .

## د کلام دِ تعریف ترکیب او یوه نکته

**الکلام ما تضمن کلمتین با لاسناد ولا یتاتی ذالک الا فی اسمین او اسم وفعل.** الکلام مبتدا او ما موصوله تضمن صیغه د واحد مذکر غائب ضمیر پکښي مستتر دي هغه ئی فاعل کلمتین دا مفعول به او با جار الاسناد مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلق په حاصلاً پوري او حاصلاً صفت دي د تضمناً دپاره او تضمنا دا مفعول مطلق واقع شوي دي د تصمن نه او یا دا با الاسناد مفعول مطلق دي په اعتبار د موصوف او صفت محذوفه سره، فعل سره د فاعل نه او سره د مفعولینو نه دا جمله حاصله شوه دپاره د موصول ، موصول سره د صلی نه دا خبر شو دپاره دمبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

**نکته:** ما موصوله او صله دواړه خبر واقع کول صحیح ندي ځکه په موصول خاتته اجراء دِ اعراب کیږي بغیر د صله نه، لکه جاءنی رجل ایهم ومررت برجل ایهم دلته ایّ موصول دي او اجراء د اعراب پري ځانته شوي ده نو ما موصوله ځانته خبر شود پاره دمبتداء نو تضمن الی اخره دا جمله څه شی واقع شوه په ترکیب کښي ؟نو جواب دادي چي دا جمله ده او جمله من حیث الجمله دا په حکم دنکري جنسیه کښي وي او مبنی لره محل داعراب نه وي ، په مخکښي ترکیب کښي کلمتین راغلی دي او تثنیه ده او دا معرب ده عند الجمهور الاعند الزجاج

**ولا یتاتی:** واو عاطفه لاناهیه، یتاتی فعل ، ذا اسم اشاره، لام دپاره دبعید، ك ،

Maktaba Tul Ishaat. com



دپاره د مخاطب ، نو ذالك جمله فاعل شو دپاره د لاینانی فعل سره د فاعل نه مستثنی منه . الاحرف استثناء ، فی جار ، اسمین معطوف علیه او حرف عاطف ، اسم معطوف علیه معطوف ، و او عاطفه ، فعل معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه معطوف شو دپاره دمعطوف علیه چي اسمین دي معطوف علیه سره دمعطوف نه مجرور د جار ، جار سره د مجرور دا متعلق شو د فعل مقدر پوري چي ینانی ، فعل فاعل سره د متعلق نه جمله فعلیه دویم ترکیب ، اداة دحصر به ترینه لري کړو نو ترکیب به داسي شی چي ینانی فعل ذالك فاعل ، فی جار اسمین او اسم وفعل مجرور شو جار سره د مجرور نه متعلق شو تر ینانی پوري ، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه .

**ان الله علی کلی شئ قدیر**: ان حرف الله اسم ذات اسم د انّ ، علی جار کل مضاف شئ مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه مجرور د جار ، جار سره دمجرور نه دامتعلق شو تر قدیرٌ پوري ، قدیرٌ اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه خبر د ان . ان سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه .

**الحمد لله رب العلمین ○ الرحمن الرحیم ○ مالک یوم الدین ○**

**الحمد** مبتداء لله ، جار مجرور ، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر ثابت پوري ، متعلق سره د متعلق نه خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه ، او یا لله موصوف او رب العلمین ئی صفت ، موصوف سره د صفت نه خبر د مبتداء دویم ترکیب . الحمد لله مبتداء او خبر جمله اسمیه ، او رب العلمین دا به خبر شی دپاره د مبتدا محذوفی چي ( هو ) دي دریم ترکیب : چي دا رب العلمین منصوب شی نو دا به مفعول به شی دپاره د اعنی فعل مقدر ، الرحمن صفت ثانی او الرحیم صفت ثالث ، پدي کښي هم دري ترکیبه جائز دي .

**مالک یوم الدین**: مالك صیغه د اسم فاعل یوم مضاف ، او الدین مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول شو دپاره د مالك . دلته یو کړکیچ دي او هغه دا چي مٰلك صفت دي او یوم الدین ئی معمول دي او مالك ورته مضاف دي او مالك دا صفت دي او اضافت د صفت معمول ته دا اضافت لفظی دي او اضافت لفظی مفید د تعریف ندي او مالك خو نکره ده نو نکره څرنګه صفت دمعرفی واقع کوي؟ جواب :

Maktaba Tul Ishaat. com



خلاصه دجواب داده چي مالك خو دلته صيغه د اسم فاعل ده خو دا عامل نه دي ځکه اسم فاعل يعمل عمل الفعل خو اذا كان بمعنى الحال والاستقبال او دلته خو د مالك دا معنى نده نو دلته اضافت معمول ته را نغلو نو اضافت معنوى شو نو اضافت معنى مفيد د تعريف وي نو دا نكره نه شوه نو لهذا صفت هم واقع شو دلته مالك او ملك دواړه راغلي دي متواتر د امام شافعي رحمة الله عليه په نزد مَلِك دي او په نزد دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه مَالِك دي، دامام شافعي رحمة الله عليه دپاره يو دليل دادي خو دي وائي چي دا صفت مشبه دي اسم فاعل ندي

**ولما كان الفعل دالاً:** عبارت سره غرض توطيه او تمهيد ذكر كوي متن آتى ته دويم غرض دفع داعتراض ذكر كوي، دي وروستو عبارت سره چي غير مقترن دي احتراز راغي دفعل نه او تعريف كبني ما دل على معنىً سره احتراز راغي د حرف نه، اعتراض په څلورو شقونو سره وارديږي . (۱) اول دا چي ته وائي چي الفعل مادل على معنى نو مراد د معنى نه كومه مراد ده، اول مطابقي . دويمه تضمني . دريمه ، كه التزامي ، څلورمه كه عامه معنى مطابقي داسم مستقله ده او دفعل غير مستقله ده ځكه دفعل معنى مطابقي دا مركب ده دنسبت زمان حدث نه نسبت پكبني غير مستقل دي فرق خو راغي، كه معنى تضمني اخلى نو اسم خو دل على معنىً تضمني نو مصادر خارج شو ځكه مصادرو لره معنى تضمني نشته دي ځكه تضمن جزء ته وائي او مصدر سره جزء نشته دي او كه معنى التزامي اخلى نو داخوك په تعريفاتو كبني نه اخلى والا لتزام مهجور فى العلوم مراد د علوم نه تعريفات دي تعريفاتو كبني وضاحت وي او التزام كبني خفاء وي ځكه التزام خارج لازم ته وائي. او كه عامه معنى وي او التزام كبني خفاء وى ځكه التزام خارج لازم ته وائي ، او كه عامه معنى اخلى نو عام نو موجوديږي . مګر په ضمن د خاص كبني نو عامه معنى به موجوديږي يا په ضمن دمطابقي يا التزامي او يا تضمني كبني ؟ جواب : مراد د معنى نه عامه ده خو قاعده داده چي يو دعام وجود دي او بل دعام اراده ده عام نه موجوديږي بغير د خاص نه خو اراده دعام كولى شي بغير د خاص نه لكه انسان كلي دي نو دا په ضمن د خاص كبني ندي بلكه په تضمني كبني موجوديږي نو اسم هغه دي چي دلالت كوي په معنى چي

Maktaba Tul Ishaat. com


کومه معنی عامه ده مطابقی وي که التزامی او که تضمنی وي نو دا خو فعل هم کوي نو اسم او فعل یو شي شو ځکه دفعل معنی حدثی مستقله ده او اسم هم نو دي وانی الاسم مادل ... غیر مقترن پدي سره احتراز وشو.

**غیر مقترن باحد الازمنة الثلاثة**: اول غرض دفع داعتراض . دویم حال د متن ، دریم دفع داعتراض ، څلورم دفع داعتراض ، پنځم ذکر داختلاف.

**اول غرض** : متبادر دباء نه باء سببیه ده ځکه چي با لاسناد کنبي باء د سببیت دپاره وه نومعنی دا شوه چي مقترن به وي په سبب د ازمنه ثلاثه ؤ سره. جواب باء د مصاحبت لپاره ده نه دپاره د سببیت.

**فهو صفة بعد صفة الخ**: دي عبارت سره حال د متن ذکر کوي داسم یو تعریف وشو چي دال علی معنی دي سره حرف اوغیر مقترن سره فعل خارج شو

**والمراد بعدم الاقتران**: دا دریم غرض دي دفع داعتراض : تعریف د اسم دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترینه اسماء افعال ځکه پدوي کنبي اقتران با لزمان شته او تعریف دفعل دي مانع نشو دخول غیر لره داخل شو پکښي اسماء افعال او تعریف دفعل دي مانع نشو دخول دغیر لره داخل شو پکښي افعال منسلخة عن الزمان جواب :مراد په اقتران او عدم اقتران سره دا په اعتبار د اصل وضع سره اوس د اسماء افعالو وضع اصلاً اقتران زمانی سره نه وه او افعال منسلخة عن الزمان په اصل وضع کښي اقتران با لزمان څخه وو داپه اسماء کښي پاتی شو

**نکته: الوضع المسبوق** په دي سره څلورم غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض** مراد داقتران او عدم اقتران نه وضع اول ده او اول ثانی وضع غواړي چیرته چي وضع ثانی نه وي نو وضع اوله به نه موجود يږي ؟ **جواب** : اول نه مراد وضع اوله چي مخکښي نه وي وضع غیر مسبوق ده. اسماء افعال لکه روید هیهات امامك ديکښي اصل وضع کښي اقتران نشته اسماء افعال یا را نقل دي د مصادرو نه مصادر په دوه قسمه دي (۱) اصلیه ، (۲) غیر اصلیه ، لکه ظرف جار مجرور ، او نقل عام دي که صریحی وی او که غیر صریحی ، چي لفظ مصدر مستعمل وي دا اولنی نقل دي او چي مصدر مستعمل نه وي خو په وزن د مصدر سره وي

Maktaba Tul Ishaat. com



**لان جميعها:** دي سره د بهر نه اعتراض: ته وائی چي دا ټول یا منقول دي دمصدر اصلی نه نو چي ټول اصلی نه منقول شول نو غیر اصلی دي څه پریښودل، جواب: لان جمیعها لا یخلو خبر محذوف دي لیکن دا جواب ضعیف دي ځکه اسم د آنّ جمیع راغلی دي نو بیا دا ټول منقول شو مصدر نه غیر مصدر دسره پاتی نشو، جواب اصلی دا بناء دي په یو قاعده او هغه دا چي کله جمع په مقابله د جمع کښي راشي نو مقصود د تقسیم وي په افرادو باندي لکه (لبسوا ثیابهم) دلته لان جمیعها اسم او منقولة عن المصادر دا هم جمع ده یعنی داټول اسماء افعال به ددي نه خالی نه وي بعضی د بعضو نه منقول او بعضی دبعضو نه (صه) دادصوت په معنی ؤ بیا په معنی دمضدر سکوت سره شو بیا په معنی دامر سره شو، (صه) هم اصل کښي مقترن با لزمان نه وو، امامك زید امام فعل دي په معنی دقدم اقتران ئی زمانی سره شته،

جواب: مراد دعدم نه اقتران په اصل وضع کښي دي او امام اصل کښي ظرف وو بیا ظرف نه فعل ته را نقل شو.

**وخرج عنه المضارع:** دي عبارت سره څلورم غرض ذکر کوي چي دفع داعتراض ده تا په تعریف داسم کښي وویل چي غیر مقترن نو تعریف د اسم دي مانع نشو دخول دغیر لره داخل شو پکښي فعل مضارع ځکه د دي اقتران خو په دوو زمانو پوري دي، جواب: دوو زمانو کښي یوه زمانه پرته وي.

**علی تقدير اشتراكه:** سره پنځم غرض اختلاف ذکر کول، په مضارع کښي دوه مذهبه دي (۱) مضارع حقیقت دي په حال کښي او مجاز دي په استقبال کښي دلیل مضارع مقابل دماضی ده ماضی یقینی وه مضارع هم یقیني پکار وه او یقیني نه وي مګر حال نو معنی حقیقي کښي قرینی ته ضرورت نه وي (۲) دویم مذهب عکس ددي اول دلیل مضارع مقابل د ماضی ده او متقابلین کښي بعد پکار وي او بعد په ماضی او استقبال کښي وي نه په ماضی او حال کښي (۳) نو مولانا صاحب وائی مشترکه ده او چي هره معنی اخلي نو قرینه به پکار وي

**ولما فرغ من بيان حد الاسم:** اول غرض تذکیر د ماشو، دوم توطیه او تمهید ذکر کوی دمتن آتی لپاره غرض پکښي دفع داعتراض لیفید زیادة سره دفع اعتراض

Maktaba Tul Ishaat. com



(۱) تعریف نه بعد تقسیم ذکر کوی چي معرب او مبني خواص ولې بیانوی (۲) مقصود خو مرفوعات منصوبات مجرورات دي نو په خواصو کښې شروع دا خروج دي دبحث نه. اول نه جواب دادي چي تعریف سره وجود ذهني حاصلیږي او خواصو سره وجود خارجي راځي دریم نه جواب دادي چي داد متعلقاتو دمقصود نه دي ځکه دي سره زیادت بصیرت داسم راځي

## دِ خاصه معنی، اقسام او تشریح

**ومن خواصه**: اول دفع داعتراض . دویم تحقیق لغوی. دریم تحقیق اصطلاحی ، څلورم اقسام دخواصو:

اعتراض: (خواص) جمع کثرت دي راوړو جمع کثرت مقتضي ده چي خواص دي دلسو نه زیات وي او مِنْ دتبعیض دي راوړو د چي دلسو نه کم دي. جواب: جمع ئې راوړو چي فی نفسه خواص کثیر دي او من ئې راوړو چي مذکور دلته بعض دي (عبد الغفور) (۳۰) خواص ذکر کړي دلته هغه ذکر دي چي اکثر وجوداً دي .

**وهی جمع خاصة**: دا دویم غرض دي . خواص جمع د خاصة ده دا دفع داعتراض ده دا خواص چي جمع د خاصه ده نو خاص خاصان خاصون نو جمع ئې خواص شوه او که جمع د خصیصةٌ وي نو جمع ئې خصائص راځي جواب: ددي مفرد خاصة دي .

**وخاصة الشئ**: دا دریم غرض دي چي یو شی بل شی سره خاص شی ولا یوجد فی غیره. نو اعتراض وارد شو چي دا تعریف دوري دي خاصه به هله پیژنی چي تعریف وپیژنی او دي تعریف کښې بیا یختص کښې خاصه لغوی ده نو خاصه اصطلاحي موقوفه شوه خاصه لغوی باندي (۲) اعتراض ولا یوجد فی غیره ته ضرورت نشته ځکه د ما یختص معنی داده چي دا به بل چا کښې نه موجودیږي بس یو شی پوري به خاص وي . **جواب**: ما یختص به کښې دوه دعوی دي. (۱) صریحی (۲) ضمنی، داشي خاص دي . دي کښې به موجودیږي دویم دي کښي به موجودیږي غیر کښې به نه موجودیږي- د (۱) تصریح بما علم التزاماً ده . **جواب**: دلته مونږ تجرید کړي دي د یختص پوره معنی ده چي دا په دي پوري خاص بل به نه موجودیږي مونږه بعض معنی واخستله چي داشي دي پوري خاص دي نو ولا یوجد فی غیره نه مو دا معنی واخسته

Maktaba Tul Ishaat. com



چي په غير كښې به نه موجود يږي . (۳)

**اعتراض**: تعريف د خاصه دي مانع نه شو دخول د غير لره داخل شو پكښې فصل منطقي لكه ناطق ځكه دا هم ما يوجد فيه ولا يوجد في غيره دي نو فصل ته بيا خاصه ووايه سره ددي نه چي دي ته څوك خاصه نه وائي (مدرك الكليات والجزئيات دا دناطق معنى ده) جواب: دا اعتراض به هغه وخت كښې راتلى چي ما يختص كښې ما عامه وى مراد د مانه امر خارج دي او فصل امر داخل دي د انسان دپاره . **وهى اما شاملة**: دا څلورم غرض دي ، خاصه په دوه قسمه ده (۱) شامله چي ټولو افرادو لره شامله وي لكه كتابت بالقوة د انسان (۲) او دويمه غير شامله ده لكه دا كتابت بالفعل للانسان .

**فمن خواص الاسم دخول اللام ، اى لام التعريف**: فمن خواص الاسم سره اشاره وشوه چي دا دخول اللام ما قبل سره مربوط دي اول غرض دفع د اعتراض ، (۲) دويم غرض اعتراض ، (۳) جواب (۴) اختلاف .(۵) ما هو المختار(۶) وجه د اختصاص دلام تعين دنوع دخاصى . اول غرض دفع داعتراض ، هلكه ته وائى چي لام خاصه داسم ده زه به درته وښايم چي لام به په فعل راغلى وي لكه ليضرب . جواب : هر لام مراد ندي بلكه لام تعريف دي او يا دا الف لام عوض دي مضاف اليه نه يعنى دخول لام التعريف او ليضرب كښې خو لام امر دي، **ولوقال**: سره دويم غرض ذكر كوى چي اعتراض دي كه، لام تعريف په ځاى ئى حرف تعريف وئيلى وي دا به ښه وه ځكه چي څنګه لام دتعريف دپاره راځى دغه رنګه د بنو حمير يوه قبيله ده د دوي په نزد ميم هم دتعريف دپاره راځى لكه ليس من امبرم امصيام الخ ...

**لكن لم يتعرض**: سره جواب كوى چي دا لغت مشهور ندي دويم جواب دادي چي دا مستقل حرف تعريف ندي بلكه دا بدل راغلى د لام تعريف نه ،

**وفى اختياره اللام**: سره اختلاف ذكر كوى په اداة دتعريف كښې اختلاف دي پدي كښې دري مذهبه دي: اول مذهب د **سيبويه** دي ، دويم **خليل** ، دريم **مبرد**، سيبويه وائى چي حرف تعريف صرف لام دي ځكه تعريف مقابل دتنكير دي تنكير دپاره صرف واحد علامه ده چي تنوين دي نو دتعريف لپاره هم يو حرف دي چي لام دي او همزه صرف دابتداً با لساكن د وجه نه زياته شوي ده. دويم مذهب د خليل دي خليل وائى چي

Maktaba Tul Ishaat. com



تعریف دپاره دواړه دي ځکه تعریف مقابل دتشکیك دي اوتشکیك د پاره دوه حرفه دي چي هل دي نو دتعریف هم دوه حرفه دي دا مذهب دضعیف دي ځکه که همزه علامه د تعریف شی نو قاعده داده چي العلامة لاتحذف او همزه کله حذف کیږي لکه جاء الرجل،دریم مذهب د مبرد دي مبرد وائی چي علامه دتعریف صرف همزه ده او دلیل ورلره دادي چی تعریف ضد د تنکیر دي او لام ورسره زیاتی شوي چي فرق راشی په مابین دهمزه ده تعریف او دهمزه د استفهام کښی . خو دا مذهب هم ضعیف دي ځکه علامه نه حذف کیږي او دا همزه حذف کیږي

**الی ان المختار:** سره پنځم غرض ذکر شو چي دمصنف په نزد دسیبویه مذهب مختار دي، **وانما اختص:** سره شپږم غرض چي وجه داختصاص ذکر کوي . الف لام ولی خاصه داسم وګرځیده ځکه چي لام راځی دپاره دتعین د معنی مستقل او حرف کښی استقلا ل نشته فعل کښی استقلال شته خو معنی تضمنی کښی او دي معنی سره زمونږ کار نشته او معنی مطابقی کښی نشته ځکه په معنی مطابقی کښی نسبت غیر مستقل دي او شی چي مرکب شی دمستقل او غیر مستقل نه نو هغه غیر مستقل وی نو الف لام دا خاصه د اسم شوه ،

**وهذه الخاصة لیست شاملة:** اووم غرض تعین د خاصه. الف لام دا خاصه غیر شامله ده ځکه دا په بعض اسماؤ نه داخلیږی لکه اسماء اشارات او موصولات او په علم هم الف لام نه راځی ځکه بیا جمع د آلتینو د تعریف راځی نو الزید نشی وئیلی، اعتراض: دلته الف لام دتعریف دپاره نه وو د کومو علامو وضع چي سره دالف لام نه شوي وی نو هغه وئیلی شی لکه العراق کښی، او دویم جواب دادي چي النجم مونږ کله علم ګرځولو نو تعریف مو ترینه لري کړو ځکه تعریف دالف لام دتعریف دعلمیت نه کم وو نو علم مو کړو

## د جر بیان

**ومنها دخول الجر:** شارح اشاره وکړه چي الجر عطف دي په مدخول د دخول چي اللام دي نو دخول اللام او دخول الجر شو نو جر خو نه داخلیږي نوچونکه دا جر معمول دي او هر معمول لره لابدي وي دعامل نه نو عامل خو حرف جر ده او دا داخلیږي په اسم

Maktaba Tul Ishaat. com



باندي دويم ترکيب دا دي چه دا والجر شي نو دا به عطف شي په دخول باندي نو دخول مبتدا وه او من خواصه ورلره خبر مقدم وو نو دلته به الجر مبتدا مؤخره او من خواصه به ورلره خبر مقدم شي او د الجر نه به معنى مصدري واخلو چي کون الشي مجروراً

**وانما اختص**: پدي عبارت سره وجه د اختصاص ذکر کوی وجه داختصاص داده چي دا جر اثر د حرف جر دي او هر اثر لره لابدي وي د عامل او دمؤثر نه نو مؤثر ئې خاص وو په اسم پوري نو دا هم خاص شو تر اسم پوري چي مخالفت رانشي په مابين داثر او مؤثر کښې او حرف جر عام لفظاً وي لکه بزيد او که تقديراً وي لکه غلام زيد . د مخالفت دوه صورتونه دي يو دا چي حرف خاص ؤ په اسم پوري او ثر ئې خاص شي په فعل پوري او دويم صورت دا چي حرف جر خاصه د اسم وه او اثر ئې عام شي هم دفعل او هم داسم پوري . او حرف جر ولي خاص دي په اسم پوري ځکه دا واضع وضع کړي دپاره دافضاء دمعنى دفعل اسم ته نو پکار ده چي خاص شي په اسم پوري لکه مررت بزيد .

**واما الاضافة اللفظية**: سره غرض دفع داعتراض ده . اعتراض دادي چي دليل دي مطابق نه شو دعوى سره دعوه دي عامه وه چي مطلق جر خاص وو په اسم پوري او دليل دي خاص شو چي هغه جر خاص دي په اسم پوري يا د حرف جر لفظى او ياتقديري دوجي نه راغلى وي نو په اضافت لفظى کښې خو نه حرف جر لفظى شته او نه تقديري لکه ضارب زيدٍ .

**جواب**: دادي چي دلته دوه مذهبه دي يو مذهب د ماتن دي ، دي وائي چي اضافت لفظى کښې حرف جر تقديري راتلى شي نو دده په نزد اعتراض نه وارديږي، او دويم مذهب د جمهورو دي دوي وائي چي اضافت لفظى کښې حرف جر نشي راتلى او دشارح هم دا مذهب خوښ وو نو جواب دا کوی چي اضافت دا فرع د اضافت معنوى دي نو دا هم خاص شو په اسم پوري چي مخالفت را نشي بين الفرع والاصل او دلته هم د مخالفت دوه صورته جوړيږي .

## د تنوين اقسام او تشريح

**ومنها دخول التنوين**: دلته هم دوه طريقى دي يو دا چي عطف دي په مدخ ! دخول او يا دا چي عطف دي په دخول باندي نو دي صورت کښې د تنوين نه به مر

Maktaba Tul Ishaat. com



کون الشئ منوناً معنی مصدري مراد وي. خواص په دوه قسمه دي یو لفظي او بل معنوی مصنف لفظی چي الف لام جر او تنوین دي مقدم کړل ځکه چي دا اصل دي او معنوی دايي وروسته کړل ځکه چي دا فرع دي. او بیا په لفظي ؤ کښې ئې الف لام مقدم کړو ځکه دا مقابل د لام دي دپاره دتعریف او تنوین دپاره دتنکیر راځي او بل دا چي لام په اول او تنوین په آخر کښې راځي ، نو چونکه تنوین دا تابع د حرکت دي او حرکت ورلره متبوع وی او په حرکاتو کښې جر هم دي او متبوع مقدم په تابع وی باندي ځکه ئې خبر مقدم کړو په تنوین باندي. او په خواص معنوی کښې ئې اسناد مقدم کړو ځکه چي دا مفید د فائدي تامی دي او اضافت دا مفید د فائدي تامې ندي . او په بعضو نسخو د کافیه کښې اضافت مقدم دي په اسناد نو هلته وجه دا وائی چي اضافت جزء د جملی دي نو دا په منزله د مفرد دي او اسناد دا مستقل وی نو دا په منزله دمرکب وی او مفرد مقدم وي په مرکب . خو دا نکات بعد الوقوع دي

**باقسامه الا تنوین الترنم:** یو غرض تعدد داقسامو دتنوین ذکر کوی ، دویم ماهوالمراد ، دریم ، حواله ذکر کوی . باقسامه سره اشاره وشوه تولو اقسامو ته او الا تنوین الترنم سره ما هو المراد ذکر شو او ورستو عبارت سره حواله ورکوی چي وسیجئ ان شاءالله

**ومنها الاسناد الیه الخ:** منها خبر مقدم الاسناد الیه دا مبتداء مؤخره. اول یو غرض حال دمتن غرض پکښې دفع داعتراض ده. دویم غرض دفع داعتراض ، دریم وجه د اختصاص . اول حال د متن دادي چي الاسناد مرفوع دي او اعتراض دادي چي مصنف رحمة الله علیه د خپلی طریقی نه ولی مخالفت وکړو نور خواص ئې په جر سره ذکر کړل او دائی په رفع سره ذکر کړل جواب دادي که دائی بالجر ویلی وي نو عطف به وی په لام باندي نو داسي به وي چی دخول الاسناد الیه او دخول ذکر فی الاول او یا لحوق فی الاخر ته وائی او اسناد خو یو نسبت دي

## د اسناد، اضافت او د وجه تسمیه بیان

**والمراد به:** سره غرض دفع داعتراض ده . اعتراض دادي چي ترکیب تا داسي جوړ کړو چي منها خبر مقدم او الاسناد الیه مبتداء نو قاعده داده چي خبر مفید دهغه

Maktaba Tul Ishaat. com



فائدي وي چي كوم دمبتداء نه ، نه معلوميږي . كه چيرته معلوميږي نو ذكر د خبر بيا مستدرك وي نو دلته اسناد اليه كښې ضمير راجع دي اسم ته چي اسم ته به اسناد راځي نو منها ته ضرورت پاتې نشو. جواب: اليه كښې ضمير راجع دي شی ته او منها ضمير خواص ته راجع دي.

**وانما اختص:** سره دريم غرض وجه داختصاص ذكر كوی. مسند اليه ولی خاصه داسم ده ځكه فعل واضع وضع كړي دپاره دمسند كچيرته مسند اليه واقع شی نو خلاف د وضع به راشی، اعتراض من الخارج: هلكه خلاف د وضع دي راشی لكه په مجازاتو كښې چي اسد رجل شجاع او كثير الرماد سخی لره استعمال شی ، جواب: يو خلاف دوضع دي يو خلاف د غرض د وضع دي خلاف دوضع خو جائز دي خو خلاف دغرض دوضع ندي جائز او غرض دواضع هغه وضع دفعل ده دپاره دمسند.

**ومنها الاضافة:** هم هغه تركيب دلته هم دي ، اى كون الشی مضافاً ،(١) غرض معنى داضافت غرض پكښې دفع داعتراض ده ، (٢) وجه داختصاص ، (٣) فائده دقيد ، (۴) بل جواب ، (۵) تصريح با الاعتراض ، نو معنى داضافت كون الشئ مضافاً ده او اعتراض دادي ، چي ته وائی چي اضافت خاصه د اسم ده نو اضافت كښې دري شيان دي يو معنى مصدري چي هغه نسبت دي كه دا اخلی نو دا خو عرض دي اوبل مضاف دي كه دا اخلی نو فعل هم مضاف اليه واقع كيدي شی لكه يوم ينفع، جواب: مراد زمونږ مضاف اليه والی دي خو په يو شرط چي بتقدير حرف الجر او په مضاف په مررت بزيد كښې خو حرف جر لفظاً دي.

**ووجه اختصاصها بالاسم:** سره دويم غرض ، اضافت خاص دي په اسم پوري ځكه دا ضافت لوازم دا خاص دي په اسم پوري اضافت به كله مفيد دتعريف وي لكه غلام زيد او كله به مفيد د تخصيص وي لكه غلام رجل او كله به مفيد د تخفيف وي لكه په اضافت لفظی كښې.

**وانما فسرنا الاضافة:** مونږه مضاف اليه وانخستلو ځكه فعل او جمله هم مضاف اليه واقع كيږي. شارح جمله او فعل دواړه وونلی ديكښې اشاره ده چي پدي كښې دوه مذهبه دي يو دا چي يوم مضاف او ينفع الصادقين داپوره جمله مضاف اليه واقع شوي

Maktaba Tul Ishaat. com



**وقد يقال:** سره ځلورم غرض ذکر کوی ، هلکه مراد زمونږ د اضافت نه مضاف الیه والی دي نو ینفع خو فعل دي اسم ندي. دي جواب کوی چي اسم عام دي حقیقتاً وي که تاویلاً وي دلته ینفع په تاویل دمصدر سره اسم دي.

**وانما قید ناه بقولنا بتقدیر حرف الجر:** تصریح با الاعتراض : مونږه خپل قول مقید کړو په تقدیر د حرف جر سره نو مررت بزید سره هم اعتراض وارد نشو ځکه هلته حرف جر لفظاً دي .

## تقسیم د اسم معرب او مبنی ته

**وهو معرب ومبنی وهوای الاسم قسمان:** هرکله چي فارغ شو مصنف رحمة الله علیه د خواصو د اسم نه نو شروع ئی اوکړه په تقسیم د اسم کښی معرب او مبنی ته .

**ای الاسم:** سره یو غرض تعین دمرجع د ضمیر کوي دویم غرض دفع داعتراض په ځو طریقو سره نو وهو ضمیر راجع دي اسم ته او شارح ئی تعین وکړو ځکه چي کله ضمیر ذکر شی نو راجع کیږي قریب ته او قریب هو ته اضافت او اسناد دي نو بیا به معنی داشی چي اضافت یا اسناد په دوه قسمه دي.

**قسمان:** سره دویم غرض ذکر کوی. اعتراض: هلکه! وهو مبتداء ده اومعرب و مبنی ئی خبر دي او قاعده داده چي خبر حمل وی په مبتداء او دلته حمل نه صحیح کیږي ځکه حمل دمتعددو اشیاءؤ راځی په شئ واحد باندي. نو دي راغی جواب ئی او کړو چي وهو دپاره خبر قسمان دي او معرب او مبنی لپاره مبتداء احدهما او ثانیهما دي.دویمه طریقه داعتراض : دا تقسیم دي او په موضع د تقسیم کښي لابدي وي د ادواتو د حصر نه داسي به دي وئیلی وي چي الاسم لایکون الامعرب ومبنی ، نو ده جواب وکړو چي قسمان ادوات د حصر په دوه قسمه دي، یو لفظی او بل معنوی دلته که لفظی نشته نو معنوی شته چي هغه تقدیم دعطف دي په ربط باندي دي وجی نه ترینه تعبیر په قسمان سره وکړو، دریمه طریقه داعتراض اسم دا مقسم دي او معرب او مبنی دائی اقسام دي او قاعده داده چي مقسم دا حمل کیږي په مجموعه داقسامو او دلته حمل د مقسم په هر واحد راځی، نو ده جواب وکړو چي الحمل قسمان. حمل په دوه قسمه دي یو حمل د کل دي په اجزاؤ باندي او دا په مجوعه اجزاؤ باندي راځی یو جز

Maktaba Tul Ishaat. com



باندي حمل نه صحيح کيږي لکه ځای چي مجموعه د پيو او اوبو او چايو ده. او بل حمل د کلي دي په جزئياتو باندي لکه حمل د انسان شو په زيد بکر وغيره باندي دا په هر واحد باندي راځي دلته حمل د کلي دي په جزئياتو باندی

**لانه لا يخلو** سره وجه د حصر ذکر کوی په معرب او مبنی کښي. ځکه چي دا اسم به خالي نه وي يا به مرکب وي د غير سره او يا نه که مرکب و نو بيا به خالي نه وي يا به مشابه د مبنی الاصل سره وی او يا نه که وو نو دامبني او که مرکب نه وو نو دا هم مبنی . او که مرکب وو او مشابه د مبنی الاصل سره نه وو نو دا معرب

**فالمعرب:** يو غرض تعين د الف لام او غرض پکښي دفع داعتراض . نو الف لام پکښي عهدي دي او معهود پدي سره هغه معرب دي چي کوم قسم داسم دي او اعتراض دا وو چي هلکه ستا په تقسيم سره لازم شو تعميم د قسم دمقسم ځيل نه معرب قسم د اسم دي او حالانکه په مضارع باندي ئی هم اطلاق کيږي نو شارح جواب کوي چي دا به هغه وخت کښي تاوئيلی وو چي مونږ د مطلق معرب تعريف کولی مونږ د خاص معرب چي قسم داسم دي تعريف کوو

## غرض د شارح قاعده او تقسيم ده

**المرکب ای الذی رکب مع غيره:** اول غرض اشاره کوی يوي قاعدي ته. دوم دفع داعتراض دريم دفع داعتراض ، څلورم تفريع، پنځم اشاره کوي اختلاف ته

**اول قاعده** : هر اسم فاعل يا اسم مفعول چي په هغی الف لام داخل شي نو هغه به په معنی دالذی سره وی او اسم فاعل به په معنی دفعل معلوم او اسم مفعول به په معنی دفعل مجهول سره وی اوس دلته المرکب کښي الف لام په معنی د الذی او مرکب په معنی د رکب سره .

**مع غيره: اعتراض** : هلکه ستا تعريف باطل دي دا دعوه ده او دليل لانه تعريف با لمباين دي. نو صغري دا شوه چي تعريفك با المباين. او کبری وکل تعريف با لمباين باطل فتعريفك باطل نتيجه شوه نو صغري مونږه ثابته وو داسي چي دا د معرب تعريف کوی او معرب قسم د اسم او اسم قسم دکلمه دي او ماخوذ په کلمه کښي افراد دي او ته تعريف کښي وائی چي المعرب المرکب الذي الخ والمرکب مباين للمفرد . او

Maktaba Tul Ishaat. com



کبري ثابته وو داسي چي تعريف کښي لابدي وي د حمل نه او حمل د مباين په مباين سره نه راځي لکه تعريف دانسان په حمار باندي. نو دي جواب کوي چي رکب مع غيره. مرکب په دوه قسمه دي يو مجموعه د مضمومينو دا مرکب اصطلاحي او دويم مضموم مع المغير ته وائي او دا مرکب لغوي دي کوم چي منافي ذي هغه مرکب اصطلاحي دي او کوم چي مراد دي هغه منافي ندي چي مرکب لغوي دي نو مراد غير منافي او منافي غير مراد دي

**ترکيبا يتحقق معه عامله:** **اعتراض:** تعريف د معرب دي مانع نشو دخول دغير لره داخل شو پکښي غلام زيد ځکه اسم هم دي او مرکب هم دي او سره ددي نه چي مبني ذي او معرب ندي. نو دي جواب کوي چي دا مرکب ندي ځکه چي مرکب معرب کښي يو قيد دي چي عامل به ورسره وي بيا عامل عام دي که لفظي وي او که معنوي نو څوك دي اعتراض نه کوي په مبتداء او په خبر باندي ځکه هلته کښي معنوي عامل شته دي. ها! که د غلام زيد سره عامل وو نو بيا معرب کيدي شي لکه جاءني غلام زيد

**فيدخل:** دا څلورم غرض تفريع ده. نو داخل شو زيد او قائم او هولاء پدي قول ستا کښي چي زيد قائم او قام هولاء کښي په معرب کښي. خو په خلاف دهغه چي بالکل نه مرکب وي لکه الف باء زيد، عمرو، او يا مرکب وي خو عامل ورسره نه وي لکه غلام زيد، کښي

**فان جميع ذالك:** دي سره پنځم غرض اختلاف ذکر کوي. خلاصه دا چي په معرب کښي دوه مذهبه دي، يو مذهب دابن حاجب دي، دي وائي چي معرب هغه دي چي بالعفل به ورسره عامل موجود وي نو زيد او هولاء دا مبني دي او دويم مذهب د جمهورور دي دوي وائي چي معرب هغه دي چي صالح دپاره د وجود دعامل وي نو زيد او عمرو او غلام زيد، د دوي په نزد مبني نه دي بلکه معرب دي

**لم يشبه اي لم يناسب الخ...** يو غرض معنى د لم يشبه ده او دويم غرض دفع داعتراض ده. معنى دا شوه چي دلم يشبه نه مراد لم يناسب دي، اعتراض: هلکه ستا دمشابهت نه مطلق مشابهت مراد دي او که خاص که مطلق مشابهت وي نو دنيا نه معرب ختم شو ځکه يو قسم مشابهت خو به ئې خامخا ورسره وی لکه مبنی الاصل هم

Maktaba Tul Ishaat. com



کلمه ده او معرب هم کلمه ده او مبنی الاصل کښي هم حروف وی او معرب کښي هم حروف دي، او که خاص مشابهت اخلي نو لازم شو اخذ د مجهول په تعریف کښي ځکه خاص مشابهت خو ئی ندي معلوم ، **جواب:** چې مراد زمونږ خاص مشابهت دي او که ته وائی چې مجهول دي نو صاحب د مفصل ذکر کړي دي صاحب دد مفصل دا ذکر کړي چي دا معرب به په معنی دمبنی الاصل سره نه وي لکه این په معنی دهمزي داستفهام سره دي او دویم دا چي مشابه به نه وی د مبنی الاصل سره لکه مبهمات دامشابه دي د حرف سره په احتیاج کښي .او دریم دا چي دا به واقع نه وي په ځای د مبنی الاصل باندی لکه نزال چي واقع دي په ځای د انزل باندي، او څلورم دا چي دا به مشابه نه وي د هغه اسم سره چي هغه مساعد واقع وي په ځاي دمبنی الاصل لکه فجار چي مشابه دنزال سره او نزال واقع دي په ځای د انزل، او پنځم دا چی دا به واقع نه وی په ځای دهغه چي هغه مشابه وي دمبنی الاصل سره لکه منادي مفرده معرفه دا مبنی ده ځکه چي دا واقع ده په ځای دکاف اسمی خطابی او کاف اسمی خطابی مشابه دي د کاف حرفی سره ، او شپږم دا چی اضافت ددي معرب به نه وی شوي مبنی الاصل ته لکه من عذاب یومئذ.

**مبنی الاصل:** دي ځای نه یو غرض تعین د معنی د مبنی الاصل ، دویم دفع داعتراض، دریم تعین داضافت ، څلورم مصداق دمبنی الاصل، پنځم فائده دقید، شپږم تصریح با لاختلاف ، اووم دفع داعتراض:

## معانی ثلاثه د مبنی الاصل

**ای المبنی الذی اول غرض:** دمبنی الاصل معانی ثلاثه دي : اول اصل وي په بناء کښي، دویم اصل به ئی مبنی وي، دریم بناء به ئی اصلی وي عارضی به نه وی، دویم غرض دفع اعتراض : هلکه! د مبنی الاصل څه معنی ده که داوائی چي اصل به ئي مبنی وي نو مضارع اصل هم مبنی دي نو پکار ده چې دا هم مبنی الاصل کښ داخله شی او که دا معنی وی چي بناء به ئی اصلی وئ عارضی به نه وی نو اسماء اشارات او موصولات خارج شو دمبنی نه ځکه ددي بناء عارضی ده اصلی نه ده . **جواب:** مراد زمونږ دمبنی الاصل نه دریمه معنی ده او هغه دا چی اصل به وي په بناء کښی .

Maktaba Tul Ishaat. com



## د اضافت بیانی معنی

**فالاضافة بيانية**: دریم غرض دمبنی الاصل ته اضافت بیانی دي او اضافت بیانی دیته وائی چي دمضاف او مضاف الیه په مابین کښی نسبت د عموم او خصوص من وجه وي او دا نسبت یوه ماده داجتماع او دوه مادي دافتراق غواړي نو ماده اجتماعی داده چي مبنی به هم وی او اصل به هم وی لکه ماضی. او یوه ماده افتراق داده چي اصل به وي او مبنی به نه وی. لکه حروف او بله ماده دافتراق داده چي اصل به وي او مبنی به نه وی لکه مصدر، او بعضی خلقو دا وئیلی دي چي دلته اضافت لامی دي او اضافت لامی دیته وائی چي وجود د مضاف الیه مقدم وی دوجود مضاف نه لکه خاتم فضةٌ نو وجود دفضة دا مقدم وي دوجود د خاتم نه. او بعضی خلق وائی چي فا لاضافة بیانیه سره دفع دتوهم ده خلقو به دا توهم کولو چي دلته اضافت لامی دي نو پدي اضافت کښي خو تغایر وی مضاف او دمضاف الیه په مابین کښي نو دمبنی او اصل په مابین کښي به هم تغایر وي نو فا لاضافة بیانیه سره دفع ددغه توهم وشوه.

**وهو الماضی والامر بغیر اللام والحرف**: څلورم غرض. نو مبنی الاصل هغه ماضی ده او امر بغیر اللام او حرف دي امر سره بغیر اللام قیدولږولو ځکه چي نحویان هغه امر ته چي لام ورسره وي مضارع مجزومه وائی لکه لیضرب.

**وبهذا القيد**: سره پنځم غرض فائده د قید ذکر کوی، دي قید سره چي لم یشبه مبنی الاصل دي، دي سره خارج شو دمعرب نه هولاء په دي ترکیب کښي چي قام هولاء ځکه چي دا مرکب دي خو مشابه دي دمبنی الاصل سره نو مبنی شو.

**اعلم ان صاحب الكشاف الخ**... سره شپږم غرض ذکر کوی، یو مذهب د ماتن دي او یو مذهب دجمهورو، دجمهورو مذهب دادي چي هغه معرب چي صالح وي دپاره د عامل نو دامعرب دي نو دجمهورو دجملی څخه صاحب دکشاف هم دي نو دده په نزد اسماء معدوده معرب دي نو ده مجرد صلاحیت للعامل معتبر کړي دي او دجرجانی دکلام څخه هم دا ظاهرېږی او بل مذهب دماتن دي، دي وائی چي بالفعل به صالح وي دپاره دعامل نو ده ځکه په تعریف کښي ترکیب اخستی سره دعامل نه.

**وليس النزاع**: سره غرض ذکر کوی چي دفع داعتراض ده، هلکه! دا اختلاف بالکل

Maktaba Tul Ishaat. com



نشته ځکه معرب صیغه داسم مفعول ده او ددي معنی ده اعراب داده شده نو چی اعراب پري جاري شو نو بیا خو اختلاف نشته ځکه چي اعراب جاري شو نو عامل راغلو؟ **جواب** تا چې کوم تعریف وکړو دا دمعرب لغوی دي اوزمونږ چي کوم اختلاف دي هغه په معرب اصطلاحی کښی دي چي هغه صالح دپاره داعراب دي.

**واما وجود الاعراب الخ...** که څوك دا وائی ووایی چی معرب دي ته وائی چي با لفعل به پري اعراب جاري شوي وي نو دي لره اعتبار نشته بلکه با لفعل به صالح وي دپاره دعامل لکه عرب وائی لم تعرب الکلمة وهی معربة، تا کلمه ولی معربه نه کړه سره ددي نه چي معربه ده نو دا معنی خو نه ده مراد ځکه چي تا کلمه باندي اعراب ولی ونه ویلو سره ددي نه چی صالح دپاره داعراب ده.

**وانما عدل المصنف رحمه الله الخ...** سره یو غرض دفع داعتراض، دویم غرض هم دفع داعتراض: **عتراض:** تا مخالفت ولی وکړو د جمهورو د تعریف نه چی دمعرب تعریف هغوی داسي کړي دي چي ما یختلف آخره با ختلاف العوامل او تا لم یشبه مبنی الا صل تعریف او کړو.

**جواب:** په لان الغرض سره جواب ورکوی حاصل د جواب دادي چي تعریف دجمهورو باطل دي دا دعوه شوه نو دلیل څه دي دلیل دادي چي لانه دور دي. دا صغری شوه او کبري داده چي هر تعریف دوري باطل وی نو فهذا باطل کبری خو ظاهره ده اګر چي شارح ورته اشاره کړي ده چي یلزم تقدم الشئ علی نفسه او داسي هم وئیلی شي چي شي واحد مقدم او مؤخر ګرځی ، او صغری داده چي توقف د شي راځی په خپل نفس ځکه نتیجه دا موقوف وی په صغري او موقوف علیه دا مقدم وي په موقوف باندي نو دلته دجمهورو په تعریف کښی صغری دا عین نتیجه ده، د جمهورو په تعریف کښی توقف داسي راځی چي معرب دوي وائی ما یختلف اخره با ختلاف العوامل ته. نو زید معرب دا دعوه شوه صغری لانه ما یختلف آخره با ختلاف العوامل وکل ما یختلف آخره با ختلاف العوامل فهو معرب فزید معرب. نو زید معرب دي اود معرب تعریف چي کوم دوي کړي دي دا عین صغري او صغري عین نتیجه ده نو دلته نتیجه موقوفه دي په صغري او صغري موقوف علیه وي او دا مقدم وی په موقوف او

Maktaba Tul Ishaat. com



دلته ترې معرب چې نتيجه ده دا مقدم شو نو توقف دشي راغلو په خپل نفس، نو ددي وجې نه ماتن عدول وکړو د جمهورو نه.

**من لم يتبع لغة العرب**: سره دويم غرض دفع د اعتراض **اعتراض**: هلکه! ته وائی چې غرض د علم نحوی هغه پيژندل داخر دکلمې وي نو عربو خو نحوه نده وئيلې او آخر دکلمې پيژني **جواب**: علم نحو د هغه چا دپاره ده چې قواعد عربيه نه پيژني او د عربو خو پخپله دا ژبه ده.

**وحكمه**: يو غرض دفع د اعتراض، دويم معنی د حکم. دريم غرض دفع د اعتراض.

**اى من جملة احكام المعرب**: سره دفع د اعتراض **اعتراض**: د حکم اضافت شوي دي ضمير ته او اضافت دا پشان د الف لام دي او الف لام دا په څلور قسمه دي، نو اضافت هم په څلور قسمه دي دلته کوم يو مراد دي که اضافت جنسي وي نو دا خونه صحيح کيږي ځکه جنس دا متحقق کيږي په ضمن د افرادو کښې او دلته خو حکم يو فرد ذکر دي او که اضافت استغراقی شی نو دا هم نه صحيح کيږي ځکه معنی به بيا داسې شی چې هر فرد د افرادو د حکم دادي نو دلته خو هر فردو د حکم معرب ندي ذکر بلکه يو ذکر دي، او که اضافت عهدي شی نو اين المعهود، او که ذهنی شی نو حکمه دا مبتداء ده نو نکارت د مبتداء لازميږی ځکه عهد ذهنی اضافت دا په قوت د نکرې کښې وي

**جواب**: دلته اضافت جنسی دي او حکم دا مصدر دي او جنس لا يثنى ولا يجمع خو احتمال د جمع لري ځکه ماهيت پکښې مراد وي او ماهيت دا متحقق کيږي په ضمن د هر فرد کښې نو ټول افراد خوئی دلته ندي ذکر نو ده من جمله کښې من تبعيض راوړي چې بعض احکام د معرب مراد دی.

## معنی د حکم

**واثاره المرتبة**: دا دويم غرض چې معنی د حکم ده او ددي په ضمن کښې دفع د اعتراض هم ده **اعتراض**: حکم د اهل اصولو په نزد خطاب الله المتعلقين بافعال العبد ته وائی او په نزد دفقهاء ماثبت بخطاب الله ته وائی، او په نزد منطقيانو باندي نسبة امر الى امر اخر ايجاباً او سلباً ته وائی ستا کوم يو مراد دي **جواب**: مراد زمونږ اثر مرتبه د معرب دي په معرب ندي او ددي په ضمن کښې يو اعتراض دفع شو او هغه دا چې

Maktaba Tul Ishaat. com



حکم ناشی وي د عامل نه نو چې حکم راپیدا شو دعامل نه نو اضافت ئی هم عامل ته وکړه او تا معمول ته کړي دي نو جواب دادي چې داضافت د ادنی ملابست د وجه دي .

**من حیث هو معرب:** سره دفع داعتراض ده . **اعتراض:** هلکه ! ته وائی چې دمعرب حکم دادي چې ان یختلف الخ... نو دمعرب حکم خو رفع نصب وجر هم دي داسی به دي وئیلی چې وحکمه انه مرفوع و منصوب ومجرور ؟ **جواب:** مونږ د معرب حکم بیانوو ددي حیثیت نه چې دا معرب دي .

## د اختلاف اقسام

**ان یختلف اخره:** یو غرض ذکر د موصوف اخر دویم غرض قسمین داختلاف دریم تعمیم ای الحرف سره موصوف ذکر شو چې موصوف دي او اخر ئی صفت دي **ذاتاً اوصفةً** سره ذکر د قسمین دي، دا اختلاف به یا ذاتی وي او دا وائی تبدیل الحرف بالحرف اویا به دا صفتاً وي او داوائی تبدیل الحرکة با لحرکة .

## د ذاتی اقسام

**حقیقتاً او حکماً:** دي سره تعمیم ذکر کوی چې ذاتی هم په دوه قسمه دي حقیقتاً لکه جاءنی ابوك رایت اباك ومررت بابیك او حکماً لکه جاءنی مسلمان رایت مسلمین ومررت بمسلمین او صفتاً هم دوه قسمه دي حقیقتاً لکه جاءنی زید ورایت زیداً ومررت بزید ، او حکماً لکه جاءنی مسلمات رایت مسلمات ومررت بمسلمات

باختلاف العوامل : دلته دوه تحقیقه دي یو دا چې عوامل دا جمع ده او اقل دجمع دري وي نو مراد داشو چې اختلاف داخر دمعرب دپاره دري عوامل شرط دي .

**جواب:** عوامل جمع ده خوالف لام پري داخل دي او قاعده داده چې کله په جمع باندي الف لام داخل شي نو معنی د جمعیت باطلوی نو جنس پاتی شو دویم تحقیق عوامل جمع ده او مفرد ئی عاملة دي لکه ضاربة چې جمع شوي په ضوارب سره ، او یا عوامل جمع دعامل په وزن د فاعل، او قاعده داده چې فاعل کله صفتی وي نو دا جمع کیږي په فاعلون لکه فاعل فاعلان فاعلون ، او که فاعل اسمی وي نو دا جمع کیږي په فواعل سره لکه عامل عاملان عوامل ، نو پدي سره دا اعتراض واردیږي :

**اعتراض:** هلکه ! عوامل جمع دعامل ده او عامل دا نه جمع کیږي په عوامل

Maktaba Tul Ishaat. com



سره؟ **جواب:** عامل په دوه قسمه دي دلته صفتي معنی مراد نده بلکه اسمی او اصطلاحی معنی مراد ده .

**ای بسسب اختلاف العوامل الی اخره:** یو غرض تعین دباء ، دویم دفع اعتراض ، دریم دفع اعتراض ، څلورم تصریح با لاعتراض ، نو بسبب سره اول غرض وشو چي باء سببیه ده، الداخلة علیه سره دویم غرض، **اعتراض:** هلکه ! ته وائی چي معرب ما یختلف اخره الخ زه به درته وښایم چي اختلاف دعامل به هم راغلی وي او دمعرب اخربه هم مختلف وي خو ددغه اختلاف دعامل دوجه نه به نه وی لکه جاء نی زید من زید ، رایت زیدا من زید ، او مررت بزید من زید ، ځکه اعراب حکائی دي **جواب:** مراد دعامل نه هغه عامل دي چي داخل وي په دغه معرب او په مذکوره امثالو کښی خو دغه عوامل ندي داخل پدغه معرب .

**فی العمل بان یعمل بعض خلاف بعض الاخر الخ....** دویم غرض دفع اعتراض :**اعتراض:** هلکه ! تاوئیل چي معرب دا هغه دي چي یختلف اخره الخ .. زه به درته وښایم چي اختلاف دعامل به راغلی وي او اخر دمعرب به نه وی مختلف شوي لکه : ان زیدا مضروب ، وانی ضربت زیدا ، وانی ضارب زیدا ، په اول مثال کښی عامل حرف او په دویم کښی فعل او په دریم کښی اسم دي ، **جواب:** مراد داختلاف دعامل نه اختلاف فی العمل دي او دلته اختلاف فی الذات دي نه فی العمل .

**انما خصصنا اختلافاً:** دي سره په دویم اعتراض تصریح ذکر کوي . **لفظاً او تقدیراً:** حال د متن غرض پکښی دفع د اعتراض ، دویم اشاره قاعدي نحوی ته ، دریم اعراب اخر . څلورم تشریح په اعراب لفظی او تقدیري سره . پنځم تعمیم ، شپږم. فان قلت سره اعتراض ، اووم جواب . حال د متن ئی ذکر کړو چي نُصِبَ یا نصبٌ علی التمیز او غرض پکښی دفع داعتراض ده **اعتراض:** ملا صاحب د نصب دپاره خو طرق کثیره دي دا لفظاً او تقدیراً دځه دوجی نه منصوب دي که دا مفعول به وي نو یختلف خو فعل لازمی دي او که دا منصوب بناء بر مفعول مطلق وی نو یختلف خو مشتمل دي په اختلاف سره او که دا مفعول فیه وی نو مفعول فیه خو یا ظرف زمان وی او یا مکان او لفظاً او تقدیراً خو نه ظرف زمان دي او نه مکان . او که دا منصوب وي بناء برحالیت نو الحال ما یبین

Maktaba Tul Ishaat. com



هیئة الفاعل او المفعول او دلته دا یو هم نه بیانوي او که منصوب وي بناء بر تمیز نو دا هم صحیح کیږي ځکه تمیز دا په حقیقت کښي خبر وي د ممیز دپاره او خبر حمل وي په مبتدا باندې او دلته لفظاً او تقدیراً اوصاف دي لازمیږي حمل دصرف وصف په ذات مع الوصف چي آخر ده.

**جواب:** دلته لفظاً او تقدیراً دا تمیز واقع شوي خو په اعتبار د حذف د مضاف الیه سره تقدیر ئی داسي دي چي یختلف لفظ آخره او حمل د ذات مع الوصف راغلو په ذات مع الوصف باندي، **لفظا اخره او تقدیره:** سره دویم غرض چي اشاره قاعدي نحوئی ته ذکر کوی، تمیز وائی هغه شی ته چي رفع دابهام راولی چي دا ابهام ناشی وي د کلام سابق نه او تمیز په دري قسمه دي: اول هغه قسم دي چي خاص وی په منتصب عنه پوري لکه طاب زیدٌ نفساً، او دویم قسم هغه دي چي خاص وي په متعلق د منتصب عنه پوري لکه طاب زیدٌ داراً، او دریم قسم هغه دي چي د دواړو احتمال لري لکه طاب زیدا اباً، دا چي په دي اعتبار سره واخلی چي زیدابنه پدي اعتبار سره چي دا پلار ئی بنه دي نو دا خاص شو په متعلق د منتصب عنه پوري، نو قاعده داده چي تمیز چي کله خاص وي په منتصب عنه پوري نو دا منتصب عنه به په حقیقت کښي یا بدل وي دتمیز نه او یا به عطف بیان وي دتمیز نه لکه طاب زیدٌ نفساً دا په حقیقت کښي طاب نفسُ زیدٌ وو نو زید دا منتصب عنه دي او دا د تمیز نه بدل هم کیدي شی او عطف بیان هم، او که تمیز خاص وو په متعلقاتو د منتصب عنه پوري نو دغه منتصب عنه به په حقیقت کښي طاب دار زید دي، اوس دلته لفظاً او تقدیراً دا خاص دي په متعلق دمنتصب عنه پوري نو دا منتصب عنه به دغه تمیز دپاره مضاف الیه واقع شوي وي چي هغه منتصب عنه آخره دي نو تقدیر داسي شو چي یختلف آخره لفظ آخره او تقدیر آخره.

## تقسیم د اعراب لفظی او تقدیری ته

**اوعلی المصدریة:** سره دریم غرض چي اعراب آخر دي ذکر کوی، شارح وائی چي دا لفظاً او تقدیراً منصوب دي بناء بر مفعول مطلق او که ته وائی چي مفعول مطلق خو شامل وي فعل ته دقبیلی د اشتمال دکل نه په جز باندی او یختلف خو مشتمل دي په

Maktaba Tul Ishaat. com



اختلاف نه په لفظاً او تقديراً باندي نو شارح جواب کوی چي دا مفعول مطلق دي په اعتبار د حذف د مضاف سره تقدير داسی دي چي يختلف اختلاف لفظٍ او تقديرٍ نو مونږ مضاف حذف کړو او مضاف اليه مو دهغه قائمقام کړو او کوم شی چي واقع په ځای دغير نو هغه لره حکم دغير وی نو لفظا اوتقديرا مو منصوب کړل .

**والا ختلاف لفظا او تقديرا:** څلورم غرض تشريح، اعراب به يا لفظا وی لکه جاء نی زيدٌ رايت زيداً مررت بزيدٍ او يا به تقديري وي لکه جاء نی فتی ورايت فتی ومررت بفتی **والا ختلاف اللفظی والتقديری** : دي عبارت سره تعميم ذکر کوی داعراب لفظی او تقديري او غرض پکښی دفع داعتراض ده .

**اعتراض:** هلکه ! تا ووئيل چي معرب دا هغه دي چی آخر ئی مختلف کيږي په اختلاف د عواملو سره زه به درته وښايم چي اختلاف دعامل به راغلی وی او آخر به دمعرب نه وی مختلف شوی لکه احمد په جاءنی احمد ورايت احمد ومررت باحمد کښی او همدارنګه دتثنيه او د جمع په حالت نصبی او جري کښی لکه رايت مسلمين ومررت بمسلمين ، دلته اختلاف دعامل راغلی او اعراب ندي مختلف شوي .

**جواب:** اعراب لفظی او تقديري دا عام دي حقيقتاً وی او که حکما وي په احمد کښی که حقيقتاً اعراب نه دي مختلف نو حکماً مختلف دي ځکه دا غير منصرف دي او په غير منصرف کښي جر تابع دنصب وي او همدارنګه په تثنيو او په جمعو کښي هم حکماً اعراب مختلف شوي دي .

**فان قلت:** سره شپږم غرض اعتراض ذکر کوی **اعتراض:** هلکه ! تا ووئيل چي معرب دا هغه دي چي يختلف آخره باختلاف العوامل زه به درته وښايم چي معرب به وي نه به اختلاف دعامل راغلی وي او نه به ئی آخر مختلف وي بلکه حدوث داعراب به وي لکه اسماء معدوده چي مشابه دمبنی الاصل سره نه وی او از سرنو دعامل سره مرکب شي .

**جواب:** خلاصه د جواب داده چي دا خو دي نوی خبر را پيدا کړو داد بنه وکړه ځکه چی معرب يو حکم دا وو چي يختلف آخره الخ .. او بل حکم ئی دا شو چي حدوث الاعراب خو دا به خاصه غير شامله شي دمعرب دپاره ځکه ټولو معرباتو لره خو

Maktaba Tul Ishaat. com



داشامله نده .

## دِ اعراب تعریف او تشریح

**الاعراب ما اختلف آخره:** اعراب چا تـه وائی شارح رضی رحمۃ اللہ علیہ وائی چی اعراب داعین اختلاف ته وائی ، او جمهور وائی چی اعراب ما به الاختلاف ته وائی چي حرف یا حرکت دي، **اعتراض:** هلکه ! اعراب اثر دي او عامل مؤثر دي پکار ده چی اول تعریف د عامل وکړي بیا د اعراب ؟ **جواب:** مونږ اول تعریف داعراب وکړو دپاره داختصار ځکه په تعریف دعامل کښی راځی چي العامل ما به یتقوم المعنی المقتضی للاعراب نو اعراب به مو بیا تعریف کولو ځکه اعراب هم یو جز دي د اجزاو دعامل نه .

**الاعـراب مـا ای حرکـة او حـرف.** یـوغرض تعیـن د مـا کـوی او غـرض پـکښی دفـع داعتراض ده . نو دلته (ما) موصوفه ده ځکه ده ترینه تعبیر په نکري سره وکړو **اعتراض:** تعریف د مانع نشو د دخول دغیر نه داخل شو پکښـی عامل اومعنی مقتضی ځکه دي سره هم اختلاف دآخر دمعرب راځی . **جواب:** مراد د (ما) نه حرف یا حرکت دي ستا اعتراض به هله واردیدلی چي مراد د (ما) نه شئ وائی .

**اختلاف آخره:** یو غرض تعین د ضمیر دآخره، دویـم قیـد ذکر کـول ، دریـم اشاره قسمین د اختلاف ته او ل غرض وشو چی اخر المعرب ، دویـم غـرض هـم وشـو چی من حیث هو معرب او فائده ئی وروسته ذکر کـوی او ذاتاً او صـفتاً سره قسـمین داختلاف ذکر شو، **به:** سره غرض تعین دضمیر کوی، دویم فائده د اول قیـد ، دریـم جـواب آخر، څلورم فائده دقیدثانی ، پنځم دفع اعتراض ، شپږم رد پـه بعضـو خلقـو، نـو اول غـرض وشو چی مراد پدي سره حرف یا حرکت دي،اعتراض هم پدي سره دفع شو چی هلکه ! دا (به) ضمیر حرف ته راجع دي او که حرکت ته که حرف ته راجع وی نو حرکت پاتی شو او که حرکت ته راجع وي نـو حرف پاتی شو او کـه دواړو راجـع وی نو مطابقت را نغلو پـه راجع او مرجع کښي ، نو جواب وشو چی ضمیر راجع دي حرکت ته او حـرف پري عطف دي او حکم د معطوف او معطوف علیه یو وی .

**وحین یراد بما الموصولة:** دي عبارت سره فائده د اول قیـد چی حرکت او حرف دي ذکر کوی فائده داده چي کله مراد په (ما) موصوله سره حرف یا حرکت شو نو اعتراض

Maktaba Tul Ishaat. com



وارد نشو چي عامل او معنی مقتضي سره ستا تعريف ناقص شو. **اعتراض:** هلكه! ستا په عبارت كښې تضاد دي مخكښې دي د (ما) تعبير په نكري سره وكړو چي مراد د ما نه ما موصوفه ده او اوس وائې چي حين يراد بما الموصولة الخ... په دي كښې اشاره ده جواز دوجهينو ته. **جواب:** مراد د موصول نه موصول اصطلاحي ندي بلكه مراد ترينه موصول لغوي دي چي وصل شده، دي برابره خبره ده چي حرف وي او كه حركت.

**ولوابقيت على عمومها:** سره جواب آخر، هلكه! ملا صاحب مراد د ماء نه شي دي او كه نه وائې چي عامل او معنی مقتضي پكښې داخل شو نو زه هغه په (به) سره خارجوم هغه داسي چي مراد دباء نه باء سببيه ده او متبادر دسبب نه سبب قريبه ده او عامل معنی مقضتی د اسباب بعيده دي ځكه اول عامل راځي بيا معنی مقتضي بيا اعراب بيا اختلاف.

**وبقيد الحيثية:** سره فائده دقيد ثاني ذكر كوي، غرض پكښې دفع داعتراض ده او هغه دا چي ملا صاحب تعريف دي جامع نشو خپلو افرادو لره خارج شو ترينه غلامي ځكه دلته اختلاف د عامل هم راغلي او اختلاف دآخر هم راغلي او حالانكه ديته څوك اعراب نه وائي. نو په من حيث انه معرب قيد سره دا اعتراض دفع شو چي مونږ كوم اختلاف ذكر كوو هغه ددي حيثيت نه چي معرب وي او د غلامي حركت چي كوم راغلي هغه د ياء دمتكلم دوجه نه راغلي دي ځكه يا ماقبل كسره غواړي.

**وبهذا القدرتم حدالاعراب:** سره ذكر د پنځم غرض. **اعتراض:** هلكه! تعريف د حد دي پوره شو نو وروسته عبارت چي ليدل على المعاني الخ... دا دكوم مرض دوا ده؟نو شارح رحمۃ اللہ علیہ **جواب:** كوي چي قيود په څلور قسمه دي: اول جمعي، دويم منعي، دريم اتفاقي، څلورم دپاره دفائدي خارجي، دلته دا قيد دليدل دفائدي خارجي دپاره دي چي داعراب فائده ذكر كول دي.

**فكانه اراد ان يبين الخ...** سره شپږم غرض، شارح هندي دغه مخكښې اعتراض نه جواب دا كړي دي چي ليدل على المعاني الخ... دا حكم داعراب دي او دليل ورلره دادي چي مصنف رحمۃ اللہ علیہ په آماليو د كافيه كښې دليكلي دي چي ليس هذا من تمام الحد چي دا دليل داجز دي تعريف څخه ندي او شارح هندي وائې چي ليدل دا متعلق

Maktaba Tul Ishaat. com



دي په مقدر پوري چي هغه وضع الاعراب دي. خو شارح پدي رد کوی چي دا دفهم نه ډيره بعيده خبره ده بلکه دليس هذا من تمام الحد، معنی داده چي دا ليدل دا تعريف جمعي او منعي ندي بلکه دا ليدل دا فائده ده دپاره داعراب چي اعراب دا فائده لري.

**ليدل على المعانى الخ...** دي سره فائده د اعراب ذکر شوه ، دي عبارت نه يو غرض تعين دضمير د ليدل کوی، دويم اختلاف ته اشاره کوی. اول غرض خو وشو چي ليدل کښي ضمير اختلاف يا مابه الاختلاف ته راجع دي، دويم غرض هم وشو چي اعراب په نزد دماتن او دجمهورو ذا مابه الاختلاف ته وائی او په نزد د شارح رضی اعراب دا عين اختلاف ته وائی دده دليل دادي چي اعراب مقابل د بناء دي او بناء عدم اختلاف ته وائی نو اعراب به اختلاف ته وائی خو دا مسلك ضعيف دي ځکه چي جاءنی زيدٌ چي از سرنو معرب شی نو اختلاف خوندي راغلی او اعراب راغلی.

**على المعانى:** معانی جمع د معنی ده په معنی د مدلول د الفظ سره او په معنی دصفت قائمة با الغير ته وائی او دلته دريمه معنی مراد ده چي فاعليت او مفعوليت او ضافت دي على المعانی سره يو غرض تعين دمعنی او غرض پديکښی دفع داعتراض ده. **اعتراض:** هلکه! اختلاف به دلالت کوی په معنی نو که دمعنی نه ذات داسم اخلی نو اختلاف خو په ذات داسم دلالت نه کوی او که مراد د معنی نه سبب اخلی نو اختلاف خو په سبب داسم دلالت نه کوی بلکه اسباب دا دلالت کوی په اختلاف باندي، نو ده جواب ورکړو چي معنی نه مراد زمونږ فاعليت مفعوليت او اضافت دي.

## معنی د اعتوار او تشريح

**المعتورة الخ:** غرض اول رفع د اشتباه لفظی دويم. دفع اعتراض دريم رد په شارح هندی، على صيغة اسم الفاعل سره اول غرض هم وشو چي دا صيغه د اسم فاعل وه، دويم غرض اعتراض دي. **اعتراض:** هلکه! دا صيغه داسم فاعل ده او که داسم مفعول ده که صيغه داسم فاعل وی نو مُعْتَوِرَةٌ خو متعدي بنفسه دي تائی په صله کښي على ولی راوړی ، او که صيغه داسم مفعول وی نو عکس دمعنی راځی ځکه مخکښی معانی دا عارض دي او اسم معرب دا معروض دي معنی داده چي دا معانی پی درپی کيدونکی په معرب باندی نو که صيغه داسم مفعول شی نو معانی به معروض او اسم معرب به

Maktaba Tul Ishaat. com



عارض شی، نو معنی به دا شی چي دا معانی دا پې درپې شوی دي په معرب سره

**جواب:** دا صیغه داسم فاعل ده او که ته وائی چي ددي په صله کښې علی نه راځی نو دي وروسته جواب کوی چي دا معتورة متضمن دي معنی د ورود او استیلاء دریم غرض رد په شارح هندي باندي، شارح هندي وائی چي دا المعتورة صیغه داسم مفعول ده او که ته وائی چي عکس دمعنی راځی نو دي وائی چيْ را دي شی نو مصنف پري اعتراض وکړو چي دا صیغه داسم مفعول نده بلکه صیغه د اسم فاعل ده معانی عارض او اسم معرب معروض دي

**علیه:** سره یو غرض تعین دضمیر . دویم متعلق دعلیه ذکر کوی. دریم غرض تصریح بالجواب ، څلورم معنی داعتوار او غرض پکښې دفع داعتراض ، پنځم دفع داعتراض ، شپږم غرض معنی لغوی داعراب: اول غرض علی المعرب سره وشو. دویم غرض متعلق بمعتورة سره وشو ، دریم غرض علی تضمین مثل معنی الورود والاستیلاء . تضمین په لغت کښې یو سړي ته په ترخ کښې څه شی ورکول، او په اصطلاح د معانیو کښې په یو فعل شبه فعل لکه قرآن کریم کښې راځی ﴿ واذا خلوا الی شیٰطینهم ﴾ دلته دخلو په صله کښې الی راغلی او حالانکه ددي په صله کښې مع راځی ځکه چي دا اذا خلوا متضمن دي بل فعل لره چي ذهب دي په قرینې د الی سره نو دلته لحاظ د ذهبوا شوي دي او دي کښې فائده داده چي فعل به یو وی او معنی به ترینه د دواړو واخلی اوس دلته مونږ لحاظ په المعتورة کښې ... د ورود وکړو نو علی مو راوړو

**وانما اعتوروا:** دا څلورم غرض دي چي معنی داعتوار ده، اعتوروالشئ لاس په لاس سره ونیولو دوي شی لره د اعتوار او تعاور یوه معنی ده، د تعاور دامعنی ده هم اخستل دیو جماعت دبل جماعت نه په سبیلی د مناوبت او بدلیت سره نه په سبیلی داجتماع سره، اوس معرب باندي معانی راځی چي فاعلیت مفعولیت او اضافت دي که فاعلیت نه وي نو فوراً به مفعولیت راځی یا اضافت اوس هر کله چي معانی نمبر په نمبر راځی نو د دوي علامی چي رفع نصب جر دي دا به هم نمبر په نمبر راځی ،**اعتراض:** قاعده داده چي واو ماقبلش مفتوح آن واو را با الف بدل کنند نو په المعتورة کښې ولی الف باندي واو بدل نشو ؟ **جواب:** ستا قاعده صحیح ده خو شرط پکښې دادي چي دا

Maktaba Tul Ishaat. com



واو به حمل نه وي په هغه واو چې هلته دا قاعده نه جاري کيږي . او دلته المعتورة حمل دي په تعاور او په تعاور کښې دا قاعده نه جاري کيږي .

**انما جعل الاعراب:** پنځم غرض دفع داعتراض ، **اعتراض:** هلکه ! هر کله چې اعراب دلالت کوی په معانيو نو بيا خو په اول کښې اعراب پکار دي چې د اول نه پته ولګيږي چې دا فاعل دي يا مفعول دي اوکه مجرور دي. **جواب:** اسم کښې دوه خبرې دي يو دا چې اسم دلالت کوی په مسمی او يو اعراب دي او دا صفت دي او قاعده داده چې موصوف مقدم وي په صفت نو مونږه هغه شی وروسته کړو کوم چې په صفت باندي دلالت کوی دهغه شی نه چې دلالت کوی په موصوف ، البته پدي باندي اعتراض وارديږي د خارج نه .

**اعتراض:** هلکه! زيد دلالت کوی په ذات او اعراب دلالت کوي په صفت او سره ددينه چې په جاء نی زيد کښ ذات او صفت دايو ځاي راغلی دي،

**جواب:** دلته تقدم ذاتی دي او دا ديته وائی چې مقدم دا محتاج اليه وي د مؤخر دپاره خوتقدم ذاتی دا منافی ندي دمعيت زمانی سره لکه شرح عقائد کښي به درته راشی چې ذات دا الله ﷻ مقدم دي په صفاتو خپلو باندي .

## د اعراب لغوی معنی

**وهوماخوذ من اعربه:** شپږم غرض ، معنی لغوی داعراب ، اعراب دا ماخوذ دي داعرب نه په معنی د وضاحت سره او په اعراب سره هم دمعنی مقتضی وضاحت کيږي خو پدي اعتراض وارديږي د خارج نه چې هلکه ستا ددي خبري نه چې اعراب ماخوذ دي داعرب نه دا معلوميږي چې مصدر دا مشتق دي دفعل نه کوم چې مذهب د کوفينو دي. **جواب:** اعراب اصطلاحی دا ماخوذ دي داعراب لغوی د اعرب نه، يعنی اعربه دمصدر نه . **اومن عربت معدته:** او يا اعراب ماخوذ دي دعرب معدته نه په معنی دفساد سره نو دا وهم به ذهن ته راځی چې په اعراب سره به فساد راځی نو جواب دادي چې اعراب باب افعال دي او په دي کښي همزه دپاره دسلب ده نو معنی داعراب دا شوه چې سلب دفساد به کوی اعراب .

Maktaba Tul Ishaat. com



## اقسام دِ اعراب

**وانواعه رفع ونصب وجر:** اول غرض تعین دضمیر، دویم دفع اعتراض ، دریم دفع داعتراض : غرض اول خو وشو چي انواع اعراب الاسم ، دویم غرض غرض دفع اعتراض، هلکه انواع داعراب خو څلور دي رفع نصب جر جزم او ته وائی چي ثلاثة **جواب:** مراد د انواعو داعراب نه انواع داعراب داسم دي او جزم خو اعراب دفعل وی **وانواعه ثلاثة** : سره دریم ذکر کوی چي دفع داعتراض ده ،هلکه انواع جمع ده مبتداء ده او رفع نصب جر دا خبر دي نو حمل د واحد راغی په متعدد باندي او حمل د واحد په تعدد باندي نه صحیح کیږي **جواب:** دلته عطف مقدم دپه ربط باندي، دا اعتراض به هله واردیدلی چي ربط مقدم وی په عطف نو حمل دمتعدد راغی په متعدد باندی،

**هذه الاسماء الثلاثة:** اول دي سره غرض بیان دیو اصطلاح کوی او هغه دا چی رفع نصب جر خاص دي په حرکات اعرابیه ؤ پوري او ضمه فتحه کسره دا اکثر استعمالیږي په حرکات بنائیه ؤ کښي او قلیلا استعمالیږي په حرکات اعرابیه ؤ کښی، او ضمه فتحه کسره دا خاص دي په حرکات بنائیه ؤ پوري خو دا مذهب د بصر ینو دي او هر چي کوفیان دي هغوی وائی چي رفع نصب جر دا استعمالیږي په حرکات بنائیه کښ

**فالرفع علم الفاعلية:** ای علامة کون الشئ فاعلاً : اول غرض معنی دعلم ، دویم غرض قاعده ذکر کول ، دریم تعمیم: هلکه! علم دا اسم محضه ته هم وائی ، جبل ته هم وائی او علامی ته هم وائی دلته کومه معنی مراد ده نو دلته علامه مراد ده چی کون الشئ فاعلاً دي. دویم غرض قاعده، په فاعلية کښی (یا ت) مصدریه ده او (یا ت) مصدریه هغی ته وائی چی گرځوی ملحق به خبر دپاره د کان محذوفه سره داسم نه، لکه کون الشئ کون دپاره الشئ اسم او اسم او فاعلاً ورلره خبر شو.

## تقسیم د فاعل، حقیقی او حکمی

**حقيقتاً او حكماً** : سره دریم غرض تعمیم ذکر کوی، فاعل عام دي حقیقتاً وي لکه ضرب زیدٌ کښی زید او حکماً لکه مبتداء خکه ددي عامل معنوی دي او همدا رنگه خبر **والنصب علم المفعولية:** دي کښي هم هغه دري اغراض دي کوم چی په علم الفاعلية کښی وو **والجر علم الاضافة الخ:** اول غرض معنی دعلم ، دویم معنی د

Maktaba Tul Ishaat. com



ضافت ، دریم دفع داعتراض ، څلورم وجه د اختصاص: اول او دویم غرض خو مخکښې وشو ، دریم غرض دفع داعتراض ، هلکه دا عبارت په یو نهج او طریقي سره پکار وو تا ولی طرز په علم الاضافة کښې بدل کړو .

**اذا کانت الاضافة مصدراً بنفسها لا حتج الی الحاق الیاء المصدریة الیها وانما اختص**: سره څلورم غرض وجه داختصاص ، رفع خاص ده په فاعل پوري ځکه رفع ثقیله ده او فاعل قلیل دي او نصب خاص دي په مفعول پوري ځکه نصب خفیف دي او مفاعیل کثیر دي ځکه چي مفاعیل پنځه دي نو ورکړي شو خفیف ثقیل ته. او مضاف الیه ته څه شی پاتی نشو نو جر مو ورکړو ، مضاف الیه ته. او محشی یوه بله وجه ذکر کړي ده او هغه دا چی فاعل دا عمده وی په کلام کښې او رکن وی دد غه کلام نه او مفعول دا فضله وی په کلام کښې او مضاف الیه ددوي دواړو په منځ کښې دي من وجه عمده فی الکلام واقع کیږی او هم فضله واقع کیږي . په کلام کښې ، نو رفع په حرکاتو کښې قوي وه دا مو فاعل ته چي عمده دي ورکړه او نصب ضعیف دي دا مو ورکړو مفعول ته چی فضله دي او جر مو مضاف الیه ته ورکړو خو دا وجوه خو مونږه وایو ګنی نو عربو خو مخکښې نه پري دا عرابات وئیلی دي .

## تقسیم د عامل، لفظی او معنوی

**العامل مابه یتقوم المعنی المقتضی للاعراب لفظیاً او معنویاً**: اول غرض تعمیم ، دویم غرض دفع داعتراض: اول غرض وشو چي عامل عام دي لفظی وی او که معنوی ، دویم غرض دفع **اعتراض**: هلکه ! دا تعریف د کوم عامل دي که د لفظی وي نو دمعنوی وکړه او که دمعنوی وي نو لفظی وکړه ، **جواب**: وشو چي د لفظی او دمعنوی دواړو دي . **مابه یتقوم ای یحصل**: یحصل سره غرض دفع د اعتراض ده او هغه دا چي د قیام نسبت خو ذوي الروح ته کیږي او تائی عامل غیر ذوی الروح ته کړي دي. **جواب**: وشو چی ذکر د یتقوم دي مراد ترینه یحصل دي .

**ای معنی من معانی المعتورة علی المعرب**: یو غرض تعین د الف لام دي چي الف لام عهدي دي او دویم غرض پکښې دفع داعتراض ده. هلکه ! تعریف د عامل کښې دي حروف (اتین) د مضارع داخل شو ځکه دا دماضی نه جوړه ده ماضی مبنی ده او

Maktaba Tul Ishaat. com



مضارع دا په یو دحروف اتین سره معرب کرځیدلي ده نو پکار ده چې حروف اتین دا په عامل کښې داخل شي **جواب**: مراد د معانیو نه معانی معتورة دي او په حروف اتین سره خو دا نه حاصلیږي ، ففي جاء زید سره مثال دعامل لفظی او معنوی ذکر کوی.

**فالمفرد المنصرف**: مخکښې ذکر د اعراب وشو اوس انواع داعراب ذکر کوی، فاء یا تفسیریه ده، یا عاطفه ده او معطوف علیه ئې مخکښې کلام دي لاعلی التعین او داد قبیلې د عطف دیوي قصې په بلې باندي دي، یا دا فاء تفریعیه ده او متفرع علیه ئې داده چې اذا عرفت ما تلونا علیکم نو فالمفرد المنصرف . **ای الاسم الذی**: یو غرض ذکر قاعدي کلیه ، دویم دفع داعتراض ، دریم توضیح بالمثال:

**نکته**: زده کړه دا خبره چې دلته دوه قاعدي دي یو دا چې المفرد صفت دي او الاسم ئې موصوف دي، دویمه قاعده چې المفرد صیغه داسم مفعول ده او الف لام هم پري داخل شوي او دغه الف لام په معنٰی د الذی یا التی سره وی او اسم مفعول په معنی د موصوف سره د صفتینو نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر (دل) پوري، فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه صله د موصول، موصول سره د صلې نه خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه، دویم ترکیب ، غیر منصوب دي او دا جمله حال دي د معنی نه او نور ترکیب سابق ترکیب دی.

## ترکیب د مِن خواصه الخ

**ومن خواصه دخول اللام والجر والتنوین والاسناد الیه والاضافة**: واو عاطفه من جار خواصه مضاف مضاف الیه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه خبر مقدم دخول مضاف اللام معطوف علیه و او عاطفه الجر معطوف معطوف علیه واو عاطفه التنوین معطوف معطوف علیه سره د معطوفتینو نه مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء مؤخره، دویم ترکیب چې دخول اللام مرفوع وونیلی شی نو دا جمله تر والاضافة پوري به فاعل شي دظرف,دپاره نو ظرف عامل شو او ظرف هغه وخت عمل کوی چې اعتماد ئې کړي وی په یو داشیاؤ سته او دلته دي ظرف اعتماد ندي کړی په یو هم، دریم ترکیب چې اللام الٰی آخره دا فاعل شی دپاره دمصدر چې دخول دي او مصدردلته عامل کرځیدلی شی ځکه چې اعتماد یې کړی په مبتداء.

Maktaba Tul Ishaat. com



**وهو معرب مبني:** اول تركيب ، هو مبتداء معرب معطوف عليه واو عاطفه مبني معطوف ، معطوف عليه سره د معطوف نه خبر د مبتداء ، مبتداء او خبر جمله اسميه، دويم تركيب هو مبتدا قسمان خبر، احدهما مبتداء معرب خبر، ثانيهما مبتداء مبني يي خبر، فالمعرب المركب الذى لم يشبه مبنى الاصل ف تفصيليه، المعرب مبتدا، المركب موصوف الذي اسم موصول لام حرف جار لم يشبه فعل، ضمير پكښي مستتر دي هغه ئي فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه صله د موصول ، موصول سره د صله نه بنابر حذف مضاف دلته مضاف حذف دي چي حالة دي مضاف حذف شو او مضاف اليه ئي قائمقام وګرځيدو او كوم شي چي واقع شي په ځاى دغير نو هغه لره حكم دغير وى نو مضاف منصوب وو نو دوي هم منصوب وګرځيدل.

**ويحتمل النصب على الحالية او المصدرية:** اشاره د ضعف د قولين ته لاجل كثرة الحذف، اول غرض ذكر د احتمالينو دي او دويم غرض توضيح بالمثال ، ياد ارفعاً نصباً جراً دا منصوب دي بناء برحاليت نو عبارت اصل كښى داسي دي چي والاعراب فى هذين القسمين حال كونهما مرفوعين با لضمة وحال كونهما منصوبين بالفتحة وحال كونهما مجرورين با لكسرة ، او ذو الحال دا معلوميږي د كلام نه، **او المصدرية:** او يا دامنصوب دي بناء برمفعول مطلق تقدير دعبارت داسي دي چي اعرب اعراب رفع واعرب اعراب نصب واعرب اعراب جرٍ. **فالقسم الاول سره توضيح بالمثال:** د اول قسم مثال لكه جاء نى رجل رايت رجلاً مررت برجل ، او د دويم قسم مثال، لكه جاء نى طلبة رايت طلبة مررت بطلبةٍ.

## تركيب د اسم مَادَلّ الخ

**تركيب:** الاسم ما دل على معنى فى نفسه غير مقترن باحد الازمنة الثلاثة الاسم مبتداء ، ما موصوله يا موصوفه ، دل فعل ضمير پكښى مستتر دي هغه ئى فاعل على جار معنى موصوف فى جار نفس مضاف (ه) ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور دجار، جار سره د مجرور نه صفت اول، غير مضاف مقترن مضاف صيغه داسم مفعول ضمير پكښى مستتر دي هغه ئى نائب فاعل باجار، احد مضاف الازمنة موصوف الثلاثة صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف اليه، مضاف

Maktaba Tul Ishaat. com



سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نـه متعلق شو تر مقترن پوري، مقترن صیغه د اسم مفعول سره دنائب فاعل نه او سره دمتعلق نـه مضاف الیـه دغیر، مضاف سره دمضاف الیـه نه صفت ثاني دمعنی صفت د موصوف ، موصوف سره د صفت نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

## ترکیب و حکمه ان یختلف اخره، الخ

**وحکمه ان یختلف آخره باختلاف العوامل لفظاً او تقدیراً:** حکمه مضاف مضاف الیه ، ان ناصبه یختلف فعل، آخره مضاف مضاف الیه فاعل ، با جار ، اختلاف العوامل مضاف مضاف الیه مجرور، جار سره د مجرور نه متعلق شو تر یختلف پوري، لفظاً او تقدیراً دا یا تمیز دي دآخره نه، او یا دا مفعول مطلق دي د یختلف نه په حذف د مضاف سره تقدیر د عبارت داسي دي چي یختلف آخره إختلاف لفظ او اختلاف تقدیر، نومضاف حذف شو او دا لفظاً او تقدیراً ئی قائمقام شو او شی چي قائم شی په ځاي د غیر باندي نو هغه لره حکم د غیر وي، نو اختلاف منصوب وو نو دا به هم منصوب وی، نو یو ترکیب دا شو چي یختلف فعل آخره ممیز او با ختلاف العوامل متعلق شو تر یختلف پوري او لفظاً او تقدیراً تمیز شو، ممیز سره د تمیز نه فاعل د یختلف دپاره فعل فاعل متعلق په تاویل د مصدر سره خبر د مبتدا، دویم ترکیب دا شو چي یختلف فعل آخره فاعل اختلاف العوامل متعلق او لفظا او تقدیراًمفعول مطلق شو فعل فاعل او متعلق مؤول په تاویل د مصدر سره خبر دمبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه .

## ترکیب د الاعراب ما ختلف اخره، الخ

**الاعراب ما اختلف آخره به لیدل علی المعانی المعتورة علیه:** الاعراب مبتداء، ما موصوله ، اختلف فعل، آخر ه مضاف مضاف الیه فاعل ، به جارمجرور متعلق شو تر اختلف پوري، لام جار ، یدل فعل، ضمیر مستتر پکښی فاعل ، علی جار، المعانی موصوف، المعتورة صیغه داسم فاعل، ضمیر مستترده پکښی فاعل، علیه جار مجرور متعلق تر المعتورة پوري، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر یدل پوري، فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه

Maktaba Tul Ishaat. com



متعلق شو تر اختلف پوري په نزد د ماتن او په نزد دشارح هندی متعلق دي تر وضع الاعراب پوري او مستقله جمله ده اختلف فعل سره دفاعل نه او سره د متعلقینو نه صله دموصول، موصول سره دصلی نه خبر دمبتداء ،مبتداء سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه. **وانواعه رفع نصب وجر:** انواعه مضاف مضاف الیه مبتداء، رفع معطوف علیه واو عاطفه نصب معطوف معطوف علیه واو عاطفه جر معطوف ، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه خبر دمبتداء مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه . **فالرفع علم الفاعلية والنصب علم المفعولية والجر علم الاضافة:** فا تفصیله، الرفع مبتداءو علم الفاعلیة مضاف مضاف الیه خبر. مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه، النصب مبتداء علم المفعولیة مضاف مضاف الیه خبر، مبتداء او خبر جمله اسمیه، واو استئنائیه، الجر مبتدا علم الاضافة مضاف مضاف الیه خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه .

## ترکیب د العامل ما به يتقوم الخ

**العامل مابه يتقوم المعنى المقتضى للاعراب:** العامل مبتدا ، ما موصوله ، به جار مجرور ، متعلق تر یتقوم پوري ، یتقوم فعل المعنی موصوف المقتضی صیغه داسم مفعول ، ضمیر پکښی اسم مفعول سره دنائب فاعل او سره دمتعلق نه صفت دموصوف، موصوف سره دصفت نه فاعل دیتقوم،فعل سره دفاعل نه او سره د متعلق نه صله د موصول ، موصول سره دصلی نه خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه، او یا المقتضی منصوب دي او مفعول دي دپاره دیتقوم، او یتقوم فعل سره دفاعل نه چې معنی ده او سره د مفعول به جمله صله شوه د موصول ، موصول سره دصلی نه خبر دمبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه .

## د جمع مؤنث سالمه تعریف او تشریح

**جمع المؤنث السالم وهوما يكون بالالف والتاء:** یو غرض تعین دمعنی د جمع مؤنث سالمه، دویم بیان دفائدي، اول جمع مؤنث سالمه دا هغه ده چې په (الف) او (تا) سره وی، او سالمه دا هغه ده چې بناء د واحد پکښی سالمه وی اوس که څوك ووائی چې جمع خو ئی سالمه نه ده بلکه مفرد ئی سالم دي نو جواب دادي چې دیته توصیف بحال متعلقه وائی . **واحترزبه عن المكسر فانه قد علم:** سره دویم غرض چې فائده ده ذکر کوی ،

Maktaba Tul Ishaat. com



او هغه دا چي ما يكون با الالف والتاء سره احتراز وشو دجمع مكسر نه ځکه چي هغه پیژندل شوي ده ، **اعتراض**: هلكه ! مخکښی خو جمع مكسر منصرف پیژندل شوي ده عامه جمع خو نده پیژندل شوي پكار دا وه چي داسي دي وئيلي وي چي واحترز به عن المكسر المنصرف فان حكمه مختلف لحكمه ؟ **جواب**: دلته مصنف چشم پوشی کړي ده قصداً ئی دا پريخودي دي دپاره ددي چي طالبان پکښی سوچ وکړي.

**فالنصب فيه تابع للجر اجراء للفزع الخ**: اول غرض دفع داعتراض ، دويم توضيح با لمثال هلكه ! نصب تابع دجر دولی دی، جواب : نصب تابع د جر ځکه دي چي دا جمع فرعه ده د جمع مذكر سالمه هلته داسي وو نو دلته هم نصب تابع دجر شو. لكه جاءتنی مسلمات ورايت مسلمات ومررت بمسلمات سره دويم غرض وشو. جمع مؤنث سالمه ئی مقدمه کړه په غير منصرف باندی د دريو وجوهو نه : اول معرفت دغير منصرف کښی لږ تطويل وو، دويم دجمع مؤنث سالمه اعراب لازم دي او د غير منصرف اعراب کله کله زائل کيږي . دريم جم مؤنث سالمه کښی نصب تابع دجر دي او دا ډير استعماليږي په كلام دعربو کښي په خلاف دغير منصرف ځکه هلته جر تابع دنصب دي.

**غير المنصرف فا لجر فيه تابع للنصب كما سنذكره**: غير منصرف کښی جر تابع دنصب وی او وجه به په حكم دغير منصرف کښی راشی. **اخوك، ابوك، حموك**: بكسر الكاف سره غرض دفع د اعتراض ، **اعتراض**: هلكه! طرز دعبارت دي ولی بدل کړو، مخکښی جواز د فتح او كسري دواړو وو او دلته دي صرف كسره ووئيله ؟ **جواب**: ځکه چی حم ليور ته وائی او ليور صرف د امرأة دپاره وی او امرأة ته په كاف مكسوره سره خطاب کولی شی. وهنوك ، **ولهن الشی المنكر**: اول غرض معنی د دهن . دويم تحقيق صرفی ، اول غرض هن دا شی منكر ته وائی لكه عورة غليظه، افعال قبيحه، او صفات ذميمه . **وهذه الاسماء الاربعة منقوصات واوايه** : دويم غرض ذکر کوی، دا اسماء اربعه منقوصات واوي دي اصل کښی اخوٌ ،ابوٌ ،حموٌ ،هنوٌ وو په دليل دتصغير د دوي سره چي و بيو وخيو، حميواو هنيو دي او په دليل دتثنيو د دي سره چي تثنيی ددې ، ابوان، اخوان، حموان، هنوان ، دي .

**وفوك ، هو اجوف واوی ، غرض تحقيق صرفی**: دا اصل کښی اجوف واوي دي فوهٌ وو ها

Maktaba Tul Ishaat. com



خلاف القياس حذفه شوه او واو په ميم بدل شو ځکه چي په ميم بدل نه شي نو بيا به په الف سره بدل شي ځکه ماقبل ترينه فتحه ده، او کله چې ددي اضافت ياء د متکلم ته وشي نو بيا هغه واو بيرته معاد کيږي ، او بدليږي ، په ياء سره او ياء په ياء کښې مدغم کيږي، نو فى ترينه جوړيږي ، اويو قول دادي چي بالکل نه را معاد کيږي ، بلکه فمى وئيل کيږي .

**ذومال ، وهولفيف مقرون:** اول غرض تحقيق صرفى، دويم دفع داعتراض ، دريم ، متعلق د بالواو: اول غرض ، ذو لفيف مقرون بالواوين دي اصل کښې ذوو وو نو واو خلاف القياس حذف شو ضمه په واو ثانى باندي ثقيله وه هغه نقل شوه ماقبل ته پس دسلب د حرکت دماقبل نه نو بيا اجتماع دساکنينو راغله دتنوين او د واو په مابين کښې نو تنوين حذف شو ذو ترينه جوړ شو .

**وانما اضيف الى اسم الظاهر:** سره غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض:** هلکه ! نور اسماء دي اضافت اسم ضمير ته کړي او ددي داسم ظاهر ته وکړو دا ولى ؟ **جواب:** ددي اضافت ئي ځکه اسم ظاهر ته وکړو نه کاف ضمير ته ځکه دده اضافت اسم جنس ته کيږي ، او دا ځکه چې دا واضع وضع کړي دپاره د توصيف دشى او دا نه راځى مګر په اسم جنس سره .

**فاعراب هذه الاسماء السته بالواو:** سره دريم غرض ذکر کوى چي متعلق دبالواو دي او غرض پکښې دفع د دريو اعتراضونو ده : **اول اعتراض:** هلکه ! بالواو خبر دي د ابوك اخوك الخ . دپاره او خبر حامل وى دهغه شي دپاره کوم چې دمبتدا نه نه معلوميږي **دويم اعتراض** : هلکه ! چې ابوك شو نو بالواو خو شو، نو بالالف والياء څرنګه راځى ؟ **دريم اعتراض:** دابوك اضافت شوي مخاطب ته معنى دا چې ستا اب وى نو هغه بالواو او با الا لف او با لياء راځى او که د غير اب وو نو هغه به نه راځى ؟ **جواب:** بالواو متعلق دي په فاعراب هذه الاسماء الستة پوري يعنى دا خبر ابوك اخوك دپاره ندي چي دا اعتراضات پري وارد شي .

**لکن لا مطلقاً بل حال کونها مکبرة:** سره غرض دفع داعتراض ، **اعتراض:** هلکه ! زه به درته وښايم چې دا اسماء به وى خو دا اعراب به ئى نه وى لکه جاء نى أُخَيُّكَ

Maktaba Tul Ishaat. com



ومررت باخيك ورايت اخيك **جواب:** ددي اسماء به دا اعراب وي خو چې مكبره وى او نا چې كوم وښودل دا خو اسماء مصغره دى.

**وموحدة:** سره غرض دويمه دفع د اعتراض . **اعتراض:** هلكه! زه به درته وښايم چي اسماء مصغره به هم نه وى او هم دا اسماء به وي او او اعراب به ئى دا نه وى لكه جائى اخوان ورايت اخوان ومررت باخوان **جواب:** دا اعراب به ئى هله وى چې دا اسماء مفرد وى نه تثنيه او جمع ځكه كه تثنيه وى نو دهغوى اعراب بيا د تثنيو او جموعو وى.

**وانما لم يصرح بهذين القدين:** دا دفع داعتراض هلكه! چې مكبره او موحده قيودات پكښې معتبر وو نو بيا به دي راوړي وى ذكراً ؟ جواب: دائي ذكر نه كړل اكتفاء ئى وكړه په امثله وو سره. **مضافةً الى غير ياء المتكلم:** په كافيه كښې دا عبارت مقدم دي په بالواو باندي او دا صحيح هم دي ځكه با لواو نه دا حال دي او با لواو دا ظرف دي نو ظرف عامل وګرځيده او ظرف ضعيف العمل وى، په معمول مقدم كښې عمل كوى فقط، اوشارح دا مضافةً وروستى راوړي دي وائى چې ظرف دا عامل دي لفظاً او عامل لفظى دا په معمول متقدمه او متاخره دواړو كښ عمل كولى شى، يا دريمه وجه داده چې دا د كاتب غلطى ده كاتب چيرته عالم وو هغه دا سوچ كړي دي چې داحال دي دبالواو نه او حال دا صفت وى حكماً او صفت وى ، د موصوف نه، نو دلته هم وروسته كول پكار دى.

## وجه تخصيص دِ اسماء سته مكبره

**لانها اذا كانت مكبرةً وموحدةً ولم تكن مضافةً:** دي عبارت سره فايده دمضافةً قيد ذكر كوى، دا قيد ځكه ولږولى شو چې كله دا اسماء مكبره وى واو مؤحده وى او مضاف نه وى نو بيا اعراب د دوي بالحركت وى لكه جاءنى اخٌ ورايت اخاً ومررت باخٍ **لانها اذا كانت مضافةً** : سره اول غرض فائده دقيد الى غير ياء المتكلم دويم دفع داعتراض ، دريم وجه دتخصيص داعراب ، څلورم وجه دتخصيص د سته ؤ پوري پنځم وجه د تخصيص پدي سته و پوري ، شپږم دفع داعتراض : اول غرض ، دا اسماء به مضاف غير دياء دمتكلم ته ځكه وى كه مضاف وي ياء د متكلم ته نو بيا به ئى دا اعراب نه وى.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ولم يكتف في هذا الشرط بالمثال:** سره دويم غرض . هلكه ! مكبره او مؤحده قيوداتو كښې دي اكتفاء په امثله وو سره كړي وه نو دلته به دي هم اكتفاء په مثال سره كړي وی ؟ جواب اكتفاء په مثال سره ځكه ونكړه چې خلقو به بيا دا توهم كولو چې ددي اسماء اعراب هله وی چې اضافت ئې صرف كاف ته شوي وی . **وانما جعل اعراب هذه الاسماء بالحروف:** سره دريم غرض . ددي اسماء اعراب يې با لحروف وګرځولو ځكه چې دعامو تثنيو او جوعو اعراب بالحرف وو او دعامو مفرداتو اعراب بالحركة وو نو موږ دغه بعضو مفرداتو ته اعراب بالحرف ورکړو چې دتثنيو او جموعو دمفرداتو سره وحشت او منافرت تامه را نشي .

**وانما اختاروا اسماء الستة:** سره څلورم غرض خاص شپږ اسماء ئې ضامن كړل د اعراب بالحرف دپاره ځكه دتثنيه دري حالات وو او د جمعی دري حالات وو نو ټول شپږ اقسام جوړيدل نو د هر اعراب په مقابله كښې يو اسم وګرځولو .

**وانما اختاروا هذه الاسماء الستة:** دا شپږ اسمائی بيا د نورو اسماؤ نه خاص كړل ځكه د دوي مشابهت د تثنيه او جمع سره وو ځكه دوي هم په تعدد دلالت كوی ځكه چې اب دلالت كوی په من له الاب باندی الی آخره . او بل دا چې د دوي په آخر كښې حرف صالح دپاره داعراب شته . **بخلاف سائر الاسماء المحذوفة الاعجاز:** سره شپږم غرض ذكر كوی چې دفع داعتراض ده : **اعتراض:** هلكه ! يد او دم ددي آخر هم صالح دي دپاره داعراب دا به دي خاص كړي وی؟ **جواب:** دا اسماء محذوفة الاعجاز دي يعنی كوم حروف چې ددوي نه حذف شوي هغه په وخت د اضافت كښې نه را معاد كيږي او دا اخ اب الی آخره را معاد كيږي .

## د مثنی تشریح

**اعتراض:** د مثنی نه لفظ دمثنی اخلی او كه ما صدق عليه دمثنی اخلی كه لفظ د مثنی نو دمثنی دلفظ اعراب خو با لالف والياء ندي بلكه تقديري دي او كه ماصدق عليه دمثنی نه اخلی نو د كلا او كلتا ذكر كولو ته حاجت نه وو ځكه پدي هم دمثنی لفظ صادقيږي **جواب:** زه دا دواړه نه اخلم بلكه مصداق دتثنيه اخلو نو چې دا مو واخستو نو كلا او كلتا دا مصداق دتثنيه ندي ځكه ددي مفرد من لفظه نشته نو دا

Maktaba Tul Ishaat. com


ملحقات دتثنیه شو، دویم دلیل دادي چي دیته دمفرد ضمیر راجع کيږي لکه : کلتا الجنتین اتت اکلها **ومایلحق به:** سره غرض بیان د حال دمتن آتی چی دا د راتلونکی پشان ملحقات دتثنیه دي وهو کلا چی هغه کلا دي .

**وکذا کلتا:** اول غرض تعمیم ، دویم غرض بیان دیوي نکتی : یو غرض خو وشو چي کلا او کلتا هم با لالف او بالیا دي، دویم غرض دادي چی صرف کلا ئی ذکر کړه او کلتا ئی ذکر نه کړو ځکه کلا اصل دي او کلتا دا فرع ده.

**مضافاً ای حال کون کلا وکلتا:** یو غرض وجه دنصب د مضافاً دویم اعتراض ، اول غرض خو وشو چي دا حال دي کلا او کلتا نو ځکه منصوب دي، او اعتراض خارجي دي ، مونږ خو وئیلی دي چی الحال ما یبین هیئة الفاعل او المفعول به دلته دا کلا او کلتا څه شی واقع دي پدي کښی دري توجهات دي، اول توجیه ابن مالك کړي ده او دي وائی چی المثنی معطوف علیه او کلا او کلتا دا معطوف دي دا مبتدا او بالواو خبر دي او حال راتلل دمبتدا نه صحیح دي نو کلا او کلتا دا ذو الحال شو،دویمه توجیه داده چی دا کلا او کلتا دا فاعل دي دفعل مقدر دپاره تقدیر داسي دي چي اعراب کلا وکلتا ، دریمه توجیه دا بناء ده په یوه قاعده باندي او هغه دا چی حال مضاف الیه نه هم واقع کیدي شی خو چی حذف دمضاف جائز وی او اقامت د مضاف الیه دهغی په ځاي باندي صحیح وی لکه (بل نتبع ملة ابراهیم حنیفاً ) دلته نتبع فعل او ملة مضاف او ابراهیم مضاف الیه حنیفاً دا حال دي اوس دلته حذف دمضاف چی ملة دي دا جائز دي او اقامت د ابراهیم په مقام دده باندي صحیح دي ځکه صله د مخکښی فعل دپاره منعول به واقع شوي ده اوس ابراهیم دهغه قائمقام شو اوچی شی واقع شی په ځای دغیر نوهغه ته حکم دغیر وی نو ابراهیم هم مفعول شو نو دحنیفاً حال جوړیدل ترینه صحیح شو اوس دلته مضافا حال دي دکلا او کلتا نه او دا مضاف الیه واقع شوي دپاره دمضاف مقدره چی هغه اعراب کلا وکلتا دي تقدیر داسي شو چی ( اعرب المنثی اعراب کلا وکلتا ) اعرب فعل فاعل المثنی مفعول ، اعراب مضاف کلا وکلتا مضاف الیه ، مضاف حذف شو، او مضاف الیه دادهغه قائمقام شو، نو مضاف خو مفعول مطلق وو دا هم مفعول مطلق شو او حال دمفعول مطلق نه صحیح وی څلورمه توجیه

Maktaba Tul Ishaat. com



داده او دا ډیره ضعیفه ده ، دوي وائی چي دا خبر دي د کان دپاره اصل کښی داسي وو اذا کانا مضافاً ، کان کښی ضمیر اسم دي او مضافا دا ئی خبر دي او کان او اسم دا حذف شوي دي خو دا ضعیف دي ځکه چی په دي کښی حذف کثیر راغلو.

**ای حال کون کلا وکلتا مضافاً:** دي عبارت سره غرض دفع داعتراض ده **اعتراض:** حال قید وی دپاره دذوالحال نو ذو الحال المثنی کلا وکلتا دا ټول شو دتثنیة به هم هله دا اعراب وی چی کله مضافه وی ؟ **جواب:** ذوالحال صرف کلا کلتا دی دتثنیی مطلقاً دا اعراب دي که مضاف وی او که نه وی .

**وانما قید بذالک لان کلا باعتبار لفظه مفرد:** یو غرض فائده دقید دمضافاً ، دویم توضیح بالمثال ، دریم نتیجه : اول غرض د کلا او کلتا سره یی مضافاً قید ولګولو ځکه چی کلا په اعتبار د لفظ مفرد دي ځکه چی مفرد ئی نشته او په اعتبار دمعنی سره جمعی ده لفظ ئی تقاضاً داعراب با لحرکت کوی، او معنی ئی تقاضا داعراب بالحرف کوی نو د دواړو اعتبارینو لحاظ پکښی ساتلی شوي دي هر کله ئی چی اضافت اسم ظاهر ته اوشی نو اعراب به ئی با لحرکة وی خو تقدیراً ځکه چی په آخر الف دي نو دا به التقاء دساکنینو دوجی نه غورځیږي . او اعراب به په عین کلمه جاري کیږي لکه جاءنی کلا الرجلین ورایت کلا الرجلین ، ومررت بکلا الرجلین ، او چی کله ئی اضافت اسم ضمبر ته اوشی نو بیا به ئی اعراب بالحرف وی لکه جاءنی کلا هما ورایت کلیهما ومررت بکلیهما .

**فلذالک قید کون اعرابه بالحروف بکونه مضافا الی مضمر:** سره نتیجه ذکر کوی او دا دفع داعتراض ده چی هلکه دي عبارت ته څه ضرورت دي نو جواب دادي چی دا نتیجه ده، **واثنان کذا اثنتان:** اول غرض تعمیم ذکر کوی، دویم دلیل دتعمیم ، اول غرض دادي چي دا حکم داثنان نه دي بلکه داثنتان او ثنتان هم دا حکم دي دویم غرض دلیل: دلیل دادي چی دا الفاظ اګرکه مفرد دي لیکن صورت ئي دتثنیه دي، اعتراض من الخارج: کلا دي ذکر کړو او کلتا دي ذکر نه کړو او ودي ویل چي دا رفع ده دلته به دي هم داسي کړي وی ؟ **جواب:** دا اسماء العدد دي او د دوي تمیز علی القیاس راځی خودلته مونږ دا کار خلاف القیاس اوکړو خو دا وجه ضعیفه ده، دویمه وجه داده چی مونږ د دفع دتوهم

Maktaba Tul Ishaat. com



دپاره ذکر کړو چې متوهم به دا وهم کولو چې داثنان به داسي وی او داثنتان به داسي اعراب نه وی، خو دا اعتراض او وهم خو په کلا هم راځي چې هلته هم داسي وهم کیدي شي ، جواب : نکته دپاره دفار وی نه لپاره دقار. با لالف رفعاً والیاء المفتوح ماقبلها نصباً وجراً.

## دِ جمع مذکر سالمی بیان

**والمراد به ما سمی به اصطلاحاً**: یو غرض تعریف د جمع مذکر سالمی او غرض پکښې دفع داعتراض، دویم حال دمتن آتی ذکر کوی : اول غرض : جمع مذکر سالمه دا هغه ده چې په واو نون سره وی برابره خبره ده که مفرد ئې مذکر وی او که مونث او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه . **اعتراض**: زه تا نه تپوس کوم چې ستا دجمع نه مراد هغه جمع ده چې مفرد ئې مذکر وی نو که دا وی نو (سنون او ارضون) ترینه خارج شو ځکه ددي مفرد خو مونث دي، او که مراد دي ترینه عامه جمع وی نو بیا پکار ده چې مرفوعات منصوبات هم جمع مذکر سالمی شی، ځکه دوي لره هم مفرد مذکر شته دي. **جواب**: زما دا دواړه ندي مراد زما مراد هغه جمع ده چې په واو ونون سره ، یا په یاء ونون سره جمع وی نو سنون او ارضون پکښې داخل شو او مرفوعات ترینه خارج شول برابره خبرده ده چې مفرد مذکر وی او که مونث ،

**وماالحق به**: سره دریم غرض، آلو دا جمع ده خودملحقاتو دجمع څخه ده ځکه معنی خو ئې دجمع ده خو مفرد ورلره من لفظه نشته دي ، ځکه مفرد ئې ذو دی نو چې لفظ د مفرد ئې جدا شو نو جمع حقیقتاً او نه ګرځیده ، جمع ذو لا عن لفظه دا دلیل دي دملحقاتو کیدلو دپاره.

**وعشرون واخواتها**: یو غرض معنی د اخوات ، دویم دلیل ذکر کول ،دریم دلیل دعشرون اخوات هغه دثلاثون نه تر تسعون پوري ، **ولیس عشرون جمع عشرة**: سره اول دلیل ذکر کوی او دویم هم ذکر کوی عشرون دا جمع دعشرة نه ده او که چیرته شی نو صحیح به شی اطلاق دعشرون په ثلاثون باندی ځکه اقل د جمع دري وی او دري واري عشرة دا ندی مګر ثلاثین او نه ثلاثین جمع ده ځکه صحیح به شی اطلاق دثلاثین په تسعة باندي ځکه اقل افراد د جمع دري دي او دري واري عشرة دا نه دي مګر تسعة. **وایضاً**

Maktaba Tul Ishaat. com



**هذه الالفاظ تدل على معان:** سره دویم دلیل ذکر کوی ځکه چی دا الفاظ چی عشرون نه تر تسعون پوري دي دلالت کوی په معانیو معینه او په جمعو کښي تعین نه وی.

## فرق د جمع او د تثنیه په اعراب کښي

**وانما جعل الاعراب المثنى مع ملحقاته بالحروف:** اول غرض وجه د اعطاء داعراب بالحرف تثنیه او جموعوته، دویم دتقسیم ، دریم فرق دتثنیه او دجمع. څلورم دفع داعتراض: اول غرض خو دادي چی تثنیه او جمع او ملحقاتو ددي اعراب بالحرف ورکړی شو، ځکه چی دا فرع دواحد ده او اعراب بالحرف دا فرع داعراب بالحرکة ده او په آخر ددي دواړو کښی تثنیه او جمع ده حرف صالح للاعراب وو چی هغه علامه دتثنیه او دجمع ده نو مناسبه وه چی دغه حرف صالح داعراب وګرځی ددي دواړو دپاره چی شی اعراب د دوي فرعه داعراب دمفرد لکه څرنګه چی دوي فرعه وو دمفرد، اعتراض په دي باندي خو دا لازم شو توارد دعلتینو مستقلینو په معلول واحده باندی یا علامه دتثنیه او داعراب دواړه شوه همدارنګه واو، جواب : دا خو علل حققیه نه دي بلکه علامات دي او یوشی د ډیرو شیانو دپاره هم علامه ګرځیدي شی.

**ولما جعل اعرابها بالحروف وكان حروف الاعراب ثلاثة:** سره دویم غرض ، هر کله چی اعراب دتثنیه او د جمع بالحرف ؤ ، او حروف داعراب دري وو او دتثنیه هم دري حالات وو او دجمع هم دري حالات وو که چیرته مو حروف داعراب تثنیه ته ورکړي وي نو جمع بلا اعراب پاتی کیده او که عکس مو کړي وی نو تثنیه بلا اعرابه پاتی کیده او که مشترك کړي مو وي نو ویره د التباس وه ، نو تقسیم مو او کړو په داسي طریقي سره چی الف مو علامه درفع کړه په تثنیه کښی ځکه چی الف ضمیر دفاعل دي په تثنیه کښی لکه یضربان او ضربا او واو مو علامه در فع اوګرځوله په جمع کښي ځکه دا ضمیر د فاعل دي په جمعو کښی او حالت جري ئی په دواړو کښی په یاء سره اوګرځولو.

**وفرقوا بینهما الخ...** سره ذکر د دریم غرض ، او فرق مو دتثنیه اوکړو د جمع سره په ماقبل دیاء سره په تثنیه کښی به مفتوح وی ماقبل دیاء او په جمعو کښی به مکسور وی او حالت نصبی مو تابع د جري اوګرځولو.

**وجعلوا النصب على الجر لا على الرفع:** دا دفع د اعتراض ده اعتراض: جرئی تابع د

Maktaba Tul Ishaat. com



نصب ولی نه کړو یا داچی نصب ئی تابع درفع ولی نه کړو، نو دۀ جواب او کړو چی نصب ئی تابع دجر کړو ځکه مناسبت د نصب دجر سره شته چی هغه وقوع د دی دواړو ده په کلام کښی فضله.

**ولما فرغ من تقسیم الاعراب الی الحرکة والحرف:** اول غرض تذکیر دماسبق ، دویم تو طیه دمتن اتی ، دریم دفع داعتراض : اول غرض چی تذکیر دي دا دلما فرغ من تقسیم الاعراب الخ ... سره اوشو، دویم غرض ، شرع فی بیان مواضع اللفظی ، والتقدیري، سره دریم غرض اوشو چی توطیه دپاره د متن آتی ده چی وروستو ذکر داعراب دي او تقسیم دي لفظی او تقریری ته .

**ولما کان التقدیري:** سره دریم غرض ذکر کوی چی دفع داعتراض ده. **اعتراض:** اعراب لفظی اصل دي په نسبت سره اعراب تقدیري ته پکار ده چی اعراب لفظی ئی مقدم کړي وی په اعراب تقدیري باندي سره ددینه چی ده روسته ذکر کړی دي ؟ **جواب:** خبره دي صحیح ده خو دتقدیري اقسام کم دي دوه دي یو فیما تعذر او دویم استثقل دي او اقل مقدم وي په اکثر باندي، او دویم جواب دادي چی زمونږ مراد اختصار دي او اختصار په دي کښی وو چی اول تقدیري ذکر کړو بیا لفظی .

**التقدیري اي تقدیري الاعراب:** سره اول غرض تعین د الف لام، دویم غرض دفع داعتراضینو، دریم په شارح هندی . اول غرض اوشو چی الف لام عهدی دي معهود په دي سره تقدیري اعراب دي او یا الف لام عوض دي مضاف الیه نه چی تقدیر الاعراب الاعراب مضاف الیه حذف شو او الف شو او الف لام ئی په تقدیر کښی په عوض کښی راوړلی شو، دویم غرض دفع داعتراضو ده : **اول اعتراض:** زمونږه خبره شروع وه په اعراب کښی او ته تقدیراتو ته لاړي نو ده **جواب:** او کړو چی زه مقدرات نه بیانوم بلکه تقدیر داعراب بیانوم، **دویم اعتراض:** ته وائی چی تقدیر دا متعذر دي نو په (واسئل القریة) کښی اهل مقدر دي متعذر خو نه دی؟ **جواب:** دلته تقدیر ندي متعذر بلکه اعراب متعذر دي، دریم غرض ، شارح هندی رحمه الله وائی چی دلته عبارت په حذف د موصوف سره دي اصل کښی عبارت داسی دي: الاعراب التقدیري خو ماتن په رد وکړو چی تقدیر دا په حذف دمضاف سره دي چي تقدیر الاعراب ځکه چی په حذف دموصوف

Maktaba Tul Ishaat. com



سره عبارت شي نو حذف کثیره راځي یو به موصوف حذف شي اوبل به دا التقدیري نه یاء نسبتي حذفه شي او تقلیل د حذف اولی وی د کثرت دحذف نه .

**فیما ای فی الاسم المعرب:** اول غرض تعین د (ما) دویم دفع داعتراض ، اول غرض خو اوشو چې مراد د (ما) نه (ما) موصوله ده دویم غرض دفع داعتراض ده، **اعتراض:** ته وائی چې اعراب به تقدیري وی په هغه ځائی کښې چې اعراب متعذر وی نو مبنی کښې خو هم متعذر وی پکار ده چې ټولو مبنیاتو کښې اعراب تقدیري شی نو ده جواب اوکړو چې مراد د (ما) نه اسم معر ب دي نه اسم مبنی یعنی اعتراض داسې واردیږی چې تعریف دي مانع نه شو دخول دغیر نه داخل شو پکښې مبنیات ځکه هلته هم اعراب متعذر دی نو جواب هم دغه وو .

**تعذرالاعراب فیه:** اول غرض دفع داعتراض : دویم دفع داعتراض ، دریم بیان دیوي قاعدي : اول اعتراض : چې ما موصوله شوه نو تعذر کښې ضمیر ما ته راجع دي او که اعراب ته . که (ما) ته راجع وی نو فساد دمعنې راځي نو معنی داشوه چې اعراب به تقدیري په هغه اسم معرب کښې وي چې تعذر وی پکښې دمعرب، او که ضمیر اعراب ته راجع کوی نو معنی خو صحیح شوه خو لیکن تعذر دا جمله صله واقع شوي او کله چې جمله صله واقع شی نو هغی کښې عائد ضروري دي نو صله بلا عائده اوګرځیده . جواب : اوشو چې اعراب ته راجع دي خو وقد یحذف العائد .

**ای امتنع:** سره دویم غرض ذکر کوی چې دفع داعتراض ده خو داعتراض اوله طریقه داده چې ملا صاحب ، اعراب تقدیري به هله وی چې اعراب متعذر وی نو مبنی ئی اوګرځوه معرب کولو ته ئی بیا څه ضرورت دي چې بیا پکښې اعراب تقدیري ګرځوی نو ده جواب : ورکړو چې ظهور ئی نشو کولی مبنی ځکه نشو ګرځولی ځکه هغې کښې دسره اعراب نه وی دلته شته خوظهور ئی ممتنع دي، دویمه طریقه داعتراض : دتعذر او داستثقل خو یوه معنی ده چې مانع وی دظهور نه او داستثقال معنی ده چې ظهور ئی کیدي شی خو ثقل په لسان راولی .

**وذالک اذا لم یکن الحرف الذی:** دا دریم غرض دي چې بیان د قاعدي دي، دا تقدیر داعراب به په هغه صورت کښې وی چې هغه حرف چې هغه محل داعراب وی چې هغه

Maktaba Tul Ishaat. com



قابل د حرکت اعرابیه نه وی لکه هغه اسم مقصوره چی آخر کښی ئی الف مقصوره وی او معرب با لحرکت وی اوس برابره خبره ده چی دغه الف ئی په لفظ کښی ذکر وی لکه العصاء او که حذف شوي په التقاء د ساکنینو سره لکه عصاء کښی تنوین او الف دواړه ساکن دي نو الف حذف شو او همدارنګه هغه اسم معرب بالحرکت چی مضاف وی یاء دمتکلم ته لکه غلامی

**فان الالف غیر قابل:** سره یو غرض اتمام ددلیل او دویم غرض قاعده کلیه ذکر کوی دپاره دغلامی اول غرض دا چی الف قابل د حرکت نه دي په اسم مقصوره کښی په صورتینو کښی ، وکما فی الاسم المعرب سره دویم غرض هم اوشو چی متن آتی دي ،

**نحو غلامی فانه:** سره یو غرض دلیل ، دویم غرض رد ذکر کوی، فانه سره اول غرض: د غلامی اعراب به تقدیري وی ځکه چی ماقبل دیاء نه مشغول دي په کسری سره مناسبت دیاء دوجی نه مخکښی د دخول دعامل نه اوس دعامل ددخول نه بعد پری بل حرکت هم نشی راتلی موافق وي دحرکت دیاء سره او که مخالف وي موافق خو ځکه نشی راتلی چی لازم به شی توارد د علتینو په معلول واحده باندي یو دا معلول دي او یو علت هغه کسره او بل به عامل شی او مخالف حرکت هم نشی راتلی ، ځکه لازم به شی وجود دعلت بغیر دمعلول نه علت به وی چی یاء ده او معلول به کسره د ماقبل دیاء نه وی

**اعتراض:** مخکښی سبق کښی تاوئیل چی الف هم علامه دتثنیه او هم علامه داعراب ده دلته به دي هم داسي کړي وی کسره به دي هم علامه داعرب او هم علامه دیاء کړي وه ؟ **جواب:** دا مونږه نه شو کولای ځکه په تثنیه کښی چی الف علامه دتثنیه وه خو علامه حقیقیه وه او مونږه چی علامه درفع ګرځولی وه نو هغه علامه اصطلاحیه وه، یوه علامه حقیقیه ده او بله اصطلاحیه لکه جاءنی زید دلته عامل حقیقي متکلم دي او عامل اصطلاحی هغه جاءنی دي نو دلته یوه رفعه ده او اثر دعامل حقیقی. او اصطلاحی دواړو اوګرځیده نو عامل اصطلاحی او حقیقی جمع په یو معمول کښی راتلی شی، او غلامی کښی یاء هم عامل اصطلاحی دي او که عامل پري مونږ داخل کړو نو هغه هم عامل اصطلاحی دي نو لازم به شی توارد د علتینو متساوینو په معلول واحده باندي.

Maktaba Tul Ishaat. com



**فما ذهب اليه بعض:** سره دويم غرض ذكر كوى چى رد دي په بعضو، بعضى وائى چى په غلامى كښى په حالت جري كښى اعراب لفظى دي او توارد وائى نه لازميږي ځكه دا جر معلول دياء دپاره مخكښى ، او اوس دا معلول اوګرځيده، دپاره دعامل يا دعلت، خو دا چى څوك وائى نو قياس كوى په تثنيه باندي، ددي جواب اوشو مخكښى چى عامل په دوه قسمه دي عامل اصطلاحى او حقيقى ، **مطلقاً:** يو غرض حال د متن ، دويم معنى دمطلقاً ، دريم بيا رد په بعضو : اول : غرض مطلقاً دا ځكه منصوب دي چى دا حال دي دغلامى نه، او غلامى معنىً مفعول دي دتعذر دپاره تعذر فعل الاعراب فاعل كعصاء وغلامى كاف په معنى دمثل سره، دريم غرض په غير مختص بعضها سره په بعضو رد اوشو چى ټولواحوالو كښى تقديرى وى،

**او استثقل عطف على تعذر:** اول غرض تعين دمعطوف عليه، دويم بيان دقاعدي دعطف غرض استثقل دا عطف دي په تعذر باندي، دويم غرض بيان دقاعدي د عطف : تقدير داسي دي چى تقدير الاعراب فيما تعذر او فى الاسم الذي استثقل ظهور الاعراب استثقل صله، موصول سره دصلى نه مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره چى كائنٌ دي خبر دمبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه، التقدير كائن فيما استثقل ، او دي سره دفع داعتراض هم اوشوه ، **اعتراض:** زه به درته اوښايم يو لفظ به وي په لسان باندي به ثقيل وى او اعراب به ئى تقديري نه وى لكه : قبر حرب بمكان قفر، وليس بقرب قبر حرب قبر، نو ده **جواب** اوكړو چى ظهور داعرب به پري ثقيل وى او تا چى كوم مثال ذكر كړي دي ددي خو الفاظ ثقيل دي په لسان باندي.

**وذالك اذا كان محل الاعراب الخ...** دلته دريم غرض ذكر كوى چى بيان دقاعدي كليه دي، مصنف رحمۃ اللہ علیہ صرف كقاض مثال وركړي نو ده قاعده ذكر كړه چى اعراب به تقديري وى چى كوم ځائى كښى محل داعراب قابل دحركت اعرابيه وى ليكن ظهور ئى په ژبه باندي ثقيل وى، لكه دهغى دجملى نه هر هغه اسم دي چى په آخر كښى ياء ماقبل مكسور وى، برابره خبره ده چى داياد وجى دالتقاء ساكنينو نه محذوفه وى لكه قاض چى په اصل كښى قاضىٌ وو ضمه په ياء ثقيله وه نو هغه ئى اوغورځوله نو اجتماع دساكنينو راغله په مابين دياء او تنوين كښى نو ياء ئى حذفه كړه، او يا به دا ياء نه وى

Maktaba Tul Ishaat. com



حذفه لكه القاضي په تعذر باندي اعتراض : خارجي **اعتراض:** تعذر ئي فعل معلوم راوړو او استثقل ئي فعل مجهول لما ذا ؟**جواب:** تعذر فعل لازمي دي نو ددي وجي نه ئي معلوم راوړو او استثقل متعدى دي، نو ددي وجي نه ئي هغه مجهول راوړو.

**رفعاً وجراً اى فى حالتى الرفع والجر:** يو غرض وجه دنصب ،دويم فائده دتخصيص ، دريم دليل فى حالتى الرفع والجر سره وجه دنصب معلومه شوه چي رفعاً جراً دا منصوب دي بنابر ظرف زمان **لا فى حالة النصب:** سره ددويم غرض اوشو چي فائده دتخصيص ده چي په حالت د نصب كښي به داسي نه وى **لاستثقال الضمة والكسرة على الياء:** سره دريم غرض اوشو چي ځكه به په حالت رفعي او جري كښي اعراب تقديري وى چي ضمه او كسره په ياء ثقيله ده دون الفتحة:

**ونحو مسلمى عطف على قوله كقاض:** اول غرض په دي كښ دفع داعتراض، دويم رد په شارح هندى رحمة الله عليه ، او دا دواړه اغراض په دي يو لفظ كښي چي عطف على قوله كقاض سره شوي دي، دويم غرض **اعتراض:** ونحو مسلمى عطف دي په قاضى باندي نو د كاف لاندى دا هم شو نو كاف هم د تشبيه دپاره دي او نحو هم دتشبيه دپاره دي نو يو مستدرك دي، جواب اوشو چي داعطف كړه په كقاض نه په قاض نو د كاف لاندي رانغلو، او شارح هندى، ددي اعتراض نه **جواب** : داسي كړي دي چي عطف دي قاض باندي خو نحو ئي ددي دپاره راوړي چي دا قاعده خاص نه ده په مسلمى پوري بلكه په مثل دمسلمى كښي هم راتلى شي نو دۀ پري رد اوكړو، ځكه چي دا خبره خو مخكښي هم معلومه شوي ده چي وذالك اذا كان محل الاعراب الخ... يعني دا قاعده عامه ده، بخلاف تقدير الاعراب فائده ذكر كوى، يا جواب داعتراض نه ذكر كوى، اعتراض : دادي چي دا عطف دي په قاض باندي نو دنحو نه به خلاص شي، جواب دي وائى چي زه ترينه ځان نه خلاصوم ځكه دثقل دوجى نه چي كوم تقدير راغلى دي هغه بالحرف او بالحركت دواړه دي نو قاض كښي اعراب بالحركت دي او په مسلمى كښي اعراب بالحركت دي بخلاف دتعذر ځكه هلته صرف اعراب بالحركت دي، اعتراض خارجي: په تعذر كښي به دي هم داسي كړي وى، داسي به دي وئيلي وي چي كعصاء ونحو غلامي، جواب : دا اعتراض دفع شو ځكه هلته اعراب بالحركت دي په دواړو

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې ،ونحو مسلمی باندي دبهر نه

**اعتراض:** عصا دتعذر مثال دي چې محل قابل دحرکت نه دي او قاض مثال د استثقل دي چې محل قابل داعراب دي، نو مولانا صاحب زه تا نه تپوس کووم چې ثقل او تعذر قبل الاعلال وائې او که بعد الاعلال که قبل الاعلال ئې وائې نو عصاً قبل الاعلال عصوٌ نو دلته خو ثقل دي تعذرنشته او که بعد الاعلال ئې وائې نو بعد الاعلال خو په قاض کښې محل ختم شوي دي نودلته هم تعذر اووایه،

**جواب:** زه تعذر او استثقال بعد الاعلال وایم عصاً کښې محل داعراب ختم شو او قاض کښې ثقل ختم دي خو ديوي قاعدي د وجې نه او يو شې چې دوجې ديوي قاعدي نه ختم شي نو هغه کالمذکور وي .

**رفعاً يعني تقدير الاعراب:** اول معنی دمتن، دویم ذلیل ، دریم تعمیم دما فات عن الماتن ذکر کوی: اول غرض تقدیر الاعراب سره وشو چې اعراب به په حالت رفعی کښې تقدیري وی ، دویم غرض نحو مسلمی سره دلیل ذکر کوی اوس دلته دوه دلیله ذکر کوی اول دا چې حالت رفعی کښې اعراب تقدیري ولی دي او دویم دا چې حالت نصبی او جري کښې ولې نه دي ، اول دلیل دادي چې مسلمی په اصل کښې مسلمون ی وو، نون داضافت دوجې نه اوغورځیدو ، اوس مسلموی شو واو یا جمع شو واو ساکن وو په یاء موبدل کړو یاء په یا کښې مدغم شوه، مسلمیُ شو مو مکسور کړو د وجې د مناسبت دیاء نه نو دلته قلب اوشو نو حرف بلکل ختم شو، او دضمې دبدلیدو په کسری سره دویمه وجه داده چې یاء ساکنه ده ماقبل تري مضموم دي دپاره ددي چې واو معاد نه شي، او دویم دلیل دادي چې حالت نصبی او جري کښې صرف یاء په یاء کښې مدغمه شوي ده، نو ځکه اعراب لفظی دي ځکه په ادغام سره شي دخپل حقیقت نه ، نه اوځی .

**وقد يكون الاعراب تقديريا بالحروف فی الاصول الثلث:**

سره دریم غرض ذکر کوي، دي وائې چې کله کله په دریو حالاتو کښې هم اعراب بالحرف تقدیري راتلی شي لکه جاءنی ابو القوم الی آخره .

**واللفظي فيما عداه: ای الاعراب المتلفظ به:** اول معنی داعراب لفظی، داعراب لفظي المتلفظ به ده، **اعتراض:** په اعراب تقدیري هم مونږ تلفظ اوکړو؟ **جواب:** مراد دتلفظ نه

Maktaba Tul Ishaat. com



مصطلح تلفظ دي يا مصطلح لفظی دي چی اعراب باندی تلفظ اوکړي

**فیما عداه:** (۱) تعین دضمیر(ه) چی چاته راجع دي او غرض پکښی دفع داعتراض وه نو ده جواب اوکړو چی ضمیر د ما ذکرنا ته راجع دي دویم غرض تعین د ماذکرنا ، هغه هم اوشو چي ماذکرنا هغه تعذر اواستثقال دي. **ولما ذکر فی تفصیل المعرب:** یو غرض تذکیر دماسبق، دویم توطیه او تمهید دماسیاتی دپاره، دریم دفع داعتراض ده، اول غرض اوشو چی مخکښی منصرف او غیر منصرف ذکروو، او دویم غرض هم اوشو چی وروسته غیرمنصرف بحث شروع کیږي ،

**وکان غیر المنصرف:** سره غرض دفع داعتراض ده، **اعتراض:** پکار داوه چی منصرف دي مخکښی کړي وي په غیر منصرف باندي، د دوو وجوهونه، اول دا چی اجمال کښی منصرف مقدم وواودویم دا چی منصرف اصل دي په نسبت سره غیر منصرف ته ځکه په منصرف باندي په ټولو حالاتو کښی اعراب جاري کیږي ؟**جواب:** غیرمنصرف دا اقل دي ځکه دا مشروط بشرائط دي او کوم شی چی مشروط بشرایط وي نو هغه اقل وجوداً وي ، او دویمه وجه دا ده چی معرفت دمنصرف دا پیژندل کیږي په غیر منصرف باندي،لکه په اعراب لفظ او تقدیري کښی ئی چی څرنګه کړي وو ، علی قیاس الاعراب اللفظی والتقدیري باندي **اعتراض:** په اعراب تقدیري کښی دا وئیلی وو چی التقدیر فیما تعذر الی آخره واللفظی فیما عداه، نو دلته به دهم تعریف دغیر منصرف کړي وي او بیا به دي وئیلی وي چی والمنصرف ما عداه ؟ **جواب:** منصرف دا فرد دي دافرادو دغیر منصرف ته او اعراب لفظی دافرادو نه وو ، اعراب تقدیري نه نو ځکه موهلته داسي اووئیل او دلته نه .

# غیر المنصرف

پدي سره اعتراض واردیږي : **اعتراض:** غیر المنصرف مبتدا ده ما موصوفه فیه علتان دا ورله صفت موصوف سره دصفت نه دا خبر دمبتدا دي،او مبتدامعرفه وي او دلته نکره دي. ځکه اضافت دغیر سره هم دا معرفه نه ګرځی ، ځکه غیر متوغل فی الابهام دي نو منصرف ده ته په اضافت سره معرفه نه ګرځی ؟ **جواب:** دا خبره دي صحیح ده چي (دغیر) دتوهم فی الابهام دوجه نه معرفه نه ګرځی ، خو دا هله چی مضاف الیه

Maktaba Tul Ishaat. com



دغير دپاره اضداد كثيره وى او دلته ضد واحد دي منصرف ضد غير منصرف دي فقط نو معرفه گرځى ، لكه عرب وائى چى عليك باالحركة غير السكون دي نو دلته الحركة دا موصوف دي او غير السكون دا ورلره صفت دي، او دلته هم غير مضاف دي سكون ته نو دغير دمضاف اليه چى سكون دي، دي دپاره ضد واحد دي چى حركة دي نو صفت هم معرفه اوگرځيدو، اومثل هم پشان دغير دي لكه جاءنى مثلك دلته دمثل نه مثل مشهور مراد دي.

**ما اى اسم معرب**: اول غرض دما او روسته عبارت سره غرض دفع داعتراضات ثلثه وو، اول غرض اوشو چى ما موصوفه ده، **اول اعتراض** : ته وائى چى غير منصرف دا هغه دي چي فيه علتان زه به درته اوښايم چى دوه علته به پکښى وى او غير منصرف به نه وي. لكه ضربت يو پكښى تانيث بل وزن فعل يا وصفيت دي. ؟ **جواب**: اى اسم سره اوشو چي مراد د(ما) نه اسم دي او ضربت خو فعل دي، دويم **اعتراض** : غيرالمنصرف مبتدا ما موصوله او فيه علتان ورلره صله موصول صله دا خبر دي نو مبتدا او خبر دواړه معرفه شو او چى مبتدا او خبرمعرفه وى نو ضمير پكار دي؟ **جواب**: دلته ما موصوله نه ده، بلكه موصوفه ده او ما موصوفه نكره وى نو خبر نكره شو، دريم **اعتراض**: تاوئيل چى غير المنصرف ما فيه علتان زه به درته اوښايم چى دوه علته به پكښى وى او غير منصرف به نه وي لكه حضار او تمار؟ **جواب**: دوه سببه به وي خو معرب كښى او حضار او تمار خومبنى دي.

**فيه علتان توثران**: سره دفع داعتراض ده. **اعتراض**: زه به درته اوښايم علتين به پكښى وي او حكم به ئى دغير منصرف نه وى لكه قائمةٌ تنوين پري راغلى او سره ددينه چى وصفيت او تانيث پكښى دي.؟ **جواب**: دوه سببه به وي خو مؤثر به وي او دلته مؤثر نه دى.

**باجتماعهما واستجماع شرائطهما فيه**: سره دفع د دويم اعتراض : **اعتراض**: دوه سببه به پكښي وى او موثر به هم وي اوسره ددينه حكم به ئى دغير منصرف نه وي لكه نوح كښى علميت او عجمه شته او تنوين پري راغلى دي؟ **جواب**: سببين موثرين به وي خو سره د شرائطو نه او په نوح كښى تحرك الاوسط او زيادة على الثلاثة دا دواړه شرطه نه

Maktaba Tul Ishaat. com



دي موجود .

**اثرأسيجئ ذكره:** سره غرض دفع د دريم اعتراض ده ، **اعتراض:** قائمة كښي څو سببينو اثر كړي دي، مخكښي ئې په ډيرو اطلاق كيدلو او چې علم ئې اوګرځوي نو اوس ئې په ډيرو اطلاق نه كيږي؟ **جواب:** مراد داثر نه عام اثر نه دي، بلكه خاص اثر دي چې ان لاكسرة ولاتنوين.

**دله نه اعتراض:** مولانا صاحب كه هر يو سبب علت وي دپاره د ان لاكسرة ولا تنوين ، نو لازم شو ځوارد دعلتينو مستقلينو په معلول واحده باندي چې هغه ان لا كسرة الخ ...دي او كه هر يو علت نه وي نو بيا ورته علتان ولې وائي؟ **جواب:** مراد دعلت نه علت حقيقي نه دي بلكه مراد امرمناسب دي لپاره دحصول دبل امر مناسب چې ان لا كسرة الخ... او امور مناسبه ۇ كښي كثرت راتلي شي، ياد چې مراد كښي علت حقيقي نه دي بلكه مراد دهغه علت اصطلاحي دي او علل اصطلاحي كښي هر واحد نه دي بلكه سببين دواړه علت دي دپاره دان لاكسرة الخ ..

**من علل تسع او علة واحدة منها اى من تلك:** شارح دتسع نه مخكښي علل راوښكلو، اول غرض داچې تسع صفت دي موصوف غواړي چې علل دي،نو عبارت په حذف دموصوف سره شو ، دويم رد په شارح هندي هغه وائي چې دلته عبارت په حذف د مضاف اليه سره دي، چې من تسع علة، اوس دا رد ولې كوي ځكه مقصد د دواړو يو دي، دا ځكه كوي چې وروستو راځي او واحدة منها مونږ تقدير كوو، چې علة واحدة شارح هندي وائي او واحدة علة نو واحد مضاف او علت مضاف اليه او مضاف اليه حقيقت كښي تميز دي او تميز واحد لره نه راځي . **منها اى من تلك التسع:** ها ضمير تسع ته راجع دي، **تقوم:** تقوم كښي ضمير چاته راجع دي علت واحده ته راجع دي،اول غرض تعين دضمير ، دويم دفع داعتراض ، دريم ضمير راجع دي مقام هاتين العلتين ته ،**اعتراض:** يو علت څرنګه قائمقام د دوه ګرځوي، **جواب:** مراد دقيام في الذات نه دي بلكه مراد قيام في الاثر دي او اثر ان لاكسرة دي ، وهي

**اى العلل التسع:** اول غرض بيان دمرجع، دويم دفع د اعتراض، اول غرض ضمير راجع دي علل تسعه ، ته مجموع في هذين سره. **اعتراض:** هي واحد دي او عدل وصف

Maktaba Tul Ishaat. com



وتانيث دا خبر دي لازم شو حمل دمتعدد په مفرد باندى؟ **جواب:** دلته عطف مقدم دي په ربط باندي.

**وذلك المجموع شعر، والعدول فى عطف: سره اعتراض** بعض اسباب عطف دي په واو سره او بعض په ثم سره څه نکته ده په دي کښې؟ **جواب:** صرف رعايت دوزن شوي دي، فقوله زائده: اول وجه دنصب د زائده، دويم دفع داعتراض، دريم، تعميم د ترکيب، څلورم اختلاف په علل کښې ذکر کوي،

**اول غرض:** زائده منصوب دي ځکه حال دي دنون نه حال دفاعل يا دمفعول نه وي، اونون څه شى دي، ؟ **جواب:** دا نون معنى فاعل دي، اصل عبارت داسي دي چې وتمنع نون الصرف او زائده حال شو، دنون نه چې فاعل دي او دنون فعل د اول بيت نه معلوميږي، چې موانع الصرف چې دا اسباب موانع دي.

**اذا المعنى:** سره دويم غرض چې دفع داعتراض ده، **اعتراض:** چې حال خو ياد فاعل او يادمفعول نه وي نو نون څه شى دي؟ **جواب:** نون معنى دفاعل دي. **اعتراض من الخارج:** دا اول عطف دمفرداتو دي، ثم جمع ثم ترکيب او دلته دي جمله راويستله چې وتمنع نون الصرف نو دا خو عطف د جملى راغلو په مفردباندي او وروستو هم بيا مفردات دي نو شعر خراب شو، **جواب:** دا فعل لفظى نه دي بلکه معنوى دي، دصحت د نصب دپاره مو راويستلى دي،

**وقوله الف:** سره دريم غرض چې تعميم دترکيب دي، الف فاعل دي دظرف من قبلها په اعتبار دمتعلق سره چې ثبت من قبلها الف او مبتدا، الف مبتدا موخره او من قبلها خبر مقدم په اعتبار دمتعلق سره چې الف ثابت. **ولا يخفى:** سره څلورم غرض ذکر کوى، چې رد دي په دي ترکيب باندي، والنون زائدةً من قبلها الف، په حال دنون کښې چې نون به زائد وى او مخکښې به وي اوس معلومات نشته چې الف به هم زائد وي او که نه، سره ددينه چې دلته الف نون زائد.تان وائى.

**ولوجعل الالف:** سره پنځم غرض چې خپل ترکيب دي ذکر کوى، دي وائى دا الف فاعل دي، دپاره دزائدةً او داظرف من قبلها متعلق دي، زائدةً پوري شعر داسي شو چې والنون زائدةً الف چې الف به زائد، وى الف فاعل دزائدةً شو او من قبلها جار مجرور

Maktaba Tul Ishaat. com



متعلق شو زائدةً پوري،

**واريدبزيادةً**: سره غرض شپږمه خبره ذکر کوي چې دفع داعتراض ده. **اعتراض**: هلکه ستا دتوجيه نه زيادت دالف معلوم شو، ځکه نون چې زائد به وي الف او من قبلها به متعلق شي زائدةً پوري نو دنون چې زائده به وي او که نه؟ **جواب**: اريد به سره چې زما ترکيب بناء دي، په يوي قاعدي باندي چې يو اسم مشتقي راشي خو صفت دمذکور نه وي او وروستو تري ظرف راشي، وريسې فاعل وي، ددغه مشتقي قاعده داده چې دغه فاعل دمشتقي او ددي مشتقي نه مخکښې بل اسم دا دواړه شريك وي، په دغه مشتقي کښې لکه جاءزيد راکباً من قبله اخوه راکباً مشتقي دي، خو صفت دمذکور نه دي، راکباً صفت داخ دي او اخ فاعل دي دراکباً نو دا فاعل او مخکښې دمشتقي نه هغه اسم دا به دواړه شريك وي مشتقي کښې،دلته قاعده داده چې دا فاعل اخره او راکباً نه مخکښې اسم دا دواړه به شريك وي په رکوب کښې فرق چې دادي شي چې واو ئې مخکښې وو، او زيد وريسې وو، اوس نونٌ زايدةٌ نو زائدة مشتقي او من قبلها جار مجرور ظرف، الف فاعل دي نو دا فاعل او مخکښې اسم چې نون دي دا دواړه به شريك وي مشتقي کښې چې زائدة دي، خو فرق دومره دي چې الف به مخکښې وي زيادت کښې او نون به وريسې وي، دلته يو بل ترکيب شارح هندي رحمه الله کړي دي، هغه وائې دا زائدةً دي او صفت دنونٌ دي، نو اعتراض وارد شو چې والنون معرفه ده او زائدةٍ دا صفت نکره دي، نو څنګه نکره صفت دمعرفه واقع شو.

**جواب**: شارح هندي رحمه الله وائي چې النون کښې الف لام زائد دي، نو دواړه نکره شو، نو نکره صفت دنکري شو خو دا ضعيف دي اول وجه داده چې الف لام وضع دي دپاره دتعريف او ته ئې زائد کوې، دويم دا چې زائد شي نو اثر به ئې بيا هم لفظ کښې پاتې وي، دريم کوم نقصان چې اول ترکيب کښې وو، هغه دلته هم راغلو، ځکه موصوف صفت خو کلام نه وي، او زيادت دالف نه معلوميږي ، نو په ضمن کښې پري ده رد اوکړو.

**وقوله هذاالقول تقريب**: سره اووم غرض ذکر کوي، چې معنى ده، اول تقريب، نزدي والي راولي يادولو ته ځکه نظم اسهل وي په حفظ کښې په نسبت سره نثر ته.

Maktaba Tul Ishaat. com



**اوالقول** : **سره اعتراض**: زه تپوس کووم که دا یو علت وي نو پکار ده چي یو علت موجود شي نوبیا دي ان لاکسرة ولاتنوین وی او که دوه دوه علته وی نو څلور علته شو، **جواب**: کوم چي تقریب په مجاز سره دي، یعنی هریوته علت وئیل مجازاً دي.

**اوالقول** : سره دریمه معنی چي تقریب په معنی دصواب سره هلکه صحیح داده نو غیر صحیح به هم وي څه، څوك وائی علته دوه دي، اول ترکیب ، دویم حکایت، داقول ضعیف دي، چي ته وائی چي دا دوه په ټولو کښی موجود یږي نو بیا خو ترکیب ټولو کښی موجود یږي ، نو صرف ترکیب واخله حکایت پریږده، دویم بعضی وائی چي یوولس دي نهه دادي ، اول اویو هغه الف چي مشابه وی دالفین دتانیث سره لکه ارطی او جبلی دویم وصف اصلی معتبر کول پس د زوال نه لکه احمر کښي د سیبویه په نزد، دریم نهه دي او دا صواب دي څکه خیر الامور اوسطها ،

**ثم انه ذکر**: اول توطیه او تمهید متن ته، دویم اشاره نقطی ته، راوړلو دمثالونو لره دوه طریقی دي، اول طریقه لف نشر مرتب، دویم لف نشر غیر مرتب، دلته لف نشر مرتب دي، په دي کښی دوه مذهبه دي، اول لف نشر مرتب اولی دي، څکه دي کښی به مطابقت وی د اجمال او دتفصیل او دمثال او دممثل دویم لف نشر غیرمرتب اولی دي چی مثال دممثل سره نزدي شی. **مثل عمر** : دا خو مثال دعدل نه دي بلکه دغیر منصرف دي، **جواب** : دامثال دغیر منصرف نه دي خو چی غیر منصرف شوي دي له وجی داعتبار دعدل نه، **وفی ایراد زینب** : **سره اعتراض**: مثال وي دپاره دتوضیح دممثل او تا دلته تانیث لپاره دوه مثالونه راوړی؟

**جواب** : چونکه دتانیث دوه قسمونه دي، لفظی او معنوی، طلحة دلفظ مثال دي اوزینب د معنوی دفع د توهم، قاعده: تانیث لفظ اسناد دفعل کښی معتبر نه دي طلحة دیو کس نوم کړه او مونث لفظ دي او ته وائی جاءطلحة سره ددینه دطلحة فعل مذکر راوړي نو اسناد دفعل کښی تانیث دفعل لره اعتبار نشته دي نو چا به توهم کولو چي غیرمنصرف کښی به هم تانیث لفظی معتبر نه وی نو ده وئیل چی معتبر دي، څکه ئی دامثال راوړو.

Maktaba Tul Ishaat. com



## د غیر منصرف حکم

**وحکمه ان لا کسرة ولا تنوین** : اعتراض دبهر نه. بناء دمتونو په اختصار ده، داخبره دغیر منصرف په اعراب کښې معلومه شویده چې بالضمة والفتحة نو معلومه وه چې کسرة پرې نه راځي، نوبیا ولې ان لاکسرة وائې دلته به دې وئیلې چې ولا یجوز علیه تنوین؟ **جواب** : دا حکم دغیر منصرف وو او حکم باندې تصریح پکار ده، داضمناً وئیل نه دي پکار، دویم بعضې خلقو وئیلي وو چې په غیر منصرف کسرة نه راځي او تنوین تابع دکسرې دي نوهغه به هم نه راځي نو دي وائې چې تابع تابع نشته اصالةً دواړه نه راځي. دریم دا چې مصنف تصریح اوکړه ځکه بعضو خلقو دا تعریف دغیر منصرف کرځولې وو نو مصنف وئیل چې تعریف دغیر مصنرف مافیه علتان دي او دائې حکم دي.

**ای حکم غیر المنصرف الخ**... اول تعین دضمیر غرض پکښې دفع داعتراض، دویم دمعنی دحکم، دریم دفع داعتراض، اول دحکم ضمیر غیر منصرف ته راجع دی، اعتراض دا ان لا کسرة ولاتنوین معلول دي او سببین ورلره علت دي دمعلوم اضافت کیږي علت ته نو داسي وئیل پکار وو چې وحکمها او تا اضافت غیر منصرف ته اوکړو؟ **جواب** : چونکه دا ان لاکسرة الخ. دا چې په چا نه راځي نو دا په غیر منصرف نه راځي نو ځکه ئې ده ته اضافت اوکړو نو اضافت دلته دادنی ملابست دوجې نه دي.

**والاثر المرتب علیه** : سره دویم غرض ذکر کوی، دحکم خوډیري معنی دي ستا کومه معنی مراد ده، چې اثر مرتبه دي په غیر منصرف . **من حیث اشتماله**: سره غرض دفع داعتراض، دغیرمنصرف خو نور احکام هم دي چې رفع نصب وغیره نو ته ځنګه وائې چې ان لاکسرة ولاتنوین. **جواب** :دا حکم ئې ځکه دي چې دا مشتمل دي په علتین باندې او رفع ئې بناء برفاعلیت او نصب ئې بناء برمفعولیت ، **فیه**: سره دفع داعتراض. کسره به نه وي په دنیا کښې ؟، **جواب** : غیر منصرف کښې به نه وي.

**وذالک لان لکل** : وجه ده نه راتلو د کسرې اودتنوین مخکښې یوه قاعده ده چې اصل په اسماء کښې اعراب دي، او اصل په افعالو کښې بناء او عمل دي، اوس خواص داسم جراو تنوین وغیره دي، نو اوس اسم چې عمل کوی نو دا به دوجې دمشابهت

Maktaba Tul Ishaat. com



دفعل نه کوی، نو دامشابهت په دري قسمه دي، که مشاهبت تمام دمعنی کښې وو. یعنی اسم فعل سره مشابه وو تمام دمعنی کښې لکه اسماء افعال شو. نو دلته یارانه پخه شوه نو فعل خپل دواړه خواص اسم ته ورکړل، چې بناء ده او عمل دي، او که دا مشابهت ترتیب دحروف اصلي وو کښې وو لکه اسم فاعل او اسم مفعول نو فعل ورلره یوه خاصه ورکوی چې عمل دي، او که مشابهت داسم دفعل سره په جزء د معنی کښې وو یعنی مشابهت بعیده یعنی اسم کښې دوه سببه راغلل نو فعل کښې هم دوه سببه دي، اول احتیاج الی الفاعل، دویم اشتقاق من المصدر. نو دامشابهت بعیده دي، نو عام اسم ددي خاص اسم چې غیرمنصرف دي، ترینه خفه شو، چې زما دشمن سره دي دوستانه او کړه، نو کسره او تنوین ئی ترینه منع کړو مونږه ووئیل چې فعل کښې دوه سببه دي، اول احتیاج الی الفاعل او دویم اشتقاق من المصدر، او کوفیان وائی مصدر مشتق دي دفعل نه، نوبیا اشتقاقه من المصدر رانغلو نویوعلت پاتی شو؟ **جواب**: بل علت هم شته چې اصل په فعل کښې اعلال وي او اعلال بیماري ته وائی، نوپکښې بل علت راغلو.

## د اسبابو د منع حرف بیان

**ویجوزای لا یمتنع**: هر کله چې فارغ شو مصنف داسبابو دغیر منصرف نه اجمالاً نوشروع ئی او کړه په اسبابو دمنصرف کښې دغیر منصرف نهه اسباب وو. او دمنصرف پنځه اسباب دي، اول ضرورت شعري، دویم تناسب، دریم العلم اذا نکر صرف، (۴- ۵) وجمیع الباب بااللام او باالاضافة ینجر بالکسر، ای لا یمتنع سره معنی دجوازځه ده ای لا یمتنع منصرف کیدل به ممتنع نه وی بیا که ضروري وی او که غیر ضروري نو اعتراض وارد شو، چې جواز مرادف دي امکان سره او امکان په دوه قسمه وي اول خاص، دویم عام، دلته به امکان خاص مراد وی چې هغه سلب دضرورت من الجانبین دي یعنی نه به منصرف والی ضروري وی او نه به غیر منصرف والی، سره ددینه چې ضرورت شعري کښې منصرف والی ضروري وی؟

**جواب**: جواز مرادف دامکان دي خو امکان په دوه قسمه دي، خاص، عام او مراد دلته عام دي، چې هغه سلب دضرورت دواړو سره جمع کیدي شی، لکه الله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat. com



موجود با الامکان العام دلته حکم په موجود اوشو. چې مقابل ئې عدم دي او امکان عام کښې خو سلب دضرورت دجانب مقابل دحکم نه راغلی وی، یعنی عدم دالله ﷻ ضروری نه دي دلته دا امکان عام جمع شو د واجب سره.

بل مثال چې امکان عام جمع شوي وی، د ممتنع سره. لکه اجتماع دنقیضینو دا غیر موجوده ده. باالامکان العام. خکه حکم په غیر موجود اوشومقابل ئې موجود دي او امکان عام کښې سلب دضرورت دجانب مقابل وی. نو نقیضین داجتماع وجود ضروري نه دي اوس دلته راشه ویجوز صرفه. دلته ئې حکم په صرف باندي اوکړو. نو مقابل عدم صرف یعنی غیر منصرف والی ددي ضروري نه دي نو دده دوه فرده شو. یو دا چې منصرف والی ئې ضروري نه وی نو دا تناسب شو. نو دا لایمتنع حاصل دمعنی شو. ده ځان نه دي ستړي کړي، بل مثال دامکان عام لکه لمونځ جائز دي، دا امکان عام دي یعنی جوازضروري دي او مقابل عدم جواز دي چې هغه ضروري نه دي

**صرفه ای جعله** : اول دفع داعتراض . دویم تصریح باالاعتراض، دریم جواب آخر.

**اعتراض** غیر منصرف چاته وائی ما فیه علتان ته وائی نو ته وائی چې دضرورت دوجې نه به منصرف شی نو علتین خو پکښې موجود دي ؟ **جواب** : مراد دادي چې په حکم دمنصرف کښې به ئې اوګرځوی

**لا جعله منصرفا حقیقة** . سره دویم غرض ذکر کوی چې تصریح باالاعتراض ده یعنی حقیقی منصرف ئې نه ګرځوی. خو علتین به ترینه بالکل لري کوی **وقیل المراد** : سره دریم غرض ذکر کوی چې جواب آخر دي، دلته مراد هغه معنی لغوی ده چې تغیر په حکم دغیر منصرف کښې نه معنی اصطلاحی چې منصرف کول دي. نو تقدیر به داسي شی چې ویجوز تغیر حکم غیر المنصرف دا مذهب ئې په قیل سره ذکرکړو د دوو وجوهونه. اول دا چې معتبر په علومو کښې هغه معانی اصطلاحیه وی نه معانی لغویه، او دویم داچې انتشار په ضمایرو کښې راځی ، مخکښې ځایونو کښې ضمیرونه غیر منصرف ته راجع وو. اودلته به حکم ته راجع شی،

**للضرورة** ای لضرورة وزن الشعر ، اول معنی دضرورت. دویم تتمیم دمافات، دریم دلیل ، څلورم مثال ، پنځم تطبیق دمثال دممثل سره، شپږم اعتراض، اووم جواب

Maktaba Tul Ishaat. com



. اتم تتميم دمافات: اول غرض معنى دضرورت داده چې دپاره دوزن شعري، دويم اولرعاية القافية، سره دويم غرض اوشو، قافيه، حرف آخر ته وائي چې موافقت ديو بيت دبل سره په حرف آخر كښې راشي، او په اصطلاح دقرآن كښې ديته رعايت د فاصلې وائي، څكه قافيه خو اشعارو كښې راځي، دريم واذا وقع سره دليل ذكر كوي، دانكسار دري معنى دي، اول كډوالي ته وائي، دويم دا چې شعر ديو بحر نه بل بحر ته وځي، دريم چې كموالي دحروفو ديو بيت دبل بيت دحروفو څخه راشي دلته دا معنى مراد ده، انزحاف تغير في السبب ته وائي، سبب په اصطلاح دعروضو كښې په دوه قسمه دي، اول خفيفه چې اول متحرك ثاني ساكن وي، لكه (هل)، دويم ثقيله چې دواړه متحرك وي، لكه (وتد) داهم په دوه قسمه دي، اول وتد مجموعي چې دوه متحرك ثالث ساكن لكه (على) دويم وتد مفروق، دوه متحركه منځ كښې ساكن لكه كيف.

## تقسيم د سبب په اصطلاح د اهل عروضو كښې

**اما الاول**: سره مثال دانكسار: په شعر كښې مصائب راغلى دا صيغه دمنتهى الجموع ده او دايوسبب قائمقامْ دسببينو دي، نو غيرمنصرف دي او دلته پري تنوين راغلى كه تنوين رانه ولو نو بيا به انكسار راشي، د وروستو نيم بيتى ۲۱ حروف دي او ددي نيم بيتى به بغير دتنوين نه شل شي. **اما الثانى**:مثال دانزحاف: په دي شعر كښې نعمان غير منصرف دي او تنوين پري راغلى،څكه كه چيرته تنوين اونه وايو نو سبب كښې به تغير راشي، (نع) يو سبب دي او (ما) بل سبب دي او (ن) بل سبب دي كه تنوين اونه وايو نو سبب به په يو صرف سره پاتې شي، ۴ او ۵ غرض اوشو، دي مثالونو سره **فان قلت**: سره شپږم غرض، **اعتراض**: احتراز د زحاف نه خو ضروري نه دي نو څنګه دي دضرورت لاندي راوستو، **جواب**: قلنا سره جواب كوي احتراز دبعضى زحافاتو نه چې كله ممكن وى ضروري وى. واماالضرورة الواقعة: سره اتم غرض ذكر كوي چې تتميم دمافات دي، په دي شعر كښې احمد مجرور وئيلى شوي دي كه فتحى سره ئې اووائى نو وزن كښې خو څه خرابى نه راځى، بلكه په قافيه كښې خرابى راځى. چې په ټولو ابياتو كښې دال مكسور دي، نو دلته به مغاير وى **اوللتناسب**: اول اشاره كوي قاعدي ته دعطف، دويم اعراب، دريم دليل، ويجوز غير المنصرف سره اشاره اوشوه ،چې

Maktaba Tul Ishaat. com



للتناسب عطف نه دي په للضرورة باندي نو دويجوز صرفه لاندي راغلو.

**ليحصل التناسب**: سره دويم غرض ذكر كوى چې للتناسب دا مفعول له دي دپاره ديجوز مفعول له په دوه قسمه دي، يو هغه چې مفعول علت وي او دامفعول له په وزن شعري كښې جوړيدو چې اول به ضرورت راغلي وى، بيا به منصرف والى راغلى وى، اويو مفعول له هغه دي چې باعث دفعل وى لكه ضربته تاديباً اوديكښې به اول فعل راځى بيا مفعول له راځى و دا مفعول له په تناسب كښې جوړيږي ، چې اول به منصرف والى راځى اوبيا به تناسب راځى **لان رعاية التناسب**:سره دريم غرض چې دليل دي ذكر كوى، منصرف والى دغير منصرف دتناسب دوجې داجائز دي، ځكه رعايت دتناسب بين الكلمات داامرمهمَ دي عند اللغات اګركه حدضرورت ته نه رسيږي، مهم دا صيغه داسم فاعل ده په معنى دغم كښې اچونكى سره.

**مثل سلاسلاً واغلالاً** : يو غرض تطبيق دمثال د ممثل سره دويم دفع داعتراض: اول غرض : سلا سلا دا غير منصرف دي او سره ددينه چې تنوين پري راغلى خو دا دوجه د اغلالاً نه منصرف ګرځيدلى دي، **واما قوله سلاسلا**: سره دويم غرض دفع داعتراض ده . **اعتراض** : توضيح د ممثل دپاره مثال واحده كافى وو، تا دوه مثاله ولى راوړل؟ **جواب** : دا حقيقت كښې يومثال دي دمنصرف او بل مثال دغير منصرف دي، كوم چې دمنصرف دتناسب دوجې نه منصرف شوي دي.

**ومايقوم مقامهما** : اى العلة الواحدة: اول غرض تعين د(ما) دويم تعين دمرجع دضمير د (هما) دريم دفع اعتراض . څلورم دفع داعتراض. پنځم اشاره اختلاف ته:

اول غرض : (ما) موصوله ده او عبارت ده دعلت نه، دويم غرض ، مقام علتين سره مرجع دهما ذكر شو،چې علتين دي، دريم غرض : دا هم په ضمن ددغه دوو كښې اوشو، اعتراض دا وارديدو چې ما يقوم مقامهما مبتدا ده او الجمع او الفا التانيث ئى خبر دي، اوخبر حمل وى په مبتدا باندي او دلته حمل نه صحيح كيږي . ځكه حمل دخاص راځى په عام او دا نه دي جائز. نو ده جواب اوكړو چې مراد د(ما) نه خاص چې علت دى هغه مراد دي نه عامه اګرچې لفظاً عامه ده

**علتان مكررتان** : سره څلورم غرض ذكر كوى چې دفع داعتراض ده، **اعتراض** : ته

Maktaba Tul Ishaat. com



وائی چی دیکښې سببین راغلل. نو اسم سره ئی یارانه کمه شوه، نو اسم ترینه تنوین او کسره منع کړه اوس چی یو سبب پکښې راغلو نو دفعل سره ئی مشابهت کم شو نو اوس ترینه کسره او تنوین ولی منع کوی ؟ **جواب**: علت خو یو دي لیکن تکرار پکښې راغلو نو دا تکرار سبب ثانی شو.

**لتکرارهما**: سره پنځم غرض چی اختلاف دي. اختلاف په دي کښې دي چی دایو سبب قائمقام دسببینو ولی دي نو دي کښې دري مذهبه دي، اول دمصنف رحمة الله علیه مذهب دادي چی دي کښې تکرار سبب ثانی دي او دا تکرار دا عام دي، حقیقتاً وی او که حکماً ، دحقیقتاً مثال لکه (اَکَالِبُ) جمع د (اَکْلُبْ) ده او اکلب جمع د کَلْبٌ ده او حکماً چی ددي جمعو سره په حروفو اوحرکاتو کښې او سکناتو کښې برابر وی . لکه مساجد ، دویم مذهب دادي چی اصل په اسماء کښې اعراب دي، اوس چی تنوین او کسره پري منع کوی نو ددي دپاره سبب قویه پکار دي او هغه عدم تغیر دي په جمع کښې او عدم تغیر دي په الفینو کښې ، دریم مذهب دادي چی په جمع کښې سبب ثانی هغه عدم تغیر دي او په الفینو دتانیث کښې هغه دادي چی دوي لره مفرد من لفظه نشته دي.

**الجمع البالغ الی صیغة منتهی الجموع**: اول غرض تعین دالف لام، دویم اشاره قول راجح ته، دریم تعمیم، څلورم توطیه دمابعد دپاره. اول غرض: فانه قد تکرر فیه الجمعیة سره ما هو الراجح ته اشاره اوشوه، چی دمصنف رحمة الله علیه کوم مذهب دي نو هغه راجح دي . حقیقتاً او حکماً : سره دریم غرض تعمیم . دا تکرار عام دي حقیقتاً وی لکه اکالب جمع داکلب ده او دا جمع دکلب وه، او که حکماً وی لکه مساجد جمع دمسجد ده تکرار پکښې نشته، خو هغه مکرري جمعی سره په عدد دحروفو حرکاتو او سکناتو کښې مشابه ده. **وثانیتهما التانیث**: سره څلورم غرض توطیه او تمهید ، دي تمهید سره دوه فائدي اوشوي. اوله فائده داده چی الفا التانیث دا مبتدا موخره ده او ثانیتهما دا ورلره خبر مقدم شو. دویم فائده داده چی بعضو خلقو به داتوهم کولو چی سبب به الفین وی، نو دي وائی چی نه سبب هغه تانیث دي په الفینو کښې .

**وهو الفاء التانیث المقصوره والممدوده**: اول تعیم دالفین، دویم دفع اعتراض، مثال

Maktaba Tul Ishaat. com


دلیل ، پنځم دفع اعتراض : اول غرض : الفین هغه مقصوره او ممدوده دي. **ای کل واحدة منهما** : سره دویم غرض ، الفین به مجموعه چی په یوه کلمه کښی راشی نو دا به سبب وی ؟ **جواب** : هریو واحد ځانته ځانته سبب دي ، دریم غرض : کحبلیٰ وحمرآء.

**لانهما لازمتان للکلمة** : څلورم غرض دلیل ځکه چی دا الفین لازم دي د کلمه سره دا نه جدا کیږي، د کلمی نه نو حبلی کښی حبل او حمرآء کښی حمر نشی وئیلی نو ددي لزوم دکلمی سره داتانیث آخر اوګرځیدو. **بخلاف التاء** : سره پنځم غرض ذکر کوی، چی اعتراض دي، **اعتراض** : دیو سړي نوم کیده رحمت نو یو پکښی تانیث اول لزوم دتانیث شو، نو دا غیر منصرف کړه حالانکه داسیی نده؟ **جواب**: د (تا) اصل وضع دلزوم دپاره نه ده شوي، بلکه وضع دپاره دفرق بین المذکر والمؤنث راغلی ده. اوس که دعلمیت دوجی نه ورته لزوم عارض شی نو داقوی نه دي په هغه باندي.

## د فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف ترکیب

**فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف بالضمة رفعاً وبالفتحة نصباً وبالكسرة جراً ترکیب:**

فا تفصلیة ، المفرد موصوف ، المنصرف ئی صفت، موصوف سره دصفت نه معطوف علیه. واو عاطفه الجمع مضاف المکسر مضاف الیه. مضاف سره دمضاف الیه نه موصوف. المنصرف صفت. موصوف سره دصفت نه معطوف علیه . واو عاطفه. الفتحة معطوف معطوف علیه. واو عاطفه. الکسرة معطوف . معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه متعلق شو تر ثابتٌ پوري، ثابت صیغه داسم فاعل ضمیر په کښی فاعل او سره دمتعلق شبه جمله خبر دمبتدا شو. مبتدا او خبر جمله اسمیه. او رفعاً نصباً جراً . دا یا منصوب دي بنابر ظرفیت تقدیر دعبارت دا رنګی دي چی ( اعرب بالضمة حالة الرفع والفتحة حالة النصب والکسرة حالة الجر. اویا منصوب دي بنابر حالیة نو تقدیر دعبارت دا رنګی دي چي فاعراب هذین القسمین حال کونهما مرفوعین بالضمة وحال کونهما منصوبین بالفتحة وحال کونهما مجرورین بالکسرة. اویا منصوب دي بنابر مصدریت یعنی مفعول مطلق واقع دي په حذف دمضاف سره تقدیر دعبارت داسي دي چی اعرب اعراب رفع واعراب نصب و اعراب جر.

Maktaba Tul Ishaat. com



**جمع المؤنث السالم بالضمة والكسرة**: جمع المونث ،مضاف مضاف اليـه موصوف، السالم صفت دا دواړه مبتدا ، با جار، الضمة والكسرة معطوف معطوف عليـه مجرور دجار، جار سره دمجرورنه په اعتبار دمتعلق سره چې ثابتٌ دي داخبر دمبتدا مبتدا او خبرجمله اسميه.

**غير المنصرف بالضمة والفتحة** : غيرالمنصرف مضاف مضاف اليه مبتدا ، باالضمة والفتحة جمله خبر ، مبتداء اوخبر جمله اسميه، ابوك واخوك وحموك وهنوك وفوك وذومال بالواو والالف والياء مضافة الى غير ياء المتكلم، ابوك مضاف مضاف اليه معطوف عليه، واخوك وحموك وهنوك وفوك وذومال داټول معطوف معطوف عليه سره دمعطوف نه مبتداء، با جار الواو معطوف عليه والالف والياء معطوف ، معطوف عليه سره دو معطوف نه مجرور دجار، جار سره د مجرور نه په اعتبار دمتعلق سره ذوالحال، مضافة الى غير ياء المتكلم ورلره اسميه، المثنى وكلا مضافا الى مضمر واثنان واثنتان باالالف والياء جمع المذكر مضاف مضاف اليه موصوف، السالم صفت، موصوف سره دصفت نه معطوف عليه،

والواو معطوف ، وعشرون بل معطوف، واخوتها بل معطوف ، معطوف عليه سره دريواړو معطوفاتو متبدا ، باالواو والياء په اعتبار دمتعلق سره خبر دمبتداء، مبتداء سره دخبر نه جمله اسميه، التقدير فيما تعذر كعصاء وغلامى مطلقاً او استثقل كقاض رفعاً وجراً ونحو مسلمى رفعاً واللفظ فيما عداه، التقدير مبتدا و فى جار، ما موصوله ، تعذر فعل ضمير پكښى فاعل، كاف جار، عصى معطوف عليه واو عاطفه، غلامى ذوالحال، مطلقاً حال، ذوالحال سره دحال معطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه، مجرور دجار، جار سره دمجرورنه متعلق شو، تعذر پوري فعل سره دفاعل او سره دمتعلق نه صله دموصول ، موصول سره دصله نه معطوف عليه، او عاطفه استثقل فعل ضمير پكښى مستتر نائب فاعل. دا جمله ممثله، او كقاض جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره دامعطوف عليه معطوف عليه سره دمعطوف نه مثال د ممثل . مثال سره دمثال نه دامعطوف، معطوف عليه سره دمعطوف نه مجرور دجار، جار سره دمجرور نه په اعتبار دمتعلق سره دخبر دمتبداو مبتدا سره دخبر نه جمله

Maktaba Tul Ishaat. com



اسمیه معطوفه علیها، واللفظی فیما عداه، معطوف. معطوف علیه سره دمعطوف نه جمله اسمیه خبریه.

## دعدل دِ تقدیم والی وجه تسمیه

**فالعدل خروجه عن صيغة الاصلية الخ**.... عدل ئی مقدم کړو په نورو اسبابو باندي ځکه چی په اجمال کښی ئی مقدم کړي وو اوپه اجمال کښی ئی ځکه مقدم کړو، چی دا اقل شروطاً دي او کوم شی چی اقل شروطاً وی هغه اکثر وجوداً وی نو ځکه ئی مقدم کړو، **مصدر**: دا هغه اعتراض دي چی عَدلٌ د فَعْلٌ په وزن دي او دا وزن کله کله په معنی داسم تفضیل سره وی او اسم تفضیل خو ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف خو صفات وی نو ده جواب اوکړو چی دامصدر دي. **مبنی للمفعول**: دا دفع داعتراض ده، **اعتراض**: وارديږي چی عدلٌ مصدر دي، دا کله مبنی للفاعل وی نو عدل په معنی دعادلٌ سره نو دا خو بیا ذات مع الوصف شو، **جواب**: ده جواب اوکړو چی دامبنی للمفعول.

**ای کون الاسم معدولاً**: دا دفع داعتراض ده: **اعتراض**: چی عدل په معنی دمعدول سره شو نو معدول خو عین لفظ شو، او عدل دا خو صفت دلفظ دي، نو ده جواب اوکړو چی معدول په معنی د کون الاسم معدولاً سره دي نو معدول صفت د اسم شوچی لفظ دي، **خروجه**: په دي کښی دوه خبري دي، اول مرجع دضمیر او غرض په کښی دفع داعتراض ده، دویم دفع داعتراض. اول ضمیر راجع وی اسم ته، **اعتراض**: خروجه کښی ضمیر چاته راجع دي که عدل ته راجع شی نو اخذ دمحدود راځی په حد کښی، او که اسم ته راجع شی نو اضمار قبل الذکر راځی، او که خروج ته راجع شی نو اضافة دشی راځی خپل نفس ته؟ **جواب**: ضمیر اسم ته راجع دي او اضمار قبل الذکر نه لازمیږي ځکه چر قرینه شته چه هغه بحث داسم دي.

**ای کونه مخرجاً**: دي سر غرض دفع داعتراض: **اعتراض**: دعدل نه دي تعبیر په معدول سره اوکړو او دا متعدي دي او بیا دتفسیر ددي په خروج سره اوکړو او خروج لازمی دي، نو لازم شو تفسیر دمتعدي په لازمی سره؟ **جواب**: خروجه په معنی دمخرج سره دي او مخرج صیغه د اسم مفعول ده او دا خو فاعل غواړي، نو متعدي شو، او دي سره یو بلی خبري ته اشاره اوشوه، چی اسم مفعول په دریو طریقو سره استعمالیږي،

Maktaba Tul Ishaat. com



اول چې په معنی دفعل مجهول سره شي، سره دان مقدره نه لکه معدول په معنی دان یعدل سره، دویم دا چې یا تامصدریه ورسره ولګوي. لکه معدولیت، دریم دا چې دا خبر شي دپاره دکان دمحذوفه سره داسم محذوفه لکه کون الاسم معدولاً. نو دلته په دې دریمې طریقې سره مستعمل دي

## د صیغې معنی

**عن صیغة الاصلیة**: اول غرض معنی دصیغه او غرض په کښې دفع داعتراض، دویم معنی داصل ،دفع داعتراض اول صیغه په معنی دهیئت او صورت سره **اعتراض**، اسم په معنی دهیئت او مادي سره دي او صیغه هم په معنی د هیئت او مادي سره نو لازم شو خروج دکل د کل او دا نه دي جائز ځکه چې خروج سبق دخول غواړي، ؟ **جواب**: صیغه په معنی دهئیت او صورت سره دي او اسم په معنی دمادي سره ده، دویم غرض اصلیه دا معنی چې خروج ددغه اسم به راغلی وی یعنی دمادي ددغه صورت او هئیت نه چې اصل او قاعده ددي تقاضا کوی .

**ولا یخفی**: سره دریم غرض : **اعتراض**: تعریف دعدل دي مانع نشو، دخول دغیر لره داخل شو پکښې ټول اسماء مشتقات ځکه د دي خروج هم داصل او هییت نه راغلی دي؟ **جواب**: په اضافت دصیغه سره اسم ته دا خارج شول. ځکه چې معنی داشوه چې د معدول او دمعدول عنه معنی به یوه وی او په مشتقاتو کښې دمشتق او مشتق منه معنی یوه نه وی .

**وان المتبادر**: څلورم غرض دفع اعتراض : **اعتراض**: تعریف دعدل دي مانع نشو دخول دغیر نه ، پکښې داخل شو اسماء محذوفة الاعجاز لکه دمٌ او یدٌ ځکه ددي خروج د (دمو) او (یدو) نه راغلی دي او معنی ئې هم یوه ده، **جواب**: دي سره یو بل قید هم مونږ ولګولو چې ماده به یې هم باقي وي، او په یدٌ او دمٌ کښې واو حرف اصلي باقي نه دي پاتې .

**وان خروجه عن صیغة الاصلیة**: پنځم غرض دفع داعتراض ، **اعتراض**: تعریف دعدل دي مانع نشو دخول د غیر نه داخل شو پکښې مغایرات قیاسیه لکه مقول چې دا خارج دي مدمقوولٌ نه معنی ئې هم یوه ده، او ماده ئې هم باقي ده. ځکه واو زائده حذف شوي

Maktaba Tul Ishaat. com



دي. **جواب**: يو بل قيد هم شته دي هغه دا چې معدول عنه به دقاعدي اودقياس لاندي وي او معدول به نه وي. لکه ثلث مثلث چې دهر يو معنی ده، دري دري او هريو معدول دي دثلثةٌ ثلثةٌ نه. ثلاثة ثلاثةٌ دقاعدي لاندي دي ځکه تکرار دلفظ دلالت کوي، په تکرار دمعنی باندي اوثلاث او مثلث دقاعدي لاندي ندي، ځکه لفظ کښې تکرار تثنيه، او معنی کښې يې تکرار دي او مقوول کښې خو دواړه ديوي قاعدي لاندي دي، مخرج عنه چې مقوول دي هم دقاعدي لاندي دي، ځکه دمجردو نه اسم مفعول په وزن د مفعول سره راځي او مقول هم دقاعدي لاندي دي، ځکه داقاعده ده چې حرف علت متحرك وي او ماقبل ترينه ساکن وي، حرکت ماقبل ته نقل کيږي، نو چې حرکت نقل شو اجتماع دساکنينو راغله نو واو اوغورځيدلو مقول شو، نو په مغايرات قياسيه، کښې دواړه دقاعدي لاندي دي.

**واماالمغيرات الشاذة**: په دي عبارت سره غرض د شارح دفع داعتراض ده، **اعتراض**: تعريف دعدل ستا مانع نشو، دخول دغير نه داخل شو پکښې مغيرات شاذه لکه اقوس او انيب چې دا مخرج دي داقواس اوانياب نه چې دا جمع دقوس او ناب ده، اصل کښې نيب وو ، نو ستا دريواړه شروط پکښې شته ،معنی ئی هم متحده ده ماده ئی هم باقي ده، او اول چې اقواس او انياب دي دقاعدي لاندي هم دي چې دغه وزن فعلٌ فعلٌ دا جمع کيږي په افعال سره او دا په اقوس او انيب دي، دقاعدي لاندي نه دي او سره ددينه چې ديته څوك معدول نه وائی، ؟ **جواب**: زه دا نه منم چې اقوس او اناب دا جمع شوي دي په اقواس او انياب سره او بيا اقوس او انيب دا مخرج دي ددينه بلکه قوس او ناب دا اولا جمع شوي دي په اقوس او انيب سره ددي وجه نه ورته جموع شاذه هم وائی .

## دِ معرف او معرف بيان

**وقال بعض الشارحين**: غرض دشارح رد کول دي په متن باندي خو هرځه دمخه يو تمهيد پکار دي يو معرِف دي او بل معرَف دي ، لکه انسان تعريف وشي په حيوان ناطق سره نو انسان معرَف دي او حيوان ناطق معرِف دي، نو په دي کښې دوه شرطه دي. اول شرط دادي چې معرف او معرف په مابين کښې به تساوي په حسب دمصداق سره وي يعنی چې معرف په چا صادقيږي په هغې به معرف هم صاديږي، دويم د دواړو په مينځ

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې به تباین بحسب المفهوم وی، لکه انسان معرَف دي او مفهوم ئې حیوان ناطق دي او دمعرف چې حیوان ناطق دي، دحیوان مفهوم (نامی حساس متحرك بالاراده،) دي او دناطق مفهوم (مدرك الکلیات ، والجزئیات) دي او تباین به بحسب المفهوم وي، ورته څلور نقصانات به لازم شي،اول دوارہ به الفاظ مترادفه او معنی به ئې یوه شي ،

دویم یو شی به هم معلوم اوګرځي او هم مجهول په دي حیثیت سره چې معرف موقوف دي په معرف باندي مجهول شو او په دي حیثیت سره چې د دواړو مفهوم به موقوف شي په معرف پوري او معرف به موقوف شي په معرف پوري اوشي به دواړه یوشي ، څلورم یو شئ به هم مقدم او هم موخر اوګرځي په دي حیثیت سره چې معرف موقوف دي په معرَف نو معرِف موخر شو اوچې معرَف موقوف دي په معرِف موخر شو، او هغه اوله خبره چې معرَف او معرِف کښې به تساوی وی په حسب د مصداق سره نو داځکه که تباین پکښې راشي نو معرِف او معرَف خویوپه بل حمل کیږي ،نو حمل دمباین به راشي په مباین آخر باندي او دا خومحال دي ، دریم دا چې معرِف به اعم نه وی دمعرَف نه ځکه تعریف به مانع نه شي دخول دغیر لره لکه دانسان تعریف وشي په حیوان سره نوحمار وغیره پکښې داخل شول، څلورم دا چې تعریف بالاخص هم ندي جائز ځکه چې بیابه تعریف جامع نشي خپلو افرادو لره لکه تعریف دانسان په حیوان ناطق ابیض سره نوناطق اسود ترینه خارج شو دا مذهب د محققینو دي، خو قدماء وائې چې تعریف بالاعم جائز دي ځکه چې مقصود هغه امتیاز د معرَف وی دبعض ماعدا نه، فاذا عرفت هذا، نو اوس اعتراض راځي او رد کوی په ماتن باندي چې العدل خروجه عن صیغه الاصلیة دا کافی وو نور قیودات تاولی اولګول ځکه چې تعریف بالاعم دا جائز دي،

**جواب**: نو ددي رد نه مقصود امتیاز د معرف وی دبعض ماعدانه او دلته مقصود هغه امتیاز دي د جمیع ماعدانه ، او پدي باندي دلیلین دي، اول که مقصود امتیاز دبعضو نه وی نو بیا قید د اصلیة ته هم ضرورت نه وو ، دویم دلیل دادي چې مقصود دعدل دمعرفت نه هغه معرفت دمنصرف او دغیر منصرف دي نو که عدل مکمل معرفت را نشي نو بیا به منصرف او غیر منصرف هم دیوبل نه جدا نشي ،

Maktaba Tul Ishaat. com



**خارج نه اعتراض**: دتعریف سره چې کوم قیودات لګولی شوي دا خو شارح لګولي ماتن خو نه دي لګولي نو دي خو رد کوی په خپل ځان ، **جواب**: دغه قیودات دعدل دتعریف سره په امالیه او کافیه کښې چې دا د ده خپله شرحه ده لګولی دي نو شارح ګویا کښې نقل کړي دي دهغې نه ،

**واعلم انا نعلم قطعاً**: پدي سره شارح اشاره کوی اختلاف ته اختلاف په تعریف دعدل تحقیقی او عدل تقدیري کښې دي، په دي کښې دوه مذهبه دي، اول محققین مذهب دي، او دویم مشهورین دي، محققین وائی چې عدل تحقیقی وائی خروج اعتباري داصل محقق نه، دویم: تقدیري وائی خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه، دمشهورینو مذهب دادي چې عدل تحقیقي وائی دیته: خروج تحقیقی ته داصل محقق نه. او **دویم**: او عدل تقدیري وائی خروج اعتباري ته داصل اعتباري نه. نو اختلاف صرف په خروج دعدل تحقیقی کښې دي، تحقیقی دیته وائی چې په وجود د اصل باندي ماسوا دمنع صرف نه بل دلیل وی او تقدیري دیته وائی چې په وجود داصل سوا دمنع صرف نه بل دلیل نه وي. دمشهورینو دپاره دري دلایل دي، اول تحقیقاً او تقدیراً دا صفات دخروج دي دینه معلومه شوه چې خروج به یو کښې تحقیقی وی او بل کښې به اعتباري و یعنی تقدیري وی ، دویم خروج خو په عدل تقدیري کښې اعتباري دي که په عدل تحقیقي هم اعتباري شی نو د دواړو مینځ کښې به فرق رانشي ، **دریم** دلیل په وجود دفرعی دا بعینه دلیل وی په خروج دفرعی د دغه اصل نه، او دمحقیقنو دپاره صرف یودلیل دي او هغه دا چې بعض اسماء چې کله اوموندلي شو په کلام دعربو کښې غیر منصرف او موجود نه وو په هغې کښې سبب دمنع سرف سوا دعلمیت نه لکه عمر وغیره کښې او سبب واحده خوموثر نه وو په مع صرف کښې نو مجبور شو مونږ اعتبار دسبب آخر ته او صالح نه وودپاره داعتبار دسبب آخر سوا دعدل نه نو مونږ پکښې عدل معتبر کړو.

اوبیا په بعض اسماؤ کښې دلیل په اصل باندي موجود وو او په بعضو کښې نه ووو نو په کومو اسماؤ کښې چې په اصل دلیل موجود وو ، نو تحقیقي او که نه وو موجود نو تقدیري. نو محققین وائی چې خروج دمعدول دمعدول عنه نه مونږ معتبر

Maktaba Tul Ishaat. com



کړي دي او دوي دمشهورينو د دريوارو دلائلو نه جواب هم کوي. اول دليل چې دوي وئيلي دي چې تحقيقاً او تقديراً داصفات دخروج دي نو محققين جواب کوی چې صفت په دوه قسمه دي يو توصيف بحاله دي او بل توصيف بحال متعلقه دي نودا تحقيقاً او تقديراً دا صفات دخروج دي خو بحال متعلقه چې متعلق ئی مخرج عنه وی او دا اصل دي نو دا صفات په حقيقت کښې د اصل دي او اصل خو تاسو هم منی چې يو کښې تحقيقي اوبل کښې تقديري دي، دويم دليل چې دوي وئيلي وو چې فرق به رانشي په عدل تحقيقي او تقديري کښې نو دوي جواب کوی چې فرق په اعتبار داصل سره شته چې يو کښې اصل تحقيقي دي اوبل کښې اعتباری دي، دريم دليل نه جواب دا کوی چې دا منم چې دليل په وجود دفرع دا دليل دي په خروج دفرع داصل نه لکه اقوس او انيب چې اصل ئی اقواس او انياب دي، دليل په وجود داصل شته چې قياس تقاضا کوی نو دا دليل دي په دي خبره چې اقوس او انيب فرعه ده، خو دا دليل نه دي په دي خبره چې اقوس او انيب مخرج دي، داقواس او انياب نه

## فانقسام العدل کښې مذهب راجح طرف ته اشاره

**فا نقسام العدل الى التحقيقى الخ**... په دي سره اشاره کوی ما هو الحق ته چې شارح دمحققينو مذهب ته ترجيح ورکړی **فعلى هذا** : سره غرض توطيه او تمهيد دپاره دمتن آتی، تحقيقاً معناه خروجاً كائناً عن اصل محقق ، اول غرض وجه دنصب دتحقيقاً شارح ذکر کوی او په عن اصل محقق سره جواب هم کوی. دمشهورينو د دليل نه، اول دليل دوي وائی چې دا منصوب دي بناء برمفعول مطلق ، نو په دي اعتراض راځی چې مفعول مطلق خو ديته وائی چې فعل مشتمل وی په ده باندي د قبيلي داشتمال دکل نه په جزء باندي نو خروجه خو مشتمل دي په خروجاً باندي نه په تحقيقاً ، نو په دي جواب کوی چې دا مفعول مطلق دي بناء برموصوف محذوفه سره تقدير داسي دي چې خروجه خروجاً تحقيقاً محققا يا عن اصل محقق نو په دي باندي بيا اعتراض وارديږي چې تا اوويل چې مفعول مطلق ديته وائی چې فعل مشتمل وي په ده باندي دقبيلي داشتمال دکل نه په جز باندي نو خروج خو فعل نه دي بلکه مصدر دي يا خروجه هم مصدر دي او خروجاً هم مصدر دي نو احد المصدرين مستدرك اوبلا فائدي شو،

Maktaba Tul Ishaat. com



**جواب**: جواب دادي چي په خروجه کښې دغه مصدر مصدر عامله دي او مصدر عامله دا مؤول وی په تاویل دان سره دفعل نه نوخروجه په معنی دان یخرج سره.

**عن اصل محقق**: سره جواب دمشهورینو د دلیل نه هم اوشو، هغوی وئیلی وو، چي تحقیقاً دا صفت دخروج دي، نو دي وائي چي صفت دا اصل دي، یدل علیه غیر منع الصرف: غرض دشارح معنی دتحقیقاً ذکر کول دي، نو وائي چي په وجود داصل باندي سوا منع صرف نه بل دلیل وی دا تحقیقي دي.

**کثلاث ومثلث: والدلیل علی اصلهما**: یو غرض تطبیق دمثال دممثل سره، نو دي وائي چي ثلث مثلث مثال دعدل تحقیقي دي، ځکه چي په اصل ددي باندي چي ثلاثة ثلاثة دي .سوا دمنع صرف نه بل دلیل موجود دي. هغه دا چي تکرار دمعنی دلالت کوی. په تکرار دلفظ نو هر کله چي دلته دثلاث او مثلث په معنی کښې تکرار وو او لفظ کښې نه وو نو معلومه شوه چي اصل ددي ثلاثة ثلاثة دي.

**وکذا الحال فی احاد موحد الخ**... دویم غرض تعمیم شارح تعمیم ذکر کوی چي لکه څنګه په ثلث مثلث کښې عدل دي دغه شان په احاد موحد ثناء او مثنی رباع او مربع کښې هم عدل تحقیقي او وصف دي. **فیماوراها الی عشار ومعشر خلاف**: دریم غرض ذکر داختلاف. دي کښې اختلاف دي چي دڅلورونه سوا ترلسو پوري دي کښې عدل شته او که نه نو امام سیبویه رحمۃ اللہ علیہ فرمائي چي دي کښې هم عدل راتلی شی، ځکه بعضو اشعارو کښې ئی استعمال راغلی دي. او بعضی وائي چي نشی راتلی ځکه چي دعربو نه مسموع نه دي دشارح په نزد دسیبویه رحمۃ اللہ علیہ مذهب غوره دي، والسبب فی منع الصرف. څلورم غرض دفع داعتراض ده،

**اعتراض**: تا ویلی چي ثلث او مثلث دا غیر منصرف دي، ځکه چي یو په کښې عدل او بل په کښې وصف دي زه دا نه منم چي په د یکښې وصف شته. ځکه چي وصف کښې شرط دادي چي دا به په اصل وضع کښې وصف وی او ثلث او مثلث کښې خو په اصل وضع کښې وصف نشته. بلکه ددي وضع دمرتبې معنی دپاره شوي ده، چي مافوق الاثنین او ماتحت الاربع ده نو دا خو دعلم پشان شو. **جواب**: دا منم چي په دوي کښې وصف عارضي دي، خو چي کله مونږ پکښې عدل معتبر کړو نو عدل دا پشان

Maktaba Tul Ishaat. com



دوضع ثاني نو وصف هم په کښې اصل اوګرځيدو.

## قاعده په اسم تفضيل کښې

**واخرج اخرى مونث آخر**: غرض دشارح تطبيق دمثال دي دممثل سره، نو هركله چې او موندلې شو، په كلام دعربو كښې غير منصرف او موجود وو پكښې يوسبب چې وصف دي نو لابدي شوه داعتبار دسبب آخر نه نو مونږ پكښې عدل معتبر كړو. ځكه چې دا جمع داخرى ده او اخرى مونث داخر دي، او دا اسم تفضيل دي او قاعده په اسم تفضيل داده چې دا به مستعمل وي په يو دطرق ثلاثه ؤ سره چې (لام) (اضافت) (او من) دي دلته په دغه يو سره هم نه وو مستعمل نو معلومه شوه چې دا معدول دي دآخريا آخر من څخه.

**فقال بعضهم** : شارح اشاره كوى اختلاف ته. اول خبره دا چې بعضى وائى دا معدول دي دا (الآخر) ته نو په دي باندي اعتراض راځى. چې دا معدول شو دالاخر نه نوآخر نكرده او الاخر معرفه ده پكار دي چې دا هم معرفه شوه ؟ **جواب** : دلته عدل مونږ لفظاً او معناً دواړه كړي دي يعنى څرنګه مو چې لفظ كښې الف لام لري كړي دي دغه شان مو دمعنى نه هم تعريف لري كړي دي. دويم دا چې بعضى وائى چې دا معدول دي دآخر مِن نه .

**وانما لم يذهب الى تقدير الاضافة**: دريم غرض دفع داعتراض : **اعتراض**: تا وئيلي چې اسم تفضيل دا په يو د دريو طريقو سره استعماليږي تا دلته وئيل چې د الاخر يا آخر من نه معدول دي، اضافت دي ولې ذكر نه كړو، نو شارح وائى چې اضافت نه موځكه ذهاب او نه كړو چې كه ته دا معدول كړي داضافت نه نو مضاف اليه خو به حذف وى نو بيا لابدي شوه، ديو د دريو امورو نه يا به تنوين پري راغلى وي، په عوض دمضاف كښې لكه حينئذٍ كښې تنوين عوض دي د (اذا كان كذا) نه او يا به ئى مبنى كوى په ضمه سره لكه (قبل، بعد) چې مضاف اليه حذف شوي دي اويا به تكرار داضافت كوى لكه يا تيم تيم عدى ، د اول تيم مضاف اليه عدى حذف شوي دي نو تكرار يي كړي ، نو دلته په آخر نه ضمه وه نه تنوين نه تكرار وو ، نومعلومه شوه چې دا معدول دي سوي داضافت نه .

**وجُمَعَ جمع جمعاء مونث اجمع**: اول غرض تطبيق دمثال دممثل سره ذكر كوى هغه

Maktaba Tul Ishaat. com



داسي چې جمع دا غير منصرف دي، يو پکښې وصف او بل عدل دي، عدل پکښې ځکه دي چې جمع جمع د جمعآء ده . او جمعآء دا جمع دي او قاعده په جمعاء کښې داده که دا صفتي وي نو جمع کيږي په جمع سره لکه حمراء چې جمع شوي په حمرا ، سره او که اسمي وي نو جمع کيږي په فعالاء سره لکه صحراء چې جمع شوي دي په صحاري او صحراوات سره چې دا معدول دي يا دجماعي يا جمعاوات څخه دويم وكذالك كتع بتع الخ ... غرض تعميم يعنى دا هم غير منصرف دي د وجې د عدل او وصف نه، دجمع پشان .

**فاحد السببين فيها العدل**: دفع داعتراض ده **اعتراض**: دا منم چې دا معدول دي دجمع نه ځکه فعلى صفتي جمع کيږي په فعل سره نو په جمع کښې هم وصف او علميت دي. خودا نه منم چې معدول دي دجماعي يا جماعاوات نه ځکه چې اسمي وي، بيا په دغه وزن سره جمع کيږي او جمع کښې خو وصفيت دي. **جواب**: شارح جواب کوي چې په اصل وضع کښې خو وصف دي خو وروسته استعمال کښې بيا غلبه داسميت راغلى ده، او غلبه داسميت په وصفيت باندي وصفيت ته نقصان نه رسوي، خو چې اصل وضع کښې وصف وي .

**وفى جمع واخواته**: دي سره اشاره کوي دي خبري ته چې څنګه جمع کتع بتع بصع غير منصرف دي دغه شان د دوي مفرد مذکر هم غير منصرف دي چې اجمع اكتع الخ دي، خو په دي کښې يو سبب وصف او بل وزن فعل دي. **وعلى ماذكرنا لا يرد جموع الشاذة** غرض دشارح دفع داعتراض ده **اعتراض**: څرنګه چې تا مخکښې وئيلي چې اخر کښې عدل دي، ځکه تا اوويل چې اسم تفضيل کښې قاعده داده چې دا به مستعمل وي په يو د طرق ثلاثة و سره او دلته نه دي مستعمل شوي، نو معلومه شوه چې دا معدول دي دالاخر يا اخر من نه نو دغه شان اقوس او انيب کښې هم عدل معتبر کړه، ځکه دغه وزن قوس او ناب جمع کيږي، په افعال يعنى اقواس اوانياب سره او دلته نه وو جمع شوي نومعلومه شوه چې دا اقواس او انيب معدول دي داقواس اوانياب نه **جواب**: اقوس او انيب دا جموع شاذه دي او دا عدم جمع والي داقوس اوانيب په اقواس اوانياب سره دا دليل دي دپاره دشاذوالي اوس كه چيرته دا دليل شي دپاره دعدل نو بيا به دشاذوالي دپاره څه قاعده اودليل پاتي نشي .

Maktaba Tul Ishaat. com


**اوتقديراً اي خروجاً كائناً عن اصل مقدر:** اول غرض وجه دنصب دتقديراً ذكر كوي، او ددي په ضمن كښې دمشهورينو د دليل نه جواب هم كوي، دويم غرض معنى داصل مقدر ذكر كوي. تقديراً دا منصوب دي بناء برمفعول مطلق او اعتراضات او جوابات پكښې دتحقيقاً په شان شوي دي، اودمشهورينو هغه دليل نه چې تحقيقاً او تقديراً دا صفات دخروج دي، جواب هم اوشو چې داتوصيف بحال متعلقه دي يعنى تقديراً هم صفت د اصل دي، نو دوه غرضه اوشول،

**يكون الداعى الى آخره** : سره دريم غرض چې معنى داصل مقدره ده، چې په وجود د اصل باندي سوا دمنع صرف نه بل دليل نه وى موجود دي ته اصل مقدر وائى. **اعتراض:** عدل تقديري د دريو وجوهو نه مقدر كولى شى يوداچې دپاره دمنع صرف، دويم دا چې سبب ثاني نه وى، دريم دا چې سبب ثانى وى خو صلاحيت دمنع صرف والى نه لري. تا اولنى ذكر كړو او دا نور دوه دي پريښودل ، **جواب** : دا اولنى يو وجودي دي او او وروستنى دوه دا عدمى دي او دسبب نسبت وجودي ته اولى وى په نسبت سره عدمي ته.

**كعمر وكذالك زفر:** اول تعميم ، دويم تطبيق دمثال دممثل سره. دريم دليل دپاره دعدل تقديري دمعتبر كولو، اول خبره دا چې زفرهم پشان دعمر دي. **فانهما:** پدي سره دويم دا چې عمر او زفر دا غير منصرف دي ځكه چې دا كله اوموندل شول په كلام دعربو كښې غيرمنصرف او موجود نه دي پكښې سبب ظاهر ماسوا دعلميت نه، نو مونږ پكښې معتبر كړو عدل،

**ولما توقف:** دريم غرض : هر كله چې اعتبار دعدل دا موقوف وو په وجود د اصل او په وجود داصل باندي په عمر او زفر كښې دليل نه وو ماسوا دمنع صرف نه نو فرض كړي شوه پكښې داخبره چې اصل ددوي عامر او زافر دي او دا دواړه معدول دي دعامر او زافر نه عمر او زفر ته. **ومثل باب قطام فى لغة بنى تميم:** هذا من قبيل عطف القصه على القصه متن دادي چې باب قطام فى تميم، خو شارح ورسره قيد مثل اولګولو ديكښې اشاره ده دي خبري ته چې په عمر كښې عدل معتبر كړي شوي وو ، دپاره غير منصرف والى او په باب دقطام كښې معتبر شوي دي، عدل خو حملاً على نظائره چې هغه نظائر

Maktaba Tul Ishaat. com


حضار او طمار دي

**المعدولة عن قاطمة**: سره بيان دا صل دقطام كوي. قطام دا معدول قاطمة څخه دي. **اعتراض** قاطمة دي وويل بدون التاء به دي ويلى يعني عن قاطم لكه عمر چې معدول دي دعامر نه؟ **جواب**: قطام دا علم دښځې دي پكار ده چې معدول عنه ئې هم مؤنث شي په خلاف دعمر ځكه دا علم دمذكر دي. **واراد ببابها**: سره غرض بيان دباب دقطام كوي، عدل به معتبر كولى شي په هر هغه فعال وزن كښې چې علم وي دپاره داعيان مونثه ؤ بغير دذوات الراء ځكه ذوات الراء بالاتفاق مبني وي.

## قاعده

**قاعده**: فعال دا په څلور قسمه دي، اول فعال چې اسم فعل وى لكه نزال. دابه مبنى وي بالاتفاق، دويم دا چې صفت دپاره دمونثه وي لكه فساق په معنى دفاسقه سره، دريم چې صفت دپاره دمعنى مصدري لكه فجار په معنى دفجور يا فجورة سره دا دوه قسمه به هم مبنى وي دوجې دمشابهت دنزال نه وزناً هم او عدلاً هم يعني د دواړو وزن هم يو شى دي او په نزال كښې هم عدل شوي دي او په دي دواړو كښې هم. **قطام**: دا مبنى دي په نزد دحجازيينو او معرب دي په نزد دبنو تميمو.

**قاعده**: عدل د څلورو وجوهو نه معتبر كولى شى، اول دوجې دغير منصرف والى څخه لكه عمر كښى، دويم دپاره دبناء لكه حضار او طمار كښې دوه سببه شته چې يو علميت دي اوبل پكښې تانيث دي، خو دسببين دوجې نه يو اسم مبنى نه ګرځى، نو مونږ پكښې معتبر كړو چې دا معدول دي دحضر او دتمر نه نو هغه مبنى وو نو دا هم مبنى شو، دريم عدل معتبر كولى شى دوجې دحمل نه په نظائرو باندي لكه قطام كښى، نو دا معدول دي دقاطمة نه، داولى ځكه دا حمل دي په حضار او طمار باندي، څلورم عدل معتبر كولى شى دپاره د مبالغى، لكه نزال دا معدول دانزل نه دي د انزل معنى ده چې راكوز شه او دنزال معنى ده بار بار راكوز شه.

**فافهم**: اول سره تتميم دبيان كوى، دويم اعتراض، دريم اختلاف. اول غرض په متن كښې مفصل ذكر دي. **ولهذا يقال**: سره دويم غرض **اعتراض**: باب د قطام ته څه نو دا نظير شو دعدل دپاره مثال نه شو، **والغرض منه**: **دفع الاعتراض**: ضرورت نه وو ځكه زمونږ

Maktaba Tul Ishaat. com



بحث په هغه عدل کښې دي چې دغير منصرف کيدو دوجې نه راغلې وي، **جواب**: باب قطام راوړلو کښې غرض اشاره ده، دي خبرې ته چې عدل يوائې دغير منصرف والې د وجې څخه نه راځي ، بلکه دوجې دحمل نه په نظايرو هم راځي نو دا نظير شو دعدل دپاره مثال نه شو. **وانما قال في تميم** : سره دريم غرض اختلاف بنوتميم قيد ئې ځکه ولګولو چې حجازين باب دقطام مبني ګرځوي او زمونږ بحث په معرب کښې دي چې غير منصرف دي اومراد اکثر بنوتميم پکښې معتبر نه شو،دپاره دتحصيل دبناء او قطام کښې هم د عدل اعتبار کولو ته حاجت پاتې نشو ځکه دا خو حمل ، په حضار او تمار نو هغې کښې عدل نه وو نو قطام کښې هم عدل نشته .

## د وصف تعريف او تقسيم

**الوصف وهو كون الاسم دالاعلى ذات مبهم ماخوذة مع بعض الخ...** اول غرض تعريف دوصف دويم قسمين دوصف، توضيح بالمثال ، څلورم توطيه دمتن آتي: نوتعريف ئې اوکړو چې وصف وائې کيدل داسم چې دلالت به کوي په ذات مبهمه باندې چې لحاظ به ورسره ساتلې شي، دبعضو صفاتو، او دفع داعتراض هم دې تعريف سره او شوه، **اعتراض**: شمارل ستا دوصف داسبابو دمنع صرف نه صحيح نه دي، ، ځکه وصف موصوف غواړي يا عارض دي معروض غواړي ، نو دا خو ذات مع الوصف شو او نور اسباب دا صرف صفات دي، **جواب**: په كون الاسم سره جواب اوشو چې كون مصدر دي او مصدر صرف صفت وي . **سواء كانت الدلالة** : دويم غرض قسمين دوصف، وصف په دوه قسمه دي ، اول هغه وصف چې واضع وضع کړې وي دپاره دوصف په اصل کښې .

**مثل احمر فانه موضوع لذات ما**: سره دريم غرض توضيح بالمثال ، ذات کښې تنوين لپاره دتعميم دي يعنې هريو ذات چې وي او ما نکره دپاره دتاکيد ددغه تعميم ده. لکه احمر دا ذات من له الحمرة ته وائې . **اوبحسب الاستعمال** : سره بل قسم دوصف ذکر کوي يا به په اصل وضع کښې وصف نه وي ، بلکه استعمال کښې به پکښې وصفيت راغلې وي، لکه اربع شو په دې ترکيب چې مررت بنسوةٍ اربعٍ چې اصل کښې ددې وضع دپاره دمعنې دمرتبې معينې دعدددپاره شوې ده، چې مافوق الثلاثة او ما تحت الخمسة ده، په دې ترکيب کښې چونکه نسوةٍ معدود ، دې عدد نه دې نو دا اربع صفت دې اى مررت

Maktaba Tul Ishaat. com



بنسوة موصوفة بالاربعة او دامعنی وصفی ده چی عارضه شوي ده نسوة ته په استعمال کښي.

**اعتراض**: تا اوئيل چی وصف دا هغه اسم دي چی دلالت کوی په ذات مبهمه ، زه به درته اوښايم وصف به وي او دلالت به نه کوی په ذات مبهمه بلکه په ذات معينه به ئی کوی . لکه ‹‹رحمٰن او رحيم›› **جواب**: مراد دادي چی دلالت به کوی په ذات مبهمه خو په اصل وضع سره او د رحمٰن او رحيم اختصاص په الله ﷻ پوري راغلی دي قرائن خارجيه دوجی **والمعتبر**: سره څلورم غرض ذکر کوی چی توطيه او تمهيد دي دپاره دمتن آتی وصف په دوه قسمه دي، دلته کوم يو معتبر دي جواب کوی چی وصف اصلی څکه چی لقوته.

**فلذلک قال المصنف** : دلته يوه خارجی فائده ده او هغه دا چی ماقبل د فلذالك او دمن ثم نه دليل لمّی وی او ما بعد ددينه دليل انّی وی او دليل لمی ديته وائی چی دليل ونيسی دجانب دعلت نه په وجود دمعلول باندي لکه ته نار اووينی او وائی چی دلته لوګی شته خو داد شپی، انی ديته وائی چی دليل ونيسی دجانب دمعلول نه په وجود دعلت باندي لکه دورځی لوګی وينی او ته وائی چی دلته به اُور هم وی نو دفلذالك في سببية منع صرف سره توطيه او تمهيد ذکر کوی دمتن آتی دپاره نو وائی چی دانصراف نه عدم انصراف ته اړول دا سبب قويه غواړي اوسبب قويه هغه وصف دي چی په اصل وضع به وصف وی علت ورلره سبب قويه دي نودليل انی شو.

**شرطه**: يو غرض تعين دضمير، دويم في سببية الخ. سره دفع داعتراض. اول خبره داده چی ضمير وصف ته راجع دي، اي شرط الوصف، دويم خبره **اعتراض**: تا اويل چی وجود دوصف دپاره شرط دادي چی دا به اصل وضع کښي وصف وي زه به درته اوښايم چی وصف به وی او اصل وضع کښي به نه وی؟ **جواب**: شارح وائی چی شرط دوصف دپاره سببية دمنع صرف والی دي نه دپاره دوجود دوصف.

**ان يكون وصفا في الاصل**: سره يو غرض معنی داصل، او هغه دا چی معنی داصل وضع ده. **بان يكون وضعه** : شارح اشاره کوی بيان دمتن ته فرمائی چی ددغه وصف وضع به دوصفيت دپاره شوي وي داسی نه چی وضع دوصفيت دپاره نه وي شوي، خو په استعمال کښی وصفيت ورته عارض شوي وي، په وصف اصلی کښی بيا برابره خبره ده

Maktaba Tul Ishaat. com



چې وصفیت پکښې باقي وي او که ترینه زائل شوي وي،

**فلا تضره**: شارح دفع دیو اعتراض کوی: هغه داسي چې ته وائی چې غلبه داسمیت په وصفیت باندي وصفیت ته نقصان نه رسوي ولی ئی نه رسوي، مخکښې عام وو. اووروستو ودغلبې داسمیت نه خاص شو؟ **جواب**: مراد زمونږ خاص ضرر دي هغه دا چې دغه وصف دسبب دمنع صرف نه، نه وباسي

## دِ غلبې معنی او تشریح

**الغلبة**: اول تعین دالف لام، دویم معنی دغلبې. دریم توضیح بالمثال. اول خبره: شارح فرمائی چې الغلبة کښې الف لام عوضی دي او عوض دي دمضاف الیه نه یعنی غلبة الاسمیة. **ومعنی الغلبة**: دغلبة معنی ده چې دغه اسم خاص شی په بعضی افرادو د دغه اسم پوري په داسي شان چې په دلالت کښې په دغه خاص اسم باندي قریني ته ضرورت نه وی لکه اسود چې مطلق تور شی دپاره وضع شوي دي، بیا دذي استعمال په تور مار کښې داسی زیات شوي دي چې په فهمیدلو ددغه مار کښې ددغه اسود نه قریني ته ضرورت نشته، **فلذالک**: شارح دفع اعتراض کوی چې مخکښې دوه خبري ذکر دي، اصالة فی الوصفیة، او عدم ضرر دغلبة: نو که ذلك یو ته راجع کوی نو بل پاتی کیږي، او که دواړو ته ئی راجع کوئ نو بیا مطابقت نه راځی په مابین داشاري او مشارالیه کښې؟ **جواب**: ذالك مذکور ته راجع دي نو په مذکور کښې دواړه راغلل،

**صرف اربعٍ فی مررت بنسوةٍ اربعٍ**: لعدم اصالة الوصفیة سره دلیل ذکر کوي، **وامتنع**، شارح اشاره کوی وجه دامتناع ته چې غلبة داسمیت په وصفیت باندي وصفیت ته ضرر نه رسوي نو اسود او ارقم غیر منصرف شو. **اسود و ارقم للحیة**: په حیث صار اسمین سره شارح اشاره کوی، متعلق دللحیة ته مخکښې اسود تور شی ته او ارقم برګ شی ته وئیل کیده نو وروستو اسود دتور مار دپاره نوم کینبودلی شواو ارقوم دبرګ مار دپاره،

**وارقم وادهم**: سره په حیث صار اسمین سره اشاره کوی متعلق دللقید ته. **للقید**: شارح اشاره کوی معنی دقید ته چې داد اوسپنی هاتکړي ته وائی او تطبیق دمثال کوی دممثل سره په داسي شان سره چې ادهم د دهمة څخه کینبودل دي، ځکه چې په دي کښې هم توروالی وي. نو په دغه مذکور اسماؤ کښې سببین یو وزن فعل او بل وصف

Maktaba Tul Ishaat. com



اصلی دي او که چیرته دغه اسماء په وصف اصلی کښی مستعمل شی نوبیا خو هیڅ اشکال نشته. یو به پکښی وصف حالی شی او بل وزن فعل وی، اوکه غلبهٔ داسمیت پکښی راشی نو بیا به پکښی یو وصف اصلی اوبل وزن فعل وی.

**وضعف منع افعی للحیة**: چا وئیلی چی افعی دفعوة نه دي او داخباثت نه وائی. او بیا وروستو د ګنجی مار دپاره دا نوم اوګرځولی شو. ځکه دا هم خبیث مار دي دغه شان. **اجدل للصقر**: چاګمان کړي چی اجدل مشتق دي دجدل نه، او دا قوت ته وائی بیا وروستو دباز دپاره نوم کیښودلي شو. ځکه دا هم قوي وي. **واخیل للطائر**: چا ګمان کړي چی اخیل دخیلان څخه دي او دا خال ته وائی. بیا دهغه مارغه نوم کیښودلی شو چی خال خال وی، وجه دضعف ئی یوه داده چی دا خبرهٔ یقینی نه ده چی داد دغو اسماؤ، څخه مشتق دي او په اصل وضع کښی وصف وو. **اعتراض**: اصالت فی الوصفیت ئی ضعیف شو یعنی غیر منصرف والی ئی ضعیف شو نو انصراف ئی هم ضعیف شو، نو ته ئی منصرف کوی څنګه منصرف والی او عدم انصراف پکښی علی السویه وګرځوه؟ **جواب**: دلیل موجود دي په انصراف ځکه چی هر کله پکښی دواړه برابر وو نو اصل په اسماءؤ کښی انصراف وو نو مونږ منصرف کړو.

## د تانیث بیان

**التانیث اللفظی بالتاء**: اول دفع داعتراض، دویم تعین دمتعلق دبالتاء. اول خبره چی دفع اعتراض. **اعتراض**: تاویلی چی التانیث بالتاء او معنوی به هم دا رنګه وی، تا تانیث مقابل دمعنوی وګرځولو اودلته تقابل نه صحیح کیږي، ځکه کله کله ظهور دتاء په تانیث معنوی کښی هم کیږي؟ **جواب**: مراد د تانیث بالتاء نه تانیث لفظی دي او معنوی پشان دلفظی دي، خو په شرطیت د علمیت کښی. تانیث معنوی هغه ته وائی چی په مقابله کښی ئی مذکر حیوان وی: لکه امراة ددي په مقابله کښی مذکر حیوان شته چی رجل دي، او تانیث لفظی دا هغه دي چی په مقابل کښی مذکر حیوان نه وی، لکه ظلمة او بل تانیث سماعی دي چی د عربو څخه ئی سمعه هم داسي شوي دي، لکه اندامونه چی په بدن کښی دوه دوه دي لکه عین دا مونث سماعی دي.

**الحاصل بالتاء**: سره دویم غرض. دلته شارح متعلق الحاصل صفت راوویستو نه

Maktaba Tul Ishaat. com



حاصلاً ددي وجه داده چې تانيث لفظي سبب دمنع صرف دي او دا په حقيقت کښې فاعل وي، نو دي دپاره الحاصل مناسب دي نه حاصلاً. او مراد دتاء نه هغه تاء ده چې په حالت دوقف کښې په هاء سره بدليږي. لکه طلحة. اوس هغه تاء چې هغه په هاء سره نه بدليږي په حالت د وقف کښې لکه اخت او بنت اوس که دادمذکر دپاره نوم اوګرځي نو دا به منصرف وي، ځکه صرف علميت پکښې شته او که دمونث دپاره ئې علم اوګرځوي نو دي کښې بياجواز دوجهينو دي. پشان دهند ځکه که دیته ګوري چې شرط دتانيث معنوی پکښې شته چې تحرك الاوسط دي نو پکار دي چې منصرف شي، اوکه دیته وګوري چې تانيث معنوی او علميت پکښې دي نو پکار ده چې غير منصرف شي.

**لابالالف:** سره شارح اشاره کوی چې دا بالتاء قيد احترازی دي په دي سره احتراز راغی دالف مقصوره و ممدوده نه. ځکه هغی کښې داشرط نشته. ځکه هغه لا زم دي داسم سره، **شرطه فی سببية منع الصرف:** سره غرض دفع داعتراض ده ، **اعتراض:** ته وائې چې شرط دپاره تانيث هغه علميت دي،زه به درته اوښايم تانيث به پکښې موجود وي او علميت به پکښې نه وي، لکه امراةٌ ؟ **جواب:** شرطيت دعلميت دا دپاره دوجود دتانيث نه ده بلکه دپاره دسببية دمنع صرف علميت شرط دي.

**العلمية ای علمية اسم المونث:** اول تعين دالف لام ، دويم خبره دليل اول، دريم دفع داعتراض ، څلورم دليل ثانی: اول خبره : په العلمية کښې الف لام يا عوض د مضاف اليه نه دي او يا دا الف لام عهد خارجی دي معهود په دي سره هغه علميت داسم مونث دي **ليصير التانيث لازماً الخ..** سره دويم غرض علميت ورلره ځکه شرط دي چې داتانيث لا زم اوګرځي ددغه علم سره ځکه اعلام محفوظ وی دتغير نه، **بقدرالامکان:** سره دريم غرض : ته وائې چې اعلام محفوظ وی دتغير نه زه به درته اوښايم علم به وي او تغير به پکښې راغلی وی لکه په ترخيم دمنادي کښې لکه يا عثمْ ؟ **جواب:** اعلام محفوظ وی د تغير نه څومره چې ممکنه وی.

**ولان العلمية:** سره څلورم غرض چې دليل ثانی دي علميت دتانيث لفظي دپاره ځکه شرط اوګرځولی شو چې علميت سره پکښې ګويا وضع ثانی راغله او هر حرف چې وضع دکلمې راغلی وی، په دغه حرف سره نو دا نه جدا کيږي دکلمه نه، **والتانيث**

Maktaba Tul Ishaat. com



**المعنوی:** سره شارح موصوف دالمعنوی اوښودلو چی التانیث موصوف المعنوی صفت، **ای کاالتاء التانیث اللفظی با التاء فی اشتراط العلمیة:** اول ذکر دوجی دتشبیه تانیث معنوی پشان دتانیث لفظی بالتاء په اشتراط دعلمیت کښی.

**الاان بینهما فرقاً:** دویم غرض دفع داعتراض: چی تانیث معنوی پشان دتانیث لفظی دي نو داسي به دي وئیلي وي تانیث لفظی او معنوی کښی فرق دي، دي، په تانیث لفظی کښی علمیت شرط دي دپاره دوجود دغیر منصرف والی او په تانیث معنوی کښی شرط دي علمیت دپاره دجواز دغیر منصرف والی. **ولابد فی وجوبه من شرط آخر:** دریم غرض توطیه دمتن دپاره که چیرته ته غواړي چی وجوب دغیر منصرف والی راشی په تانیث معنوی کښی نو دهغه دپاره دري شروط دي.

**وشرط تحتم تاثیره ای شرط الخ..** یو غرض معنی دحتم، دویم غرض تاثیر دضمیر مرجع. دریم احدالامور الثلثة سره دفع داعتراض: اول خبره: معنی دتحتم وجوب ده، دویم خبره تاثیره کښی ضمیر راجع دي تانیث معنوی ته. دریم غرض دفع داعتراض: تا کلمه دا (او) راوړي او دا راځی دپاره دتشکیک نو ستا هم پکښی شك دي په موثر والی کښی، یا اعتراض داسي دي چی او کله په معنی دا واو سره دپاره دجمع راځی نو معنی دا شوه چی کله دا دریواړه شروط په یو ځاي راغلل نو بیا به وجوب راځی، **جواب:** اودپاره دتنویع دي معنی دهریو ددغه امور ثلثه ؤ څخه ځانته ځانته موثر دي.

**الزیادة علی اثلاثة ای زیادة حروف الکلمة علی ثلثة:** غرض دشارح تعین دالف لام کوی په الزیادة کښی چی دا عوض دي دمضاف الیه نه او زینب سره مثال ذکر کوی، **اوتحرك الحرف الاوسط:** شارح الحرف ذکر زیادت کړو دپاره دتعین دموصوف دالاوسط او سقر سره مثال ذکر کوی. **مثل ماه وجور:** سره بیان دمثال دعجمی ذکر کوی وانما شروطو: سره عوض وجه داشتراط ددي دري ذکر کوی، زیادة علی الثلاثة دا ثقیل دي په نسبت سره ثلاثة ته او تحرك الاوسط دا ثقیل دي په نسبت سره ساکن الاوسط ته او عجمه ثقیله ده په نسبت سره عربی ته نو ددي دریواړو ثقل دا ضعیف دي په نسبت سره ثقل دسببین ته نو دا مقابله د سببین دثقل نشی کولی نو غیر منصرف والی دا واجب شو او چی کله دا شروط ثلاثه نه وی نو بیا صفت دا مقابله دثقل سببین کولی شی نوبیا به

Maktaba Tul Ishaat. com



غیرمنصرف والی صرف جوازو لري

**فهندٌ یجوز صرفه**: اول غرض تفریع په مخکښې عبارت، مخکښې دا خبره ذکر وه چې دتانیث لفظی دپاره علمیت شرط دي، دوجوب دپاره او په ثاني کښې دمنع صرف دپاره او که په تانیث معنوی کښې غواړي چې منع صرف دوجوبي شي نو دهغې دپاره یو دشروط ثلاثو نه دي، هغه شروط یې ذکر کړل ، اوس په هغې باندې تفریع ذکر کوي، چې جائز دي صرف د هندٌ جواز دلته په معنی دامکان خاص سره چې سلب د ضرورت دجانبینو څخه راغلی وی، یعنی انصراف او عدم انصراف دواړه ئې برابر وی

**نظراً الی انتفاء شرط الخ**... سره دلیل ذکر کوی دپاره دانصراف . منصرف ځکه جائز دي چې شرط دپاره دوجوب دمنع صرف دتانیث معنوی هغه شروط ثلثه وو هغه پکښې مفقود دي او عدم انصراف ئې هم جائز دي، دوجې دوجود دسببینو نه چې یو علمیت اوبل تانیث معنوی دي، په هندٌ کښې تانیث معنوی دي ځکه دا دیو مکان نوم دي او قاعده په اماکنو کښې داده چې که تعبیر ترینه په مکان سره اوکړي نو بیا خو مذکر دي، نو یو سبب پکښې پاتی شو، نو یکار ده چې منصرف شي او که تعبیر ترینه په بقعة سره اوکړي نو دا خو مونث دي، نو یکار ده چې غیرمنصرف شي، دارنګې په قبائلو کښې انصراف جائز دي که چیرته په تاویل داب سره واخلی او عدم انصارف ئې جایز دي که چیرته ئې په تاویل دأمّ سره واخلی . دارنګې مصر په قرآن کریم کښې غیر منصرف هم استعمال شوي دي لکه ( ادخلو مصر الخ ) ځکه دلته ترینه مراد بقعة ده اوبه ( اهبطوا مصراً ) کښې منصرف استعمال شوي دي ځکه دلته ترینه ( ای بلد کان ) مراد دي ،

**اعتراض**: په متن باندې: هند دا جزء دي موضوع واقع شوي دي یجوز صرفه ورلره محمول دي او جزء چې موضوع واقع شي نو هغه ته قضیه شخصیه وائی ، اود جزء استعمال خو په علومو کښې مهجور دي، بلکه په علومو کښې کلی استعمالیږي؟
**جواب**: ذکر دهندٌ او مراد ترینه هر اسم مونث دي چې دا شروط پکښې نه وي، **اعتراض**: هند مبتدا ده او یجوز صرفه ئې خبر دي او خبر حامل دهغه فائدې وي چې مبتدا څخه نه معلومیږي او که معلومیدو نو بیا ایراد دخبرته څه ضرورت نشته، اوس دلته چې تا

Maktaba Tul Ishaat. com



هندٌ اوئیل چی تنوین پري راغلو نوبیا یجوز صرفه ته ضرورت نشته ؟ **جواب**: هندٌ دا مکتوب غیر مقروء دي.

**وزینب وصقر وماه وجور ممتنع صرفها**: **اعتراض**: ته وائی چی زینب او سقر او ماه وجور دا ممتنع دي، ممتنع خو نه دي بلکه موجود دي؟ **جواب**: مراد د امتناع صرفی دي نه امتناع وجودي. **واما زینب**: غرض دلیل دغیر منصرف زینب او سقر او ماه وجور دا غي منصرف دي سببین په دي دریواړو کښی یو علمیت او بل تانیث معنوی دي او د وجوب دغي منصرف والي شروط هغه پکښی موجود دي. په زینب کښی زیادة علی الثلاثة شرط شته. او سقر کښی تحرك الاوسط شرط شته او ماه او جور کښی شرط هغه عجمه ده

**فان سمی به ای بالمونث المعنوی الخ**...سره غرض تعین دضمیر کوی چی د (به) ضمیر راجع دي مونث معنوی ته ، که چیرته مونث معنوی دمذکر دپاره علم اوګرځوي نو ددي دمنع صرف دپاره شرط هغه زیادة علی الثلاثة دي. **فشرطه فی السببیة منع الصرف**: دفع اعتراض : **اعتراض**: تا وئیلی چی دمسمی کولو دمذکر دپاره په مونث معنوی سره دي دپاره شرط هغه زیادة علی الثلاثة دي زه به درته اوښایم چی زائد علی الثلاثة به نه وی او مسمی شوي به وي په دي سره مذکر لکه ( قدمٌ )؟ **جواب**: دوجود دپاره دا شرط نه دي بلکه دمنع صرف والی دپاره ئی بیا دا شرط دي.

**لان الحرف الرابع**: سره دلیل ذکر کوی دپاره د اشتراط دحرف رابع ځکه حرف رابع دا په حکم د تاء التانیث کښی دي او قائمقام دهغه دي اوس ده زیادت علی الثلاثة معتبر کړو او هغه نور دوه نه، ځکه چی تحرك الاوسط دا قائمقام دحرف رابع وو چی حرف رابع راغلو نوقائمقام ته ضرورت پاتې نشو. او عجمه ئی معتبر نه کړه ځك هغه دپاره دقوت دتانیث وه، اوس په علم ګرځیدلو سره دپاره دمذکر هغه تانیث ختم شو نو مؤید ته هم ضرورت پاتی نشو.

**فقدم منصرف**: سره یوه تفریع ذکر کوی قدم دا منصرف دي چی کله ئی علم دپاره درجل اوګرځوی ځکه تانیث خو ترینه په علمیت سره زائل شو اودهغی قائمقام چی زیادت علی الثلاثة دي هم نشته او صرف علمیت خو موثر نه ګرځی په منع دصرف

Maktaba Tul Ishaat. com



کښې. **وعقرب ممتنع صرفها:** سره يو غرض تفريع او دويم غرض ممتنع صرفها سره دفع داعتراض. **اعتراض:** عقرب دا چې کله علم اوګرځولی شي، دپاره درجل نو غير منصرف دي، لانه وان زال: سره اول دليل ذکر کوی ځکه چې تانيث خوئی دعلميت دوجی نه ختم شوي ليکن حرف دا قائمقام دتانيث دي.

**بدليل انه:** په دي عبارت سره دليل لپاره د دليل ذکر کوی او ديته تدقيق وائی او چې دمدعی دپاره دليل ذکر کړي نو هغی ته تحقيق وائی ، حرف رابع په عقرب کښې ځکه قائمقام دتانيث دي چې دقدمُ تصغير کله راوړي نو تاء مقدره پکښې ظاهريږي، لکه څرنګه چې قاعده دتصغير تقاضا کوی نو (قديمةٌ) وئيلی شی په خلاف د عقرب، ځکه ددي په تصغير کښې تاء نه ظاهريږي ، نو معلومه شوه چې حرف رابع دا قائمقام دتانيث دي، نو عقرب غير منصرف شو، دوجی دتانيث او علميت نه.

## د معرفی بيان

**المعرفة ای التعريف:** اول غرض دشارح دفع داعتراض ده **اعتراض:** معرفه عبارت دي دهغه شي نه چې وضع وی دپاره دذات معينه نو داخو ذات مع الوصف شو اونور اسباب دمنع صرف صفات دي فقط؟ **جواب:** ذکر دمعرفه مراد ترينه تعريف او تعريف داصرف وصف دي. **لان سبب منع الصرف:** شارح دليل ذکر کوی چې مراد ترينه تعريف ځکه دي چې سبب دمنع صرف هغه وصف د معرفه دي چې هغه تعريف دي ذات معرفه سبب نه دي.

**شرطها ای شرط تاثيرها:** سره دفع داعتراض ده **اعتراض:** تاوئيل چې شرط دمعرفه دپاره علميت دي زه به درته اوښايم چې معرفه به وي او علم به نه وي لکه الرجل ؟ **جواب:** داشرط دپاره دوجود دمعرفی نه دي بلکه دسببيت دمنع صرف دپاره دي **شرطها ان تكون علمية:** اول غرض دشارح دفع داعتراض ، دويم تعين دتاء ، دريم دليل دپاره دمتن ، څلورم دفع داعتراض ، **ای كون هذا النوع:** اول غرض ، **اعتراض:** تاوئيل چې دمعرفی دپاره شرط علميت دي نولازم شو شرطيت د شی الی نفسه يادا چې معرفه به علميت کښې موجوديږي ، نوبيا خو ظرفيت دشی الی نفسه راغلو ځکه ظرف اومظروف دواړه يو شی وی ؟ **جواب:** معرفه جنس دي او معرفه عامه ده علميت الف لام

Maktaba Tul Ishaat. com



موصولات منصرف داتول پکښې موجود دي نوظرفيت يا شرطيت دخاص راغي عام لره.

**اعتراض**: ان تکون کښې ان مصدريه دي او ان مصدريه چې په فعل مضارع داخل شي نو هغه لره په تاوئيل دمصدر سره ګرځوی نو تقدير داسي شو چې (کونها) او په علميت يا تا مصدري دي او يا تا مصدري خپل مدخول لره يا ملحق به لره خبر ګرځی دپاره دکان محذوفه سره داسم محذوفه نه نو تقدير داسې شو چې کونها تقديربه داسي شو (کونها کونها علماً) نو لازم شو تکرار او تکرار دا شنيع وی ځکه چې بنا دمتونو په اختصار باندي وی. **جواب**: (کون) دا په دوه قسمه دي يو په معنی دضرورت سره او بل په معنی دثبوت سره، او د اول قسم کونها نه معرفه او دويم کونها څخه علميت مراد دي، نو معنی داسي شوه چې کون دمعرفی ثابت په علميت کښې نو تکرار رانغلو. نو د دوو هم غرض بيان هم اوشو چې (يا تا) يا مصدري دي او يا نسبتی دي.

**وانما جعلت**: سره دريم غرض ذکر کوی چې دليل د متن دي، دمعرفی نور اقسام مو معتبر نه کړه، صرف علميت مو معتبر کړو، ځکه که دمعرفه دپاره شرط مضمرات او مبهمات شی نو دا خو مبنی دي او غير منصرف خو دقبيلې دمعرباتو څخه دي او تعريف باللام او بالاضافة موشرط نکړو ځکه دا خو غير منصرف لره منصرف کوی، نو صرف علميت پاتی شو نو موصرف علميت پاتی شو نو مونږ ورلره علميت شرط کړو.

**وانما جعل المعرفة سبباً**: سره څلورم غرض ذکر کوی. اعتراض په دوو طريقو سره راځی. اول بناء دمتونو په اختصار باندي وي چې په معرفه کښې صرف علميت شرط دي نو داسي اووايه چې علميت دا سبب دي او معرفه خو خود به خود ده، دويم اعتراض دا چې ستا کتاب ماخوذ دصاحب دمفصل نه دي هغه علميت سبب ګرځولی ته ئی ولی نه ګرځوی؟ **جواب**: ما معرفه سبب کړه او علميت می ورلره شرط اوګرځولو دپاره ديونکتی او هغه دا چې اسبابو دمنع صرف کښې فرعيت دي او فرعيت دمعرفه دا ظاهر دي دتنکير دپاره په نسبت سره فرعيت دعلميت ته تنکير لره ځکه نکره دا فرعه دتنکير ده، بلا واسطه ځکه چې اول به يو شي نکره وی بيا به معرفه ګرځی، لکه د رجل نه الرجل. او علميت دا فرعه دتنکير ده خو په واسطی دمعرفی سره ځکه دا قسم دي د معرفی او معرفه فرعه دتنکير ده.

Maktaba Tul Ishaat. com



## د عجمه لغوی، اصطلاحی تعریف او تشریح

**العجمه**: عجمه په لغت کښې عدم فصاحت فی تکلم ته وائی . **وهی کون اللفظ مما وضع الخ**.. اول معنی دعجمه او غرض پکښې دفع داعتراض ، دویم توطیه او تمهید: **اعتراض**: عجمه دا ذات مع الوصف دي او نور اسباب دمنع صرف ټول اوصاف دي نو شمارل ددي اسبابو دمنع صرف څخه صحیح نه دي؟ **جواب**: مراد عجمه نه کون اللفظ مما وضع غیر العرب نو کون دا مصدر دي او مصدر دا صرف وصف وی .

**ولتاثیرها**: سره توطیه او تمهید ذکر کوی دپاره دمتن آتی چی دپاره دتاثیر دمنع صرف دعجمه دوه شرطه دي، اول شرط علمیت دي ، دویم شرط تحرك الاوسط او زیادة علی الثلاثة اي منسوبة الی العلم: تعین د یا تاء ، دا یا تاء نسبتی دي ځکه علمیت دا فرد دي دافرادو د عجمی نه او یا تاء مصدري نه دي ځکه بیا به علمیت د فرد شی دافرادو دعجمی نه .

**فی اللغة**: **اعتراض**: عجمه مشروط ده او ان تکون کښې ضمیر راجع دي عجمه ته نو لازم شو ظرفیت دشی الی نفسه . او بل دا چی (فی) په معنی دظرفیت سره دي او ظرفیت دا په دوه قسمه ده،اول حقیقی لکه الماء فی الکوز، دویم مجازي لکه ظرفیت دخاص وي دپاره دعام او دلته یو هم نه دي، داول عدم صحت خو ظاهر دي او دویم هم نه صحیح کیږي ، ځکه دلته ظرفیت دخاص عام لره نشته دي . **جواب**: فی اللغة العجمه دلته عجمه عامه ده او لغت دا خاص دی نو ظرفیت دخاص راغی عام لره .

**بان تکون متحققة**: اول غرض تعمیم ، دویم توضیح با لمثال ، دریم وجه داشتراط ،څلورم تفریع :

## تقسیم د عجمی حقیقی او حکمی طرف ته

**حقیقة او حکماً**: اول دا چی په عجمه کښې حقیقتاً علم وي لکه، (ابراهیم) او یا به حکماً علم وی، مطلب دا چی په عجمو کښې نو دا نوم وو او عربو دا نقل کړي او علم ئي وګرځوی ، اوهیڅ قسمه تغیر پکښې ونکړي، لکه (قالون) دا په عجمو کښې هر جید شی ته وئیل کیدلو یعنی اسم جنس وو او عربو بیا دارا نقل کړو او دیو جید قاري دپاره چی حضرت نافع ﷺ وو علم اوګرځولو نو دا حکماً علم وو په عجمو کښې ، او

Maktaba Tul Ishaat. com



دویم غرض چې توضیح بالمثال وه هغه هم اوشو.

**وانما جعلت شرطاً**: سره دویم غرض، علمیت دعجمه دپاره ځکه شرط اوګرځول شوه چې دتصرف کولو ځخه بچ شي، چې ضعف پکښې را نه شي نو بیا به صلاحیت دمنع صرف والی نه لري **فعلی هذا**: سره څلورم غرض چې تفریع ده ذکر کوي بناء په دي چې دغه اسم به علم وی په عجمه کښې نو که په مثل د لجام ئې علم اوګرځولو دپاره دیو کس نو دا به غیر منصرف نه وي، ځکه چې دا علم نه وو، په عجمه کښې او دلیل په دي چې دا علم نه وو په عجمه کښې ځکه عربو په دي کښې تصرف کړي دي دلګام نه لجام ته، سیبویه او اکثر نحاة دا وائی چې زیادة علی الثلاثة وی نو تحرك الاوسط ته ضرورت نشته دي.

**ای علی ثلثة احرف**: دي عبارت سره اشاره کوی الف لام ته چې الف لام په الثلاثة کښې عوض دمضاف الیه نه دي چې احرف دي **لئلا یعارض الخفة احد السببین**: سره دلیل ذکر کوی د اشتراط دا شرطین ځکه اولګولی شول چې خفت دا معارضه د احد السببین ونه کړي چې بیا به سببین موثر اونه ګرځی په منع دصرف کښې، **فنوح منصرف**: اول تعین دمتفرع علیه. دویم اشاره اختلاف ته، دریم دفع اعتراض، څلورم اعتراض، پنځم، جواب: **فانصراف**: اول غرض ،نوح منصرف دي دا تفریع ده په شرط ثاني باندي.

## اختلاف په نوح کښې

**وهذا اختیار المصنف**: دویم غرض چې اختلاف دي، یو مذهب دمصنف دي، دي وائی چې نوح منصرف دي ځکه عجمه سبب ضعیفه دي او دا سبب والی امر معنوی دي، علامه لفظیه دي لره نشته نو جائز نه دي معتبر کول دعجمه سره دسکون داوسط نه، دویم مذهب دجار الله زمخشري دي، دي وائی چې نوح پشان دهند دي هلته جواز دوجهینو وو دلته به هم جواز دوجهینو وي. واما التانیث. دریم غرض، **اعتراض**: تاوئیل چې عجمه دا امر معنوی دي نو تانیث خو هم امر معنوي دي، هلته جواز دوجهینو غوره کړو دلته هم داسې اوکړه یعنی په عجمه کښې؟ **جواب**: دتانیث معنی دپاره علامه شته چې په بعضو تصرفاتو کښې ظهور راخي لکه په تصغیر کښې نو تانیث لره یو نوعه قوت

Maktaba Tul Ishaat. com



شته، نو ددي وجې هلته سره دسکون داوسط نه جواز دوجهينو معتبر کولی شو او په عجمه کښې نه، **فان قلت**: سره څلورم غرض اعتراض **اعتراض**: عجمه سره دسکون داوسط معتبر کړي ده په ماه وجور کښې او دلته ئې نه معتبر وی؟ **قلنا**: سره پنځم غرض ، په ماه وجور کښې مونږ عجمه معتبر کړي تقويت دسببينو آخرينو دپاره ددي چې سکون داوسط دامقابل دسببينو اونه گرځي ، اوددي خبري نه چې دا دپاره دتقويت دسببينو معتبر کړی شوي دي دينه دالازميږي چې دامستقل سبب دي .

( **شتر وابراهيم ممتنع صرفهما** ) اول دفع داعتراض ،دويم متفرع عليه تعين ، دريم دفع داعتراض ، څلورم قاعده کليه، پنځم صرفهما : اول غرض ته وائي چې ابراهيم اوشتر داممتنع دي داخوممتنع نه دي داخو راغلی دي . **جواب**: مراد امتناع نه ده. بلکه امتناع صرفی مراد ده ، لوجود الشرط الثانی فيهما ، سره دويم غرض ذکر کوی چې دا تفريع ده په شرط ثانی باندي، وانما اختص التفريع بالشرط الثانی ، سره دريم غرض دفع داعتراض اوله طريقة داعتراض : دعجمه دپاره دوه شرطه وو، يو علميت اوبل احد الامرين په دويم شرط، تفريع هم وجود او هم عدما اوکړه اوپه شرط د اونه کړه، دويمه طريقه صحيح ده په دويم شرط دتفريع کوله خو په وجودي باندي اولی وه چې مخکښې د کړي وی او تا عدمی مقدم کړي ده. **جواب**: زمونږ مقصود تفريع کول نه وو، بلکه تعين او بيان دماهو الحق وو. چې په انصراف او عدم انصراف کښې دنوح کوم يو حق دي .

## د انبياء نومونه منصرف دی او کنه

**واعلم ان اسماء الانبياء** عليه السلام: سره څلورم غرض ، **قاعده کليه**: اسماء دانبياء عليه السلام ټول غيرمنصرف دي. بغير دمحمد ﷺ ،صالح عليه السلام ، شعيب عليه السلام او هود عليه السلام نه خکه داعربی اسماء دي . **وقيل ان هود کنوح**: سره پنځم غرض بيان داختلاف ، بعضی وائی چې هود پشان دنوح دي يعنی جواز دوجهينو پکښې دي اودليل چې، سيبويه رحمة الله عليه دا پيوسته کړي د نوح سره او تائيد دسيبويه رحمة الله عليه دقول دا خبره کوی چې عرب دا د اولاد داسماعيل عليه السلام هم مخکښې تير شوي دي .

Maktaba Tul Ishaat. com



## د جمع بيان

**الجمع وهو سبب قائم مقام:** اول غرض تعين دالف لام كوی چی الف لام په الجمع كښی عهدي دي او معهود په دي سره جمع ده چی قائم مقام دسببينو وي. **شرطه ای شرط قيامه:** سره دفع داعتراض: ته وايی چی دجمع دپاره صيغه دمنتهی الجموع شرط ده ، زه به درته اوښايم چی جمع به وي او منتهی الجموع به نه وي، لکه مسلمون؟ **جواب:** شرط دپاره دقيام ددي دي په مقام دسببينو. **منتهی:** دا صيغه دمصدر ميمی ده نو دلته اضافت دمصدر شوي دي، فاعل ته نو تقدير داسي شو چی صيغه منتهی بها الجموع. **وهی الصيغة التی:** اول تعريف لفظی ، دويم تعريف معنوی ، دريم وجه تسميه ، څلورم دفع اعتراض ، پنځم وجه دداشتراط: اول خبره دا ده چی دا هغه صيغه ده چی اول ئی مفتوح وی او ثالث ئی الف وی او مابعد دالف څخه دوه حرفه وی او يا دري وي خو اوسط حرف ئی ساکن وی. لکه مساجد او مصابيح.

**وهی الصيغة التی:** سره دويم غرض تعريف معنوی دا هغه صيغه ده ی چه په جمع تکسيري سره بيا نه جمع کيږي. **ولهذا سميت:** سره دريم غرض وجه تسميه ددي وجی نه چی دا بيا په جمع تکسيري سره نه جمع کيږي مسمي کړي شوه په منتهی الجموع سره.

**ولانها جمعت فی بعض الصور الخ...** سره څلورم غرض چی دفع داعتراض ده. چی جموع جمع ده او اقل دجمع دري دي نو معنی دا شوه چی دا جمع به کم از کم دري واري جمع شوي ده ، او سره ددينه چی بعضو ځايونو کښی دوه واري جمع شوي ده، لکه اناعيم او بعضو ځايونو کښی يو واري جمع شوي ده لکه مساجد؟ **جواب:** مراد دجموع نه مافوق الواحد ده نه به جمع کيږي په تکسيري سره مګر که چيرته جمع شوه په سالمی سره نو جمع کيدي شی ، لکه (ايامن) دا جمع ده صيغه دمنتهی الجموع ده او غير منصرف ده او جمع شوي په ايامنين سره او همدارنګه صواحب دا جمع شوي ده په صواحبات سره.

**وانما اشترط:** سره پنځم غرض ذکر کوی چی وجه داشتراط ده، دجمع دپاره شرط دا اوګرځولی شو چی دا به صيغه دمنتهی الجموع وی دپاره ددي چی دا صيغه محفوظه شی د قبلولو دتغير نه. **بغير هاء منقلبة عن تاء:** اول غرض دفع داعتراض ، دويم دفع اعتراض: دريم وجه داشتراط، څلورم رد. پنځم خلاصه: اول غرض دفع

Maktaba Tul Ishaat. com



اعتراض ده اعتراض واردیږي : چې بغیرهاء چې وي نو غیر منصرف به وي نو (فرازنة) صیغه دمنتهی الجموع ده بغیر هآء ده نو غیر منصرف دي شي او حال ده چې غیر منصرف نده ؟ **جواب:** مراد د هاء نه هغه هاء ده چې منقلبة وی دتاء تانیث څخه په حالت دوقف کښې .

**والمراد منه:** دویم غرض دفع اعتراض : فوارده صیغه دمنتهی الجموع ده . الف دي او بعده حرفان هم دي او بغیر هاء نه ده پکار ده چې منصرف شي ؟ **جواب:** مراد د هاء نه تاء تانیثی ده چې په آینده کښې هاء ګرځي او دا خو هاء دنفس کلمې څخه ده . ځکه په مفرد کښې هم موجود ده . **وانما اشترط:** سره دریم غرض ذکر کوي . دابغیر هاء شرط ځکه اولګولی شو . که چیرته سره دهاء شي نو دا به بیا په وزن دمفرداتو شي لکه فرازنة چې په وزن دکراهیة او طواعیة سره ده نو په دي سره به نقصان راشي په قوت دجمعیت کښې .

**ولا حاجة :** سره څلورم غرض ذکر کوی . اصل کښې دا اعتراض دي چې مدائنی دا صیغه دمنتهی الجموع ده ، ځکه بعد الالف حرفان شته او غیر منصرف نه دي ، دي نه بعضو خلقو داسي جواب کړي دي دمصنف په متن کښې یو بل قید ولګول پکار وو ، چې لا یاءٌ نسبیةٌ ، نو شارح رد وکړو چې دا اعتراض هم غلط دي او جواب هم ځکه چې مدائنی دا مفرد محض دي نه فی الحال جمع ده اونه فی المال او جمع هغه مدائن دي او غیر منصرف هم دي په خلاف دفرازنة سره ځکه دا جمع ده نو بغیر هاء قید ئی ددي دخروج دپاره اولګولو .

**فعلم مما سبق:** سره خلاصه ذکر کوی کوم چې پنځم غرض دي خلاصه دا چې صیغه دمنتهی الجموع دا په دوه قسمه ده یو سره د هاء یو بغیر د هاء ، بغیر دهاء نه دا غیر منصرف ده او سره دهاء نه چې وی نو دا منصرف ده . **نکته:** صیغه د منتهی الجموع کښې ده اووئیل چې بغیر هاء او په وزن فعل کښې وئیلی وو چې غیر قابل للتاء مطلب دا چې نه به فی الحال پکښې تاء وي او نه به په آئنده کښې صالح دپاره دتاء وي نو هله به غیر منصرف ګرځي او په صیغه دمنتهی الجموع کښې داسي نه ده .

**واما فرازنة:** بعضو شارحینو وئیلی دي چې که اما تفصیلی وی نو اجمال کوم

Maktaba Tul Ishaat. com



دي او كه واو عاطفه وي نو معطوف عليه كوم دي، ځكه دا جمع نه ده. **بعضو** شارحينو وئيلي دي چې واو استينافيه دي او دا تصريح بما علم ضمناً ده او اما هم داستيناف دپاره ده او دا جمله معترضه ده اوضع شوي ده دپاره د دفع توهم چې متوهم به وئيل چې فرازنة خو بغير د علماء نه وي او بعضو وئيلي چې واو عاطفه دي او معطوف عليه مقدر دی چې اما لجمع اذا وحد الشروط فقد علم حکمه

**واما فرازنة فمنصرف**: دلته يو اعتراض واردیږي **اعتراض**: فرازنة مبتدا او منصرف ورلره خبر دي مطابقت بين مبتدا والخبر رانغلو؟ **جواب**: په څو طريقو سره شوي دي اول منصرف داخبر دي خو دا جامد دي ځكه دانوم دي دپاره دهر هغه اسم چې منصرف وي نو مطابقت به هله ضروري وي چې خبر مشتقي وي اودلته خو خبر جامد شو. دويم دامنصرف خبر دي دپاره دمبتدا خو دمبتدا يو جزء چې مضاف دي حذف دي تقدير داسي دي چې واما نحو فرازنة فمنصرف . نو دا خبر مذكر دي په اعتبار دمضاف سره او دا جواب صحيح هم دي ، دريم جواب دادي چې دا علم دي دپاره د امثالو ددي فرازنة نو دا علم شو نو منصرف ځكه مذكر دي، اوس پري اعتراض واردیږي چې اوس خو غير منصرف شو دوجې دعلميت اودتانيث نه اودا منم خو معترض وائی چې غيرمنصرف شو نو تنوين پري څرنګه راغلو ؟ **جواب**: دا تنوين تمكن نه دي بلكه دا تنوين دمشاكلت دي .

## په علماً كښى نسخ

**وحضاجر علماً للضبع**: په علماً كښى دوه نسخي دي يو دا چې دا علماً دا مرفوع دي او خبر دي دپاره دمبتدا محذوفي چې ( وهو ) دي دا مبتدا اوخبر دواړه خبر دپاره دحضاجر مبتدا او غير منصرف دا ورلره خبر ثاني دي . دويمه نسخه داده چې دا علماً منصوب دي او حال دي دمبتدا نه چې حضاجر دي او حال دمبتدا نه صحيح دي په نزد دي ابن مالك. اويا دا حال دي په غير منصرف كښى دمضاف اليه نه چې منصرف دي او حال دمضاف اليه نه صحيح دي.لكه ملة ابراهيم حنيفاً كښى اوس په دي دا اعتراض واردیږي چې لكه څرنګه چې دمضاف اليه په مضاف باندي تقديم نه دي جائز دا رنګې متعلقات دمضاف اليه هم په مضاف نشي مقدم كيدي، نو دلته هم داسي وئيل پكار

Maktaba Tul Ishaat. com



دي چې وحضاجر غير منصرف علماً ؟

**جواب:** قاضي بيضاوي په غير المغضوب كښې دا تحقيق ذكر كوي چې (غير) دا په دوه قسمه دي ، اول صفتي ، دويم په معنى دلانافيي سره ، اودا بيا په حقيقت كښې مضاف مضاف اليه نه وي په دي صورت كښې بيا تقديم دمضاف اليه او دمتعلقاتو دواړه جائز دي په مضاف ځكه دا په حقيقت كښې مضاف اليه نه وي نو دلته هم غير په معنى ثاني سره دي .

**قوله هذا جواب سوال مقدر:** اول ذكر دغرض دماتن او غرض پكښې دفع داعتراض ، دويم وجه دنصب دعلماً : **اول غرض** : حضاجر او سراويل دا خو مفردات دي نو خروج عن البحث راغلو ، نو ده جواب اوكړو چې دا جواب دي دسوال مقدره څخه ، او هغه دا چې حضاجر صيغه دمنتهى الجموع ده او صيغه يا وزن دمنتهى الجموع دا خو ورلره شرط دي اوسبب په حقيقت كښې جمع ده نو چې شرط راغلو او مشروط نشته نو حضاجر بياولې غير منصرف استعماليږي . **جواب:** جمع په دوه قسمه ده، اول حالاً ، دويم اصالة، كه دا حالاجمع نه وي نو اصالة جمع ده ځكه دامنقول ده دجمع نه لكه رجال ديو سړي دپاره نوم اوكرځوي نو اصالة جمع ده .

**وحضاجر حال كونه علماً:** سره دويم غرض چې وجه دنصب ده ذكر شوه، اصطلاح: يو جنس دي بل اسم جنس او بل علم جنس او بل علم شخص دي، اول : جنس وويل كيږي كلي ته چې صدق ئې په كثيرينو كيږي او معلوميت او معهوديت پكښې نه وي لكه اسد ، اوس ددغه ماهيت كلي دپاره چې كوم لفظ وضع كړي هغې ته اسم جنس وائي ، لكه همدا لفظ د اسد ، او كه چيرته دغه جنس كښې لحاظ دمعلوميت او معهوديت اوشي، نو ديته علم جنس وائي لكه اسد جنس د زمرو ته وائي ، او اسامه دا يو جماعت د زمرو ته وائي، ددي وجې نه په اسم جنس احكام دنكري جاري كيږي اوپه علم جنس احكام دمعرفې جاري كيږي ، كه چيرته دغه مفهوم كلي كښې ئې فرد واخلي نو ديته علم شخص وائي لكه زيد چې حيوان ناطق كښې واخلي، البته يوه خبره ده چې علم جنس دوجې دضرورت څخه دوي معتبر كوي لكه يو لفظ په عربي كښې غيرمنصرف استعماليږي ، او غير منصرف كښې سببين پكار وي، نو دوي كښې

Maktaba Tul Ishaat. com



علمیت معتبر کړي. لکه اسامه کښې مخکښې صرف تانیث وو، نو دوي پکښې دوجې دضرورت نه علمیت معتبر کړي.

**فانه کان فی الاصل**: اول تتمیم دجواب. دویم اعتراض، دریم جواب، څلورم دفع اعتراض: اول خبره حضاجر کښې جمعیت اصلي دي ځکه دا منقول ده دجمع نه ځکه دا په اصل کښې جمع دحضجر ده په معنی ده عظیم البطن سره په دي سره مسمی کړي شوه ګویا چې هر فرد د دوي یو جماعت دعظیم البطن دي نو معتبر په حضاجر کښې جمعیت اصلي دي. **فان قلت**: سره دویم غرض اعتراض په منع صرف دحضاجر کښې جمعیت اصلی اعتبار کولو ته څه ضرورت نه وو ځکه چې یو پکښې علمیت دي اوبل پکښې تانیث دي چې ضبع مونث دضبعان دي. **قلت**: سره دریم غرض: جواب: جمعیت اصلی ځکه معتبر وو چې علمیت پکښې موثر نه دي که چیرته موثر وی پکار وه چې بعد التنکیر دا منصرف ګرځیدلی وي او سره ددینه چې غیر منصرف وي او تانیث هم پکښې غیرمعتبر دي ځکه چې دا علم جنس دضبع دي مذکر او مونث پکښې برابر دي، ددي سره یو بل سوال هم دفع شو هغه داچې علم جنس دي نو د دوي په مابین کښې خو تضاد دي، **جواب**: علمیت دلته معتبر نه دي

**وانما اکتفی المصنف**: سره څلورم غرض دفع داعتراض: **اعتراض**: تا چې دجمع څخه اصالةً جمع واخستله نو پکار ده چې وئیلی د وي چې شرطه ان یکون جمعا فی الاصل لکه په وصف کښې د چې وئیلي وو. **جواب**: داد پاره ددي چې متوهم دا وهم ونکړي چې جمع یو اصلی ده او بله عارضی او اصلی به غیر منصرف وی او عارضی به نه وي او سره ددینه چې جمع عارضی با لکل نشته. **وسراویل جواب سوال مقدر**: اول غرض شارح غرض دماتن ذکر کوی، او غرض پکښې دفع داعتراض ده **اعتراض**: سراویل صیغه دمنتهی الجموع ده او جمع نه ده او صیغه دمنتهی الجموع ذا یواځې موثر نه وی په منع دصرف کښې بغیر دجمع نه اوس دلته پکار ده چې سراویل دا منصرف شي او سره ددینه چې غیر منصرف ده، ددي نه دري جوابو نه دي

**فاجاب**: اول جواب دادي چې ددي په منصرف والی او غیر منصرف والی کښې اختلاف دي، خو اکثراستعمال ئی غیر منصرف کیږي. نو چې غیر منصرف شو نو دا

Maktaba Tul Ishaat. com



اعتراض پري واردېږي ، نو ددي جواب دادي چې دا عربی اسم نه دي بلکه عجمی دي او حمل دي په موازينو خپلو چې مصابيح او اناعيم دي ، نو جمع په دي کښې اګرچې حقيقتاً نه ده بلکه حکماً ده **فبناء هذا الجواب**: سره رد په بعضو خلقو کوی بعض خلقوئيلی دي چې دا جواب مبنی دي په زيادت دسبب آخر باندي چې هغه حمل دي په موازينو خپلو نو ده پري رد اوکړو چې دا جواب مبنی دي په تعميم دجمع باندي نه په زيادت دسبب آخر باندي.

**وقيل هو اسم عربی**: سره دويم جواب ذکر کوی . چې دا اسم عربی دي اوګرچې حقيقتاً جمع نه ده بلکه جمع ده. دسروالة خو سروالة ورلره تقديراً مفرد ګرځولی شوي دي **تقديراً فرضا فانه**: اول غرض معنی دتقديراً او دويم غرض دليل فانه سره ذکر کوی معنی دتقديراً فرضاً ده ، دويم غرض هر کله چې موجوده شوه په کلام دعربو کښې غير منصرف او دا قاعده ده چې وزن دمنتهی الجموع يواځې مانع دمنصرف والی څخه نه وو نو مونږ فرضاً دسروالة جمع اوګرځوله دپاره دحفاظت ددغه قاعدي نوګويا کښې دسراويل هره ټوټه دا مسمي کړي شوه په سروالة سره اوبيا جمع کړي شو په سراويل سره . **وذا صرف ای سراويل**: سره دريم جواب ذکر کوی سراويل غير منصرف دسره نه دي ځکه دا جمع حقيقتاً نه ده نو ستا اشکال هم وارد نشو. **باالنقض به علي قاعدة الجمع** : اول غرض دفع داعتراض.

**اعتراض**: اشکال نکره ده او نکره چې واقع شي په سياق دنفي کښې عموم فائده کوی نو معنی دا شوه چې جنس اشکال نه واردېږي سره ددينه چې خاص اشکال خو واردېږي هغه چې مونږ اووئيل چې فرازنة دا به بغير هاء وی که چيرته شي نو خرابی به پکښې راشي ځکه وزن به چې مفرد شي او جمعيت کښې به ئې فتور راشي اوس مصابيح او اناعيم دا په وزن دسراويل دي او دامفرد دي پکار ده چې دمفرد دموازنت دوجې نه منصرف شي؟ **جواب**: مراد زمونږ خاص اشکال دي چې په سراويل واقع کيده . **اعتراض من الخارج**: قاعده خرابه شوه چې تا د اشکال نه خاص اشکال واخستلو؟ **جواب**: نکره چې په سياق دنفی کښې واقع شي عموم فائده کوی خو چې قرينه مخالفه موجوده نه وی او دلته قرينه مخالفه موجوده ده چې په مونږ کوم اشکال

Maktaba Tul Ishaat. com



وارد شوي وو هغه مراد دي،

اوس په اناعیم اومصابیح چې کوم اعتراض وارد شوي وو چې دا په وزن دمفرداتو دي نو جمعیت کښې ئې قصور راغلو نو دهغې ځخه اول جواب دادي چې جمع کښې په وزن دمفرد سره نقصان راځي خو چې مفرد اتفاقاً وي او سراویل دا اتفاقاً مفرد نه دي، او دویم جواب دادي چې په جمعیت دجمع کښې په موازنت دمفرد سره فتور راځي خو چې مفرد عربي وي او سراویل عربي مفرد نه دي بلکه عجمي دي

## په لفظ جوار کښې تشریح

**ونحو جوار ای کل جمع**: واو اعتراضیه دی دا جمله معترضه ده ، بین الکلامین او مقصود بیان دحکم دجوار دي، یا واو عاطفه دي او دا جمله عطف ده . په سراویل للقرب او حضاجر للاصل باندي، **اعتراض**: .مولانا صاحب جواري قبل الاعلال صیغه دمنتهی الجموع ده ، اختلاف پکښې ندي پکار ده چې بالاتفاق غیر منصرف شی، او بعد الاعلال منتهی الجموع نده، پکار ده چې اتفاقاً منصرف شی نو دا اختلاف پکښې ولې دي، ؟ **جواب**: حالت نصبي کښې بالاتفاق غیرمنصرف دي او درفعې او جري کښې دري مذهبه دي، اول قبل الاعلال او بعد الاعلال منصرف دي، دویم قبل الاعلال او بعد الاعلال غیر منصرف دي، دریم قبل الاعلال غیر منصرف اوبعد الاعلال منصرف دي، داول مذهب دلیل قبل الاعلال ځکه منصرف دي چې په معرض دزوال کښې دي، اوبعد الاعلال ځکه منصرف دي چې صیغه د منتهی الجموع نه ده، د دویم مذهب دلیل :قبل الاعلال ځکه غیر منصرف دي. چې منتهی الجموع ده او بعد الاعلال ځکه غیر منصرف دي چې المحذوف کالملفوظ ، د دریم مذهب دلیل : قبل الاعلال ځکه غیر منصرف دي چې صیغه دمنتهی الجموع ده، او بعد الاعلال منتهی الجموع نده نو منصرف دي.

**رفعاً وجراً ای فی حالتی الرفع والجر**: رفعاً وجراً منصوب بنابر ظرفیت یا منصوب دي علی نزع الخافض تقدیر داسي دي چې حالها کقاض حالتی الرفع والجر ، کقاض: اول وجه دتشبیه، دویم دفع اعتراض ، دریم توضیح با لمثال ، څلورم فائده دقید، بیان داختلاف . اول غرض : جوار پشان دقاض دي دفع اعتراض :جوار جمع او قاض مفرد

Maktaba Tul Ishaat. com



دي، نو تشبیه دجوار د قاض سره صحیح نه شوه؟ **جواب**: تشبیه ئې بحسب الصورة ده په حذف د یاء او په ادخال دتنوین کښې . **تقول**: سره دریم غرض توضیح بالمثال لکه جاءنی جوار ومررت بجوار .

**واما فی حالة النصب**: حالت رفعی او جري کښې پشان دقاض دي او حالت نصبی کښې دا پشان دقاض نه دي لکه رایت جواري . **فـذهب بعضـهم**: سره دریم مذهب : دا مذهب دجاج دي دي وائی چې قبل الاعلال او بعد الاعلال منصرف دي ، بعد الاعلال ځکه چې صیغه دمنتهی الجموع نه ده پاتی او قبل الاعلال ځکه چې اعلال مقدم دي، نو دا اسم په معرض د زوال کښې دي نو کا الزائد شو . **والتنوین**: تنوین خو په پنځه قسمه دي، تنوین صرف خو پکښې نشته ؟ **جواب**: مراد دصرف نه تمکن دي نو تنوین دتمکن شو . **اعتراض**: ته وائی چې اعلال مقدم وی او منصرف او غیر منصرف دا وروسته وی، نو چې کلمه مرفوع منصوب او مجرور وائی نو بیا منصرف او غیر منصرف د کلمی سره سره وی او اعلال خو د کلمی سره سره نه وی؟ **جواب**: مراد دتقدم نه تقدم ذاتی دي، او تقدم ذاتی منافی نه وي د معیت زمانی سره .

**بناء علی ان الاصل**: اعلال مقدم وی په غیر منصرف نو په منصرف هم مقدم وی نو بیا دي منصرف هم نه ؟ **جواب**: منصرف مقدم دي په غیر منصرف ځکه اصل انصراف دي . **وذهب بعضهم**: سره دویم مذهب چې دا غیر منصرف دي ، قبل الاعلال او بعد الاعلال دواړه، ځکه چې المحذوف کا لملفوظ . **اعتراض**: تنوین د کوم ځائی نه راغلو چې غیر منصرف شو ؟ **جواب**: تنوین عوضی دي تنوین الصرف او یا دواړه حذف شو او یاء نه مو تعبیر په تنوین عوضی سره او کړو دا دوه مذهبه شول او دریم مذهب مو دبهر نه ذکر کړو مخکښې . **وفی لغة بعض العرب**: سره یو بل قول ذکر کوی، دي وائی چې په حالت جري کښې به هم یاء ثابته وی لکه په حالت نصبی کښې چې ده مثلاً رایت جواري ومررت بجواري . دوي وائی چې اعلال باندي انصراف او عدم انصراف مقدم دي نو چې اعلال پکښې نه وي شوي نو صیغه دمنتهی الجموع باقی ده، نو غیر منصرف شوه .

Maktaba Tul Ishaat. com



## د ترکیب معنی او قیودات

**الترکیب: اعتراض:** د ترکیب شمارل ستا د اسبابو د منع صرف نه صحیح نه دي ځکه اسباب د منع صرف من قبیل المفردات دي؟ **جواب:** دا هم اوس بعد الترکیب مفرد ګرځیدلي **اعتراض** بیا ورته ترکیب ولی وایي ځکه دا خو مفرد ګرځیدلی؟ **جواب:** دا په اعتبار د ماکان سره لکه یتیم ته بعد البلوغ یتیم وائی ، دا په اعتبار د ماکان سره .

**وهو صیرورة الکلمتین:** اول بیان د معنی د ترکیب ، دویم بیان د یو قید ، دریم فائده د قید : تعین د معنی هلته کیږي چی چیرته احتمالات متعدد وی، د ترکیب ډیري معناګانی دي، اول جعل المتکلم الکلام مرکبا. دویم معنی حاصل باالمصدر ، دریم معنی کلمتین . دلته دریمه معنی مراد ده یادلته دا تعریف د ترکیب کوي.

**من غیر حرفیة جزء:** بیان د یو قید دوه کلمی او یا زیاتی خو به یوه کلمه وګرځوي خو حرف به پکښی جزء نه وی حرفیة مضاف او جزء مضاف الیه او په مضاف مضاف الیه کښی مقصود هغه مضاف وی، دلته مقصود نفی د حرفیة ده د جزئیت نه ده . **فلا یرد:** سره فائده د قید ذکر کوی چی دریم غرض دي که دا قید نه وی نو اعتراض راتلو چی نجم دوه کلمی دي ، بصري دوه کلمی دي که دا یو کس ته نوم کړي پکار ده چی غیر منصرف شی او سره ددینه چی دا منصرف دي، **جواب:** دا یو جزء حرف دي . **العلمیة لیامن:** سره وجه د اشتراط ذکر کوی ، **وان لا یکون باضافة:** دا نور شروط ذکر کوی . لان الاضافة سره شرط ذکر کوی ، اضافة غیر منصرف منصرف کوی، نو دي به څنګه غیر منصرف لره شرط شی،

**والاسناد:** اوله خبره : دلیل ، دویم اعتراض ، دریم جواب : **لان الاعلام:** یو مرکب چی پکښی اسنادي وی، او ته ئی چالره نوم کړي داد قبیلی د مبنیاتو څخه شو، لکه تابط شراً (فعل فاعل مفعول) ولی دیکښی اسناد دي او قبیلی د مبنیاتو څخه دي اګرچي علم شی ځکه دیکښی اشاره ده هغه قصه غریبی ته که تغیر او تبدیل پکښی اوکړي نو په هغه قصه غریبه کښی فرق راځی ، بل مثال لکه فی الصیف ضیعة اللبن یعنی موقع درنه تلی ده دا مونث دي لیکن که سړي ته ئی اووائی نو بیا به هم هغه صیغه به نه وائی ځکه اشاره ده پکښی قصی غریبه ته. دارنګه تابط شراً اي جعل فی

Maktaba Tul Ishaat. com



الابط شراً که دا علم هم شی نوتعبیر او تبدیل به پکښی نه وي، ځکه قصه غریبهٔ کښی فرق راځی او دا دقبیلی دمبیناتو نه دي او غیر منصرف خو معرباتو دقبیلی څخه دي.

**فان قلت:** سره دویم غرض بیان داعتراض دمصنف په عبارت کښی قصور دي، ځکه په مصنف یو اعتراض راځی ا دهغی جواب دپاره یو قید لګول پکار وو او هغه نشته دي. لکه خمسة عشر، (سیبویه او نفطویه) دا چالره نوم کیږده ترکیب پکښی شته او علمیت پکښی راوله نو غیر منصرف دي شی سره ددینه چی دا دمبنیاتو څخه دي.

**قیل:** والاوائی چی اضافت به نه وي اسناد به نه وی او صرف صوت به نه وي نو سیبویه اووتلو او جزء ثانی به متضمن حرف لره نه وي، نو خمسة عشر اووتلو، نو دي جواب نوی چی! حُملنا: مادا قیدونه لګولو ځکه دا می مخکښی وئیلی چی جزء ثانی به متضمن وی حرف لره او حرف صوت به وي، ولااسناداً به وي هم نه وي وئیلی، **جواب:** دا می هلته نه ووذکر کړی دلته می ولااسناداً اووئیلی **مثل بعلبک:** دي سره تطبیق دمثال دممثل سره ذکر کوی.

## بیان د والالف والنون

**والالف والنون:** کښی الف لام عهد خارجی شو، مراد ترینه هغه الف نون دي چی په اجمال کښی ذکردي، **تسمیة:** سره وجه تسمیه چی داد حروف زوائد څخه دي، حروف زوائد پس دتمام دکلمی څخه راځی **وتسمیان:** سره دریم غرض دا مشابه دي دمضارع سره. دیته الف نون مشابهتین وائی لکه ددوي مشابهت دي دالفین دتانیث سره په عدم دخول دتاء تانیث کښی.

**وللنحاة:** سره څلورم غرض: دالف نون په سببیت کښی اختلاف دي، کوفیان وائی دا فرع دمزید علیه دي، مشابه دي دفعل سره په وجود د فرعیتین کښی، نو مشابهت سره داسم خواص لاړل چی جر او تنوین دي. بصرین وائی چی دا سبب د منع صرف دوجی دمشابهت دالفین دتانیث سره هغه وو نو دا هم سبب شو. **والراجح:** سره پنځم غرض راجح قول ثانی دي چی داد وجی دمشابهت دالفین دتانیث سبب دي نه دوجی دوجود دفرعیتین نه، ځکه ندمانةً کښی فرعیت دي اوسره ددینه چی غیر منصرف نه دي، دا قول د مصنف نه شارح نقل کړي دي، محققین وائی، چی اول قول

Maktaba Tul Ishaat. com



ارجح دي، ځکه که دا دمشابهت دوجې نه سبب شي نو بيا به اسباب ثمانيه پاتې شي ځکه دا خو مستقل سبب نه شو اويا به اسباب عشره شي

**ولم يقل احد كذالك**: بهر حال قول صحيح كيدي شي، **ثم ان كانتا في اسم يعني به**: اول غرض دفع اعتراض، دويم قاعده كليه يا بيان دفرق اعتراض: تا اووئيل چې ان كانتا في اسم اوفي صفة اسماء صفت كښې دي مقابله راوستله دا مقابله نه ده. صحيح ځكه كله كله يو اسم او صفت يو ځائې جمع كيدي شي، لكه ضارب؟ **جواب**: اسم كله مقابل دفعل او حرف وي او كله مقابل دلقب او كنيت وي او كله مقابل دصفت وي او دلته مراد هغه اسم دي چې مقابل دصفت راځي . هغه صفتونه چې جمع كيږي، نو فرق څه شو نو هغه اسم چې مقابل دفعل او حرف دي. دا اسم به يا دلالت كوي په صرف ذات لكه رجل او فرس او كله به دلالت په ذات مع الصفة كوي كه دلالت صرف په ذات كوي نو دا اسم شو او چې صفت ورسره وي نو بيا دا صفت دي.

**فشرطه اى شرط الالف والنون**: اول دفع د اعتراض: دويم دفع اعتراض، دريم جواب ثاني اعتراض، تا اووئيل چې شرط يې علميت دي زه به درته وښايم چې علميت به پكښې نه وي. لكه مكران **جواب**: دا شرط دوجود دپاره نه دي. بلكه دسبب دمنع صرف دپاره دي **واضداد الضمير**: اعتراض: مخكښې الف ونون دوه شيان دي او تاوئيل چې شرطه نو شرطهما وئيل پكار وو؟ **جواب**: ضمير موځكه مفرد راوړو سره ددينه چې دوه شيان دي ځكه چې دا دواړه سبب واحد دي.

**اوشرط ذلك الاسم**: سره جواب ثاني شرطه كښې ضمير الف نون ته نه دي مخكښې ضماير ټول اسبابو ته راجع وو او دلته اسم ته راجع شو. **العلمية تحقيقاً**: اول وجه داشتراط. الف نون زائد ولې سبب دي، يا له وجې دمشابهت نه او يا له وجې د فرعيت نه او علميت پكښې شرط دي چې فرعيت ئې قوي شي، ځكه اعلام محفوظ شي ددخول دتاء نه. **كعمران**: الف نون مزيد تان به اسم كښې وي، ددي درې حالات دي. عثمان سلمان عمران، او چې صفت كښې وي هلته دوه حالات راتلې شي، مفتوح لكه مكران مضموم لكه عريان، **اوكانتا في صفة**: **اعتراض**: ماتن اووئل ان كانتا اوس وائي او كانتا او په ځائې دي أنْ ځنګه راوړلو، **جواب**: دا تركيب دقبيلې دشرط او

Maktaba Tul Ishaat. com



جزا نه دي په عطف واحد باندي نو ان كانتا شرط او فشرطه العلمية دا جزاء دشرط جزا عطف شوه په ماقبل دشرط او (هم) لپاره دعطف دي اوس كه مونږه ان كانتا وئيلي وي نو يو جزا او شرط به عطف وى په بل جزا او شرط باندي نو دا به عطف دقصي راغلى وى، په قصى باندي او دلته دا نشته ځكه جملتين كښى بعد راغلو نو ده مخكښى جزا او وروسته ئى شرط يو كړل او په يو عاطف سره ئى ذكر كړل.

**فانتفاء فعلانة اى ان كان**: اول قاعده دعطف او دفع داعتراض، دا عطف شو په في اسم دهغى نه مخكښى وو، ان كانتا اوس وائى ان كانتا فى صفة اى ان كان. الف والنون يعنى امتناع. **اعتراض**: عريان كښى الف نون زائدتين صفت كښى دي او ديكښى فعلانةٍ نشته نوشرط دانتفاء دفعلانة نشته نوغير منصرف ئى كړه؟ **جواب**: مراد لفظ نه دي بلكه وزن مراد دي او دده مونث فعلنةٍ راځى يا مراد امتناع تاء تانيث ده او پدي كښى امتناع دتاء تانيث نشته. **وقيل شرطه وجود فعلى لانه متى**: اول وجه داشتراط چا وئيل چى شرط وجود فعلى وي نو په دي تاء نه راځى. مقصود د دواړو هغه نفى دتاء تانيث ده، **ومن ثم**: چى مخالفت دشرط راشى،

## اختلاف په رحمان كښى

**اختلف فى رحمنٰ**: اول دفع اعتراض، دويم تطبيق، دمثال دممثل سره، اول **اعتراض**: رحمنٰ كښى خو خلاف نشته، دا خود الله نوم دي؟ **جواب**: په انصراف او عدم انصراف كښى اختلاف دي رحمنٰ كښى الف نون مزيد تان راغلى دي مونث ئى فعلانة رحمانة نشته دي نو شرط په كښى موجود شو نو غير منصرف شو، او بل دا چى فعلى وزن پكښى نه موجوديږي يعنى رحماء پكښى نشته نو وجود ئى شرط پكښى موجود نه شو نو منصرف شو، **دون سكران**: اول معنى د دون، دويم تطبيق دمثال دممثل سره، معنى د دون دا ده چى پدي كښى خلاف نشته چى غير منصرف دي اتفاقا ځكه مؤنث يي سكرانة نه راځى او سكراى راځى، **ودون ندمان**: ندمان كښى اختلاف نشته چى منصرف دي معنى د دون اى لاخلاف فى صرفية. دويم دليل دمتن ځكه شرط دمذهبين ندي موجود ځكه مونث ئې ندمانة راځى او وجود د ندمى پكښى نه راځى.

**وهذا اذا كان ندمان**: سره قول اخر ذكر كوى چى ندمان دنديم نه شى، نو بيا غير

Maktaba Tul Ishaat. com



منصرف دي او چې ندمان دندم نه شي نو بيا غير منصرف دي ځکه شرطين پکښې موجود دي، چې مونث ئې ندمی راځي ندمانة نه راځي **وزن الفعل وهو كون الاسم على وزن**: اول غرض دفع د ددو اعتراضونو ، دويم توطيه او تمهيد دمتن آتي دپاره، اول **اعتراض**: دوزن اضافت شويدي فعل ته او تبادر داضافت نه اضافت لامي وي او اضافت لامي مفيد دتخصيص وي نو معنى دا شوه چې دا وزن به خاص وي په فعل پوري نو چې دا فائده حاصل شوه نو وروسته عبارت ته حاجت پاتې نشو، چې هغه دادي .

**ان يختص به**: **جواب** نو ده جواب ورکړو چې مراد د وزن نه هغه وزن دي چې يعدّ من اوزان الفعل اوس فعل پوري خاص وي او که نه نو دا عام شو دويم **اعتراض**: چې هر كله اضافت دپاره دتخصيص نشو نو داضافت فايده څه شوه . **جواب**: اضافت د وزن فعل ته دا ادنى ملابست دي وجه څخه شويدي دلته ئې دوزن فعل تفسير په كون الاسم سره کړيدي سره ددينه چې وزن دا هغه حالت او هئيت ته وائي چې حاصل وي دترتيب دحروفو او حركاتو او سكناتو نه او دا غير دي دكون نه او كون خو معنى مصدري ده .

بل جواب دادي چې دا دموافقت داسبابو سابقه و څخه **وهذا القدر لا يكفى**: سره دويم غرض ذكر کوي چې توطيه ده دمتن آتي دپاره ، **احد الامرين**: سره دفع داعتراض : **اعتراض**: تاوئيل چې شرطه ان يختص به او يكون فى اوله الخ... (او) راځي دپاره تشكيك نو ستا هم پدي كښې شك دي چې كون يو به پكښې وي؟ **جواب**: (او) دپاره دتقسيم دي چې يو به ددي دواړو څخه پکښې وي.

**باللغة العربية**: سره دفع داعتراض : **اعتراض**: تا وزن فعل دپاره شرط هغه اختصاص اوګرځولو په فعل پورې زه به درته اوښايم . چې وزن فعل به هم پکښې وي او علميت به هم پكښې وي او دغه وزن به خاص نه وي، په فعل پوري بلكه د اول نه به په دغه اسم كښې موجود وي، لكه بضم . **جواب**: مراد دوزن نه هغه وزن دلغت عربي وي او بضم خو وزن عجمي دي **به اى بالفعل**: اول غر تعين دضمير، دويم معنى داختصاص ، اول خبرا داده چې ضمير راجع دي فعل ته، دويم داختصاص معنى داده چې دا وزن به نه موجود يږي په اسم عربي كښې مگر منقول به وي دفعل څخه ،

**كشمر على صيغة الخ**... يو غرض تطبيق د مثال دممثل سره ذكر کوي، دويم

Maktaba Tul Ishaat. com



تعميم ، دريم تصريح بالاعتراض . کشمر سره اول غرض اوشو چې شمر دا اسم دي او وزن ئی دفعل ماضی معلوم دي.

**وكذالك بذر:** سره دويم غرض چې تعميم ذكر كوی چې دشمر پشان بذر هم غيرمنصرف دي، دوجی دوزن فعل او بل دا بذر علم دي دپاره دماء ، اوعشر هم دا غير منصرف دي او همدرانګه **خصم: واما نحوبهم:** سره دريم غرض چې تصريح بالاعتراض ده او دا مخکښې تير شوي ده، **ومثل ضرب:** سره يو غرض دفع داشتباع خطی . دويم وجه دماضی مجهول كيدلو، دريم اشاره اختلاف ته. اول غرض ، على البناء للمفعول يعنی دا ماضی مجهول ده،

**وانما قيدنا بالبناء للمفعول:** سره دويم غرض: داځکه مبنی للفاعل نه دي چې هغه مختص ندي په فعل پوري ، **ولم يذهب الى منع صرفه:** سره دريم غرض: ماضی معلوم چې کله دا وزن وی نو پديکښې اختلاف دي بعض وائی چې دا غير منصرف دي ځکه دا وزن مشترکه دي چې په اسم کښې موجوديږي نو دا به منقول وی دفعل نه نو خاص شو دا وزن په فعل پوري جمهور وائی چې نه دا غير منصرف دي ځکه په دوارو کښې ځانته ځانته استعماليږي منقول نه دي له چا نه او نه ئی چا پوري اختصاص شته.

**اويكون غير مختص:** سره ئی اشاره اوکړه قاعدي دعطف ته، چې اويكون عطف دي په ان يختص نو دشرطيه لاندي راغلو نو تقدير داسی شو چې فشرطه ان يختص بالفعل اويكون فی اوله، فی اوله ای فی اول وزن الفعل او على ماكان على وزن الفعل: دي عبارت سره اشاره كوی ذكر داحتمالينو ته چې د اوله ضمير دا راجع دي وزن فعل ته يا راجع دي على ماكان على وزنه ته. **زيادة ای زيادة حرف او حرف زائد:** دي عبارت سره دا خبره ذكر كوی چې كه د اوله ضمير راجع شي وزن الفعل ته نو زيادة به په معنی مصدري سره استعماليږي ، تقدير دعبارت به داسی وی چې فی اول وزن فعل زيادة حرف ، او كه د اوله ضمير راجع شي اول دماكان على وزن الفعل ته نو بيا به زيادة په معنی دفاعل سره وی تقدير دعبارت به داسي شي چې فی اول ماكان على وزن الفعل حرف زائد.

**كزيادة ای مثل:** يو غرض معنی دكاف ، دويم غرض تعين دضمير كوی غير

Maktaba Tul Ishaat. com



قابل ، ای حال کون وزن الفعل یو غرض وجه دنصب دغیر قابل ، دویم بیان داحتمالینو، اول غرض: غیر قابل دا حال دي داوله دضمیر نه او دا ضمیر مضاف الیه دي او حال واقع کیدل دمضاف الیه نه صحیح دي، په هغه صورت کښې چې حذف دمضاف جائز وی او مضا الیه قائمقام کیدي شی چې او یکون فی وزن الفعل زیادة غیر قابل للتاء ، لانه یخرج الوزن ، دي عبارت سره شارح دلیل ذکر کوی چې قابل دتاء به ولی نه وي ځکه چې پدي تاء سره دغه وزن د اوزانو دفعل څخه وځی ځکه تا خاص ده په اسم پورې ، ولو قال غیر قابل للتاء قیاساً . سره دفع داعتراضینو او پدې کښې تعریض ذکر کوی په ماتن ، او **اعتراض**: اربع دا دیو سړي نوم کیده پکار ده چې دا منصرف شی ځکه وزن فعل او علمیت پکښې شته خو شرط پکښې نشته، چې غیر قابل للتاء ، بلکه قابل دتاء دي، **جواب**: مراد دتاء څخه تا قیاسیه ده او اربع کښې خو تاء غیر قیاسی ده، ځکه په اسماء عدد وکښې تاء خلاف القیاس ، راځی دپاره دفرق په مابین دمذکر او مونث کښې ،

**اعتراض**: اسودة کښې وزن دفعل او علمیت شته او شرط پکښې نشته، چې عدم قابل للتاء دي بلکه قابل للتاء دي، ځکه چې اوسودة حیة السوداء تا ویلی شی او سره ددینه چې غیر منصرف دي پکار ده چې منصرف وي؟ **جواب**: مونږ دا وئیلی و چې قابل دتاء به نه وي خو چې دکومی وجی نه غیر منصرف شوي وي نو اسود تاء قبلوي خو دوصف داصلی وجی څخه نه بلکه د غلبه داسمیت عارضی دوجی نه ئی قبلوي

**ومن ثم امتنع احمر**: او دوجی داشتراط دعدم قبول دتاء څخه احمر غیر منصرف دي ځکه یو حرف دحروف اتینو څخه هم پکښې زیات شوي او عدم قابل دتاء هم دي **وانصرف یعمل**: یعمل دا منصرف دي ځکه چې قابل دتاء دي

**ومافیه علمیة موثرة**: ددي ځاي نه اسباب دانصراف ذکر کوي دانصراف پنځه اسباب دي، دوه ئی مخکښې ذکر کړل چې ضرورت شعري او تناسب دي اوس هغه نور دري ذکر کوی چې العلم اذا نکر صرف دي او جمیع اسباب دمنع صرف چې علمیت پکښې سبب اوشرط دواړه وی نو چې کله دغه اسم نکره کړې شی نو بلا سببه پاتی شی، نو

Maktaba Tul Ishaat. com



منصرف به گرځی او چی علمیت ورلره سبب ثانی وي شرط ورلره وی نو چی کله نکره کړيشي نو په سبب واحده سره به پاتی شی نو ددي وجی نه به منصرف گرځی ، او چی علمیت ورسره جمع شوي وي نه ورلره شرط وی او نه سبب ، نو چی کله نکره کړي شی نو بیا به غیر منصرف وی لکه په الفین دتانیث کښی او په جمع کښی .

**ای کل اسم غیر منصرف**: سره یو غرض دفع د اعتراض : دویم معنی دموثرة . فائده دقید دموثرة، اول غرض اعتراض : ملا صاحب ومافیه علمیة موثرة دا قضیه مهمله ده، او مهملات په حکم دجزئیاتو کښی وي او قضا یا جزئیه دا ممنوع فی العلوم وی؟ **جواب**: خلاصه دجواب داده چی دا منم چی دا قضیه مهمله ده مهمله په دوه قسمه ده، مهمله په محاوراتو کښی او مهمله په علومو کښی. مهمله په محاوراتو کښی دا په حکم دجزءی کښی وي او مهمله په علومو کښی دا په حکم جزءی کښی نه وی او مونږ دلته بحث په علومو کښی کوو، موثرة فی منع الصرف بالسببیة المحضة او مع الشرطیة: سره دویم غرض ذکر کوی چی موثر دا معنی چی یا صرف سبب وی او یا سبب هم وی او شرط هم .

**واحترزبذلک**: سره دریم غرض ذکر کوی، چی فائده دقید ده، دموثرة قید نه هغه اسباب اووتل چی علمیت ورسره صرف جمع شوي نه سبب وی او نه شرط ، لکه الفین دتانیث او صیغه دمنتهی الجموع ځکه دا دواړه ځانته ځانته قائمقام د سببینو دي علمیت لره پکښی څه تاثیر نشته ، **واذا نکر صرف**: اذا شرطیه ده او صرف ئی جزاء شوه،

**بان یوو العنم**، یو غرض یوه طریقه دتنکیر ، دویم توضیح بالمثال، دریم دویمه طریقه . څلورم توضیح بالمثال : اول غرض : یوه طریقه دتنکیر داده چی دا علم واحد من الجماعة اوگرځوی لاعلی التعین لکه هذا زیدٌ ورایت زیداً اخر، زید دا نکره ده ځکه صفت ئی نکره راغلی دي. که چیرته معرفه وی نو صفت به ئی هم معرفه راغلی وي، نود مثال سره دویم غرض اوشو، او یعجل عبارة الخ ... سره دریم غرض چی دویه طریقه دتنکیر ، او هغه دا چی دا علم اوگرځوی هغه وصف چی مشهور وی په هغی سره صاحب ددغه عَلَمْ لکه فرعون دا مشهور دي په مبطل سره او موسی مشهور دي په محق سره او ته دلکل فرعون موسی نه لکل مبطل محق واخلی ، نو څلورم غرض

Maktaba Tul Ishaat. com



دمثالونو سره اوشو، لما تبين اى ظهر حين: سره يو غرض معنى دتبين، دويم دا چې (لما) ظرف دي او دا ذكر كوى چې كوم ځائى كښې دا خبره ظاهره شوي، من انها سره بيان دلما كوى، اول غرض: معنى دتبين ظهور ده، دويم غرض چې علم كله نكره كړي شي نو منصرف ګرځي هغه اسم چې دا علميت پكښې سبب او شرط دواړه وى او دا ظاهرېږي په تانيث لفظي او معنوى اوپه عجمه تركيب او الف نون مزيدتين كښې.

**الاما، اى السبب الذي:** يو غرض تعين د (ما) كوى چې دا ما موصوله مشار اليه ده او دويم غرض ذكر، دمشار اليه كوى چې دهې دپاره شرط فيه، علميت مشار اليه ده، الاالعدل و وزن الفعل، استثناء من مابقى من الاستثناء الاول الخ.. سره غرض دفع داعتراض، دويم معنى دمتن، دريم توضيح بالمثال، اول غرض: د اعتراض نه مخكښې **يوه قاعده**:

**قاعده** داده چې يوه مستثنى منه راشي او دهغې نه وروسته استثناء راشي او د ي نه وروسته بله استثناء راشي نو كتابونه ليكي چې دوه مستثنى ګاني د يو مستثنى څخه ندي جائز او دعدم جواز دپاره چا مشهوره وجه دا ښودلې ده چې فصل راځي په مابين دمستثنى منه او استثناء ثانى كښې په استثناء اولى سره لكه جاء القوم الازيداً الاعمر خو دا وجه كمزوري ده ځكه چې فصل دا په صفت او موصوف كښې ندي جائز په مستثنىٰ منه او استثناء كښې خو جائز دي، دويمه وجه محققينو ذكر كړيده او هغه دا چې مستثنى اوله دا په حقيقت كښې مفعول اول او مستثنى ثانى دا مفعول ثانى وي او قاعده داده چې فعل كله متعدي كيږي، مفعول اول ته او بيا ئى ته متعدي كوى مفعول ثانى ته نو اعاده دعاطف دا ضروري وى، نو لهذا دلته هم اعاده مستثنى منه ضروري ده، دا ستثناء ثانى دپاره داسي وئيل پكاردي چې لاتجامع موثرة الاما هى شرط فيه ولا تجامع موثرة الاالعدل او وزن الفعل ؟

**جواب:** دلته مستثنى منه يوه نده بلكه د استثناء ثانى دپاره مستثنى منه مابٰى داستثنا اولى ده تقدير دعبارت داسي دي چې لاتجامع موثرة الاماهى شرط فيه ولاتجامع غير ماهى شرط فيه الاالعدل و وزن الفعل. **لاتجامع:** سره دويم غرض ذكر كوى چې معنى دومتن ده.. **كمافى عمرواحمد:** سره توضيح بالمثال يعنى دويم غرض اوشو.

Maktaba Tul Ishaat. com



**وهما متضادان:** سره غرض دماتن دفع داعتراض ده ، **اعتراض:** ملا صاحب دا قاعده دي نه منم چی اذا نکر صرف : ځکه که یو ځاي کښی عدل وزن فعل علمیت راغلی وي نو چی علم نکره کړي شي نو بیا هم دوه سببه دمنع صرف پاتی شول ته څرنګه وائی چی صرف؟ **جواب:** عدل او وزن فعل متضاد د ي.

**ای العدل و وزن الفعل:** سره شارح تعین دضمیر کړي، **لان الاسماء المعدولة:** سره دلیل د تضاد ذکر کوی، متضادین په دوه قسمه دي. بحسب المفهوم .دویم بحسب الاعتبار والاصطلاح :.اول قسم بحسب المفهوم لکه صفت او علمیت، صفت دا هغه دي چی دلالت کوی په ذات مبهمه سره دبعضو صفاتو، او علمیت دا هغه دي چی دلالت کوی په ذات معینه بغیر دصفاتو څخه : دویم قسم بحسب الاعتبار والاصطلاح لکه مونږ په عربو کښی وګرځیدو دعدل اوزان یو هم دوزن فعل پشان نه وو. **فلا یکون معها الا احدهما:** عدل او وزن فعل دا دواړه متضادین دي دا نه جمع کیږي دواړه دعلمیت سره مګر یو یو ځانته.

## دکان اقسام

**ای لا یوجد شئی من الامر الدائر:** یو غرض دا چی ، کان تامه دي، دویم دفع اعتراض:اول غرض : کان په دوه قسمه ده : یوه کان تامه ده، اوبل کان ناقصه ده ، کان تامه هغه ده چی جمله صرف په اسم سره پوره کیږي اوبل کان ناقصه هغه ده چی جمله صرف په اسم سره نه تمام کیږي بلکه خبر ته هم ضرورت پکښی وي او کان تامه څخه تعبیر په وجود او کون سره کولی شي، دویم غرض اعتراض :

**اعتراض:** الا احدهما استثناء ده داد چا څخه ده که مطلق سبب څخه وی نو کذب لازمیږي ځکه بیا به معنی داسي شي چی علمیت نه جمع کیږي دمطلق سبب سره مګر عدل یا وزن فعل سره او حالانکه د دوي نه علاوه نورو سره هم جمع کیږي لکه الف نون مزیدتینو سره یا عجمی سره، او که مستثنی منه عدل وګرځوی نو معنی به داسي شی چی نه جمع کیږي علمیت دعدل سره مګر داحدهما سره جمع کیږي ، نو لازمه شوه استثناء دشی دخپل نفس څخه ځکه احدهما کښی عدل هم شته، او که مستثنی منه دا وزن فعل اوګرځوی نو بیا هم لازمیږي استثناء دشی دخپل نفس څخه او که مستثنی

Maktaba Tul Ishaat. com



منه دواړه اوګرځوي يعني عدل او وزن فعل نو مطابقت نه راځي ، په مرجع او راجع کښې ځکه يکون کښې ضمير مفرد دي، **جواب:** خلاصه دجواب داده چې ضمير دواړو ته راجع دي، يعني امر دائر بينهما ته لاعلى التعين اوس امر دائر عام شو او احدهما خاص شو استثناء دخاص راغله دعام نه او دا جائز ده .

**فاذا نکر ای غیر المنصرف:** سره شارح تعين دضمير کوي چې نکر کښې ضمير غير منصرف ته راجع دي چې يو سبب پکښې علميت دی . **فان قلت:** وړاندې ئې هما متضادان وئيلي و او دلته دواړه جمع شو دا ولې ؟ **جواب:** په تحقق کښې جمع نه شي راتلې په اراده کښې راتلې شي او دلته جمع في الاراده ده. **ای لم یبق:** سره دفع داعتراض : **اعتراض:** ته وائې چې علميت په کومو اسبابو کښې شرط دي، او نکره شي نو بقي بلا سبب نو سبب خو باقي دي، صرف نقصان پکښې راغلی دي؟ **جواب:** مراد دسبب نه سبب کامل دي او سبب کامل هغه دي چې شرط ورسره موجود وي، او دلته خو شرط ورسره نشته، دا داسي دي لکه صفت چې ورسره نه وي .

**او علی سبب واحد:** سره يو غرض تعين دهغه غير منصرف چې وروسته دتنکير نه باقي على سبب وي . دويم دفع اعتراض . دريم جواب ، څلورم جواب آخر . **فيما هی لیست بشرط فيه:** سره اول غرض اوشو چې غير منصرف چې وروسته دتنکير نه باقي وی، په سبب واحده سره هغه يو وزن فعل اوبل عدل دي. **وقد قيل:** سره دويم غرض دفع اعتراض : **اعتراض:** ته وائې چې عدل او وزن فعل نه جمع کيږي ، زه به درته اوښايم چې جمع شوي به وي لکه (اصمت) دا وزن فعل هم دي او عدل پکښې هم شته، ځکه چې دا امر دي دصمت يصمت نه او قاعده داده چې امر دنصر نه بضمتين راځي اوس دلته بکسرتين راغله نو دينه معلومه شوه چې دا معدول دي بضمتين څخه .

**جواب:** سره دريم غرض چې جواب اول دي زه دا نه منم چې دنصر څخه دي ځکه دا احتمال شته چې د ضرب نه وي نو بيا خو دضرب نه امر بکسرتين راځي او چې په کتابونو کښې دنصر څخه راغلي نو هغه مشهور دي، خو دا جواب ضعيف دي ځکه ده لجواز اونيل او دجواز معنی امکان ده او امکان وائي احتمال ته او احتمال دينه وائي چې کيدي شي چې دابالکل نه وي دضرب نه ، **وايضاً قد عرفت:** سره څلورم غرض

Maktaba Tul Ishaat. com



جواب ثاني ، دا خبره تا مخکښې پيژندلې ده چې دعدل دپاره يواځې وجود داصل کافي نه وي بلکه ضروري وي اعتبار دخروج او خروج په وخت دضرورت کښې راځي او ضرورت دلته کښې نشته دي، ځکه سببين موجود دي ځکه اصمت کښې يو علميت دي اوبل پکښې تانيث دي، مصنف رحمه الله ډير هوښيار دي ځکه وزن فعل ئې پکښې معتبر نه کړو ځکه وزن فعل هغه پکښې يقيني ندي او تانيث پکښې يقيني دي. ثم انه اشار: سره يو غرض توطيه او تمهيد ذکر کوي، دويم غرض بيان دنکتـه . اول غرض نکته داده چې ده وويل چې اشاره نو ده خو په حکم تصريح کړي اشاره خوئې ورته نه دي کړي؟ **جواب**: دادي چې اصالةً حکم ذکر کوي اوضمناً پکښې اشاره استثنی ته راغله او استثنی ضمنی ديته وائې چې دقانون نه مخالف باندي قول اوکړي شي.

**المشهورهوابوالحسن**: سره غرض تعين داخفش رحمه الله کوی ، اخفش دري دي. استاذ دسيبويه چې دهغې اسم کنيه ابو الخطاب ده. دويم دده شاګرد چې هغه اسم کنيه ابوالحسن سعيد ابن سعده دي او دلته مراد هم دا دي، دريم ددهٔ ملګري چې دهغه اسم کنيه حسن علی ابن سليمان دي.

**ولما كان قول التلميذ الخ**.. سره غرض دفع داعتراض ده، **اعتراض**: هر کله چې استاذ سيبويه شو نو دمخالفت نسبت کول استاذ ته سوء ادب دي، ځکه څوك چې مخالفت کوی نو په هغه کښې يو نوعه تحقير وي او دتحقير نسبت کول شاګرد ته پکار نه وه چې اخفش وو ؟

**جواب**: داده چې دشاګرد قول موافق وو، دقاعدي سره چې اذا نكر صرف نو دائې اصل وګرځولو او دمخالفت نسبت ئې استاذ ته اوکړو، اګرچې داغير مستحسنه ده. بعضو خلقو دمخالفت نسبت شاګر ته کړي او سيبويه ئې ځکه مقدم کړي چې دا استاذ دي، خو دا توجيه کمزوري ده ديو قاعدي دوجې څخه، قاعده داده چې کله يو فعل وي او دهغه فاعل وي اومفعول له هم ورلره وي نو قاعده پکښې داده چې فاعل دفعل اودمعلل به دا يو وي لکه ضربته تاديباً اوس دلته دضرب فاعل ضمير دمتکلم ، اوس دلته مخالف خو مفعول دي يعنې ضمير دمتکلم دي او تاديب دا فعل او اخفش فاعل او اعتباراً دا مفعول له دي ، نو دخالف . فاعل اخفش شو او داعتباراً فاعل

Maktaba Tul Ishaat. com



سیبویه دي ځکه اعتبار دصفت اصلي خو دي کوي.

**العلم اذا نکر صرف**: دي کښې اختلاف کړي دي سیبویه په یو شق کښې چې هغه احمر دي، سیبویه وائی دا غیر منصرف دي بعد التنکیر ځکه هغه وصفیت اصلي چې دعلمیت دوجې ختم شوي وو، هغه بیرته را معاد کیږي او اخفش وائي چې نه منصرف ګرځي، دغه احمر چې کله نکره کړي شي او هغه وصف زائله نه را معاد کیږي. **والمراد بمثل احمر**: اول غرض بیان دقاعدي کلیه، دویم غرض دفع اعتراض، دریم تتمیم دمافات، اول غرض: قاعده داده چې مراد داحمر څخه هر هغه اسم تفضیل دي چې ترینه مراد دي چې قبل دعلمیت نه پکښې وصفیت ظاهر وي.

**فیدخل فیه**: سره دویم غرض دفع اعتراض، **اعتراض**: په دوه طریقو سره دي، اوله طریقه ستاد احمر نه باب داحمر مراد او که نه نو که باب داحمر دمراد وي نو سکران کښې پکار ده چې دا اختلاف نه وی او سره ددینه چې پکښې شته؟ **جواب**: مراد داحمر نه نوع داحمر مراد ده نو سکران پکښې هم داخل شو، دویمه طریقه داعتراض، **اعتراض**: هلکه! چې باب داحمر دي ترینه مراد ندي، نو پکار ده چې اجمع کښې هم بعد التنکیر په انصراف او عدم انصراف کښې اختلاف وی او سره ددینه چې دا بعد التنکیر بالاتفاق منصرف دي، ؟ **جواب**: دا ځکه منصرف دي اتفاقاً چې معنی دوصفیت پکښې قبل العلمیت ظاهره نه وه، ځکه داقبل العلمیت په معنی دکل سره وو.

**وکذالک افعل**: سره دریم غرض ذکر کوی چې تتمیم دمافات دماتن، افعل دا په دوه قسمه دي یعنی اسم تفضیل یو هغه دي چې مجرد وي، د (من) څخه دابعد التنکیر بالاتفاق منصرف دي، ځکه معنی دوصفیت پکښې قبل العلمیت ظاهره نه وه تردي چې دا افعل اسمی ګرځیدلی دي، دویم افعل چې (من) ورسره وی نو دا منصرف نه دي، بلا خلاف یعنی بالاتفاق منصرف ندي ځکه معنی دوصفیت پکښې ظاهره دوه قبل العلمیة نو فلا ینصرف بلا خلاف، اکثر وشارحینو معنی داسي کړي ده چې منصرف ندي بالاتفاق خو دا توجیه او معنی صحیح نه ده، ځکه دهٔ مخکښې اوویل چې مثل داحمر کښې اختلاف دي خو چې معنی دوصفیت پکښې قبل العلمیت ظاهره وي. اوس دلته په افعل کښې چې (من) ورسره وی نو دي غیر منصرف بالاتفاق دي، نو

Maktaba Tul Ishaat. com



عبارت کښې تضاد راغلو، دویم دا چې وروسته دلیل ئې هم نه صحیح کیږي چې لظهور معنی الوصفية صحيح وجه داده چې دا بناء ده په یوه قاعده باندې هغه قاعده داده چې کله یو فعل مقید وی، په قید سره او په هغه فعل نفی داخله شی نو نفی متوجه کیږي قید ته، لکه ما جاءنی زید راکباً نودلته نفی متوجه ده رکوب ته نه فعل ته چې مجئت دي، خو دا قاعده اکثریه ده کلیه نه ده، ځکه الله ﷻ فرمائی چې (ان الله لیس بظلام للعبید) اوس ظلام مبالغه ده په ظلم کښې اوس دا مبالغه هم قید دي خو نفی دلته متوجه ده قیداو مقید دواړو ته او که داسي نشي نو معنی کښې نقصان راځی، معنی به داسیی شی (چې الله ﷻ ډیر ظالم ندي او لږ دي) نعوذبالله من ذالك) حالانکه الله ﷻ خو بالکل ظالم ندي، اوس دلته ینصرف فعل مقید دي په بلا خلاف سره نو نفی پرې داخله شوه نو قید ئې ختم کړو، نو معنی دا شوه چې غیر منصرف دي خو بلا خلاف نه بلکه سره داختلاف نه، اعتبار اللصفة الاصلية.

**ای انما خالف**: دي عبارت سره شارح اشاره کوی چې لام اجلیه په للصفة الاصلية کښې او دویم غرض دا چې شارح اشاره کوی چې اعتباراً مفعول دي دسیبویه دپاره.

**فانما لما زالت**: اول ذکر دخلاصه، دویم اعتراض، دریم جواب ، څلورم رد په جواب ، پنځم مذهب داخفش ، شپږم ما هو الراجح . اووم توطیه او تمهید دمتن آتي دپاره . اول غرض : خلاصه دا ده چې سیبویه په مثل داحمر کښې بعد التنکیر وصفیت اصلي معتبره وی او دلیل دا وائی چې مانع دوصفیت اصلی چې علمیت وو ختم شو، په تنکیر سره نو احمر غیر منصرف شو دوجی دوصفیت اصلی او وزن فعل څخه. **فان قلت:** سره دویم اعتراض : چې مانع داعتبار دوصفیت اصلیه څخه موجود نه وو نوباعث په معتبر کولو دوصفیت څه دي، سره ددینه چې غیر منصرف والی خلاف الاصل دي.

**قيل**: سره دویم غرض جواب : وصفیت اصلیه ئې ځکه معتبر کړو چې اسود او ارقم دا بعد التنکیر هم غیر منصرف دي دوجی دوصفیت اصلیه نه چې کوم زائل شوي وو او دوجی دوزن فعل څخه نو مونږ احمر هم پرې قیاس کړو.

**وفيه بحث**: سره څلورم غرض رد ذکر کوی، خلاصه د رد داده چې احمر مقیس دي او اسود او ارقم دا مقیس علیه دي، او علت جامعه اعتبار دوصفیت اصلیه دي، نو

Maktaba Tul Ishaat. com



قیاس داحمر په اسود او ارقم قیاس مع الفارق دي، ځکه احمر څخه صفت اصلیه بالکلیه ختم شوي دي، او په اسود او ارقم کښې ئې څه شائبه شته، ځکه اسود تور مار ته وائي او ارقم برګ مار ته وائي، نو لهذا قیاس داحمر په اسود ارقم باندې حجت نه لري، په دې باندې دبهز نه یو اعتراض وارد شوي دي، هغه دا چې احمر دسور سړي دپاره علم کړه او بیا ئې نکره کړه، نو بعد التنکیر خو پکښې وصف اصلي شته؟ **جواب**: دادې چې دا هم نشي کیدي ځکه اسود او ارقم علم جنس دي او دعلم جنس څخه وصفیت بالکلیه نه لري کیږي او احمر علم شخص دي او علم شخص نه وصفیت بالکلیه لري کیدي شي ځکه چې اعلام اشخاصو کښې معنی لغوی معتبر نه وی.

**واما الاخفش**: سره پنځم غرض ذکر کوی چې بیان د مذهب داخفش دي ، امام اخفش فرمائي چې مثل داحمر وغیر به منصرف وی، بعد التنکیر ځکه وصفیت زائله شو په علمیت سره او علمیت زائله شو په تنکیر سره او زائله نشي معتبر کیدای بغیر دضرورت نه نو ضرورت ورته نشته، نو احمروغیره چې سکران دي په سبب واحده سره پاتې شو چې یو وزن فعل او بل په کښې الف نون مزید تان دي نو فینصرف .

**وهذا القول اظهر**: سره شپږم غرض چې ما هو الراجح دي ذکر کوی، دامام اخفش قول دا راجح دي د دریو وجو څخه ، اول دا چې دا مذهب موافق دي دقاعدي سره چې العلم اذا نکر صرف ، دویمه وجه داده چې په مذهب دسیبویه هغه مخکښې اعتراض وارد شو، چې باعث په معتبر کولو دوصفیت اصلیه باندې څه شي دي، دریمه وجه داده چې بل اعتراض هم پرې واردیږي په ولا یلزم سره .

**ولما اعتبر سیبویه**: سره اووم غرض ذکر کوی چې توطیه او تمهید دتن آتی لپاره سیبویه اعتبار دصفت اصلیه کړي دي، اګرچې زائل شوي وي نوپده اعتراض واردیږي ، او دهغې څخه ماتن جواب ورکوی، په ولا یلزم سره چې دومره سیبویه کمزوري هم ندي، **اعتراض**: دا دي چې حاتم داد یو سړي نوم دي یو پکښې وصفیت اصلیه دي او بل علمیت، نو په احمر کښې وصفیت اصلیه زائله شوي وو ، او یو محال شي وو او تا فرض کړي وو نو دغه رنګه په باب دحاتم کښې هم یو علمیت دي اوبل پکښې وصف اصلی معتبر کړه.

Maktaba Tul Ishaat. com



**ولا يلزم اى سيبويه**: يو غرض تعين دضمير، دويم باعث داعتراض، ضمير خو راجع دي سيبويه ته او باعث د اعتراض هغه معتبر کول دوصفيت اصليه دي په احمر کښې بعد التنکير په نزد دسيبويه، نو خلاصه دجواب داده چې دا اعتراض نه واردېږي ځکه که په حاتم کښې علميت سره وصف اصلي هم معتبر کړي نو لازم به شي اعتبار دمتضادينو په حکم واحده کښې چې غير منصرف والي دي،

## د حاتم نه څه مراد دی

**باب حاتم اى كل علم**: سره يو غرض بيان دباب دحاتم، دويم حاصل داعتراض، اول غرض دحاتم نه مراد هر هغه علم دي چې په اصل کښې وصف وي، سره دبقاء دعلميت نه **بان اعتبر فيه ايضاً**: سره دويم غرض **اعتراض**: حاصل داعتراض دادي چې په حاتم کښې دوصف اصلي معتبر کړي شي، او حکم داوکړي شي په منع صرف والي ددي باندي دوجه دعلميت او وصف اصلي نه **يعنى الوصفية والعلمية**: سره اول تعين دمتضادينو چې هغه وصفيت او علميت دي، او دويم غرض دليل دتضاد او هغه دا چې علم کښې خصوصيت وي او په وصف کښې خصوصيت نه وي.

**فى حكم واحد**: سره غرض تعين دحکم. حکم واحد هغه منع صرف والي دي په لفظ واحده کښې، **فان قلت**: سره اعتراض: تضاد خو به په وصفيت او علميت کښې هغه وخت کښې وي چې وصفيت خو متحقق وي، نو وصفيت خو زائله دي صرف اعتبار ئې اوکړه .؟ **قلنا**: سره جواب: فرض کول ديو دمتضادينو دضد آخر سره وروسته دزوال ثخه دا په حکم دواحد کښې دي اوس دا اګرکه دقبيلې داجتماع دضدينو ثخه ندي ليکن مشابه دي د اجتماع دضدينو سره او اعتبار دضدينو معاً دا غير مستحسن دي،

**اعتراض**: يو فعل چې کله مقيد وي په يو قيد نو کله چې نفي داخل شي په دغه فعل نو نفي به متوجه وي قيد ته نه مقيد ته نو دلته يلزم به دا نفي متوجه وى لما يلزم قيد ته، نو معنى دا شوه چې اعتراض نه وارديږي په باب دحاتم باندي دوجې داعتبار دمتضادينو ثخه بلکه به دبل څه دوجې ثخه وارديږي او حالانکه بالکل په حاتم اعتراض نه وارديږي؟ **جواب**: دا قاعده اکثريه ده کليه نه ده.

**وجميع الباب باللام او الاضافة الخ اى باب**: سره يو غرض تعين دالف لام کوی په

Maktaba Tul Ishaat. com



الباب کښې چې عهدي دي معهود پدي سره ټول باب دغير منصرف دي او دويم غرض دادي چې باب مجرور دي چې تفسير شي دالباب دپاره ځکه اعراب دمفسَر او مفسِر هغه يو وي او جميع مرفوع دي مستقله جمله ده **اى بدخول لام التعريف:** يو غرض دفع داعتراض او دويم غرض تعين دالف لام کوي: اول غرض **اعتراض:** ته وائی چې ټول باب دغير منصرف په لام سره منصرف ګرځی، نو بيا په دنيا دخداي ﷻ کښې خو غير منصرف بالکل پاتی نه شو، ؟ **جواب:** مراد دلام نه وجود دلام نه دي بلکه دخول دلام ترينه مراد دي، دويم غرض: په باللام کښې الف لام عهدي دي مراد ترينه لام تعريفي دي.

**اى اضافته الى غيره:** سره غرض دفع داعتراض ده **اعتراض:** ته وائی چه په اضافت سره غير منصرف، منصرف ګرځی زه به درته اوښايم اضافت به وي او غير منصرف به نه وي منصرف به وی لکه مررت بغلام احمد ؟ **جواب:** مراد داضافت نه، مضاف دي چې دغير منصَرف اضافت به بل چاته شوي وي نه اضافت دغير ده ته لکه مررت باحمد کم:

**بالکسر اى بصورة الکسر لفظاً او تقديراً الى آخره:** اول غرض دفع اعتراض، دويم هم دفع داعتراض، دريم هم دفع اعتراض، څلورم هم دفع داعتراض، پنځم بيان داختلاف، شپږم بيا دفع داعتراض، اووم بيا دفع اعتراض، اتم بيان دقاعدي کليه. نهم ماهو الراجح **اى بصورة الکسر:** سره اول غرض، **اعتراض:** ته وائی چي غير منصرف په دخول دالف لام او اضافت سره ينجر بالکسر، زه به درته اوښايم دخول الف لام او اضافت به نه وي او کسره به راغلی وي. لکه مررت باحمد دلته په احمد حکماً کسره راغلی ده ،ځکه حالت نصبی تابع دجري وی په غير منصرف کښی ؟ **جواب:** مراد دکسري نه کسره لفظي يا تقديري ده نه حکمي.

**وانما لم يکتف:** سره دويم غرض دفع اعتراض بناء دمتونو په اختصار سره وی، داسی به دي وئيلی وي چې جميع الباب باللام او الاضافة ينجر، بالکسر به دي نه وئيلی، ؟ **جواب:** ينجر ما ځکه ونه ويلو چې جر کله په فتحی سره هم راځی، **ولا بان يقول:** سره دريم غرض دفع داعتراض، **اعتراض:** ينجر سره هغه نقصان لازميده نو صرف ينکسر به دي وئيلی وي؟ **جواب:** ينکسر مو ځکه او نه ويل چې دکسري اطلاق

Maktaba Tul Ishaat. com



په حرکاتو بنائیه وسره هم کیږي نو خلقو به دا توهم کولو چې وجمیع الباب باللام او الاضافة یصیر مبنیاً اوحالانکه خبره خو داسي نده .

**وللنحاة خلاف:** سره څلورم غرض دفع اعتراض هلکه ینجر او ینکسر دواړه به دي نه ویلی ینصرف به دي ویلی وي. ؟ **جواب:** ینصرف موځکه ونه ویل چې په انصراف او عدم انصراف کښې ئې اختلاف دي، بعد دخول لام نه او داضافة نه او په مجرور ګرځیدلو کښې په کسري سره په دي کښې اتفاق دي.

**فمنهم من ذهب:** سره پنځم غرض بیان داختلاف : اختلاف په دي کښې دي چې غیر منصرف په دخول دلام او اضافت سره منصرف ګرځي او که نه په دي کښې دري مذهبه دي، **اول مذهب** : دوي وائي چې دغه غیر منصرف ، منصرف ګرځي ، مطلقاً دا معنی چې علتین پکښې پس ددخول دالف لام نه موجود وی او که نه او همدارنګه پس داضافت نه او دلیل دا وائي چې دا غیر منصرف وو دوجې دمشابهت دفعل نه اوس چې په ده خواص داسم راغلل نو مشابهت ئې دفعل سره ضعیف شو، نو جهت داسمیت پکښي قوي شو نو اوس به ئې رجوع کیږي اصل خپل ته چې انصراف دي.

**فدخله الکسر دون التنوین:** سره شپږم غرض دفع داعتراض چې ته وائې منصرف ګرځي نو کسره پري راغله تنوین پري ولې نه راځي .؟ **جواب:** دتنوین ذاتاً دالف لام او اضافت سره تضاد دي ځکه الف لام راځي دپاره دتعریف او تنوین راځي دپاره دتنکیر ، او اضافت راځي دپاره داتصال او تنوین راځي دپاره انقطاع،

**دویم مذهب** : دادي چې دغه غیر منصرف به پس د دخول دالف لام نه او اضافت نه مطلق غیر منصرف وي. **والممنوع من غیر المنصرف:** سره اووم غرض چې دفع داعتراض ده، غیرمنصرف شو نو کسره پري ولې راځي ؟ **جواب:** ممنوع په غیر منصرف باندي اصالةً تنوین وو او کسره دتبعیت دتنوین نه پري منع شوه، ځکه تنوین خاصه داسم وه کسره هم خاصه داسم ده نو چې مشابهت ئې دفعل سره ضعیف شو، نو کسره چې تابع ده، دا پري راتلی شي او موثر شو علتین صرف په سقوط دتنوین کښې

**ومنهم من ذهب:** سره دریم مذهب ذکر کوی چې مونږ به ګورو که علتین پکښې موجود وو، سره دلام او اضافت نه نو اسم به غیر منصرف وی او که پکښې نه وو موجود نو اسم

Maktaba Tul Ishaat. com



به منصرف وی.

**وبيان ذالك:** سره اتم غرض بيان دقاعدي كليه . قاعده بناء ده په دي خبره چی مونږ به دا ښرنګه معلومه وو چی علتين پکښی يو پاتی دي يا يو هم نشته او يا دواړه شته، قاعده داده چی علميت دسبب آخر دپاره شرط وی نو اسم به منصرف ګرځی په دخول دالف لام اواضافت سره ځکه علميت به هم ختم شی او مشروط به هم اسم به بلا سببه پاتی شی، لکه ابراهيم او که چيرته علميت سبب وو لکه په احمد کښی نو په لام او اضافت سره به صرف علميت ختم شی ، نو اسم به علی سبب واحد پاتی شی، نو منصرف به شی، او که دغه اسم کښی علميت نه وو نو علتان به دواړه باقی وي لکه په احمد کښی يو وصفيت دي اوبل وزن فعل دي، نو دغه اسم به غير منصرف وی،

**وهذا القول انسب:** سره بيان دماهو الراجح کوی کوم چی نهم غرض وو، دا آخري مذهب راجح دي ځکه مصنف هم دغير منصرف دا تعريف کړي چی ما فيه علتان .

## بيان د مرفوعاتو

هرکله چی فارغ شو مصنف دبيان دمنصرف او غير منصرف نه نو شروع ئی اوکړه په مرفوعاتو کښی، چونکه مرفوعات منصوبات اومجرورات دا احوال دي، دکلمی او کلمه ذات دي نو بيان دکلمی ئی اوکړو اوس ئی احوال ذکر کوی او مرفوعات ئی په احوالو کښی مقدم کړو، ځکه دا عمده دي او عمده اولیٰ بالتقديم وي، دويمه خبره ترکيب :

**المرفوعات** دا مرفوع دي ځکه دا خبر دي دمبتداء محذوفی لپاره چی هذه دي او يا دا مبتدا او خبر ئی محذوف دي چی المرفوعات هذه . اوس بهر حال مبتدا او خبر دواړه معرفه دي او مبتدا او خبر چی دواړه معرفه وی نو مفيد دحصر وی اوس حصر به دچا په چا پوري راځی دي کښی دوه مذهبه دي، اول مذهب دادي چی حصر په دواړو کښی راتلی شی خو چی قرينه وي لکه زيد المنطلق اوس دلته انحصار دزيد راغلی چی مبتدا ده په انطلاق کښی ځکه چی دلته تعين دزيد کوی چی مراد هغه مسافر زيد دي ، او په المنطلق زيد کښی حصر دانطلاق راغلی چی خبر دي په زيد کښی چی مسافر ښوك دي. زيد دي او دويم مذهب دادي چی دواړه کلمي معرفه وی نو چی کوم